پښتو

# خطبات

جلد دوم

## اسلامی احکام و عبادات

مرتب

نامور مذہبی مفکر

مولانا مفتی محمد ایاز درانی حفظہ اللہ

ناشر

العلم پبلیکیشنز

عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور شہر

091-2580325 , 2590315

0333-4532836 , 0332-9241690

# فہرست مضامین (جلد دوم)


| نمبرشمار | عنوان | صفحه نمبر |
|---|---|---|
| 1 | قرآن زمونږه ضرورت | 1 |
| 2 | د قرآن معجزه | 7 |
| 3 | مقصدِ قران | 12 |
| 4 | قرآن او دعوت | 23 |
| 5 | انقلاب قرآنی حصه اول | 33 |
| 6 | انقلاب قرآنی حصه دوم | 40 |
| 7 | د قران او حدیث اهمیت | 46 |
| 8 | اهمیت قران | 60 |
| 9 | عمل بالقران | 69 |
| 10 | فضیلت قرآن | 74 |
| 11 | حفاظت قرآن | 79 |
| 12 | د قرآن کریم اهمیت او ضرورت | 83 |
| 13 | د قرآن کریم په باره کښې تپوس | 89 |
| 14 | د قران او حدیث اهمیت | 96 |
| 15 | د حدیث فضیلت | 106 |
| 16 | د مونځ اهمیت | 112 |
| 17 | په مونځ کښې خضوع | 122 |
| 18 | په مونځ کښې دخضوع اهمیت | 128 |
| 19 | د زکوة ثبوت او اهمیت | 132 |

| | | |
|---|---|---|
| 20 | نظام زکوة | 139 |
| 21 | د زکوة اهمیت او احکام | 144 |
| 22 | د زکوة نه ورکولو نقصانات | 151 |
| 23 | احکام و مسائل زکوة | 158 |
| 24 | د الله تعالی په لارکښې خرچ | 165 |
| 25 | رمضان څه ته وائي؟ | 172 |
| 26 | فضیلت رمضان | 177 |
| 27 | مقصد رمضان | 185 |
| 28 | د رمضان اهمیت | 192 |
| 29 | د رمضان اهمیت او مسائل | 200 |
| 30 | د رمضان اعمال | 207 |
| 31 | تزکیه نفس او رمضان | 215 |
| 32 | په رمضان کښې توبه او استغفار | 221 |
| 33 | د روژے احکام | 225 |
| 34 | ختم تراویح | 233 |
| 35 | د رمضان جمعة الوداع | 236 |
| 36 | اعتکاف | 241 |
| 37 | بیان اعتکاف | 247 |
| 38 | صدقه فطر | 251 |
| 39 | مسائل صدقه فطر | 256 |
| 40 | مسائل عید الفطر | 261 |

| | | |
|---|---|---|
| 41 | عید قربانی | 267 |
| 42 | احکام قربانی | 274 |
| 43 | مسائل عید الاضحی | 282 |
| 44 | د ذوالحجه اهمیت او اولی عشرے فضیلت | 289 |
| 45 | د حج ابتداء | 294 |
| 46 | اسلام او د حج اصلاحی مهم | 303 |
| 47 | مقصد حج | 311 |
| 48 | د حج بیان | 318 |
| 49 | د نفلی عباداتو اهمیت(۱) | 328 |
| 50 | د نفلی عباداتو اهمیت(۲) | 336 |
| 51 | جمعة مستحبات او سنت | 343 |
| 52 | درې قسمة معمولات | 349 |
| 53 | د نیکی حفاظت(۱) | 355 |
| 54 | د نیکی حفاظت(۲) | 359 |
| 55 | د نیکی حفاظت(۳) | 364 |
| 56 | د نیکی حفاظت(٤) | 369 |
| 57 | د نیک اعمالو حفاظت | 375 |
| 58 | په نیک کارونو کښې مسابقت | 382 |
| 59 | د مسجد اهمیت ، حیثیت او مقام | 390 |
| 60 | د مسجد اهمیت او مقاصد | 401 |
| 61 | د مسجد اداب | 407 |
| 62 | د ایام بیض روژے | 413 |

# قرآن زمونږه ضرورت

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:**

**فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔**

**﴿اُتْلُ مَا اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ﴾ (عنکبوت:۴۵)**

**وَقَالَ تَعَالٰى ﴿وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيْلًا﴾ (مزمل:۴)**

**﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِنَّ الَّذِيْ لَيْسَ فِيْ جَوْفِهٖ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ﴾ (مسند احمد)**

## د قران تلاوت:

د قرآن پاک او حدیث پاک ځۀ حصے تلاوت شوے په هغے کښ الله رب العزت د قرآن په ګنړو حقوقو کښ یو اهم حق بیانوی چې هغے ته د قرآن پاک تلاوت او یادول وائی په دې حدیث کښ هم د قرآن دغه ضرورت بیان شوے دے چه د یو مسلمان د پاره قرآن څومره ضروری دے قرآن الله د دې انسانانو د هدایت د پاره رانازل کړے دے چې د دې مطابق ژوند زندګی تیروے او دا د عمل په صورت کښ ممکن دے چه یو انسان دا کتاب په ناظره اووائی او بیا د دې دَ ترجمے او مقصد نه ځان خبر کړی او بیا قرآن د نورو کتابونو په نسبت دا امتیاز لری چه د نورو کتابونو مقصد معنی وی او د قرآن مقصد (معنی سره د لفظ نه) مقصود دې د نورو کتابونو نه انسان مقصد واخلی او بار بار هغه نه تلاوت کوی خو دا د قرآن خصوصیت دے چې د دې نه معنی مقصد اغستو سره سره علم کښ راوستو سره سره د دې د الفاظو بار بار تلاوت کیږی او څومره چې دا بار بار په فهم سره تلاوت کولے شی نو انسان ته به د الله قانون مخے ته وی او عمل به ورباندې آسان وی.

## د قران د تلاوت فائدے:

د قرآن حقوق نور هم ډير دی خو صرف د يو حق په باره کښې خبره کوؤ چې د قرآن په بار بار تلاوت سره څۀ فائده انسان ته ملاويږی او زمونږ په دې زندګئ د دې د تلاوت څۀ اثر دے ثواب خو يقيني دے لکه يو حديث کښې راځی د قرآن په يو حرف لس نيکئ ملاويږی او زه دا نه وايم چه (آلم) يو حرف دے بلکه الف جدا حرف دے لام جدا حرف دے او ميم جدا حرف دے نو صرف د تلاوت په دوران کښې الم لوستل ديرش نيکے دی خو د ثواب نه علاوه زمونږ زندګئ کښې د دې ضرورت څۀ دے ځکه انسان ته يو طرف ته د ثواب لالچ ورکوی خو بل طرف ته دا پيژندل هم ضروری دی چه زمونږه په ژوند کښې د قرآن څۀ ضرورت دے.

د قرآن پاک تلاوت کول زمونږه د دنياوی زندګئ هم ضرورت دے او د آخرت د ژوند ضرورت هم دے دا به د قيامت په ورځ د الله په دربار کښې د پيشے په ورځ د انسان لوے مددګار او ضرورت به وی او دنياوی ضرورت ځکه دے چې يو حديث کښې راځی چې په کوم کور کښې د قران تلاوت نه کيږی د دغه کور مثال د کنډر دے چه کوم زړه کښې د قرآن څۀ حصه نه وی نو دغه د وران کور مثال لری نو د دې دوؤ حديثونو نه ثابته شوه چې د قرآن تلاوت زمونږه د زړۀ د اطمينان سبب دے او د کور د کنډر کيدو په صورت کښې هر قسم شيطان ورباندې حمله کولے شی نو دغه شان شيطانی وسوسه هم د انسان زړۀ ته راتلے شی نو دا زمونږ ذاتی او شخصی ضرورت دے او دا ضرورت به هله پوره کيږی چې هريو نارينه او زنانه ته څۀ حصه د قرآن حفظ وی که په يو کور کښې د قرآن څۀ حصه نشته هغه کور د خير او برکت، ثواب او دين دارے

نه ویران ویجاړ دے او که په دغه کور کښې مجموعی لحاظ سره د قرآن تلاوت کیږی نو دغه کور به په هر توګه آباد وی او که یو شخص ورکښې تلاوت کوی نو دا د دې شخص ذاتی ضرورت پوره کوی نن صبا هر یو سړے دا فریاد کوی چې خوشحالی نشته، جنګ جهګړے تنازعات دی، بدامنی بے برکتی ده، سکون او اطمینان نشته نو د هغے اصل وجه دا ده چه په دغه کور کښې قرآن نشته ځکه دا مشکلات پیدا شوی دی.

## د قرآن خلاف معامله:

دا زمونږه لوے بدقسمتی ده چې په ځائے د قرآن زمونږ په کورونو کښې نن ټی وی، وی سی ار، انټرنیټ، فیس بک دے که په یو کور کښې لس افراد دی هغه لس واړه په دې کښې اخته دی که ماشوم دے که ځوانان دی او که نارینه دی او که زنانه او دا زمونږه کورونه د دې ګناهونو مرکز دے. ګناه د حرام مال والا ګناه سحر غرمه ماښام کیږی وجه دا وه چې په دې کور د شیطان تسلط او مشری راغلے ده او د شیطان مشری ځکه راغلے ده چه زمونږ په کورونو کښې د الله کتاب نشته نو دا ټول مسائل به وی که په کور کښې قرآن نه وی دا زه نه وایم دا نبیﷺ خوارلس سوه کاله مخکښې وئیلے دی بلکه د دغه شیطانی آلاتو نه دومره مونږه محفوظ نه شو چې دغه څیزونه مونږه سره جوماتونو ته هم راغلل چه کله د رِنګ په صورت کښې بے هوده ساز، ګانا د الله په کور کښې شروع شی، د دې څیزونو مقابله کښې د نیکانو خلقو کورونو، محلو، لارو کوڅو کښې د الله کتاب د تلاوت آواز اوریدلے کیدو، دې وجے نه د مدینے اسلامی ریاست د مسلمان او غیر مسلمه د کور علامه به دا وه چه په هر وخت کښې به د مسلمان د کور نه د قرآن آواز راتلو او د مسلمان د کور مخه به صفا سوتره وه هغے کښې به ګندګی نه وه.

او زمونږه زړونو کښې دومره ظلمتونه او تیارې پیدا شوې چه د قرآن هغه شوق او ذوق زمونږه ختم شو نو څوارلس سوه کاله مخکښې چې کافر ته به کومه پریشانی وه هغه ټولې پریشانیانې او مسائل مونږه ته پیدا شوی دی او نن زمونږه هغه بدترین حالت دے.

## کورکښې مونځ ادا کول:

دویم نبی ﷺ د کور متعلق فرمائی: چې اے خلقو کورونو ته د مونځ هغه حصه ورکړے، زنانه مونځ کوی خو د دې سره ئے سړو ته دا حکم ورکړے دے او دا حکم د فرض مونځ نه بغیر د نورو مونځونو په باره کښې دے لکه نفل او سنت چې د دې مونځ خیر او برکت په کور کښې وی. نبی ﷺ فرمائی د خپلو کورونو نه قبرستانونه مهٔ جوړوے بلکه مونځ پکښې کوے دویم څیز د کور آبادولو د پاره مونځ دے ځکه قبرستان کښې مونځ نه ادا کیږی نو د قبرستان کیدو نه د کور بچ کیدلو د پاره ورکښې مونځ ادا کوے.

او بیا هر انسان د پاره د قرآن څهٔ نه څهٔ حصه په یادو باندې یادول پکار دی چې کم نه کم مونځ خو ورباندې ادا کولے شی دې وجې نه دَ نبی ﷺ معمول دا وو چې په هر رکعت کښې به ئے جدا جدا حصه د قرآن تلاوت کوله په د یو ځائے کولو سره مونځ هم کیږی خو د پیغمبر طریقه دا نه وه پیغمبر به په هر رکعت کښې بیله بیله حصه د قرآن تلاوت کوله لکه روایت کښې راځی چې نبی ﷺ به د سحر مونځ کښې اوږد او غټ سورتونه وئیل او د غرمے، مازیګر او د ماښام په مونځ کښې به ئے درمیانه سورتونه تلاوت کول. اوس به مسلمان دا سنت په دې صورت کښې ادا کولے شی چه دې مسلمان ته دومره حصه د قرآن یاده وی چې دا سنت ورباندې ادا کولے شی او تقریبًا تقریبًا دا هله کیدے

شي چه هر مسلمان ته ديرشمه سيپاره ټوله او که دغه هم نه وی نو نيمه سيپاره لازمی ورته ياد ساتل ضروری دی.

## قرآن د آخرت ضرورت:

آخری خبره چې د قرآن په تلاوت کښ د آخرت څۀ فائده ده د آخرت ضرورت دا دے چه مونږ مسلمانان منو چې آخرت شته او د الله مخے ته پيشی هم شته دے او بيا د الله فيصله، وزن د اعمالو، حساب او کتاب هم شته دے او هلته فيصله به په اعمال نامه کيږی نو آ يا زما دا عمل نامه د دې قابله ده چه زه ئے الله ته پيش کړم او يقينًا زمونږه عمل نامه د دې قابله نه ده نو دنيا کښ چه کله انسان د محنت په ميدان کښ پاتے شی نو بيا په کوټه او سفارش باندې پاس کيږی نو زمونږ عمل کمزورے دے بيا د سفارش او کوټې کوشش پکار دے دا د قرآن حفظ او حافظ د آخرت کوټه ده لکه حديث کښ راځی چه کوم انسان قرآن حفظ کړی او عمل ورباندې اوکړی او د خاندان خلقو ته ئے اوښائی نو دا به د خپل قوم ، خاندان د لسو کسانو د پاره سفارش کوی او لکه څنګه چې نبی ﷺ فرمائی چه د کور نه کنډر مۀ جوړوے او د آخرت په باره کښ د دغه کوټې بندوبست هم کيږی نو په کور کښ د قرآن يو يا دوه حافظان ضروری دی او په دې کښ د دنيا او آخرت دواړو فائده ده دراصل زمونږه ذوق ختم شوے دے عربو کښ څۀ نه څۀ دا ذوق موجود دے که څوک اوګوری نو په هروخت کښ به ئے ځان ته تلاوت لګولے وی او مونږه يا ګانې او يا په پنجابئ کښ قوالی آورو او که جماعت مسجد ته رادننه شی نو تحية المسجد نه بعد تلاوت د عربو عادت دے خو زمونږه دا عادت نه دے مونږ د راتلو سره ګپ شپ د دنيا سياسی خبرې شروع کړو. فضول او بې هوده خبرے کول زمونږه عادت جوړ شوے دے.

## صحابه رسول او قرآن سره تعلق:

دغه شان د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ذوق د قرآن سره وو. دوه صحابه کرام رضی اللہ عنہم دی د قرآن لوے عالمان دی یو سیدنا معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ او دویم سیدنا ابوموسی الاشعری رضی اللہ عنہ. دا دواړه لوے نامور په قرآن پوهه صحابه دی نبی صلی اللہ علیہ وسلم یمن ته لیږلے وو نو یو ځل د دواړو په یمن کښ ملاقات اوشو یو بل نه ئے تپوس اوکړو حضرت ابوموسی اشعری رضی اللہ عنہ ورته وائی چه روره قرآن سره څۀ کوے څنګه ئے تلاوت کوے نو هغه ورته وائی چې زه خو په ولاړه، ناسته، روانه، په ملاسته په هر صورت کښ د قرآن تلاوت کومه څکه دا زما ذوق دے بیا ورنه معاذ صلی اللہ علیہ وسلم تپوس اوکړو چه ته څنګه تلاوت کوے نو هغه ورته وائی چه زه خو ډیر په آرام او اطمینان سره د قرآن تلاوت کومه او د ثواب په نیت د شپے لږ ساعت اودۀ کیږم بیا چه کله رابیدار شم نو ډیر په ذوق سره په تنهایئ کښ د شپے په نیمه حصه کښې ځان له یو طرف ته د اللّٰه د کلام تلاوت کومه نو خبره مې دا کوله چې دا د هر چا ذوق وی څوک په هرحالت کښ د قرآن د مینے د وجے نه د قرآن تلاوت کوی او څوک په غور او فکر سره په تنهایئ کښ د قرآن د تلاوت نه مزه اخلی او د دې نه سیراب کیږی اللّٰه تعالی دې مونږه ته د قرآن د تلاوت او د فهم خوند رانصیب کړی.

# دقرآن معجزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَقَالُوْا لَوْلَا اُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِنْ رَّبِّهٖ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيَاتُ عِنْدَ اللهِ وَاِنَّمَا اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ﴾(عنکبوت:۵۰)

## دخوښې معجزه:

د سورة عنکبوت یو آیت ستاسو مخکښ تلاوت شو په دې کښې الله رب العزّت بنیادی د مشرکانو د مطالبے جواب ورکوی چې دا کتاب کامل مکمل کتاب دے او دا یو معجزه ده د دې معجزے نه پس بلے معجزے ته ضرورت نشته. د دې کتاب تعلیم او تعلم او دعوت چې موجود وی نو بیا بل کتاب ته ضرورت نشته او د ژوند انفرادی او اجتماعی معاملاتو کښ دا کتاب کافی دے بل کتاب ته ضرورت نشته دا کتاب د ژوند نظام او قانون سازئ د پاره پوره برابر دے د بل کتاب څۀ ضرورت نشته چې انسان ورنه د ژوند زده کړے وی.

د مشرکین مکه دا مطالبه وه چه مونږه څنګه معجزه غواړو او طلب کوؤ داسے معجزه الله دنیا ته ولے نه رالیږی، معجزات ډیر زیات وو خو دوی چې څنګه معجزه طلب کړے وه نو دۀ ته هغه معجزه ولے نه راځی. الله خپل پیغمبر ته د خپل حکمت پیش نظر ډیرے معجزے ورکړے وے بعضے معجزے داسے وے چې د هغے مطالبه مشرکانو نه وه کړے او الله خپل پیغمبر ته دغه معجزه ورکړے ده، د سیرت او احادیثو کتابونه د دې معجزاتو نه ډک پراته دی په یو موقعه څۀ مشرکان نبیﷺ

ته راغلل او دا خبره ئے ورته اوکړه چه مونږه به تا باندې ایمان راوړو خو ته دا سپوږمۍ دوه ټکړے کړه مونږه به مسلمانان شو نبیﷺ ورته اوفرمائیل صحیح ده بیا به تاسو مسلمانان کیږئ، هغوی اوئیل او، نو نبیﷺ سپوږمۍ ته اشاره اوکړه او هغه دوه ټوټے شوه مشرکین مکه حیران شو چې کله لاجوابه او عاجزه شو نو دا تهمت ئے په نبیﷺ اوتړو چې مونږه ساحران ډیر لیدلی دی خو ستا په شان ساحر مونږ نه دے لیدلے، په دې طریقه باندې د ایمان نه منع شو چه د نورو سحر په زمکه کار کوی او په آسمان کار نه کوی نعوذبالله ته خو داسے ساحر ئے چې ستا سحر په زمکه او آسمان دواړو باندې کار کوی.

## د مشرکانو مطالبې:

کله دا خبره چه الله دې بغیر د واسطے نه د آسمان نه یو خط لیکلے شوے راولیږی او کله دا خبرے چې دا مکه علاقه د طائف په شان اونو ، نهرونو او کهجور باندې آباده کړه او کله دا مطالبه کوی چه دا مخامخ، غرونه د سرو او سپنو زرو مونږه لره جوړ کړه نو په دې آیت کښې الله د مشرکانو دغه مطالبه ذکر کوی چه مونږ مطالبه کوؤ چې معجزه ولے نه راځی نو الله د دې مطالبے جواب ورکوی او د دوی دوه غټے مطالبے یوه سپوږمۍ دوه ټوټے کیدل چې هغه معجزه پوره شوه او بله غرونه د سرو زرو کیدل دا پوره نه شوه ځکه نبیﷺ دنیادار نه وو او بله دا چې خلقو به وئیلے چه دې نبی باندې ایمان دې خلقو د دې محل د وجے نه راوړے دے د الله د رضا د پاره ورباندې ایمان نه راوړی، په دې سورت کښې هم د دې معجزے نه ورکولو جواب الله ذکر کوی یو دا ﴿قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَاللهِ﴾(عنکبوت:۵۰) د معجزاتو دا اختیار د الله سره دے چې کله ئے غواړی او څنګه ئے غواړی الله دا برابروی نو دا معجزے زما د

لاس او اختيار څيز نه دے هاں دا خبره چې تاسو زما حيثيت نه دے پيژندلے زما اصل حيثيت مطالبه او معجزات پوره کول نه دی بلکه زه يرونکے يمه د الله پيغام خلقو ته ورکومه زه به تاسو ته د الله دين بيانوم او معجزات د الله په اختيار کښ دی بل جواب دا ورکوی چې تاسو ته ما د قيامت ورځ پورې غټه معجزه درکړے ده نو دا وړے وړے معجزے تاسو لره کافی نه دی:

﴿أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ﴾(عنكبوت:۵۱)

دوی لره دا خبره کافی نه ده چې مونږه ورته کتاب ورکړے دے او دا کتاب په دې خلقو باندې تلاوت کيږی د دې مثال داسے دے چې ته چاته پوره محل ورکړے هغه بيا هم ستانه د معمولی څيز مطالبه کوی نو الله غټه معجزه قرآن نازل کړے دے چې دې ته بله يوه معجزه هم نه رسی بيا داخلق د نورو معجزو مطالبه ولے کوی. د دې معجزے په وجود کښ بلے معجزے ته ضرورت نشته.

د نبی ﷺ ډيرے معجزے مونږه نه دی ليدلی خو په احاديثو او د سيرت کتابونو کښ نقل شوی دی مونږه وربانديې ايمان لرو لکه يو سفر کښ نبی ﷺ ته صحابو رضی الله عنهم د اوبو د کموالی شکايت اوکړو نو نبی ﷺ خپل لاس د اوبو په يو جام کښ کيښودلو او اوبه د نبی ﷺ د ګوتو نه روانے شوے ټولو صحابوؤ اوبه اوڅکلے نو دغه معجزات مونږه نه دی ليدلی احاديثو کښ ذکر دی ايمان وربانديې لرو خو يوه معجزه داسے ده چې الله څنګه هغه خلقو ته ښودلے وه دغه شان الله دا معجزه مونږه ته اوښودله هغه دا کتاب کوم کتاب چې الله ترقيامته پورے معجزه ګرځولے ده.

## همیشه معجزه:

او د دې معجزې مختلف پهلوګانې دی لکه څنګه چې دې معجزې د مکې مشرکان عاجزه کړی وو دغه شان دې قرآن د نن زمانې ټول عالم کفر عاجزه کړے دے او ترقیامت پورې قرآن هغوی ته چېلنج ورکوی. او بله دا چې دا قرآن نن هم د زرګونو مسلمانانو په سینو کښې محفوظ پروت دے، بل کتاب په مخ د زمکې داسې نشته دے چې هغه د خلقو په سینو کښې محفوظ وی په ټولو ملکونو کښې د یو تحقیق مطابق دس کروړ حافظان په دنیا کښې موجود دی د تورات او انجیل دې څوک صرف لس حافظان مونږ ته اوښائی.

اوکه یو دور داسې راشی چې په دنیا کښې کاغذات، پاڼړه، قلمونه هرڅهٔ ختم شی او دا ټول کتابونه ختم خراب شی نو یو کتاب قرآن دے چې هغه به دخلقو په سینو کښې محفوظ وی:

﴿بَلْ هِيَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ﴾(عنکبوت:۴۹)

دا به د اهل علمو په سینو کښې محفوظ وی د دې وجې نه شاه عبدالقادر رحمۃ اللہ علیہ په خپل تفسیر کښې دې آیت سره دا خبره ذکر کړې ده چې د قرآن اصل مقام او محل دخلقو سینې دی او دا نور څیزونه امر زائد دی په قرآن باندې، مطلب دا د وخت د تقاضې ضرورت دے ورنه د قرآن اصل مقام سینه ده، دې وجې نه که دا تمام ذرائع اسباب ختم شی د الله کتاب ورته محتاجه نه دے د الله کتاب به بیا هم موجود وی.

## د نورو اسمانی کتابونو سره موازنه:

آخری خبره د قرآن معجزه دا ده چې قرآن غیرمحرّف او غیر مبدّل او سل فیصده هغه دے کوم چې الله د آسمان نه نازل کړے وو په دې

کښې ذره برابر تحریف او تبدیل نه دے شوے دا دعوی بل څوک د قرآن نه علاوه نشي کولے. عیسائیان دا د انجیل باره کښې، هندوان د وید باره کښې، سیکهان د خپل کتاب ګرنت باره کښې، دا ټول دا دعوی نشي کولے چې دغه کتابونه محفوظ دی نن که په دنیا کښې چرته چې د قرآن نسخه شته دے که د هر ځائے چهاپ وی نو سوال نه شي پیدا کیدے چه په هغے کښې د زبر زیر غلطي یا فرق وی.

او نن په دنیا کښې د عثمان رضی الله عنه والا مصحف درے نسخے په دنیا کښې شته دے. یوه نسخه په ترکی کښې، دویمه په روس کښې چې تاشقند کوم ملک دے په هغے کښې، دریمه په لندن ښار کښې شته دے او ورسره ټول سند شته دے او په آخر کښې دا موجود دی چه کتبه عثمان بن عفان رضی الله عنه. دا عثمان بن عفان رضی الله عنه لیکلې دې. الله داسے غنی ذات دے چې په عالم کفر کښې هم دَ خپل کتاب حفاظت کولے شي نو الله هم دغه خبره ذکر کوی ﴿اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ﴾ دې مسلمان لره دا کافی نه ده، دې د عالم خلقو لره دا کتاب کافی نه دے چې دوی کله واشنګټن ته سترګې اړوی، کله ماسکو ته، کله بیجنګ ته او کله پیرس ته ګوری دې مسلمان لره د خپل کتاب قرآن نه دا سبق زده کول پکار وو. د مسلمان نظر به په قرآن باندې وی .

والحمد لله رب العالمین

# مقصد قرآن

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ. اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾ (ق:٣٧)

﴿كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾ (ص: ٢٩)

## الله قرآن ولے نازل کړے:

د قرآن عظیم الشان دوه آیاتونه ستاسو وړاندې تلاوت کړے شو په دې دواړو ایتونو کښې الله رب العزت د قرآن د نزول دنیا ته د رالیږلو مقصد بیان کړے دے چې قرآن آخر کار الله د څۀ مقصد د پاره دنیا ته نازل کړے دے؟

د قرآن اهمیت او ضرورت مخکښې بیان شوے وو نن دا خبره واضحه کوؤ چه دا عظیم الشان قدر مند کتاب الله مونږ ته رالیږلے دے بیا د دې کتاب زده کړه، علم ،عمل او د دې بیانول دا کتاب د خپل ژوند نظام او قانون ګرځول دا ولے ضروری دی او الله په څۀ بنیاد په خپلو بندګانو باندې دا فرض کړے دے.

بیا دا خبره چه د دې کتاب اصل پیغام څۀ دے، څۀ د پاره د دې علم عمل قانون حیات ګرځول ضروری دی، د دې دنیاوی اخروی فائدے او ثمرات به څۀ وی او د دې کتاب مطالبه د انسانانو نه څۀ ده ؟ څۀ غواړی؟

## د قرآن رسمي براۓ نام حقوق:

آيا صرف دا لكه څنګه چه عام رواج دے په دې معاشره كښې چه قرآن دې صرف ښكل كړو يا دا كتاب دې خپلے سينے پورے جُخت كړو يا په يو خائسته شان غلاف كښې دې بند كړو يا دا چې په مسجد يا دكان كښې د پيسو د حفاظت د پاره په ګله كښې پروت وى يا د دكان او كاروبار د خير و بركت د پاره په كاغذ باندے ئے اوليكو او د دكان مخے ته ئے آويزان، رازوړند كړو يا دا چې په خائسته بهترين نقش و نګار خطونو سره ئے اوليكو او ګاړى ،دكان يا په مټ يا غاړه پسے ئے اوتړو، يا چارټ او فريم په صورت ځائے په ځائے اولګولے شى! بس دا د قرآن پيغام دے؟ آيا د دې سره د قرآن عظيم الشان حق ادا كيږى؟ آيا دا قسم معامله كول د قرآن تعليمات دى؟ او يا دا د قرآن د نزول مقصد او هدف دے؟ په پيغمبر اسلام باندې الله خپل كلام د دې د پاره نازل كړے وو لكه څنګه چې زمونږه معاشره كښې دا سلوك د قرآن سره كيږى. بس د دې حد پورے د قرآن حق دے! چې دا دې ښكل كړے شى، خوشنما كتابت دې د دې اوكړے شى يا د غټو غټو ادارو نه دې په ډيزائننګ سره چهاپ كړے شى يا د قَسم د پاره دې ورباندې لاس كيخودلے شى يا د وادهٔ په موقعه دې د ناوې سره په ډولۍ كښې محفوظ كړے شى يا په جرګه كښې دې په دې باندې صرف د خُلے پورې سرسرى حلف او قسم واغستلے شى يا ډير نه ډير د مړى سره په كفن يا تابوت كښې دې دفن كړے شى بس دا د قرآن حقوق دى!

## د قرآن سره د تورات او انجيل معامله:

درحقيقت دا د هغه چا سوچ دے څوك چه د قرآن نه غافله او نا

خبره وی او په الله باندے بنه گمان نۀ لری دا قسم حقوق خو یهودو او نصاراؤ د تورات او انجیل ډیر خدمات کړی وو خو بیا هم هغوی کامیابی تر لاسه کړے نه وه. قرآن کښې الله د اهل کتابو په باره کښې ذکر کړی دی ﴿فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ﴾ (آل عمران: ۱۸۷) دې خلقو خپل کتاب شاګانو نه روسته غورځولے وو. هغوی گستاخی نه وه کړے مفسرین وائی چه هغوی د تورات انجیل ډیر تعظیم کړے وو خو بیا هم کماحقه هغوی د تورات او انجیل نه ځان خبر کړے نه وو.

او په دنیا کښې هیڅ یو مذهب والا داسے نشته چې هغوی د خپل کتاب بے عزتی اوکړی یو ادنٰی مسلمان داسے نۀ کوی که دا د قرآن حق وے نو دا حق ادنی او اعلی هر قسم مسلمان ادا کوی مسلمان خو لا څۀ کوے چې غیر مسلمه هم دا قسم حقوق ادا کوی.

## د اهل کتابو ناکامی:

یهودیت کۀ نن باطل منسوخ مذهب دے نو دا وجه وه چه د تورات دَ مقصد نه خبر نۀ وو، نصرانیت کۀ نن خپل شکست منی او یو ناقابل عمل مذهب دے په دنیا کښې ئے هیڅ ځوك قانون نشی جوړولے د خپلے معاشرے سوسائټے یا د ملك د پاره کامیاب نظام نشی ایجاد کولے نو وجه ئے دا وه چه دغه قوم د خپل کتاب د بنیادی مقصد نه بےخبره وو.

او دا خبره ظاهره ده چه هیڅ یو یهودی یا نصرانی د تورات دا بےادبی، گستاخی نه کوی چه د خپله شاه نه ئے روسته گزار کړی. نا اوس هم یهود او نصاری د خپل مذهبی کتابونو ظاهری بنه ډیر تعظیم کوی خو سره د دې نه الله وائی چه دې خلقو خپل کتاب روسته اوغورځولو دا ولے ځکه چې دغه خلقو په خپل کتاب عمل نۀ وو کړے او په قسم قسم حیلو او چلونو باندې ئے د دې احکامات نظر انداز کړی وو او دا صرف د

دې د پاره چه دغه خدائی احکامات په عمل کښې رانشی. نو خبره دا ده چه د قرآن مقصد دا نهٔ دے چه د سونے او چاندئ په اوبو اولیکلے شی او د یو عجائب گهر زینت جوړ شی او که دا مقصد وی نو دا مقصد زمونږ نه زیات هغه خلقو پیژندلے وو.

## د قرآن اصلی مقصد:

د قرآن مقصد دا دے، د څهٔ د پاره چه الله دا کتاب د لوح محفوظ نه دنیا ته نازل کړے دے هغه مقصد نزول دا وو چه په دې باندے د عقیدې او عمل اصلاح اوکړے شی خلق د قسم قسم عقائدو د خرابے نه خلاص شی او دا وهمی تصورات او خیالات پریږدی او قرآن چه څهٔ حقائق او احکامات بیان کړی دی د هغے پابند شی. او په هغے باندې یقین او عقیده جوړه کړی. بیا د قرآن عملی ژوند زده کړی او خپل عملی رهنما ئے تسلیم کړی د دې اخلاق خپل کړی دَ کوم رنګ اخلاق چې قرآن تعلیم ورکوی. الغرض د قرآن بیان کړی شوی عقائد، عبادات، معاملات، اخلاقیات، معاشرت مسلمان خپل کړی نو بیا دې مسلمان دَ قرآن د نزول مقصد یقینا خپل کړے دے او د خپل رب د رضا کیدو منشا او مبداء ئے پیژندلې ده.

او که یو مسلمان داسے نهٔ وی نو بیا زمونږه او د یهودو ترمینځه څهٔ فرق نشته لکه څنګه چه هغوی خلقو د خپل کتاب بےعزتی، توهین او ناقدری کړے وه دغه رنګه مسلمان هم بیا د الله دا عظیم الشان کتاب خپل شاته غورځولے وو او د دې بے عزتی کوی او دا لوے دلیل دے د دے خبرے چه دا مسلمان جاهله دے د الله د کلام نه خبر نه دے. ﴿كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ ګویا چه دې خلقو ته دا پته هم نشته چه دوی ته د الله د طرف نه کتاب راغلے دے.

## د قرآن په باره کښې فریاد:

او دا فریاد د دې امت لوې علماؤ هم کړے دے. ابن تیمیه رحمة الله علیه او ابن القیم رحمة الله علیه د اَتمې صدے لوې علماء دی او د قرآن او د حدیث بهترینه تشریح او وضاحت دې علماؤ کړے دے. د ابن القیم رحمة الله علیه یو قصیده ده د هغے نوم دے ﴿القصيدة النونية﴾ دې عالم دا کمال کړے دے چه د قرآن او سنت د عقائدو وضاحت ئے تقریبا په شپږ زره (۶۰۰۰) اشعارو کښې په دې کتاب کښې کړے دے لکه څنګه چه فارسے کښې علامه رومی رحمة الله علیه په خپل کتاب مثنوی کښې د زهد متعلق اشعار ذکر کړی دی. او قصیده نونیه ورته ځکه وائی چه هر یو شعر ئے په نون سره ختم شوے دے په عربے ژبه کښې دا اشعار بهترینه مجموعه ده.

دغه عالم یوځائې کښې د قرآن او د مسلمانانو حالت ذکر کوی. او الله ته فریاد او شکوه یوه ګله کوی چه:

نَبَذُوا كِتَابَكَ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَتَمَسَّكُوْا بِزَخَارِفِ الْهَذْيَانِ

وائی چه الله ستا دې بندګانو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم امتیانو ستا کتاب روستو پریښودو او بیا د دې بر خلاف په فضولیاتو باندې د دې خلقو سر شو او اخته شو. کتاب الله ئے پریښودو او څۀ بل څۀ کوی او څۀ بل څۀ وائی بیا وائی:

﴿وَالْعِلْمُ مَا قَالَ اللهُ وَقَالَ رَسُوْلُهُ صلی الله علیه وسلم وَقَالَ الصَّحَابَةُ رضی الله عنهم هُمْ أُوْلُو الْعِرْفَانِ﴾

یعنې علم خو هغه څۀ دے چې الله قرآن کښې ذکر کړے وی یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل احادیثو کښې د هغے بیان کړے وی نو دا رویه تقریبا د یهودو هم وه چه په عمل، علم، زندګے او قانون کښې ئے خپل کتاب هیر کړے وو.

## د قرآن نه فائده اغستونکی خلق:

ما چې کوم آیتونه خطبه کښې تلاوت کړی وو نو دې آیتونو کښې هم الله د قرآن دغه مقصد بیان کړے دے چه دې قرآن کښې څۀ دی نو الله فرمائی:

﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ـ (ق:۳۷)

الله فرمائی چه قرآن د دې د پاره ما نازل کړے دے چې انسان د دې نه پند او نصیحت، وعظ او عبرت حاصل کړی. دا د عبرت کتاب دے بیا دا قرآن په چا باندې اثر انداز کیږی؟ څوك د دې اهلیت لری چه د قرآن نه د دنیا او آخرت سبق زده کړی ځکه کومه معاشره کښې چې د قرآن تعلیمات موجود وی په هغے کښې فساد او نقصان نشی کیدے. بیا د دې کتاب نه انقلابی اثر څوك قبولولے شی نو قرآن د هغے د پاره درے شرائط ذکر کړی دی:

۱. چه قرآن خوان به صاحب قلب، صاحب دل وی مطلب د ښۀ زړۀ خاوند به وی.

۲. القی السمع: دویم شرط دا دے چې قرآن به واوری ځکه که یو انسان ډیر د ښۀ زړۀ خاوند شی او باضمیر وی خو که قرآن اوریدو ته تیار نه وی نو دا انسان د قرآن نه څۀ فائده نشی اغستے.

۳: وهو شهید: چې دا انسان په خپله مینه او شوق او توجو سره ناست وی صرف جسمانی حاضری نه بلکه د زړۀ او دماغو نه به هم حاضر وی او بیدار مغز به وی.

## د قرآن انقلابي شعبې:

بیا د قرآن دا انقلاب په څهٔ څهٔ شعبو کښې راځي په کومه کومه مرحله کښې انقلاب برپا کیدے شي نو چه دغه بل آیت کښې الله دغه مضمون بیان کړے دے الله فرمائي:

﴿كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾(ص:٢٩)

د برکت نه ډک کتاب دے خو دا برکت څوك حاصلولے شي د قرآن نه نو دا هغه خلق حاصلولے شي چه د لُب خاوند وی د عقل خاوند وی بےعقله انسان د قرآن نه نصیحت او وعظ نشي اغستلے. مطلب دا قرآن په عقیده، نظریه او فکر باندې مؤثر کیږی د فکر په میدان، د عقیده په میدان کښې قرآن انقلاب راولی یو بد عقیده انسان فاسد العقیده او بے فکره غافله انسان قرآن د ښه عقیدے نظریے خاوند جوړوی او هغه بیدار مغز صاحب فکر په قرآن سره ګرځی قرآن سره بےایمان انسان ایمان داره، غلط فکر والا انسان د درست فکر خاوند والا جوړیږی او دا د قرآنی انقلاب اول مقام او اول محل ځائے دے چه په دې باندې قرآنی انقلاب اثر انداز کیږی او وجه دا وه چه د نزول قرآن په وخت کښې یو لوے فکری عقائدی نظریاتی فسادات او غلطیانے په دې دنیا کښې رواج خوړلے وو او ځکه د دوی په انقلاب کښې دا قرآن په ډیر ښه طریقے سره، اثر انداز شوے وو

دویم مقام چه په هغے کښې د قرآن انقلاب کار آمد کیږی هغه میدان د عمل دے او دا عمل الله د دے مخکښې عقیدې سره یوځائے ذکر کوی کله چې هم قرآن کریم د مؤمنانو د پاره جنت کامیابی د آخرت ثمرات ذکر کوی نو د هغے د پاره بنیاد دوه څیزونه ذکر کوی یو بنیاد عقیده او ایمان او دویم عمل صالح الله فرمائي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا﴾
(کهف:۱۰۷)

نو دويم مقام د قرآني انقلاب هغه عمل دے.

## د عمل صالح مفهوم:

عمل څهٔ ته وائی که قرآن کښې د عمل ذکر اوشی نو زمونږه ذهن صرف مونځ ، روژې ته لاړ شی چه دا عمل دے او بس نور څهٔ نشته نا د عمل مفهوم دا نه دے لکه څنګه چه زمونږه ګمان او خيال کښې راځی.

د اسلام عمل په پنځو خبرو باندې مشتمل دے. د عمل دائره دې پنځو خبرو ته وائی:

### (۱)عبادات:

دا د عمل پوره مفهوم نهٔ دے بلکه دا د عمل جزء دے يوه حصه ده بيا په دې عباداتو کښې مونځ، روژه، زکٰوة، حج، قربانی، جهاد ټول شامل دی.

### (۲)اخلاقيات:

دا هم د عمل يوه حصه ده نيك اخلاق، ښهٔ سلوك، رشته داری پالل، خپل رفتار ،ګفتار د پيغمبری تعليماتو پابند جوړول دا اخلاق دی او دا هم د دين يوه حصه ده حال دا دے چه مونږه ته دا دين نه ښکاری او دا زمونږه يوه غټه کمزوری ده چه مونږه د خپل دين نه نا خبره يو.

### (۳)معاملات:

دا هم د عمل يوه اهمه حصه ده. لين دين ساتل، تجارت، اقتصاد، معيشت، دکان، کاروبار کښې د قرآن او حديث د اصولو خيال ساتل خريد و فروخت، حلال او حرام ، سود ، دهوکه بازی، دوغله پن، دروغ ګوئی، عيب نه ښکاره کول د دې نه به مسلمان ځان په هر شان بچ کوی او دا

هم د دین یوه اهمه حصه ده. دا غلطه خبره ده چه دا د هر یو انسان ذاتی کار دے یا ذاتی معامله ده، دې سره د اسلام د الله او د رسول ﷺ نسبت او تعلق نشته؟ نا دا غلطه خبره ده.

## (٤)معاشره:

معاشره کښې دین راوستل، حجره او جومات،کاونډ، یارے دوستے کښې د الله احکامات به نۀ پامال کیږی د ښځے، بچې، مور پلار، رور خور، د هر یو فرد به خیال ساتلے شی. دې ته معاشره وائی دا هم عمل دے او د ﴿وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ د لاندے راځی.

## (٥)سیاست، ریاست و حکومت:

ځکه اسلام او شریعت صرف د مونځ، اودس نوم نه دے دا مسلمان چه کله سیاست چلوی یا ریاست او حکومت کوی نو دا به ښنګه کوی، د فرد اصلاح به ښنګه کوی، د رعیت قوم کامیابی به ښنګه یقینی کوی او سیاست مدینه به ښنګه کوی چه د دې مخلوق په نظام کښې د الله نافرمانی اونشی.

نو دې پنځو څیزونو ته عمل وئیلے کیږی. قرآن صرف دوه ټکی وائی خو په دی کښې د دې ټول خراب، فاسد نظام اصلاح موجود ده. دې ته جامع خطاب وائی مطلب پښتانه وائی: سمندر په کوزه کښې بندول.

## دین د یوڅو عباداتو نوم نه دے:

دا زمونږه کم فهمی ده یا لنډ، تنګ نظر لرو چې مونږه د یهودو یا عیسایانو په شان دین په یو څو عباداتو کښې راجمع کوو یا دین صرف مونځ ،روژه، حج ،زکوة ته وایو. بیشکه دا د دین اهم عبادات دی خو پوره دین دا نۀ دے. پوره دین دغه پنځه څیزونو ته وائی چه کوم پنځه میدانونو کښې چې قرآن یو عظیم انقلاب برپا کولے شی او پوره انسانیت د اطمینان

کامیابے و کامرانے او د یو لوې سعادت مندے راز الله په دې کښې بیان کړے دے که د دې پنځو میدانونو اصلاح په قرآن سره اوکړے شي نو د الله په لوې ذات باندې قسم چه یو انسان سره که هغه طاقتور وي او که کمزورے وي، که ماشوم وي او که هغه ځوان وي که هغه نارینه او که هغه زنانه وي او که هغه بادشاهِ وقت وي او که دَ عام رعیت نه یو فرد وي، د هیڅ یو انسان سره به هیڅ قسمه دهوکه، فراډ، ظلم زیاتے نشي کیدے. او د هغه حق تلفي به نهٔ کیږي او نهٔ به هغه احتجاج، سړك بندولو ته مجبوره شي او نه به د رزق د کمي شکوه کوي. مطلب انساني ژوند کښې هیڅ یو عمل انساني داسې نشي کیدے چې په دې پنځه یا شپږو میدانونو کښې نه وي موجود. مطلب د قرآن د نزول مقصد دا دوه خبرے دي یو ایمان بل عمل صالح بالفاظ دیگر قرآن انسان ته انسانیت زده کوي.

شیخ القرآن مولانا محمد طاهر رحمۃ اللہ علیہ به فرمائیل:

د قرآن دوه مقصده دي یو تعظیم خالق دویم شفقت برمخلوق بس دا د قرآن مقصد دې دنیا ته د راتلو ، د الله په تعظیم کښې ایمانیات عبادات او شفقت برمخلوق کښې اخلاق، معاملات معاشرت نو د قرآن خلاصه ده. قرآن څهٔ وائي څهٔ غواړي څهٔ تعلیم ورکوي دا دوه خبرے د دې جواب دے نو د قرآن مقصد پیژندل دومره آسانه خبره وه.

او حضرت لاهوري رحمۃ اللہ علیہ به فرمائیل:

چه د قرآن مقصد درے خبرې دي:

*"اللہ کو راضی کرو عبادت سے، محمد صلی اللہ علیہ وسلم کو راضی کرو اطاعت سے اور مخلوق کو راضی کرو خدمت سے۔"*

دا د قرآن مقصد دے الله په عبادت سره راضي کړه، محمد رسول

الله ﷺ په اطاعت سره او عام مخلوق په خدمت سره راضی کړه. دې ته د قرآن مقصد او مطلب وائی.

نن صبا اغیار، یورپ، مغرب دا خبره ډیره په شد و مد سره کوی چه اسلام صرف یو څو عباداتو ته وائی او دا صرف د دې د پاره کوی چه اسلام بدنام شی مونږ وایو راشے انسانی حقوق، اخلاق او معاشره د قرآن عظیم الشان نه زده کړے لکه قرآن چه څنګه ښودلی دی خو افسوس دا دے چه دا مونږه د اسلام نه، نهٔ زده کوؤ.

بنیادی خبره دا ده چه د قرآن ډیر فضائل او اهمیت دې خو مقصد ئے څهٔ دے، دنیا ته څهٔ د پاره راغلے دے. دنیا ته قرآن الله دَ انسانی انقلاب او تبدیلئ د پاره رالیږلے دے.

# قرآن او دعوت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖ اِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِنْهَا۔۔۔ الخ ﴾ (آل عمران: ۱۰۳)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ۔

## هوښيار سړی:

په دنيا کښې څوك هم بغير د قرآن كريم د زده کړے نه نۀ خپل ځان پيژندلے شي او نۀ خپل مقصد پيژندلے شي.

نه الله پيژنی نۀ د دنيا او د آخرت کاميابی حاصلولے شي .

د دے وجے نه نبی کريم ﷺ فرمائی:

﴿ اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهٗ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنِ اتَّبَعَ هَوَاهَا وَتَمَنّٰى عَلَى اللّٰهِ ﴾ (مسند ابوداود طيالسی)

يعني هوښيار هغه سړے دے چې خپل ځان اوپيژنی او د اٰخرت د پاره تيارے اوکړی. او کم عقل هغه سړے دے چې په خپلو خواهشاتو پسے روا ن وی او بيا هم په الله تعالی باندې ناجائز ګمانونه ساتی.

## د مستقبل فکر:

په دنيا کښې هم خلق هغه کس ته په حيرانتيا سره ګوری او بيوقوف ورته وائی چې د مستقبل فکر ورسره نۀ وی.

دنیاکښې هوښیار هغه انسان دے چې د خپل مستقبل د پاره د تیارے سوچ اوفکر کوی او د خپل کامیاب را روان مستقبل د پاره شپه او ورځ کوشش کوی.

دا خو خلق د هغه کس په باره کښې فیصله کوی چې کوم د دے شپیتهٔ کاله عمر په باره کښې لاوبالی اختیار کړی نو چې د اٰخرت ابدالابد والا زندګئ د مستقبل نه ناخبر وی نو هغه ته به څهٔ نسبت کولے شی بلکه هغه به د دے دنیا والا کس نه هم زیات کم عقل وی.

د دے وجے نه نبی کریمﷺ فرمائیلی وو چې هوښیار هغه سړے دے چې ځان اوپیژنی او د ابد الابد زندګئ یعنې اٰخرت د پاره تیارے اوکړی.

د انسان دنیاوی ژوند اوسطًا پنځوس شپیتهٔ کاله وی په دې فانی ژوند کښې پنځلس کاله د ماشومتوب وخت وی بیا تر پنځه ویشت دیرش کالو پورې انسان د ځوانے په غفلت نشو تماشو کښې ډوب وی نهٔ ورسره د ځان غم وی نه د مور پلار او نهٔ دَ ښځے بچو غم لری.

بیا د دې نه بعد دغه شل دیرش کاله نور عمر د دنیاوی مصروفیاتو مشغولیاتو کښې د سحر نه واخله تر د نیمې شپې پورې دنیاوی ګټه کښې ضائع کړی او کوم انسان چې دنیاوی ګټه نه کوی هغه کم عقل بې وقوفه د خپل مستقبل نه ناخبره وئیلے کیږی.

اوس که دا انسان دغه شل دیرش کاله عمر کښې الله راضی نه کړی د آخرت د پاره څهٔ تیارې وو نهٔ کړی نو د دهٔ دا قیمتی عمر په عبثو فضولیاتو کښې بے فائدې ضائع شی.

ځکه حدیث کښې دا مضمون بیان شوے دے چې مسلمان به د دنیا سره سره د آخرت د ژوند نه غافله بے فکره کیږی نهٔ د دنیا ژوند لړ شان ضرورې دې خو د دنیا پورې او د آخرت په ژوند به د انسان ډیره

توجه وی اوس د دې نه ډېر ناپوهه انسان هغه دے چې د خير کار نه کوی او اميد د خير کوی بلکه بهترينه نتيجه او انجام الله انسان ته د خير په عمل ورکوی .

د اٰخرت د پاره تيارے ضروری دے. تشه مسلمانی باعث د فلاح نشی جوړيدے.

## د قيامت يوه علامه:

دا علامه د قيامت هم ده .

نبی کريم ﷺ فرمائی:

﴿وَلَمْ يَبْقَ مِنَ الْإِسْلَامِ إِلَّا اِسْمُهٗ وَلَمْ يَبْقَ مِنَ الْقُرْاٰنِ إِلَّا رَسْمُهٗ﴾ (خلق افعال العباد للبخاری)

يعنې د اسلام به تش نوم پاتې شی او د قراٰن کريم به هم تش رسم پاتې شی او په عامو رسمونو رواجونو کښې به استعماليږی.

هر سړې د اسلام دعوی کوی خو د اسلام نه خبر نه دے چې اسلام څۀ ته وائی د اسلام راؤړلو مقصد څۀ دے د مسلمان ذمه داری څۀ ده د اسلام تقاضې څۀ دی مسلمان ته به څۀ کول ضروری وی دا نن صبا تقريباً تقريبًا زمونږه ټوله معاشره د دې نه ناخبره ده او دا ضروری بنيادونه نۀ پيژنی دا حالت دے د مسلمان صرف د دې مسلمانی ده چې په خولۀ ځان ته مسلمان وائی دَ مسلمان په کور کښې پيدا دے مور او پلار ورته نوم د مسلمانانو کيخودے دے .

په هندوستان کښې د يو سړی نه تپوس اوکړے شو چې ته په څۀ مسلمان ئے نو هغه اووئيل چې نور خو راله هيڅ نه راځی خو پلار مې مسلمان وو او د هغه کوزه او مصلی ما سره پرته ده.

دا رنګ مولانا الياس رحمۃ اللہ علیہ چې کله خپل دعوت تبليغ شروع کړو

نو په یو علاقه کښې څۀ مسلمانان وو نو هغه ئے ملاقات له ورغے نو ورته ئے اووئیل چې تاسو سره د مسلمانئ څۀ نښخه ده نو هغوی اووئیل چې مونږ کره قرآن کریم شته نو چې کله ئې راؤویسته نو د غوا په سوټو باندې لیت پیت کړے وو. نو تپوس ئے ترے اوکړو چې دا ولے؟ نو جواب ئے ورکړو چې غوا ډیره مقدسه ده نو ځکه مونږ هم په دے مقدس کتاب د دے سوټې لګولی دی.

دا مسلمانی داسے وه چې د هندوانو نه متاثره وه.

دا د مسلمان حالت وو هغه مسلمانی څۀ شوه چې ټوله ورځ به د کور هر انسان به هر وقت د الله د کتاب تلاوت، مونځونه، نوافل، خپل رب ته عاجزی ،ژړا ، فریاد دغسې مسلمانی اوحقیقی اسلام نشته مسلمان د سحر نه واخله تر ماښام د خواب وقت پورې یا ټی وی موبائیل، ډش انټرنیټ کښې مشغوله وی خو د خپل رب د پاره ورته وخت نه ملاویږی .

او دا حالت دے چې مونږ ته د الله حق د رسول الله ﷺ حق د قرآن حق د جومات حق معلوم نه دے.

## قرآن دعزت کتاب:

نو نن چې مسلمان هر ځائے کښې ډغرے خوری نو د دے غټه وجه دا ده چې د غیر طریقے ئے خپلے کړی دی او د خپل پیغمبر طریقے ئے پریښے دی.

ځکه مسلمان نن کمزورې حالت کښې دے او د خپلو او پردو ټولونه په هر ځاې کښې وهل خوری او محفوظ نه دې.

وجه څۀ ده وجه دا ده چې مسلمان په خپل دین قرآن شریعت باندې عمل نۀ کوی د دۀ عروج و زوال اونچ نیچ د دنیا او دَ آخرت کامیابی اوناکامی د قرآن سره تړلې شوې ده .

دا رنګ قرآن کریم ئې پس پشت غورزولے دے حالانکه نبی کریم ﷺ فرمائي:

﴿إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ اَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ اٰخَرِيْنَ﴾(مسند احمد)

یعني یقینًا الله تعالی د دے قرآن کریم په برکت سره بعضے قومونه اوچتوی او بعضے قومونه ورسره د عمل نه کولو په وجه راغورزوی.

دې وجے علامه اقبال شاعر مشرق وائي:

*وہ معزز تھے زمانے میں مسلمان ہو کر*

*اور تم خوار ہوئے تارک قرآں ہو کر*

هغه خلق د قرآن د وجے نه ډیر عزتمند وو نن هغه عزت د مسلمان ولے نشته نن خو مسلمان د کافر نه په لړزان دے.

چونکه مسلمان د الله تعالی د کتاب نه لرے دے نوځکه هرځاې کښې بے عزته کیږی. حالانکه عزت الله تعالی په صحیح مؤمن کیدو کښې کیخودلے دے.

الله تعالی فرمائي:﴿وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾(آل عمران:۱۳۹)

یعني که تاسو صحیح مومنان شئ نو تاسو به پورته ئے.

کوم ایمان چې د قرآن او د سنت د طرف نه د مسلمان نه مطلوب وو هغه ایمان نن زمونږ نشته دے.

خو چونکه مسلمانانو خپله مسلمانی پریخودلے ده او قرآن کریم ئے شاته غورزولے دے نو ژوند او زندګی ئے تنګه ترشه ده.

## د قرآن پریښودل سبب د تاوان:

د دے وجه الله تعالی هم فرمائیلی دی.

﴿مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾(طٰہٰ:۱۲۴)

یعني چاچې په دنیاکښې زما د قرآن کریم د زده کړے نه مخ

واړوؤ نو ژوند به ورله تنګ کړم.

نن که د مسلمان حالت ته اوکتلے شی نو انفرادی ژوند تنګ، اجتماعی ژوند په نقصان کښې معاشی اقتصادی پابندئ او بے کاره بےاطمینانه ګزران د قرآن د پریخودو وجه ده امن نشته خوشحالی نشته .

او اخروی سزا ئے الله تعالی په دے الفاظو ذکر کوی.

﴿وَنَحۡشُرُهٗ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ اَعۡمٰى﴾(طہ:۱۲۵)

یعنې مونږ به دا انسان د قیامت په ورځ ړوند راپاسوؤ.

نو دا انسان به الله تعالی ته سوال اوکړی چې په دنیا کښې خو زهٔ بینا ووم نو دا ولے دے ړوند راپاسولم؟ نو الله تعالی به ورته جواب ورکړی.

﴿وَكَذٰلِكَ اَتَتۡكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيۡتَهَا وَكَذٰلِكَ الۡيَوۡمَ تُنۡسٰى﴾(طہ:۱۲۶)

یعنې دا رنګ تاسو ته زمونږ اٰیاتونه راغلے وو خو تاسو هغه هیر کړے وو نو نن ورځ مونږ تاسو د خپل رحمت نه هیر کړئ او حشر مو درله د ړندو سره اوکړو.

## رسول ﷺ او د قرآن شکایت:

دا رنګ نبی کریمﷺ به هم د قیامت په ورځ د داسے امتی نه انکار کوی چې کوم قراٰن کریم په دنیا کښې نه دے خپل کړے او پریخودلے ئے دے.

الله تعالی فرمائی:

د الله د عدل او انصاف واله عدالت کښې به شکایت کوی په دغه انسان باندې .

پیغمبر به د الله د کتاب حق او انصاف غواړی چې د دې سره څهٔ سلوک شوې وو څهٔ انصاف شوې وو.

﴿وَقَالَ الرَّسُوْلُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا﴾(الفرقان:۳۰)

يعنې رسول به اوفرمائی چې اے زما ربه زما دے قوم دا قرآن کريم پريخودے وو.

دا رنګ قرآن کريم به هم په خپله د الله تعالی په دربار کښې د داسے کس په باره کښې شکايت کوی کوم چې قرآن کريم په شا غورزولے وی او عمل ئے پرے نه وی کړے.

او قرآن به پخپله هم دا شکايت د انسان نه کوی ځکه حديث کښې راځی: ﴿اَلْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَّکَ اَوْعَلَيْکَ﴾(الاحادوالمثانی لابن ابی عاصم)

قرآن به يا ستا په خلاف وی اويابه ستا دخلاصی دپاره دليل وی.

بل حديث کښې راځی:

﴿القرآن والصيام شفيعان﴾(الزهد لابن مبارک)

قرآن اوروژه به د الله په دربار عالی کښې شفاعت کوی قرآن به هم خپل حق طلب کوی چې الله دې انسان نۀ زما تلاوت کړے دے، نۀ ئے په ما خپل عمل برابر کړے دے او نه ئے د عقيدې اصلاح په مابندې کړې ده .

## دقرآن دومقصدونه:

حالانکه د قرآن کريم د رالیږلو غټ مقصد الله تعالی په دے الفاظو بيان کړے دے:

﴿كِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْا اٰيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ اُوْلُوا الْاَلْبَابُ﴾(ص:۲۹)

يعنې دا داسے کتاب دے چې مونږ د برکت نه ډك رانازل کړے دے . دې د پاره چې په دے کښې تدبر اوکړے شی او چې عقل والا ترينه پند اونصيحت حاصل کړی.

نو د قرآن کريم د نزول دوه مقاصد وو

یو تدبر او بل تذکر.

یوځان په دې باندې پوهه کول بل په خپل ژوند کښې قرآن راوستل په دې عمل کول .

خو یو هم زمونږ په زندګئ کښې نیشته او مونږ په قرآ ن کریم عمل پریخودے دے.

د بدقسمتے نه زمونږ سره د ټی وی، ډائجسټ، اخباراتو د کتلو وخت شته دې خو د الله کتاب مظلوم کتاب دے چې د دې د پاره نه د ځوان سره وخت شته نه د بوډا سره نه د ماشوم سره نه د زنانه سره او نه د نارینه سره د دې وخت شته دے د دنیا د حالاتو نه انسان ځان خبروی خو د آخرت د حالاتو د پاره وخت نشته آیا دا مسلمان د پیغمبر د شفاعت د قرآن د شفاعت حقدار کیدے شی دا خو مونږه په خپله اقرار کوؤ چې دا انسان د دې حقدار نه دې.

## د قرآن عزت اوصحابه رضی اللہ عنہم :

دا رنګ د عائشے رضی اللہ عنہا نه د نبی کریم ﷺ د اخلاقو په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغے ورته اوفرمائیل چې د نبی کریم ﷺ اخلاق بس قرآن کریم وو.

ځکه د هغوی رفتار ، ګفتار ،طریقه وآداب هرڅۀ به د قرآن مطابق اوموافق وو .

دا رنګ یو صحابی رضی اللہ عنہ نه به چې د قرآ ن کریم په باره کښې تپوس اوشو نو بل صحابی رضی اللہ عنہ ته به ئے لاس اونیوؤ چې دغه دے قرآن روان دے.

یعنې که زمونږ قرآن لیدل غواړے نو د دې انسان خوراک څکاک اخلاق عمل چې څنګه کوی دا زمونږ قرآن دے. ځکه چې د هغه عمل

به د قرآن کریم مطابق برابر وو.

د هغوی د عزت دومره مقام وو چې شلیدلے کپړے، ساده ژوند بےتکلفه خبرې خو بیا هم د دنیا د سپر طاقت په دربار کښې ډیر په جرأتمندے سره خبرې کوی.

دا وجه وه چې کله به د صحابوﷺ په باره کښې چا واؤریدل نو یریدو به.

یو صحابیؓ د ایران دربار ته دننه تلو نو دربان ورته اووئیل چې توره نشی اوړلے نو هغه ورته جواب ورکړو چې دا ماته نبی کریمﷺ په اوګه کړے ده نو څوك ئے هم رانه نشی ویستلے نو هغه وریورے اوخاندل چې د دے سر خو مات دے نو ته به په دے سره څۀ توره اوکړے؟

نو هغه صحابیؓ جواب ورکړو چې تورے ته مۀ ګوره بلکه توره چلونکی ته اوګوره. بیا یو ډهال راؤړلے شو نو دۀ چې پرے ګوزار اوکړو نو دوه ټکړے ئے کړو.

دا صحابه کرامؓ وو چې عمل ئے د پیغمبر په سنت طریقه برابر وو او په قرآن کریم باندې ئے عمل ډیر وو نو په دنیا کښې کامیاب وو او الله تعالی ئے د هر چا په زړۀ کښې رعب اچولے وو.

عدی بن حاتمؓ فرمائی چې ما په اسلام قبلولو کښې جهجهك محسوسولو نو نبی کریمﷺ ځان سره کینولم او راته ئے اوفرمائیل چې ته په دے یریږے چې ګنی دا یو څو کسان به په ټوله دنیا څۀ رنګه حکومت اوکړی خو یاد ساته چې د صنعاء مقام نه به یو زنانه دلته راځی او هیڅ یره به نۀ محسوسوی. او یو کس به د سرو زرو سره ګرځی او د چانه به هم یره نه محسوسوی.

عدی بن حاتم رضی الله عنه فرمائی چې زهٔ ژوندې ووم او دا پیشنګوئی ما په دے خپلو سترګو اولیده چې یو زنانه د صنعاء مقام نه یواځے حج له راغلے وه او هیڅ یره ئے نه محسوسوله.

علامه اقبال رحمة الله علیه هم فرمائیلے وو:

توندے دانی که آئین توچیست　　　این کتاب زنده قرآن حکیم
چون بجان در رفت جان دیگر شود　　　جان چون دیگر شود جهان دیگر شود

یعني اے مسلمانانو تاسو دا نه پیژنئ چې ستاسو اٰئین څهٔ څیز دے نو هغه دا قراٰن کریم دے. بلکه کله چې دل او دماغ ته ننوځی نو فرد کښې انقلاب راشی او بیا په نورو ګنړو افرادو کښې ورسره هم تبدیلی راځی.

الله تعالی دے مونږ کامل او صحیح مسلمانان جوړ کړی او د قراٰن کریم په تعلیماتو دې مونږ روان کړی. امین.

# انقلاب قرآنی (حصه اول)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ. اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ. بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾

(ال عمران: ۱۰۳)

﴿ إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴾ (بنی اسرائیل:۹)

## د قرآن انقلاب او اثر:

د قرآن کریم دوه آیتونه تلاوت شو په دې دواړه آیتونو کښې الله د قرآن د اثر او انقلاب تذکره کوی. الله رب العزت فرمائی چه دا کتاب ما دنیا ته نازل کړے دے دا کتاب په دې دنیا کښې یو عظیم ناشنا پائیدار مضبوط انقلاب برپا کولے شی.

د دې کتاب هدایت، تعلیم، ښودنه د نورو ټولو هدایتونو، ښودنو او تعلیماتو نه اوچت او بهترین دی.

﴿ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِىْ لِلَّتِىْ هِىَ اَقْوَمُ ﴾

دا کتاب برابرے لارې طرف ته د انسان رهنمائی کوی او د دغے برابرے لارې او پوره هدایت تذکره الله د سورۀ ال عمران په دې آیت کښې کړې ده چې د دې امت اول نسل دَ صحابه کرامو رضی اللہ عنہم جماعت کښې دې کتاب څنګه اثر کړے وو هغه مضبوط، نمایا، بهترین انقلاب څنګه وجود ته

راغلے وو او الله که دغه انقلاب تفصیلی بیان کړے وے نو ټول قرآن به ورنه ډك شوے وو. الله د دغه انقلاب بیان په یو دوو جملو کښ ذکر کوی:

﴿ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا﴾ (آلعمران:۱۰۳)

الله فرمائی چه د دې امت اول نسل او اول مخاطبین کښې معاشرتی انقلاب قرآن داسے برپا کړو چه دشمنے په دوستے سره نفرتونه په محبتونو سره او کینه او بغض په ښیګړې او احساناتو سره بدل شول. هغه نسل در نسل دشمنان د هغوی په یو بل باندې ځان قربانونکی رونړه، دوستان جوړ شو نو دا انقلاب د دنیا او د معاشرې انقلاب وو چه د قرآن په تعلیماتو سره د مکے مشرکے معاشره کښ را پیدا شوے وو.

## د جهنم نه ازادی:

دویم بنیادی اساسی انقلاب همیشه انقلاب او فائده د قرآن دا وه چه:

﴿ وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا﴾ (آلعمران:۱۰۳)

مطلب تاسو د جهنم په غاړه باندې ولاړ وے نزدې وه چه تاسو د جهنم په طوفان کښ لاهو شوی وے بیا الله لوے نعمت او احسان دا اوکړو چه قرآن عظیم الشان ئے نازل کړو نو ﴿فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا﴾ الله د جهنم د دغه دردناك،خوفناك، هیبت ناك عذاب نه بچاؤ او نجات درته نصیب کړو. یقینًا دا هر څوك منی چه قرآن د انقلاب کتاب دے. د دنیا او آخرت انقلاب په دې کتاب کښ پروت دے. هیڅ یو کمزورے مسلمان د دې خبرے نه انکار نشی کولے. دلته یو سوال ذهن ته راځی هغه دا چه قرآن یو مضبوط پوهه نسل پیدا کړو، د انسان سره همدردی کونکی نسل ئے پیدا کړو، دا هدایت یافته بهترین نسل دوباره په روستو زمانه کښ ولے پیدا نشو سره د دې نه چه دغه کتاب په خپل اصلی شکل کښ موجود

او ورسره تعلیمات نبویه هم شته دے. سوال دا دے چه دا نسل دوباره ولے پیدا نه شو پکار خو دا وه چه دا نسل همیشه په دنیا کښ موجود وے ځکه دا نسل پیدا کیږی په قرآن سره او قرآن موجود دے، پیغمبری احکامات موجود دی زه د فرد یا د شعبے خبره نه کوم ځکه داسے څۀ نه څۀ خلق به ترقیامته پیدا کیږی، دا امت شاړ او شنډ امت نۀ دے، زۀ من حیث القوم دَ یو پوره نسل په باره کښ دا خبره کوم چه صحابه کرامو رضی اللہ عنہم په شان یو پوره نسل قوم ولے نه پیدا کیږی په دې امت کښ نو په دې څۀ خبرے کوؤ.

## قران او انقلابی جماعت:

دا خو معلومه خبره ده چه د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم تیار کړده جماعت کامل خلق وو دا خبره دوست خو لا څۀ چه دشمن هم دا خبره منی چه قرآن کله نازل شو قرآنی تعلیمات چه کله عام شو نو داسے یو پوره جماعت د الله پیغمبر په خپل ارشادات او تعلیمات سره پیدا کړو چې تر ورځ د قیامت پورے د انسانیت کامله نمونه پوره مصداق دغه خلق صحابه رسول صلی اللہ علیہ وسلم وو که څوك دا وائی چه د انبیاؤ نه بعد کامل او مکمل انسانان څوك وو نو هغه دغه جماعت د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم دے.

دغه پوره دین داره جماعت اګرچه نن په صفحه وجود باندې نشته خو د دغه جماعت د انقلابی پهلو څۀ نه څۀ آثار نن هم موندلے کیږی نو څو پورے چه په آباده دنیا کښ دَ قرآن تلاوت کیږی. ابوبکر رضی اللہ عنہ به یادیږی. عثمان، علی، بلال، ابوهریره رضی اللہ عنہم به یادیږی تاریخ به کله هم دغه وفادار خلق هیر نۀ کړی د کوم خلقو تربیت چه د نبی صلی اللہ علیہ وسلم په مبارکو لاسونو باندې شوے وو او د اعزاز او افتخار د پاره به د دغه خلقو نومونه په خپل بچو، کورونو، جماعتونو، وطنونو باندې کیخودلے کیږی. یقیناً بیا

دغه نسل تیارهٔ ختمه کړه او مخلوق خدا ته ئے رنړا ورکړه. د قدیم باطل رسوماتو او رواجونو تمدن بیخ کنی ئے اوکړه او د قرآن او سنت ته ئے رواج ورکړو. یو نوے نظام، نوے تهذیب، نوے قانون او سیاست ئے د خپل وس پورې انسانیت ته ورکړو چې هغه د قیامت د صبا پورے یو قانون دے او اعتراض ورباندې په هیڅ یوځائے یا په هیڅ یو زمانه کښ نشی کیدے. بهر حال دغه نسل که یو طرف ته د دنیا د انسانیت سره دا عظیم احسان او ښیګړه اوکړه بل طرف ته خالق کائنات قادر مطلق ذات د دغه خلقو نه خوشحاله او همیشه راضی شو ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ﴾(بینۃ:۹۸) او دغه خلق الله تر ورځ دَ قیامت پورے معیار د ایمان وګرځول ﴿فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾(بقرۃ:۱۳۷) که دا موجوده خلق د صحابه کراموؓ په شان ایمان راوړی نو قسم په الله چه موجوده خلق هم کره پوره مکمل کامیاب شو.

## نن د صحابوؓ په شان جماعت ولے نشته:

نو سوال دا وو چه دغه شان نسل دوباره ولے پیدا نه شو. که څوک دا وائی چه د هغوی تربیت د پیغمبر اسلام محمد رسول اللهﷺ په لاس باندې شوے وو نو یقینًا چه د محمد رسول اللهﷺ د مقام او مرتبے انسان تر قیامته په دنیا کښ نشی پیدا کیدے خو پیغمبر اسلام د دغه خلقو تربیت په څهٔ کړے وو هغه نن هم موجود دی چه قرآن و سنت دے دوئمه دا چه داسے نسل پیدا کول مقصود او مطلوب دی او د پیغمبر وجود د قیامته پورے ضروری نه دے ځکه الله دا پیغمبر صرف د یو قوم، قبیلے، عربو د پاره نه وو رالیږلے. دا پیغمبر ئے تا قیامت عرب او عجم د پاره رالیږلے وو، دا پیغمبر الله دنیا ته مبعوث کړے وو نو که د پیغمبر وجود په نسل کښ ضرورې وے نو بیا به پیغمبر وفات شوے نه وے نو د دې نه معلومیږی چې دغه نسل د پاره پیغمبر وجود همیشه ضروری نه دے.

## درې وجوهات:

در اصل د دې د پاره درے وجوهات دی. د مصر يو عالم دے سيد قطب شهيد رحمۃ اللہ علیہ هغه په خپل کتاب (معالم فی الطريق) کښ ذکر کړی دی:

(۱) دغه نسل د صحابو رضی اللہ عنہم د هغے مأخذ صرف او صرف قرآن او حديث وو دغه خلقو د قرآن او حديث نه علاوه د بل څۀ څيز نه اخذ نه دے کړے. مطلب دا چې صحابه کرامو رضی اللہ عنہم صرف او صرف د قرآن او سنت رسول د چشمے نه سيراب شوی وو د بل څۀ څيز نه هغوی نه متاثره کيدل.

نن د امت حالت دا دے چې په ځائے د قرآن او سنت دا امت د يورپ او مغرب د فلسفو نه سيراب کيږی او په هغوی کښ د خپلے کاميابئ راز تالاش کوی ځکه دغه شان نسل نن نه پيدا کيږی زمونږه عقيده، عمل،تهذيب، ثقافت، معيشت، سياست به د قرآن نه اخذ کيږی د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم کمال دا دے چه هغوی د ژوند په ټولو شعبو کښ په هر ډګر کښ د قرآن او سنت نه بغير د بل څۀ نه اخذ نه دے کړے.

که څوك وائی چه جی تهذيب او ثقافت معيشت دې سيکولرزم، لبريلزم دې وی نو دا مجبوری ده ځکه مونږه د هر طرف نه دا څيزونه راغستې دی او دا په مونږه لازم کړے شوے دی زمونږه طبيعت د دې سره مانوسه او عادت شوے دے بل نظام او قانون منلو ته تيار نه يو. دا خبرې صحابو رضی اللہ عنہم هيڅ کله نه وے کړے په هغه دور کښ جدا تمدن موجود وو، يونان وو، روم وو، حبشه، مصر وغيره خو صحابو رضی اللہ عنہم هغے ته په روستو هم نه دی کتلی. داسے نشی کيدے چې يو مسلمان ايمان او تقوی د اسلام نه، عبادات د عيسائيت نه او تصوف او سلوك د بُدھ مت، هندومت نه راواخلی

داسې دين الله ته معتبر دين نه دے دغه صحابو رضی اللہ عنہم كله هم اقتصادی يا سياسی نظام د روم، فارس نه نهٔ وو اغستے الغرض كه عقيده وه كه اخلاق، معاملات، سياست، معيشت معاشرت هغه خلقو رسم او رواج هم د پلار او نيكه د دين نه نهٔ وو اغستے حالانكه لږ مخكښ د دغه معاشرے نه جدا شوی وو د مكے او مدينے رسم و رواج ئے هم د خپو لاندے كړو او پامال ئے كړو او قرآن او سنت له ئے ترجيح وركړه.

## د عمر رضی اللہ عنہ واقعه او د نبی صلی اللہ علیہ وسلم جواب:

دغه قوم د خپل كتاب قرآن نه علاوه بل كتاب طرف ته توجه نه وه كړے او د هغوی سيرت په دې ګواه دے. عمر رضی اللہ عنہ ته يوځل د يو يهودی نه د تورات څهٔ پاڼړے ملاؤ شوے وے عمر رضی اللہ عنہ ورته ګوری او وائی ئے او د نبی صلی اللہ علیہ وسلم مجلس ته را روان دے. نبی صلی اللہ علیہ وسلم د صحابو رضی اللہ عنہم سره ناست وو نو ورته ئے اوئيل يا رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په دې تورات كښ هم د نصيحت ډيرے خائسته خبرے شته دے نو نبی صلی اللہ علیہ وسلم چې دا خبره واوريدله يكدم د نبی صلی اللہ علیہ وسلم حالت بدل شو، مخ مبارك ئے تك سور شو ستركے ئے سرې شوې نو ابو بكر رضی اللہ عنہ پوهه شو ځكه هغه خلق په مزاج د نبوت پوهيدل او د ابو بكر رضی اللہ عنہ ټول ژوند د نبی صلی اللہ علیہ وسلم سره يوځاې وو په ژوند كښ څهٔ بلكه بعد د مرګ په يو ځائے كښ دفن شوی دی ورسره نو ابو بكر رضی اللہ عنہ اوكتل چه نبی صلی اللہ علیہ وسلم په دې خبره ناراضه شو عمر رضی اللہ عنہ ته ئے اووئيل:

﴿ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ رضی اللہ عنہ اَمَا تَرٰى مَا بِوَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ صلی اللہ علیہ وسلم﴾

(جامع معمر بن راشد)

مور دربانديې بوره شه آيا تهٔ د نبی صلی اللہ علیہ وسلم مخ مبارك ته نظر نهٔ كوې. چه د هغه مخ بدل شو. نو عمر رضی اللہ عنہ چه ورته اوكتل نو ناڅاپه ئے دا خبره اوكړه. ﴿اَعُوْذُ مِنْ غَضَبِ اللهِ وَ غَضَبِ رَسُوْلِهٖ﴾

توبه توبه د الله او د الله د رسول د غضب نه پناه غواړم ما ته څۀ پته وه چه پیغمبر په دې خبره خفه کیږی نو نبیﷺ ورته اووئیل چه تورات خو لا څۀ کوے که چرے موسی علیه السلام هم ژوندے وو نو هغه به هم زما تابعداری کړے وے هغه به خپل تعلیمات پریخودی وو او زما اتباع به ئے اختیار کړے وے.

یو عظیم شخصیت عمر رضی الله عنه ته نبیﷺ غصه شو سره د دې نه چه عمر رضی الله عنه په هغے سره گمراه کیدو نه خو وجه دا وه چه قرآن او سنت موجود وی، پیغمبر وی نو بیا دې څیزونو ته ضرورت نه پاتې کیږی او زمونږه علماؤ هم د تورات انجیل د مطالعه نۀ څوك نه منع کوی که تحقیق کوی چه تورات انجیل د دې په باره کښې څۀ وائی آیا دا خبره د قرآن او حدیث سره موافق ده او که نۀ ده موافق، نو د دې تحقیق د پاره تورات او انجیل مطالعه کولے شی خو په شرط د دې چې هدایت او رهنمائی دا به د قرآن پاك نه اخذ کوی نو که پیغمبر په دې موقع ناراضه کیږی، اصل وجه دا وه چه نبیﷺ داسے امت تیارولو چې د هغه امت سر چشمه قرآن او حدیث به وی چرته دا خبره بنیاد جوړ نه شی چه زما امت صبا له د بل ځائے نه څۀ وانۀ خلی. او خپل هدایت او کامیابی د قرآن حدیث نه علاوه په بل ځائے کښې تلاش نه کړی.

مونږه ځکه دا نسل نه شو تیارولے چې زمونږه برائے نام عقیده د قرآن نه معیشت او اقتصاد د کمیونزم او کیپټلزم، معاشره د مغرب نه سیاست د سیکولرزم او لیبرلزم نه مونږه واغستو نو ځکه دا امت مونږه نه شو تیارولے او دوه نور وجوهات به آئینده بیان کښې ذکر کړو.

# انقلاب قرآنی (حصه دوم)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيْرًا﴾ (بنی اسرائیل:۹)

## قرآنی نسل وے نشته:

مخکښې جمعه نه یو عنوان او موضوع باندې خبره شروع وه کله چې الله رب العزت دا خپل عظیم الشان کتاب نازل کړو نو د هغې دا اثر وو دا انقلاب وو چې په دې قرآن سره یو عجیبه نسل پیدا شو یو امت ئے پیدا کړو چه هغوی ته د صحابه کراموﷺ امت او جماعت وئیلے کیږی او بیا دغه نسل د انسانیت د مصداق د پاره الله تر قیامت پورے معیار اوګرځولو د هغوی ایمان عقیده، عمل، اخلاق، معیشت، معاشره، سیاست د آئینده خلقو د پاره معیار جوړ کړو او قرآن وائی:

﴿ فَإِنْ آمَنُوْا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾ (بقرۃ:۱۳۷)

خو دغه نسل قرآن تیار کړے وو دا څۀ وجه ده چه قرآن اوس شته دے خو دغه امت نۀ شی پیدا کیدے؟

## د صحابی مقام نه بلکه عمل مطلوب دے:

یوه درجه او مقام دے نو د صحابیت درجه تر قیامته پورے هیڅ چا ته د صحابوﷺ نه بعد نشی ملاویدے ځکه د صحابی تعریف دا دے چې صحابی هغه چا ته وئیلے کیږی چه د ایمان په حالت کښې ئے د

نبیﷺ زیارت کړے وی او بیا په دغه حالت کښې وفات شوے وی، هاں دا خبره ده چې د دغه نسل نمونه پیدا شی دنیا کښې بیا دغه نمونه د افرادو په شکل په بعضے شعبو د دین کښې پیدا شوی دی په علم، عبادت، جهاد، اخلاق وغیره خو ولے په ټول امت کښې اجتماعی طور دغسے نسل ولے پیدا نه شو چې دا امت عروج ته ورسوی نو د ټول امت عقیده د قرآن نه، نه ده اغستلے شوے نن په دې امت کښې د هندوانو د یهودو د عیسایانو د روافضو او شیعه ګانو د غیر امت او غیر مذهب خلقو واله عقائد موندلے کیږی. شرکیات، بدعات، خیالی خرافات او تصورات په دې امت کښې شته دے عمل کښې، معاملات، لین دین، کښې شکل و صورت کښې، سیاست معیشت، ریاست کښې مونږه د قرآن او حدیث نه بل طرف ته روان شوی یو دا یوه وجه وه.

## دویمه وجه طریقه اخذ:

دویمه وجه دا ده چې د هغه خلقو اخذ، زده کړه، تعلیم اغستل د قرآن په یو شان وو او د دې خلقو زده کره، اخذ، ډنګ او طرز تعلیم په جدا طریقے سره او په بل شان دې هغوی خپل ځان د قرآن مخاطب ګڼړل چې دا خبره مونږ ته کیږی مونږه ته که قرآن یوه خبره کوی نو مونږه وایو چې دا خبره مونږه ته نهٔ کیږی دا چرته د صحابو، نیکانو عالمانو کار دے هغوی به د الله حکم د عمل په نیت باندې اوریدلو او د دې دور خلق قرآن د عمل په نیت نه اوری بلکه اعتراض ورباندې کوی او که د قرآن سره څهٔ لږ ډیر تعلق لری نو هغه په دې نیت چه علمی ذوق و شوق، تحقیقی و تفسیری نکات یا په مشق سره تلاوت نو د هغوی د اخذ کیفیت نه پیژنی، د ډګرئ، معلوماتو، اسنادو په نیت د قرآن نه اخذ کوی قرآن صرف د معلوماتو کتاب نه دے او نه د دې کتاب دے چه دنیا کښې انسان

ته ورباندې څۀ مقام يا مرتبه ملاؤ شي بلکه هغه خلقو د قرآن خپل ځان مخاطب ګنړلے وو او په دې نيت به ئے قرآن اوريدلو چه په دې سره د عمل اصلاح اوشي او عمل کښې ئے راولو.

## د صحابوؤ رضی اللہ عنہم د قرآن د زده کړې حالت:

دغه وجه وه چه عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ وائی چه مونږه به د الله پيغمبر نه د لسو آيتونو نه زيات نۀ زده کولو ځکه کله چه به مونږه لس آيتونه زده کړل هغه به مونږه عمل کښې راوستل بيا د هغے نه بعد به مونږه د نورو آيتونو زده کړه کوله.

صرف د معلوماتو په نيت نۀ او نۀ صرف د اعزاز د پاره يا د دنياوی ډګرئ د پاره قرآن زده کوی نن که يو انسان اوګوری اول خو زمونږه د زندګئ نه قرآن وتلے، خارج شوے دې. اوګورے اول کالج، يونيورستۍ کښې ښودلے کيږی په هر سورت PHD کيږی نو صرف د ډګرئ او اعزاز د پاره نه د عمل د پاره.

ځکه شاعر مشرق علامه اقبال رحمۃ اللہ علیہ وائی:

*تجھے کتاب سے ممکن نہیں فراغ کہ تو*
*کتاب خواں ہے مگر صاحب کتاب نہیں*

مونږه کتاب وايو خو صاحب کتاب جوړ نه شو چې زمونږه ژوند کښې عملی انقلاب راولی. کمال کتاب خوا کيدل نه دی کمال (صاحب کتاب) کيدل دی. دغه وجه وه چه صحابو رضی اللہ عنہم ته به ژوندې قرآن وئيلے کيدو لکه څنګه چې ام المومنين وائی ﴿كَانَ خُلُقُهُ اَلْقُرْآنُ﴾ د نبی صلی اللہ علیہ وسلم اخلاق قرآن وو د پيغمبر پاك په باره کښې، علماء وائی قرآن دوه قسمه دے يو قرآن صامت او بل قرآن ناطق دے، صامت دغه قرآن دے چې کوم مونږ تلاوت کوؤ دې سره به تۀ خبرے کوے دا ستا سره خبرے نه کوی او

دویم قرآن ناطق دے هغه ستا سره خبرے کوی چلتا پھرتا قرآن او هغه محمد رسول الله ﷺ وو د هغوی هر عمل د قرآن مطابق وو او دغه شان صحابه رسول رضی الله عنہم هم وو ځکه علماء وائی

﴿كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمْ قُرْآنًا حَيًّا يَمْشِيْ عَلٰى وَجْهِ الْاَرْضِ﴾

چه هر یو صحابی رضی الله عنہ یو زنده ژوندے قرآن وو چه د زمکے د پاسه به گرځیدو.

## هر عمل د قرآن مطابق:

د هغوی اخلاق، نظریه ،فکر ،عمل به د قرآن مطابق وو که چرته د باهر نه به وفد مدینے ته راغے او هغوی به تپوس اوکړو چه ستاسو هغه کتاب قرآن چرته دے نو هغه وفد ته به ئے قرآن ځنگه ښودو که یو صحابی رضی الله عنہ به په لاره روان وو هغه به ئے ورته اوښودلو چه دغه شخص گورے، دغه زمونږه قرآن دے، صحابی به ئے د قرآن په مثال کښ پیش کولو څۀ مطلب؟ مطلب دا چې دا څۀ وائی څۀ کوی د دۀ حرکات عقیده نظریه هر څۀ قرآن دي.

د حضرت عمر رضی الله عنہ په باره راځی که دۀ به د چا نه تلاوت واوریدو نو ﴿كَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللهِ﴾ د الله د کتاب سره به ئے ډیر زیات سوچ فکر کولو خبره به ئے هم نه کولے یو ځل په خپل دور خلافت کښ د نکاح د مهرونو په باره کښ ئے قانون سازی کوله ځکه نبی ﷺ فرمائی بهترینه نکاح هغه ده چه مهر ورکښ کم اوتړلے شی نو دغه خلقو د مهر په باره کښ غُلو شروع کړے وه، ډیر زیاتے به ئے کولو نو په خطبه کښ ئے اعلان وکړو چې اے خلقو د دې ښځو په مهرونو کښ غُلو مۀ کوے او د هغے د پاره ئے یو حد مقرر کولو دغه تقریر دوران کښ د روستو نه یوه بوډۍ زنانه پاسیده او ورته ئے اوئیل یا امیر المومنین ترغیب

ورکولے شي چه مهرونه کم کړے خو دا لازمی قانون سازی نشي کولے ځنګه د مهر حد مقرر کوے ځکه شریعت نه دے مقرر کړے دا اختیار تا لره نشته او د قرآن پاك آیت ئے ورته تلاوت کړو:

﴿ آتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا ﴾ (نساء:۲۰)

مطلب که تاسو دَ ښځو په مهر کښ یوه غټه خزانه ورکړې وی او نکاح اوشی نو هغه به ورنه بیا نهٔ اخلې د حضرت عمر رضی الله عنه په شان هستی قانون سازی کوی خو کله چه د قرآن آیت اوری نو بیا په خپل ځائے باندې اودریږی او وائی الحمد لله د پیغبر په امت کښ داسے زنانه هم شته دے چه حضرت عمر رضی الله عنه ته جواب ورکولے شی نو عمر رضی الله عنه د یو زنانه په خُله باندې قانون سازی پریخوده ځکه د قرآن مخے ته به ئے خپل ځان اودرولو او مخکښې به نه تلو. دَ عمر رضی الله عنه صفت دا وو چه ﴿كَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللهِ﴾ د الله په کتاب کښ به ئے ډیر سوچ فکر کولو.

نو دا بله بنیادی وجه وه چه داسې یو جماعت ځکه نشته چه زمونږه خلقو او هغه خلقو په کیفیت اخذ القرآن کښ فرق دے.

## دریمه وجه د تیارې او رنړا امتیاز:

دریمه خبره دا وه چه کله هغه امت د جهالت نه دین ته راغلل اسلام او قرآن ته راغلل حق او رنړا ته راغلل نو بیا هغه خلقو خپل ماضی ته او شا ته کتلی نه وو بلکه د هغې نه ئے تمام تعلقات او روابط کټ کړی وو غلطه نظریه، غلط اخلاق، غلط معامله الغرض هر غلطه پهلو ئے پریخوده او نن د دې امت حالت دا دے که چرته دین ته راشی، اسلام ته راشی نو بیا هم د خپل جاهلیت د عمل او عقیدے سره تعلق ساتی.

دا بنیادی خبره ده چه د اسلام نه بعد ماضی ته په هیڅ نظر نه کتل او هغه اعمال عادات نه اختیارول که نن یو کس صرف مونځ، اودس

شروع کړی، نو عقیده به ئے خرابه وی که عقیده صحیح شی نو بیا د پلار ، نیکه ، رسم او رواج پریښودلو ته تیار نه وی ځکه داسے امت نه پیدا کیږی ترڅو پورے چې یو انسان جاهلیت قدیمه او جاهلیت جدیده نه پریږدی تر هغے پورے نمونه د صحابوؤ نه شی کیدے.

## دوه قسمه جهالت:

ځکه جاهلیت دوه قسمه دے یو جاهلیت قدیمه چه هغه د پلار، نیکه، رسم او رواج دے او بل جاهلیت جدیده چه هغه د مغرب کلچر او دستور ،طور او طریقه مغرب د مغرب او یورپ لباس شکل و صورت دا جاهلیت جدیده دے او دا د جاهیلت د قدیم جاهلیت نه ډیر بدتر جاهلیت دے او لوے خطرناك دے نو د قرآن او سنت د پاره به دا هر قسم جاهلیت پریخودلے شی.

جاهلیت څۀ ته وائی؟ علماء وائی:

﴿اَلْجَاهِلِيَّةُ عَدَمُ الْاِهْتِدَاءِ بِهَدْيِ اللهِ﴾

د الله د دین او شریعت نه علاوه بل څۀ پسې روانیدل دې ته جاهلیت وائی.

تر څو پورے چې ماخذ کتاب الله او د اخذ کیفیت برابر نه وی او کله چې جاهلیت هسې پریخودے شوی نۀ وی لکه څنګه چې صحابه کرامو پریخودلے وو نو په دنیا کښې هغسې انقلاب نۀ شی راتلے او دا څیزونه چه کله موجود شی، دنیا کښې به د عدل و انصاف او پر امن فضا او انقلاب برپا شی.

# د قرآن او حدیث اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُوْنَ﴾ (المائده:۸۱)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهٖ﴾ (موطا امام مالک)

## داهل کتابو د ګمراهۍ اسباب:

د قرآن کریم په دې ذکر شوې آیت کښې او د نبی کریم ﷺ په دې حدیث کښې مسلمان ته خبردارے ، تنبیه او د یهود اونصاراؤ د طریقو، چال چلونو نه بچ کیدل په دې کښې ذکر دی.

اوبار بار ئے مسلمان ته تذکره کوی چې د هغوی د نقش قدم او روش، عاداتونه بچ شی.

په ایت کښې درے بنیادی خبرے ذکر کوی چې ډیرے اهمے دی او د دین بنیادی احکا م دی.

سورة مائده کښې الله تعالی د اهل کتابو تذکره کړے ده او د هغوی برایانے ئے ذکر کړی دی چې په هغے کښې د الله تعالی او د رسول نافرمانی وه ، په خپله هم ګمراه وو او نور ئے هم ګمراهۍ ته رابلل، شرک بدعات پکښې عام وو او د الله تعالی بندګان او اولیاء ئے د الله تعالی سره شریکان جوړ کړی وو.

لکه نصارو عیسی علیه السلام لره او یهودو عزیر علیه السلام ته

د الله ځوئے وئیل .

د الله او د رسول خلاف، د دین په مقابله کښې بغاوت دا ټول قسم مرضونه په هغوی کښې موجود وو. او غلو فی الدین ئے کوله .په دین کښې ئے خپلے خبرے دننه کړے وے. او دَ منکر نه ئے خلق هم نه منع کول.

## دری اهم بنیادونه :

بیا د دے برایانو بیانولو نه بعد په اٰخر کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴾(المائده:۸۱)

یعني که دا درے کارونه ئے کړے وے چې یو په الله تعالی باندې ایمان دے. دویم په رسول الله ﷺ باندې ایمان دے.

او دریم د وخت د رسول د راؤړلے شوے قانون او کتاب منل وو.

نو نتیجه به ئے دا وه چې چرے به هم دوی د الله تعالی سره نور بندګان اولیاء نه وو شریك کړی.

او د مخلوق د غلامی نه به ئی نجات، خلاصی موندلے وو.

نو که څوك دا درے خبرے نه منی نو د هغوی به هم دغه حالت وی کوم چې د اهل کتابو وو.

## د کامیابئ راز درې خبرې :

او که څوك عقیده د الله تعالی د توحید لری او د خپل پیغمبر اتباع کوی په خپل عمل سره او د ژوند تیرولو قانون ئے د الله تعالی کتاب وی نو دا انسان به کامیاب وی.

او که دچا په عقیده کښې ایمان بالله،توحید نه وی، په عمل

کښې ئې اطاعت رسول او سنت نه وی اونظام حیاة اوقانون ئې کتاب الله نه وی نو یقینًا دغه انسان د کامیابۍ نه لرې دې.

د دې انسان حشر به هم د دغه یهود اونصاراؤ سره وی.

ځکه الله فرمائی: ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ فَاسِقُونَ﴾ ، زیات په دوی کښې نافرمان دی. سره د دې نه چې د انبیاؤ اولاد وو د لوې خاندان سره ئې تعلق وو او بیا سره د علم نه گمراه ورته الله وائی اوبیا هم الله هلاک کړه. نه د نسب لحاظ اوکړې شو اونه صرف علم بچ کړل اونه ئې لوې نومونه پکار راغلل اونه ملاتوب اوپیر پرستۍ فائده ورکړه .

د دې وجې نه په دې موقع د دې خبرې وضاحت ضروري دې چې توحید څۀ ته وائی، د رسالت منل څنګه وی او د قانون الهی حقیقت څۀ دې. د توحید تعلق عقیدي سره دې او د سنت تعلق عمل سره دې او قانون الهی د معاشری سره تعلق لری .

په دې دریو خبرو کښې ړومبۍ خبره د الله تعالی وحدانیت منل دی خو دا به هم د قرآن او سنت په رنړا کښې وی. او عمل به هم د قرآن او سنت په رنړا کښې کوی، ځکه چې د اسلام بنیاد په دې دوؤ خبرو(قرآن،سنت) جوړ دې.

د انسان عمل به د دې دین اسلام په تله تللے کیږی که پوره وو نو مسلمان به وی او که کمې وو نو دا انسان به ناکام وی. دا د قرآن او سنت قانونی حیثیت دې.

او بل د قرآن او سنت عقیدوی ، حیثیت دې بحیثیت عقیده قرآن او سنت تسلیمول.

قرآن د الله کتاب دې او سنت د رسول الله ﷺ ارشادات او افعال دی که قرآن او سنت په عقیده، عمل او قانون کښې نه وی نو دغه

عقیده الله ته قبول نه ده او هغه عمل چې طریقه د پیغمبر ﷺ نه وی الله ته منظور نه دے او دغه قانون هم مردود قانون دے.

عقیده،عمل،ژوند ټول به د قرآن او سنت په رهنمائے کښې اداکیږی. فیصلے جرګے به د قوم په رسم ورواج، د ملک په قانون وضع باندې نه وی بلکه په شریعت الهی به کولے شی.

هرڅیز به په خپل تول تللے شی.

نو خلاصه دا چې هر چا چه څه قول ، عمل او کړه نو هغه به په تله د قرآن او سنت تللے کیږی که هغه د هر چا قول ، فعل وی. ځکه چې د الله تعالی او د رسول نه بعد هیڅ یو بنده هم د خطاء نه خالی نه دے.

## دَ رسول اطاعت:

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ﴾(النساء:۵۹)

یعني اے مؤمنانو د الله تعالی او د الله تعالی د رسول تابعداری اوکړئ.

د الله اطاعت کتاب الله دے، د رسول الله ﷺ تابعداری سنت نبوی ﷺ دے او د دوی په اطاعت کښې بیا د علماؤ حکمرانانو خبره منل دی خو چې د قرآن او سنت سره موافق وی .

او بل ځاې کښې فرمائی:

﴿ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ﴾(النساء:۸۰)

یعني چا چې د رسول اتباع اوکړه نو دهٔ په حقیقت کښې دالله تعالی اتباع اوکړله.

## د گمراهئ نه د بچاؤ لاره:

د دے وجے نه نبی کریمﷺ فرمائیلی وو چې که زه وفات شوم نو بے فکره اوسئ، په دے دوؤ خبرو عمل کوئ.

نبی کریم ﷺفرمائی.

دا قانون حیاة او لائحه عمل د ژوند، نبیﷺ صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ته ښودلے وو زه ستاسو نه رحلت کومه تاسو هیچرے گمراهه کیدے نه شئ ځکه د گمراهۍ، بې دینئ نه د بچاؤ لار تاسو ته ښایم مطلب دا دوه د کامیابئ بنیاد دے که د عالم خبره وی اوکه دحکمران وقت حکم وی دا قرآن اوسنت به ئے بنیاد وی.

﴿تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهٖ كِتَابُ اللهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهٖ﴾

(موطاامام مالک)

یعني ما تاسو ته دوه داسے څیزونه پریښودلی دی چې که تاسو په هغے باندې عمل اوکړئ نو چرے به هم گمراه نه شئ، یو د الله تعالی کتاب او بل د نبی کریم ﷺ سنت دے.

## رسمی اوحقیقی مسلمان:

سورة احزاب کښې الله تعالی د مؤمن صفت دا ښودلے دے.

چې د مؤمن عقیده نظریه او رویه به د الله او د الله د کتاب سره څۀ وی؟

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ﴾(الاحزاب:۳۶)

یعني کله چې الله تعالی او رسول یو فیصله اوکړی. په قرآن کښې او رسول فیصله اوکړی د حدیث په ذریعه نو په دے کښې بیا د یو مؤمن

سړی یا ښځے خپل اختیار نه چلیږی. بلکه دا به منی.

هغه رسم اورواج ملکی دستور، د خپل زړه خبره دا ټول به د قرآن او سنت رسول د پاره قربانوی.

د دهٔ اختیار، سوچ ، رائے به قرآن او سنت رسول وی.

صحابه کراموﷺ به د الله تعالی هر حکم منلو او د پیغمبر ﷺ خبره ئے هم چرے کوزه نه ده غورځولے.

## د صحابه کراموﷺ په قرآن عمل:

د شرابو حرمت چې کله راغے نو بغیر د حیلو او چل ول نه ئے ټول شراب واړول او تردے چې په کومو لوخو کښې به ئے شراب ځکل هغه ئے هم مات کړل او د هغے استعمال ئے پریخودو.

د خپل قوم عادت ئے مات کړو. دا خبرې نه وے چې دا خو تاوان دے دا خو ډیر قیمتی ځیز دے یا چې دا شتهٔ ختم شی بیا به نور نه استعمالوؤ،بس د الله د حکم راتللو سره د شرابو نه بند شو هغوې پابند دَ حکم خداوندی وو بلکه هغه لوخی چې شراب به په کښې ځکلے شو هغه ټول ئے لرې کړل او ختم ئے کړل .

حضرت عمرؓ به چې کله په دلیل کښې قرآن یا حدیث واؤریدو نو فورًا به ئے خپله خبره واپس واغسته. د هغه باره کښې راځی چه:﴿كَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللهِ﴾

یعنې د الله تعالی د کتاب په وړاندے به چپ شو.

دا رنګ یو صحابیؓ د سرو زرو ګوته اچولے وه نو نبی کریمﷺ ترینه لرے اوغورزوله چې دا په سړو باندې حرام دی.

ځکه مسئله دا ده چه سونا اوریښم په سړو باندې حرام دی .

نو هغه صحابیؓ د مجلس په ختمیدو کښې بیا راؤچته نکړه نو چا ورته اوئیل چې راوائےخله او کور کښې به ئے زنانه استعمال کړی

نو دے صحابي رضی اللہ عنہ جواب ورکړو چې زه څۀ رنګه هغه څيز راواخلم چې نبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم غورځولے دے.

## دنافرمان اونه منونکی سزا:

خو چه کوم خلق دا قران او حديث د خپل ژوند قانون نه منی نو د داسے خلقو په باره کښې الله تعالى فرمائي:

﴿وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا﴾ (سورة نساء:١٦)

يعني چا چې د الله تعالى او د رسول نافرمانى اوکړه او د حدودو نه تير شو نو الله تعالى به ئے جهنم ته واچوی.

بيا هم په دے سورت کښې فرمائي.چې دا شان د منافق دے چې دَ قرآن او حديث پابندی نه کوی .

﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَا اَنْزَلَ اللهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنَافِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا﴾(النساء:٦١)

يعني کله چې دوی ته اوئيلے شی چې قرآن او سنت طرف ته راشئ نو منافق سړے به دَ دين طرف ته د راتلو نه منع کيږی.

کله به دا خبره کوی چه زه منم خو کور ښځه بچې دی، خلق، ګاونډيان، ملګری ټول خفه کيږی نو ماته څۀ ګناه ده زه څۀ اوکړمه .

دا رنګ کله وائي چه مونږ لره د پلار نيکه رسم اوطريقه پوره ده .

﴿وَقَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا﴾(المائده:١٠٦)

يعني کله چې دوی ته اوئيلے شی چې د الله تعالى او د رسول خبره اومنه نو دوی وائی چې مونږ له د خپلو مشرانو طريقے کافی دی.

اوس هم داخبره ده چې وائی زه د پلار نيکۀ په طريقه مړے ژوندے کومه ځکه زمونږه مشرانو داسې کړی دی . دا خو د قرآن ا و حديث قانونی حيثيت وو.

## د قرآن ایمانی اوعقیدوی حیثیت:

اوس د دے مسئلے عقیدوی حیثیت بیانیږی.
د مسلمان عقیده به هم د قرآن او سنت مطابق وی.
دا د ایمان او د هدایت خدائی کتاب دے.
قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی:
﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَ اللهِ وَآيَاتِهِ يُؤْمِنُونَ﴾(الجاثیة:٦)
یعني د الله تعالی دخبرے او د آیتونو نه بغیر به په کومه خبره د انسان عقیده او ایمان جوړیږی.
نو که څوك د الله تعالی د کتاب نه بغیر په بل څۀ باندې د عقیدے جوړولو دعوی کوی نو دا دروغژن دے.

## داصلاح کتاب:

دَ نبوت نه مخکښې نبی کریمﷺ به هم هر وخت په دے فکر کښې وو چې څۀ رنګه به دا خلق صحیح شی او عقیده به ئے په الله تعالی باندې جوړه شی.
حضرت خدیجة رضی الله عنها هم فرمائی چې په دے فکر کښې به نبی کریمﷺ غار حراء ته تللو چې دا قوم، مکے والا به څۀ رنګه پوره په هدایت باندې راشی. د دوی دا شرکی عقیدے اصلاح به څنګه کیږی او دا د جاهلیت نه ډک عمل به څنګه صحیح شی د دغه سوچ او فکر د پاره به غار حراء ته تلو، نو الله د دې د اصلاح د پاره وحی د قرآن ورته ورکړه ترڅلویښت کالو پورے اصلاح نه شی کولے او بیا په یو څو کالو په ټوله دنیا کښې یو انقلاب د هدایت راپورته کوی.
نو سورة شوری کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِىْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا ﴾(الشورى:٥٢)

یعني مونږ تاته د خپل طرف نه روح درکړو چې د دے نه مخکښې تا نه کتاب پیژندو او نه دَ ایمان بیان لیکن مونږ دا کتاب نور جوړ کړو.

قران ته روح ځکه وائی چې د روح اصلاح په دې سره کیږی او نور ورته ځکه وائی چې دا دنیا او د شرکیاتو فساداتو دَ تیرو نه دَ وتلو لاره ده.

## دقرآن انقلاب:

قران داسے نور چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د قتل په باره کښې راؤوتلو نو لاره کښې ورته چا اوئیل چې خور او اوخے دې مسلمانان شوی دی نو دے سیدها دلته راغے او د خپل اوخی او خور د وهلو نه بعد ئے چې کله سورة طٰهٰ اٰیتونه واؤریدل نو فورًا ئے ایمان راؤړو.

یا هغه عمر رضی اللہ عنہ چې د نبی صلی اللہ علیہ وسلم قتل پسې روان دے د کور نه اوځی او یا هغه عمر رضی اللہ عنہ چې کامل مومن مسلمان په اسلام قربان کورته واپس کیږی.

دارنګ کله چې د نجاشی په دربار کښې د سورة مریم څو اٰیتونه تلاوت کړے شو نو فورًا په ژړه شوا و ایمان ئے راؤړو.

الله تعالی هم دغه کیفیت بیانوی.

﴿وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ﴾(المائدہ:٨٣)

یعني کله چې دوی قرآن کریم واؤری نو ته به دوی لره وینے چې د سترګو نه به ئے اوښکے دارے وهی او ژاړی به.

قرآن د ایمان کتاب دے، ایمان په دے کتاب سره مضبوطیږی اوقرآن د هدایت او د رشد کامیابئ کتاب دے او هدایت انسان ته په دے سره حاصلیږی ځکه الله وائی:

﴿إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ﴾ (بنی اسرائیل:۹)

دا قرآن هغه لار انسان ته ښائی چې هغه پوره سیدها او مضبوطه لاره ده د هغے نه د پاسه بل هدایت نه شی تصور کیدے، چې کوم انسان ته په قرآن سره هدایت اونشی نو دا لوې بدبخته، بدقسمته، سرکشه باغی انسان دے. قرآن چې څومره مضبوط او زبردست هدایت انسان ته کوی داسے هدایت په بل څۀ کښې نشی کیدے.

یو سړې په خوله باندې په زبانی دعوت سره پوهه کړه، په کتاب یا لټریچر باندې ورته د اسلام وضاحت اوکړه او بل انسان ته په قرآن سره وعظ اونصیحت اوکړه، د دوی په مینځ کښې به د زمکے اسمان فرق وی.

که اول انسان د دغه مجلس او دغه ماحول نه جدا شی نو کله هم په دۀ بل خلاف ماحول اثر کولے شی خو د قرآن هدایت یافته سوال نه پیداکیږی چې د اسلام نه روستو شی.

## قرآنی هدایت یافته:

دارنګ کله چې هرقل ته د نبی کریم ﷺ خط ملاؤ شو نو هغه حکم اوکړو چې اوګورئ چې د عربو نه خو څوك قافله نه ده راغلے؟

په دغه موقع کښې ابوسفیان په سفر وو نو دے دربار ته راؤغوښتلے شو او تپوسونو کښې ئے ترے نه یو تپوس دا اوکړو چې څوك چې په دے پیغمبر ایمان راؤړی نو آیا بیا ترینه اوړی او مرتد کیږی؟ نو ابوسفیان جواب ورکړو چې هیچرے هم نه وروستو کیږی.

سره د دې نه چې کافر دې خوبیا هم دا اقرار کوی چې قرآن په صحابوؤ رضی اللہ عنہم څۀ اثر کوی چې یوځل په قرآن مسلمان شی بیا سوال نه پیداکیږی چې هغه دوباره کافر شی، خپل مرګ ته تیار وی خو اسلام پریخودو ته نه وی تیار.

هرقل ورته جواب ورکړو کذالک الایمان چې هم دے ته ایمان وائی چې یو ځل زړۀ ته کوز شی نو بیا په هیڅ څۀ سره نه اوځی.

ځکه یو حدیث کښې راځی چې: ﴿وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدٰى فِيْ غَيْرِهٖ اَضَلَّهُ اللّٰهُ﴾ (ترمذی) څوک چې د دې کتاب نه بغیر په بل څۀ کښې هدایت طلب کوی، الله به ئے ګمراهه کوی، نو ځکه دا کتاب د هدایت کتاب دے.

## دَ فتنو نه بچاؤ:

دا رنګ یو حدیث کښې راځی چې جبرئیل علیه السلام نبی کریمﷺ ته اوفرمائیل چې:

﴿سَتَكُوْنُ فِتْنَةٌ﴾یعني ډیر زر به فتنے راپیدا شی.

نبی کریمﷺ ترینه تپوس اوکړو چې اے جبرائیل! د دے نه د بچ کیدو به څۀ لار وی نو جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل.

﴿كِتَابُ اللّٰهِ﴾ یعني د فتنو نه د وتلو غټه لار د الله تعالی کتاب منل دی. او بیا ئے اوفرمائیل:

﴿فِيْهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ﴾(ترمذی)

یعني په دے کتاب کښې د ماقبل حالاتو ذکر دے او د مابعد حالاتو خبر هم په دے کتاب کښې دے او ستاسو په مینځ کښں د جګړو فیصلے هم دی.یعنې د ماضی، حال او مستقبل د هر دور حل په دې کتاب کښې موجود دے.

## عمل دسنت مطابق:

دے نه بعد کله چې عقیده د الله تعالی د کتاب نه واغستلے شی نو عمل به هم په طریقے د نبی کریم ﷺ باندې وی.

الله تعالی هم فرمائی:

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾(آل عمران:۳۱)

يعني اے امتيانو كه تاسو د الله تعالی سره مينه لرئ نو زما اطاعت اوكړئ. نو الله تعالی به تاسو سره مينه اوكړی.

مفسرين د دے اٰيت په تفسير كښې ليكی.

﴿مَنِ ادَّعٰى مَحَبَّتَهٗ وَخَالَفَ سُنَّةَ رَسُوْلِهٖ ﷺ فَهُوَ كَذَّابٌ وَكِتَابُ اللّٰهِ يُكَذِّبُهٗ﴾(مدارک)

يعني څوك چې د الله تعالی د محبت دعوی كوی.

او وائی چې مونږه عاشقان رسول يو، اول خو دا لفظ غلط دے دا د شهوة او د خواهش اتباع هوی په مقام كښې استعماليږی ځكه په قرآن او حديث كښې د محبت لفظ ذكر شوے دے نو دا د عشق رسول اصطلاح محدثه اصطلاح ده، الغرض نو كه څوک دا دعوی كوی. او د نبی كريم ﷺ د سنت مخالفت كوی نو دے په خپله دعوی كښې دروغژن دے او د الله تعالی كتاب دۀ ته دروغژن وائی.

په يو حديث كښې نبی كريم ﷺ فرمائی:

﴿مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِيْ فَقَدْ اَحَبَّنِيْ وَمَنْ اَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ﴾(مشکوۃ)

يعني چاچې زما د سنت سره محبت اوساتۀ نو دۀ ما سره محبت اوساتۀ او چاچې ماسره محبت اوساتۀ نو دے به ماسره په جنت كښې وی.

## په سنتو عمل او صحابه رضی اللہ عنہم:

صحابه كرامو رضی اللہ عنہم دا په خپل عمل سره ښودلے وه لكه عامر بن ربعی رضی اللہ عنہ او خذيفه رضی اللہ عنہ دعوتی او جهادی سلسله كښې ايران ته تلی وو. د روټئ په وخت كښې د خذيفه رضی اللہ عنہ د لاس نه نوړئ پريوته. نو فورًا ورته د نبی كريم ﷺ حديث راياد شو.

نبي كريم ﷺ فرمائي: ﴿إِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَأْخُذْهَا فَلْيُمِطْ مَاكَانَ بِهَا مِنْ أَذًى وَلْيَأْكُلْهَا وَلَا يَدْعَهَا لِلشَّيْطَانِ﴾(مسند احمد)

يعني كله چې د يو تن ستاسو نه لقمه اوغورزيږي نو راپورته دې كړي او صفا دې كړې او ودې خورې.

خذيفه رضي الله عنه راؤچته كړه او صفائے كړه نو يو كس ورته په اوګه لاس اوهو چې دا دَ دې مجلس د ادابو نه خلاف ده نو خذيفه رضي الله عنه ورته جواب كښې اوفرمائيل:

﴿أَأَتْرُكُ سُنَّةَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ لِهٰذِهِ الْحُمَقَآءِ﴾

يعني اٰيا زه د دے بے وقوفانو د وجے نه دخپل پيغمبر سنت طريقه پريږدم.

## د بدعت بد اثر او قباحت:

اوس د سنت په مقابله كښې بدعات جوړول لوے جرم دے ځكه چې كله هم يو قوم بدعت كښې مبتلاء شي نو الله تعالى ترينه سنت اعمال واخلي.

نبي كريم ﷺ فرمائي:

﴿ مَا أَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً إِلَّا رَفَعَ مِثْلَهَامِنْ سُنَّةٍ فَالتَّمَسكُ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِنْ إِحْدَاثِ بِدْعَةٍ﴾(مسند احمد)

يعني هيڅ يو قوم په بدعت كښې نه دے مبتلاء شوے مګر الله تعالى ترينه د هغے په مثل سنت عمل پورته كړے دے،نو په يو سنت عمل كول د نوے كار پيدا كولو نه بهتر دے.

يو هغه سنت دى چې د هغے په مقابله كښې بل سنت شته داكار هم سنت دے او دا بل كار هم سنت دے، دواړه د پيغمبر طريقے دى .

په دې كښې يو باندې عمل كول او دَ بل نه منع كول غلطى ده، دغه شان په دې باندے جنګ جګړے شر غوبل ته هم څۀ ضرورت نشته. د دے مثال د كور دوه دروازے دى چې په كومه داخليږى پروانه كوى اوكه يو انسان لاره غلطه كړى په كهړكے باندې داخليږى نوبيا اصلاح په كار ده.

او که په دې کښې يو سنت ترک شی او په بل عمل شروع شی نو دا د دين خدمت نه دے چې د يو ثابت او سنت عمل نه سړے منع کړے شی او بل ته راوبللے شی. دَ دې په ځايې د شرک بدعت رد اوکړه، نور ډېر جهالتونه دی د هغے اصلاح اوکړه نو دا ضرور د دين خدمت دے.

بهرحال قرآن کريم او سنت دواړه د يوبل سره لازم او ملزوم دی او د دين اسلام بنياد دے.

نوخلاصه دا چې دا درے اعمال داسے دی چې د مسلمان مسلمانی ورسره کامله کيږی.

يو عقيده د وحدانيت د الله تعالی ، دويم عمل په طريقے دنبی کريم ﷺ،او دريم د ژوند تيرولو قانون قرآن کريم ګنړل.

الله تعالی دے مونږ ته صحيح عقيده او ايمان نصيب کړی.امين

# اهمیت قران

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ. اَلرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ۔۔۔ الخ﴾(الفاتحہ)

﴿ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾(البقرۃ:۳۸)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّ اَفْضَلَكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ﴾(بخاری)

قرآن الله دنيا ته چا لره راليږلے دے اومقصد دَ نزول د قرآن څۀ دے چې دا د څۀ مقصد دپاره دنيا ته راغلے دے .

## دَ نزول قرآن مقصد :

قرآن كريم الله تعالى څوارلس سوه كاله مخكښے راليږلے دے.

چاله او څۀ مقصد د پاره الله تعالى راليږلے دے؟

د دے په حقله بحيثيت يو مسلمان په مونږ څۀ ذمه وارى ده؟

اوآيا دغه ذمه وارى مونږه پوره کړه اوکه نه، ناقصه باقى ده په مونږه باندې اومونږه څومره کوتاهى او حق تلفى په هغے کښې کړے ده۔

## انسان او د الله قانون:

الله جل شانه چې كله نه انسان دنيا ته راليږلے دے او اٰدم عليه السلام چې كله په دنيا كښې ړومبنې قدم كيخودلے دے نو الله تعالى ورته فرمائيلى وو.

كله چې اٰدم عليه السلام دنيا ته بطور خليفه، حاكم مجازى اوبحيثيت پيغمبر راځى نو دا هدايات ورته كيږى، چې مقصد بعثت زما

کلام، قانون منل دی.

﴿ فَاِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾(البقرة:۳۸)

یعني که زما د طرف نه د ژوند تیرولو څه قانون درغے او چا ئے تابعداری اوکړه نو په هغوی به هیڅ یره او خفګان نه راځی.

او بیا فرمائی د هغه کسانو باره کښې چې منل نه کوی

﴿وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيَاتِنَا فَاُولٰٓئِكَ اَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ﴾(بقرة:۳۹)

یعني چاچې په دے کفر اوکړو او تکذیب ئے اوکړو نو دوی به په جهنم کښې وی.

د انسانیت ابتدائی مرحله ده او آدم علیه السلام او حواء بی بی دنیا ته لا راکوز شوی نه دی بیا هم ورته الله قانون حیاة ، د ژوند قانون ښائی چې دنیا کښې به څنګه تاسو ژوند کوئ، ځکه ئے ورته په روزِ اول دا هدایت بیان کړو.

نو قرآن چې موجوده وخت کښې د الله تعالی د طرف نه د یو قانون په شکل کښې موجود دے نو هغے کښې د ټولو نه لوې مقصد د الله تعالی پیژندګلو، معرفت او د الله تعالی لوئی او بندګی پیژندل دی.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾(الذاریات:۵۶)

یعني ما جنات او انسانان د خپل بندګئ د پاره پیدا کړی دی.

مفسرین د **لِيَعْبُدُوْنَ** معنی په **لِيَعْرِفُوْنَ** سره کوی. یعني چې مااوپیژنی. دا یوه معنی ده .

دا رنګ مفسرین د **لِيَعْبُدُوْنَ** بله معنی **لِيُوَحِّدُوْنَ** کوی یعني چې زما وحدانیت اوپیژنی.

## د عقيدې او ايمان والا کتاب:

اوس د الله تعالى د پيژندګلو د پاره اهم څيز د الله تعالى کتاب دے ځکه چې الله تعالى په خپل عقل پيژندل ګرانه خبره وه. ځکه چې عقل قاصر دے او د دنيا د ډيرو خبرونه ناخبره دے نو د الله تعالى پيژندل د دے په ذريعه ګران وو.

نو د الله تعالى د پيژندګلو د پاره د قرآن کريم زده کړه اهمه ذريعه ده.

معرفت الهى بغير د وحى نه نۀ کيږى،چې الله څوک دې د هغه صفات او کمالات څۀ څۀ دى، په څۀ څيز باندې ناراضه اوخفه کيږى، د هغه د حقوقو پوره کولو او نۀ پوره کولو څۀ فائدې او نقصانات دى په دنيا او آخرت کښې.

دويم د خپل مقصد پيژندګلو دپاره هم د قرآن کريم زده کړه اهمه ده.

چې زما د ژوند مقصد څۀ دې، دنيا کښې به زۀ څۀ قسم اصول اختياروم، زۀ به کاميابے سره څنګه يوځائے کيږم، په ما زما د نفس څۀ حق دے، د نورو بندګانو څۀ حقوق دى، نو د دې ټولو خبرو رهنمائى قرآن کوى.

## دقرآن فرضيت:

الله تعالى فرمائى:

﴿اِنَّ الَّذِىۡ فَرَضَ عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ﴾(قصص:۵۸)

يعني الله تعالى هغه ذات دے چې په تاسو باندې ئے قرآن کريم فرض کړے دے.

په دې الفاظو کښې الله تعالى صراحتًا لفظ د فرض د قرآن کريم د اهميت او فضيلت د وجے نه ذکر کړے دے چې خلق ترينه د سره انکار

اونۀ کړی. ګني نو په صيغه د امر سره ئے هم ذکر کولے شوه خو بيا به خلقو وئيل چې دا صيغه د امر د وجوب د پاره نۀ ده بلکه د نورو معنو تلاش به ئے پکښې کولو.

د اهميت قرآن د پاره الله دوه قسمه طريقے اختيار کړی دی۔ يو د نورو فرائضو دَ بيان والا طريقه ، **أقيموا الصلوة وآتوا الزكاة**۔ د امر په صيغه باندې لکه **اقرأ**۔ خو د زيات وضاحت د پاره الله د فرض لفظ صراحةً استعمال کړو، د دے د پاره چې يو انسان عذر د ناپوهے پيش نه کړی چې ماته پته نه وه۔ او چونکه الله ته دا معلومه وه چې داسې خلق به وی.

چې د هغوی په دماغو او زړۀ کښې به د قرآن عظمت نه وی .

د عام نفلی مستحب عباداتو په شان يو نفلی عبادت به ورته ښکاری نو د دے وجے نه الله په ډير واضح قسم الفاظو باندې دا مضمون ښه زبردست انداز کښې بيان کړو چې مخلوق د فهم قرآن، مقصد قرآن نه غافله، بے پرواه نه شی .

# تلاوت او عمل په قرآن:

تفسير مدارك والا د دے أيت تفسير کښې ليکی چې

﴿أَوْجَبَ عَلَيْكَ تِلَاوَتَهُ وَالْعَمَلَ بِهِ وَتَبْلِيغَهُ﴾

يعني اے مخاطبه الله تعالی د دے کتاب لوستل، عمل پرے کول او د دے بل ته رسول په تا باندې واجب کړی دی.

مفتی شفيع رحمة الله عليه هم په معارف القرآن کښې ليکلی دی.

قرأن کريم علمًا، عملًا او دعوةً فرض دے.

علامه ابن قيم رحمة الله عليه فرمائی:

د قرأن کريم علم دوه حصے دے، دوه حيثيته لری.

يو الفاظ د قرأن کريم زده کول،دويم د معنی زده کول

او بیا فرمائی چې د الفاظو نه د معنې زدکړه ډیره اهمه ده ځکه چې هم دا زدکړه د قرآن کریم مقصد دے بغیر د سمجه او پوهے نه عمل ته راځی.

اللّٰه تعالی فرمائی:

﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَ اللهِ وَاٰيَاتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ﴾(الجاثیۃ:۶)

یعنې د اللّٰه تعالی د خبرو او اٰیاتونو نه بغیر به د دے خلقو ایمان نور په څهٔ جوړیږی.

## دقرآن په باره کښې تپوس:

دا رنګ اللّٰه تعالی فرمائی:

﴿وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْئَلُوْنَ﴾(الزخرف:۶۶)

یعنې دا کتاب ستا او ستا د قوم د پاره د پند او نصیحت نه ډك کتاب دے او زر ده چې د دے په باره کښې به درنه تپوس هم کیږی. دا یو نعمت دے د دې تپوس به کیږی .

## په دنیاکښې تپوس:

نو مطلب دا چې اللّٰه تعالی به د دے کتاب په باره کښې هم تپوس کوی او دا تپوس به په دنیا کښې هم کیږی. په قبر کښې به هم کیږی او په اٰخرت کښې به هم کیږی.

چې په دنیا کښې د دې تپوس دا دے چې زما د کتاب خبر ګیری اوکړے ما تاسو ته کتاب نازل کړے دے او بیا دنیاوی سزا د منکرینو هم بیانوی.

﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾(طٰہٰ:۱۲۴)

یعنې چاچې په دنیا کښې زما د قراٰن کریم نه اعراض اوکړو او مخ

ئے ترینه واړوؤ نو ژوند به ورله لنډ تنګ کړم.

مخ اړول دا هم دی چې انسان قرآن پاک نه زده کوی ، مخ اړول دا هم دی چې عقیده او ایمان په دې قرآن برابر نه کړو، د دې د مقصد نزول نه ځان خبر نه کړی، بې خبره په غفلت کښې ژوند تیروی او عمل ئے هم په دې باندې برابر نه کړو، معاشره او قانون ئے د دې سره صحیح نه کړو، دا اعراض عن کتاب الله دے او دغه وجه ده چې مسلمان نن خوشحاله نه دے، انفرادی لحاظ سره ، علاقائی لحاظ سره ، اجتماعی لحاظ سره، قومی ، ملکی لحاظ سره هر لحاظ نه مسلمان نن پریشان حال دے.

دَ دې اصل وجه اعراض عن کتاب الله دے ، مسلمان سره د ډیروالی نه نن عالمی سطح باندې د خپل حق تپوس د چا نه نۀ شی کولے، د بل چا دحکم د لاندې په غلامئ کښې ژوند تیروی، د بل ملک کافر زمونږه په مال اوجائیداد باندې قابض دے مونږ تپوس نه شو کولے چې ته ولے زما مال،زما ملک،زما وینه،زما جائیداد، زما په مذهب او دین باندې لوټ مار کوے بلکه مسلمان په خپل ملک کښې هم محفوظ نه دې.

باوجود د دې دومره تعداد او قوت سره مسلمان امت کمزورې دی. وجه هم هغه ده چې الله  خوارلس سوه کاله مخکښې ښودلے وه چې قران پریږدے نو د دنیا ژوند به ئے تنګ شی.

## په قبر کښې تپوس:

د قران باره کښې په قبر کښې تپوس دا دے چې فرشته به په قبر کښې د هر مړې نه تپوس کوی چې

﴿من ربك؟ من نبيك؟ ما دينك؟﴾

اول تپوس د عقیدے په باره کښې دے.

دویم تپوس د عمل او دَ عمل د طریقے په باره کښې دے.

او دریم تپوس د ژوند تیرولو د قانون په باره کښې به کوی.

قبر د قیامت په منازلو کښې اول منزل دے، څوک چې دې کښې کامیاب شو، روسته به هم کامیاب وی او که څوک ناکامه شی روسته به هم هغه ناکام وی. مومن به صحیح صحیح جواب ورکړی او منافق به جواب نه شی ورکولے.

د دے نه بعد به فرشته د دې میت نه دا تپوس کوی چې

﴿وَمَا يُدْرِيْكَ؟﴾

یعني دا صحیح جوابونه تا د کوم ځایې نه زده کړی دی؟

نو د غه کس به ورته اووائی چې

﴿قَرَأْتُ كِتَابَ اللّٰهِ فَآمَنْتُ بِهٖ وَصَدَّقْتُ﴾

یعني ما د الله تعالی کتاب وئیلے او زده کړے وو او عقیده مې هم د دے مطابق جوړه کړے وه او بیا په خپل عمل سره مې د هغے تصدیق کړے دے.

او منافق چې لاجواب شې نو فرشته به ورته وائی ،﴿لَا تَلَيْتَ وَلَا دَرَيْتَ﴾ نه دې د الله دَ کتاب دَ پوهے د پاره دَ بل تابعدارې کړے وه او نه دې ورباندې په خپله ځان پوهه کړے دے. (بخاری)

# په آخرت کښې تپوس:

په اٰخرت کښې به هم د دے قران باره کښې تپوس کیږی.

الله تعالی فرمائی.

﴿وَنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَعْمٰى قَالَ رَبِّ لِمَا حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى﴾(طٰہ:۱۲۴)

یعني چا چې د دے قران نه اعراض اوکړو نو الله تعالی به ورله په دنیا کښې ژوند تنګ کړی او مونږ به ئے په ورځ د قیامت دَ قبر نه ړوند

راپاسوؤ، نو دے به اووائی چه الله دا ولے دې ړوند پاسولم، حالانکه زهٔ خو په دنيا کښې بينا ووم. نو الله تعالى به ورله جواب ورکړى چې دا رنګ تاته زمونږ اٰياتونه راغلى وو خو تا هير کړل او عمل دې پرے اونکړو نو نن ورځ مونږ ته هير کړے او د خپل رحمت نه مې محروم کړے.

## د فضيلت معيار:

نبی کريم ﷺ هم فرمائی بهترين خلق کوم دی.

﴿إِنَّ أَفْضَلَكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ﴾ (بخاری)

يعني افضل په تاسو کښې هغه څوك دی چې قراٰن زده کړی او نورو ته ئے اوښائی

دارنګ يو روايت کښې راځی

﴿أَشْرَافُ أُمَّتِى حَمَلَةُ الْقُرْآنِ﴾ (ترمذی)

يعني زما د امت بهترين خلق د قراٰن حاملين دی يعنې کوم خلق چې د قران والا کار کوی د قران سره ئے تعلق وی، قرآن زده کوی، عمل پرے کوی او بل ته ئے ښائي.

## د خير او برکت واله کتاب:

قراٰن کريم کښې الله تعالى فرمائی:

﴿كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْا اٰيَاتِهٖ﴾ (ص:۲۹)

يعني دا يو نااشنا کتاب دے ځکه چې مونږ د برکت نه ډك نازل کړے دے او مقصد د نزول ئے دا دے چې د دے په اٰياتونو کښې تدبر او سوچ، فکر اوکړے شی.

دا قران الله د دې د پاره نازل کړے دے چې دا خلق د دې په آيتونو کښې سوچ فکر اوکړی. د قرآن مقصد دا نه دے چې قسم ورباندې اوکړے شی يا زيات نه زيات چې نوے کور جوړ کړے شی نه په

خائسته غلاف كښې رابند كړے شي او د شيشو په المارئ كښې پروت وى بيا د قرآن تپوس نه وى او د دې نه زيات حق دا وركړى چې قاريان راغونډ كړى ختم شريف اوكړى يا ډير زيات كوشش چې اوكړى نو تراويح كښې په كال كښې يو ځل قرآن واورى، هغه هم په داسې حالت كښې چې نه وربانديې قارى صاحب پوهيږى اونه وربانديې مقتدى صاحب پوهيږى .

نو اصل حق ئے دا دے چې اول دَ دې په الفاظو محنت اوكړے شي او د دے نه بعد ئے په معنى او مقصد ځان پوهه كړے شي.

او چې څوك د غفلت نه كار اخلي نو د هغو ى په بار ه كښې الله تعالى فرمائى: ﴿اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا﴾(محمد:۲۴)

يعني دا خلق په قرآن كريم كښې تدبر ولے نه كوى بلكه د دوى په زړونو باندې د جهالت تالے دى.

نو زده كړه د قرآن كريم اهمه ده او كه څوك ئے نه زده كوى نو د هغوى نه به الله تعالى تپوس كوى.

الله تعالى دے مونږ ته په دے د عمل كولو توفيق رانصيب كړى.امين.

# عمل بالقران

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴾(یونس:۵۸)

﴿ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلْقُرْاٰنُ حُجَّةٌ لَّكَ اَوْ عَلَيْكَ ﴾(الآحاد والمثانی لابن عاصم)

## اهم ضرورت:

په دنيا كښې خلق د دنيا د ضروورياتو په راغوندولو كښې مشغول دى او چې كوم څيز ډير اهم دے نو د هغے نه خلق په غفلت كښې دى چې هغه د قرآن كريم زده كړه ده.

او څوک دا لږ ژوند او لږه شان زندګی د ښځے، بچو د ګټے وټے په هول كښې خرچ كوى څوک د دنيا ډګرئ ميټرک ، ايف اے ، بی اے ماسټر ډګريانو په تلاش كښې وى دا هر څۀ منع نه دی كه د شريعت مطابق وى دا ښه خبره ده د دغه مباحاتونه ډير اوچت څيز د الله كتاب قرآن او د الله دين دے چې انسان دې لره وخت وركړى زده ئے كړى عمل وربانديې اوكړى دا لوے بنيادى او اساسى مقصد دے.

## دقرآن خوشحالى:

قرآن كريم كښې الله تعالى شفاء د امت كيخودے ده او د وعظ او د نصيحت نه ډكے خبرے پكښې دى او د هدايت نه ډك كتاب دے او د مؤمنانو د پاره خصوصى رحم وكرم دے نو د دے حصول اهم دے او د

ژوند مقصد دا ګرځول ګڼل دی نو دے ته وخت ورکول ګټل دی او د دے زده کړه کښې ډیر لوے خیر دے.

الله فرمائی چې د خوشحالئ څیز تاسو ته ښائم په دې خوشحاله شئ:

﴿ فَبِذَالِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴾ (یونس:۸۵)

په دې قرآن، دین اسلام باندې، د الله په نعمت دې دا خلق خوشحاله شی د دنیا د خوشحالئ نه، دَ ډګرے د خوشحالئ نه، د بچې پیدا کیدو دخوشحالئ نه، په تجارت یا دوکان کښې د نفع د خوشحالئ نه ډیر بهتر او اهم څیز دا قرآن دے کوم انسان چې دا نعمت حاصل کړی داسې بل نعمت په دنیا کښې نشته دے .

حضرت علی رضی اللہ عنہ فرمائی:

﴿ كُلُّ اٰيَةٍ مِنَ الْقُرْاٰنِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا ﴾

یعني د قرآن کریم هر آیت د دنیا او مافیها نه بهتر دے.

او یو بل روایت کښې راځی:

﴿ كُلُّ اٰيَةٍ مِنَ الْقُرْاٰنِ خَيْرٌ مِنْ مُحَمَّدٍ صلی اللہ علیہ وسلم وَاٰلِهٖ ﴾

یعني د قرآن کریم هر یو آیت د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم او د هغه د آل نه غوره دے.

## پیغمبر او صحابو رضی اللہ عنہم ته دَ فضیلت وجه:

د دے وجه دا ده چې په انبیاء کرامو علیهم السلام کښې نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم یو برګزیده پیغمبر دے خو د دے قرآن کریم د خورولو دپاره ئے ډیر تکالیف برداشت کړی دی لکه واقعه د طائف او په جنګ احد کښې غاښونه شهیدان کیدل.

دا د څۀ وجے نه، د دې وجے نه چې د الله پیغمبر دا خبره کوله چې د الله په کتاب خپله عقیده او عمل برابر کړے او د مکے والو په دې

وجه د الله د پیغمبر سره نالګی وه مخالفت وو بس دا یو خبره د مخالفت بنیاد وو.

دا د صحابه کراموﷺ بهترین جماعت الله تعالی د قراٰ ن کریم نه قربان کړل.

د چا عمرونه د چا عزتونه د چا مالونه اوباغونه ټول، ټول په دې قرآن قربان شو او د دې د پاره نذر شو او دا ځکه چې د کتاب الله نه بغیر انسان خپل ځان نه پیژنی او د کتاب الله نه بغیر د بل انسان حق هم نه پیژنی او د کلام الله نه بغیر د الله معرفت نه شی حاصلیدے.

نو ځکه الله تعالی فرمائی چې د خوشحالئ ځیز دا دے نو

﴿فَبِذَالِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُوْنَ﴾(یونس:۸۵)

یعني په دے کتاب باندې دې مؤمنان خوشحاله اوسیږی او دا ډیر زیات غوره دے دهغه مالونو نه چې کوم دا خلق د خپل ځان د پاره راجمع کوی.

## د انسان ناقص علم وعقل:

انسان په خپل عقل باندې خپله کامیابی نشی پیژندلے ځکه چې د انسان عقل محدود او کوتاه دے بلکه الله تعالی د نبی کریمﷺ نه هم د علم غیب نفی کوی نو فرمائی:

﴿لَا تَقُوْلَنَّ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذَالِكَ غَدًا﴾(کهف:۲۳)

یعني دا سے مه وایه چې زه به دا کار صباله کوم.

عام انسان نه د کائناتو بهترین انسان محمد ﷺ هم د صبا د حال نه خبر نه دے.

دې ته عقیده د علم غیب وائی او دا عقیده د ایمان اهم ترین اساس او بنیادی کردار لری دا صفت بل چالره نشته.

نو مطلب دا چې په خپل عقل باندې څوك د صبا حالات نشی

معلومولے او دلته خو اللہ تعالی د خپل خوږ پیغمبر نه هم د دغے صفت نفی کړے ده.

اللہ تعالی په بل یو اٰیت کښې فرمائی چې اے پیغمبره دا عقیده امتیانو ته اوښایه .

﴿ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ﴾(نمل:٦٥)

یعني اے پیغمبره دې خلقو ته اووایه چې په اسمانونو او زمکو کښې د اللہ تعالی نه ماسواء بل هیڅ ځوك هم په غیبو باندې نه پوهیږی.

او دا ځکه ده د غفلت د قرآن نه او د ایمان نه د لری والی ځکه ده چې نن مونږ سره د مسلمانے د دعوی نه دا عقیده نه ساتو او په دې کښې قسم قسم باطل خرافات او تصورات مونږه داخل کړی دی .

بلکه اللہ تعالی خپل پیغمبر ته حکم کوی چې دې خلقو ته اووایه چې زه په غیبو باندې نه پوهیږم.

﴿لَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ﴾(اعراف:١٨٨)

یعني که زهٔ په غیبو پوهیدلے نو ډیر لوے خیر به مې ځان ته رسولے وو او چا به هم ماته ضرر نه وے رسولے.

ماته د پټو امورو پته نه لګی ما ته د صبا د حال پته نشته زهٔ د خپل مستقبل په باره کښې هیڅ فیصله نه شم کولے .

## نبی ﷺ اوعلم غیب:

ځکه کله چې په حضرت عائشے رضی اللہ عنہا باندې منافقینو تهمت اولګوؤ نو نبی کریم ﷺ ته دا پته نه وه چې حقیقت څهٔ دے ؟ او دا تهمت چا لګولے دے؟

نبی کریم ﷺ پریشانه صحابه رضی اللہ عنہم غمګین پریشانه، نبی ﷺ لوے پیغمبر،لوے صحابه ،لوے اولیائے امت تر یو میاشت پورې د

حقیقت حال نهٔ خبر نهٔ دی عالم الغیب نه دی .

بیا چې کله الله تعالی په سورة نور کښې د هغے صفائی راؤلیږله نو هله د نبی کریم ﷺ تسلی اوشوه.

دا رنګ څهٔ منافقان نبی کریم ﷺ له راغلل او اویا صحابه رضی الله عنهم ئے د نبی کریم ﷺ نه اوغوښتل او په لاره کښې ئے شهیدان کړل خو نبی کریم ﷺ ته د دوی د منافقت پته نه وه.

## دالله صفت قدرت وتصرف:

دویم صفت د الله تعالی چې هغه د ایمان رکن دے او د توحید بنیاد دے چې هغه قدرت د الله تعالی دے.

الله پاک واکدار دے، اختیار مند دے، تصرف کونکی ذات دے، د دهٔ نه بغیر هیڅ څوک اختیار مند متصرف واکدار نشته .

دا عقیده هم نبی کریم ﷺ امت ته ښودلے ده .

الله تعالی فرمائی:

﴿وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ إِلَّا هُوَ﴾(انعام:۱۷)

یعني که الله تعالی تاسو ته څهٔ ضرر اورسوی نو د هغے لرے کونکے د الله تعالی نه ماسواء بل هیڅ څوك نیشته. نه څوك نبی، نه پیر، نه فقیر وغیره

# فضیلت قرآن

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:**

**فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔**

**﴿اِنَّ الَّذِىْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ۔۔۔ الخ﴾(القصص:۸۵)**

**﴿ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِنَّ الَّذِىْ لَيْسَ فِىْ جَوْفِهٖ شَيْئٌ مِنَ الْقُرْاٰنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ﴾(ترمذی)**

دا د الله تعالی لوے فضل او کرم وی چې الله تعالی یو انسان خپل پاك کلام ته کینوی او داسے کلام چې الله تعالی د دے قراٰن کریم په مسئله خپل خوږ پیغمبر او صحابه کرام رضی اللہ عنہم قربان کړی دی او هغوی د دے قرآن د خورولو دپاره خپل ځانونه او بچې قربان کړے وو.

لکه د نبی کریم ﷺ نه د دے کتاب په بیان او خورولو کښې وینے بهیدلے دی . هم د طائف په موقع او هم د جنګ احد په موقع.

نو دا کتاب الله تعالی ته دومره خوښ دے چې په دے باندې ئے خپل محبوب پیغمبر او د هغه محبوب شاګردان قربا ن کړی دی.

خو دے قرآن ته راتلل هم د الله تعالی د فضل نه بغیر نه کیږی . په دنیا کښې هم چې څوك دچا خوښ شی نو کور ته ئے راوبلی او میلمستیا ورله اوکړی.

نو بالکل دغه رنګ الله تعالی هم د دے قراٰن کریم زده کړه په هر چا باندې نه کوی بلکه کوم بندګان چې الله تعالی ته ګران شی نو هغوی ته د دے د زده کړے توفیق ورکړی.

قرآن کښ خپله الله تعالی فرمائی:

**﴿ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا﴾(فاطر:۳۲)**

يعني ځوك چې زما خوښ شي نو هغه كسانو ته دَ دې كتاب فهم په ميراث كښې وركړم.

بيا د دے نه هم زيات خوښ الله تعالی ته هغه كس وی چې خپل جان، مال او جائيداد د دے قراٰن كريم د درسونو د پاره وقف كړی.

بيا د دے نه هم غټه خبره دا ده چې يو انسان فقط د الله تعالی د رضا دپاره دا قراٰن كريم ښائی او د خلقو د عقيدو اصلاح كوی.

الله تعالی د قراٰن كريم زده كړه په امت فرض كړے ده.

الله تعالی فرمائی:

﴿إِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ إِلٰى مَعَادٍ﴾(القصص:۸۵)

يعني الله تعالی هغه ذات دے چې په تاسوباندې ئے د قراٰن كريم زده كړه فرض كړے ده.

د نورو اوامرو تذكره په قراٰن كريم كښ الله تعالی په صيغے د امر سره كړے ده او د قراٰن كريم ذكر هم په صيغو د امر سره شته دے لكه **اِقْرَءْ، اُتْلُ مَا اُوْحِیَ** وغيره

خو چونكه قراٰن كريم يو اهم كتاب دے او زده كړه ئے اهمه ده نو ځكه ئے په صيغے د فرض سره هم ذكر كړے ده ځكه چې صيغه د امر د وجوب نه علاوه د نورو معنو دپاره هم ذكر كيږی.

دارنګ څۀ رنګه چې په اٰخرت كښې به د مانځه تپوس كيږی نو دارنګ به د قراٰن كريم د زده كړے په باره كښې هم تپوس كيږی.

الله تعالی فرمائی:

﴿وَإِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْئَلُوْنَ﴾(الزخرف:۴۴)

يعني دا قراٰن كريم ستا او ستا د قوم د پاره د عزت او د شرافت كتاب دے او د قيامت په ورځ به د دے په باره كښې هم تپوس كيږی.

دغه رنګ حديث کښې راځي:

﴿إِنَّ اللّٰهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ﴾(مسلم)

يعنې الله تعالى د دې قرآن په وجه ډيرو قومونو ته عزت ورکړے دے او ډير قومونه ئے د دې په وجه ذليله کړى دى.

د عزت مثال ئے دا دے چې د قرآن کريم د نزول نه مخکښې د مکے والو حالت الله تعالى بيانوى چې

﴿كُنْتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ﴾(آل عمران:١٠٣)

يعنې په دنيا کښې د يو بل دشمنان وے .

او د دوى دشمنى به د سلو کالو پورے چليدله نو الله تعالى ستاسو په زړونو کښې د يو بل محبت پيدا کړو.

دا رنګ اخروى حالت ئے دا وو چې

﴿وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا﴾(آل عمران:١٠٣)

يعني په اٰخرت کښې تاسو د جهنم په غاړه ولاړ وئے خو الله تعالى درله د دواړو نه نجات درکړو.

او بل ځاې کښې الله تعالى فرمائى: څوك چې د دے قران نه مخ واړوى نو په دنيا کښې به هم ورله الله تعالى سزا ورکوى او په اٰخرت کښې هم .

په دنيا کښې ئے عذاب دا دے چې

الله تعالى فرمائى.

﴿مَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَإِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾(طٰه:١٢٤)

يعني چاچې په دنيا کښې زما د قراٰن کريم د زده کړے او عمل کولو نه مخ واړوو نو ژوند به ورله تنګ کړم.

او اُخروى سزا ئے الله تعالى په دے الفاظو ذکر کوى.

﴿وَنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَعْمٰى﴾(طٰہٰ:۱۲۴)

يعني مونږ به دا انسان د قيامت په ورځ ړوند راپاسوؤ.

نو دا انسان به الله تعالى ته سوال اوکړی چې په دنيا کښې خو زه بينا ووم نو دا ولے دے ړوند راپاسولم؟ نو الله تعالى به ورته جواب ورکړی.

﴿قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيَاتُنَا فَنَسِيْتَهَا وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى﴾(طٰہٰ:۱۲۶)

يعني دا رنګ تاسو ته زمونږ اٰياتونه راغلے وو خو تاسو هغه هير کړی وو نو نن ورځ مونږ تاسو د خپل رحمت نه هير کړئ او حشر مو درله د ړندو سره اوکړو.

دا رنګ په قبر کښې به هم د دے قرآن کريم په باره کښې تپوس کيږی.

په قبر کښې به درے تپوسونه کيږی.

يو دا چې من ربك ؟

يعني عقيده دے په چاجوړه وه.

دويم دا چې من نبيك ؟

يعني عمل دے د چا په طريقه وو؟

دا رنګ دريم تپوس به دا کوی چې

ما دينك ؟

يعني په دنيا کښې دے په کوم قانون ژوند تير کړے وو.

نو د دے جوابونه چې څوك صحيح ورکړی نو فرشتے به ترينه تپوس اوکړی چې دا جوابونه تا چرته زده کړی وو؟

نو دے به جواب ورکړی.

﴿قَرَءْتُ كِتَابَ اللهِ وَاٰمَنْتُ بِهٖ وَصَدَّقْتُ﴾(الزهد لابن المبارك)

يعني ما په دنيا کښې د الله تعالى کتاب لوستلے وو او بيا مې پرے

ایمان راؤړے وو او د دے تصدیق مې هم کړے وو.

او څوك چې جواب ورنکړی نو فرشتې به ورته اووائی چې نۀ تۀ د الله تعالی په کتاب پوهیدلے او نۀ د پوهیدونکی په نقش قدم تلے.

نو خلاصه دا چې په قبر کښې به هم خلاصی د قرآن کریم په زده کړے سر ه کیږی.

دا رنګ یو حدیث کښې نبی کریم ﷺ فرمائی.

﴿اِنَّ الَّذِیْ لَیْسَ فِیْ جَوْفِهٖ شَیْئٌ مِنَ الْقُرْاٰنِ کَالْبَیْتِ الْخَرِبِ﴾

(مسند عبداللہ بن عباس)

یعني هغه کس چې د هغه په زړۀ کښې د قرآن کریم څۀ حصه نه وی نو د دۀ د زړۀ مثال په شان د کنډر دے.

نومطلب دا چې څوك دا قرآن کریم زده کوی نو د هغه زړۀ به آباد وی او څوك چې ئے نه زده کوی نو د هغوی زړه به برباد وی.

الله تعالی دے مونږ ته په صحیح معنو سره د قرآن کریم د زده کړے توفیق رانصیب کړی.امین

# حفاظت قرآن

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحَافِظُوْنَ﴾ (حجر:۹)

## د الله هدايت:

د قرآن پاک يو آيت مبارکه ستاسو مخے ته تلاوت شو په دې آيت کښ الله د خپل کلام تذکره کوی کله نه چې انسان دنيا کښ آباد شوے دے او پيدا شوے دے نو الله بغير د آسمانی کتابونو د هدايت نه نه دے پريخودلے ځکه خالق الله دے او انسان مخلوق دے مخلوق به په هغه طريقه باندې ژوند تيروی کومه طريقه چې الله ته خوښه وی او هغه ورباندې راضی کيږی.

بيا دا قرآن د ټول انسانيت بلکه د انسانانو سره سره د پيريانو د هدايت د پاره بهترينه نمونه ده. د ژوند تيرولو يو عظيم قانون هم دے او د دنيا او آخرت کاميابی ناکامی ټول تفصيلات الله په دې کتاب کښ کيخودلی دی ځکه الله رب العزت خپل محبوب پيغمبر ته فرمائی:

﴿اِنَّ الَّذِىْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ﴾ (قصص:۸۵)

الله هغه ذات دے چې په تا باندې ئے قرآن فرض کړے دے او قرآن الله ځکه فرض کړے دے چې انسان د دې نه بغير دنيا او آخرت کښ کاميابی نشی موندلے او ځکه الله خپل پيغمبر ته د اولے ورځے نه د اِقرأ حکم کړے وو چې په دې قرآن باندې خلقو ته د دين اسلام تعليم ورکړه او څنګه چې الله د دې انسان د ژوند قانون او نظام جوړ کړے

دے نو د دې د حفاظت ذمه داری الله په خپله ذمه اغستے ده

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾(حجر:۹)

دا قرآن ما نازل کړے دے او زۀ به د دے حفاظت کومه د دې نه مخکښ کتابونه تورات، انجیل،زبور او نور آسمانی کتابونه الله نازل کړي وو خو الله د هغے د حفاظت ذمه داری د هغه مذهبونو والو خلقو ته ورکړے وه د هغه خلقو نه خپل کتابونه ضائع او برباد شو په هغے کښ تحریفات او تبدیلے اوشوے دنیا کښ هیڅ څوک مذهب والا دا دعوی نشی کولے چې مونږه سره تورات یا انجیل یا زبور یا آسمانی صحیفے په خپل اصل حالت کښ موجود دی او د دغه کتابونو په تحریف باندې قرآن ګواه دې قرآن وائی:

﴿يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ﴾(نساء:۴۶)

دې خلقو په دې کلماتو کښې تحریف اوکړو.

## همیشه قائم و دائم شریعت:

او بله وجه د دې د حفاظت دا وه چې نور شریعتونه همیشه تر قیامته پورې قائم دائم نه وو نو که هغے کښې تحریف کیدو بیا هم خلقو ته پته وه چه دا همیشه دائمی شریعت نه دے او قرآن تر د قیامته پورے د الله همیشه روا دوا قانون او نظام دے نو ځکه په دې کښ څوک بدلون او تحریف نه شی کولے نو د دې حفاظت ضروری وو ځکه بل پیغمبر یا بل کتاب راتلو والا نه وو بیا الله د دې حفاظت غیبی طور په خپل طاقت او سلطنت سره کړے دے او ظاهری حفاظت ئے داسے اوکړو چې د قرآن الفاظ معنی، مفهوم ،لهجه، قراءت، لغات الله داسے محفوظ اوساتل چې د دغه ورځ نه واخله تر نن ورځ پورې د دې حافظان موجود دی او په دې کښ څوک یو حرف یو لفظ بدلولے نشی او دا حفاظت په دې طریقه د بل

کتاب او مذهب نه دے شوے د نورو مذهبونو والو کښې سیوا د پیغمبر نه به بل څوک حافظ نه ملاویدو نن هم دغه شان ده، عیسائیان پادریانو ته هم انجیل نه دے یاد او نه یهودیانو ته تورات یاد دے او په دنیا کښې لکهونه خلق دی چې د هغے په دماغو او زړهٔ کښې قرآن محفوظ دے.

## د قرآن ژوندۍ معجزه:

او بیا څوک د زبر زیر غلطی په قرآن کښې ښودلے نه شی د هارون الرشید په دور کښې د هغے زمانے بادشاهان نیکان وو نو په کال کښې به هغوی د هر مذهب عالمان راغوښتل په دې کښې یو کال یو یهودی مُلا چې هغه هارون الرشید پیژندلو یو کال د مسلمانانو په لباس کښې د هغوی په مجلس کښې شریک شو. هارون الرشید ورته اووئیل چه ته خو یهودی وے جواب ئې ورکړو زهٔ څهٔ وخت مخکښې یهودی وومه او اوس مسلمان شوے یمه نو تپوس ئے اوکړو چه ته څنګه مسلمان شوے ئے. وائی ما تجربه اوکړه یو کال ما تورات راواغستو او په خپلو لاسو هغه ما اولیکلو اوځائے په ځائے مې پکښې تغیر او تبدل اوکړو او بیا ما د یهودیانو مدرسے ته یوړو او هغوی ته ما اووئیل چې راشے تورات په ښائسته خط ما لیکلے دے نو هغوی د باهرطرف نه اوکتلو او بیا ئے واغستو او ښه ډیر قیمت ئے ماته راکړو. بل کال ما انجیل اولیکلو او د عیسائیانو مدرسے ته مې هغه یوړلو بیا ورته ما ښکاره کړو نو هغوی انجیل په ډیر قیمت باندے واغستو. نو تورات او انجیل په دغه تحریف شده صورت کښې اوچلیدو بیا ما قرآن اولیکلو او ځائے په ځائے مې ورکښے تحریف اوکړو او د مسلمانانو مدرسے ته ما یوړو هغوی چې په ظاهره کښې اولیدو نو ډیر خوشحاله شو خو چه په اوله صفحه کښې یو غلطی، په دویمه صفحه کښې بله غلطی په هر صفحه کښې ئے غلطی راویسته او بیا ټولو ما ته خپل

کتاب واپس کړو چې دا کتاب زمونږه نه دے پکار ځکه په دې کښې ډیرے غلطیانې دی نو ما ته پته اولګیده چې قرآن حق کتاب دے او په دې کښې د ځان د طرف نه څوک بدلون نشی کولے نو بیا ما اسلام قبول کړو او زۀ مسلمان شوم.

## د امریکې منصوبه او ناکامی:

تقریبًا شل کاله مخکښې امریکے یو کتاب چھاپ کړو د الفرقان په نوم په دې کتاب کښې هغوی دا وائی چه دا د قرآن بدل قائم مقام او عوض دے او د هغے په سورتونو او آیتونو الفاظو کښې بدلون کړے وو نو امریکې سره د طاقت او مال او دولت نه د دې کتاب د رواج د پاره ډیر لوے کوششونه اوکړل خو دا کتاب مسلمانانو قبول نه کړو او نه دا کتاب مسلمان قبلوی او دا ځکه چه د دې حفاظت ذمه داری الله اغستے ده.

﴿اِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا الذِّکۡرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوۡنَ﴾(حجر:۹)

قرآن په هیڅ زبر زیر کښې غلطی نه منی او تر د قیامت د صبا پورے په دې کښې څوک ردوبدل نشی کولے.

او بیا حفاظت صرف د الفاظو نه بلکه د معنی او تفسیر احکاماتو ذمه داری هم الله په خپله ذمه اغستے ده خو دا کتاب سره د دې کمالاتو نه مونږه په هیڅ یو شان د دے حق ادا نه کړو.

والحمد لله رب العالمين

# د قرآن کریم اهمیت او ضرورت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿ اِنَّا اَنْزَلْنَا اِلَیْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَیْنَ النَّاسِ بِمَا اَرَاكَ اللّٰهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَآئِنِیْنَ خَصِیْمًا﴾ (النساء:۱۰۵)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا یَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ۔

## د ژوند مقصد :

د قرآن حقوق څۀ دی په معاشره کښې حیاة دنیوی او دعوتی سلسله کښې د قرآن څۀ اهمیت او کردار دے .

دنیا کښې د انسان پیدائش او بیا په دې کښې ژوند تیرول یومقصد لری. کله چې اٰدم علیه السلام الله تعالی د جنت نه راکوز کړو نو ورته ئے فرمائیلی وو:

﴿فَاِمَّا یَأْتِیَنَّكُمْ مِنِّیْ هُدًی فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ﴾ (بقرة:۳۸)

یعني زمونږ دطرف نه که چرته تاسو ته څۀ د هدایت کتاب راشی نو چاچې دغه قانون اومنلو نو په اٰخرت کښې به پرے یره نه وی او په دنیا کښې به چرے هم نه غمژن کیږی.

دغه هدایت الله تعالی او دغه قانون الهی په مختلف وختونو کښې مختلف شکلونو کښې الله نازل کړے دے.

کله په نوم د تورات ، کله په نوم د انجیل ، کله په نوم د زبور نو کله

په نوم د قرآن کریم کښې رالیږلے دے او دارنګ نور صحائف هم الله تعالی رالیږلی دی.

توراة په خپله ژبه کښې قانون ته وئیلے کیږی. دا رنګ دا نور کتابونه هم دی.

قرآن کریم د دے ټولو کتابونو مجموعه ده.

## د ټولو قوانینومجموعه:

الله تعالی فرمائی: ﴿وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ﴾(مائده:۴۸)

یعني دا د مخکښې کتابونو مجموعه ده او د هغے حفاظت کونکے دے.

د مخکښې کتابونو ټول معارف قوانین اوعلوم احکامات په دې کښې راجمع شوی دی.

دا رنګ یو حدیث کښې راځی چې دا قرآن کریم داسے کتاب دے چې: ﴿مَنْ قَالَ بِهٖ صَدَقَ وَمَنْ عَمِلَ بِهٖ اُجِرَ وَمَنْ دُعِیَ اِلَيْهِ فَقَدْ هُدِیَ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾(مسند بزار)

یعني چا چې په دے قرآن باندې خبره کوله نو رشتیابه وائی او څوك چې پرے عمل کوی نو ده ته به اجر ورکولے کیږی او څوك چې دے طرف ته خلق رابلی نو ده ته به نیغه لار ښودلے کیږی.

اودغه رنګه مَنْ حَكَمَ بِهٖ عَدَلَ، څوک چې په دې کتاب باندې فیصله کوی هغه به د عدل او د انصاب فیصله وی .

## د قرآن لازمی حقوق:

د قرآن کریم پنځه حقوق دی. دا په هر مسلمان باندې لازم دی.

کوم انسان چې په دې کښې کوتاهی کوی دا د الله د کتاب حق تلفی ده.

ړومبے حق په قرآن کریم باندې ایمان دے.
دویم حق د الله تعالی په کتاب باندې پوهه ده.د دې علم حاصلول دی.
دریم حق د الله تعالی په کتاب باندې عمل دے.
څلورم حق د الله تعالی د کتاب تبلیغ دے، بیان دے .
او پنځم حق د دې نفاذ او اجراء ده بحیثیت قانون منل دی اوعملی کول دی .
صحابه کرام رضی اللہ عنہم هم فرمائی.
﴿تَعَلَّمْنَا الْقُرْاٰنَ وَالْاِيْمَانَ وَالْعَمَلَ جَمِيْعًا﴾
یعني مونږ به د قرآن علم سره د ایمان او عمل زده کړه کوله او چې کله به مو په هغے عقیده او عمل درست شو نو نوے سبق به مو واغستو.
الله تعالی هم د دغے ایمان په باره کښې فرمائی.
﴿فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللهِ وَاٰيَاتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ﴾(جاثیه:٦)
یعني د الله تعالی د خبرو او آیاتونو نه بغیر به په نورو کومو خبرو د دوی ایمان جوړیږی.

## د ګمراهۍ سبب:

دا رنګ نبی کریم ﷺ فرمائی.
﴿مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى مِنْ غَيْرِهٖ اَضَلَّهُ اللهُ﴾(دارمی)
یعني چا چې د الله تعالی د کتاب نه علاوه په بل څۀ څیز کښې هدایت لټوؤ نو الله تعالی به ئے ګمراه کړی.
او دا انسان به څکه ګمراه کیږی چې د هدایت ذریعه او لاره د الله کتاب وو.
اوکه نن مونږه په خپله معاشره کښې اوګورو نوسره د مسلمانئ د دعوې نه، سره د ایمان د دعوې نه،غلط عقائد، بدعات ،رسومات باطل

نظریات زمونږه په معاشره کښې وجود لری .

او د هغے وجه دا ده چې مسلمان خپله عقیده د الله د کتاب نه نۀ ده اغستے او نه ئے د الله په کتاب باندې دا عقیده پیش کړے ده دغه کتاب د مسلمان په کور، جماعت، دوکان کښې پروت دے خومسلمان خپله عقیده ددے کتاب نه ، نۀ ده اغستې .

## د کتاب الله علم:

دویم حق د الله تعالی د کتاب علم دے.

چې د الله د کتاب علم مسلمان حاصل کړی آخر د الله په دې کتاب کښې څۀ دی الله مونږ نه څۀ غواړی الله مونږ ته څۀ وئیلی دی .

سورة مؤمن کښې الله تعالی عنوان په دے الفاظو سره کیخو دے او دے ته ئے خط وئیلے دے.

یو حدیث قدسی کښې راځی چې تورات کښې الله تعالی فرمائی چې تا د الله تعالی د کتاب حق د خپل دوست د خیال ساتلو برابر هم ادا نه کړو ځکه چې د دوست خط راشی نو خلق ئے حفاظت کوی او د الله تعالی د خط حفاظت څوك هم نه کوی.

په دغه خط خپل ځان پوهه کړئ او بیا د دې خط جواب ورکړئ نو دا د دې حق ادا کول دی او د دې حفاظت کول دی اوکه په خائسته لفافه یا غلاف کښې دغه خط رابند کړے شی او په صندوق کښې محفوظ سنبهال کیخودلے شی نو دا هم د دې خط بې قدری ده .

## د قرآن خیر او برکت:

سورة ص کښې فرمائی:

﴿كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ﴾(ص:۲۹)

يعني دا يو عظيم كتاب دے او عظيم انسان نبی كريم ﷺ ته مو راليږلے دے او د خير او بركت نه ډك كتاب دے خو دا بركات به هله حاصليږی چې په دے كښې سوچ او فكر اوكړے شی او په دے باندې عمل اوكړے شی.

دا خير به په دې طريقے نه حاصليږی چې انسان وربانډې قسمونه اوكړی يا وربانډې مړی ژوندی كړی يا خائسته كور او غلاف ور په غاړه كړی يا ئے په تحت محفوظ كيږدی .

يا ډير نه ډير ختم شريف ئے اوكړی او حال دا دے چې د الله د كتاب خير او بركت په قرآن كښې سوچ فكر تدبر اوپوهه سره حاصليږی .

شاه ولی الله رحمۃ اللہ علیہ فرمائی:

''مقصد از نزول قرآن محض تلفظ نیست''

يعني مقصد د قرآن كريم د نزول صرف الفاظ زده كول نه دی.

علامه ابن قيم رحمۃ اللہ علیہ فرمائی.

د قرآن كريم الفاظ او معنی دواړه زده كول اهم دی خو معنی ئے ډيره اهمه د دے وجے نه ده چې په دے سره د الله تعالی د كتاب مقصد پوهے ته راځی.

# عمل بالقرآن:

دريم حق د قرآن كريم په دې باندې عمل كول دی.

الله تعالی پاك فرمائی: ﴿وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا الْأَلْبَابِ﴾(ص:۲۹)

د تذكر نه مراد عمل كول دی په قرآن كريم باندې

څلورم حق د الله تعالی د كتاب تبليغ دے.

الله تعالی رسول الله ته حكم كوی:

﴿بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ﴾(مائده:٦٧)

يعني هغه احکام خلقو ته اورسوه چې کوم ستا طرف ته نازل کړے شوی دی.

دا رنګ الله تعالی فرمائی: ﴿هٰذَا بَلٰغٌ لِلنَّاسِ﴾(ابراهيم:٥٢)

يعني دا کتاب نصاب تبليغ دے د خلقو دپاره.

## نفاذ قانون قرآنی:

پنځم حق د قراٰن کريم، نفاذ د دے کتاب دے.

اول دا په خپل ځان نافذ کول دی انفرادی طور او بيا په اجتماعی سطح باندې د دے کوشش اوکړے شی نو اول په خپل کور او خاندان والو باندې محنت اوکړے شی او بيا په عالمی سطح د دے د اجراء کوشش اوکړے شی.

نبی کريم ﷺ چې کله د نفاذ چغه اوويسته نو يو سړی د نبی کريم ﷺ نه تپوس اوکړو چې ته څۀ وئيل غواړے؟

نو نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل چې زۀ په دوی باندې لا اله الا الله منل غواړم نو هغه سړي ورته جواب ورکړو چې

﴿إِذًا تُقَاتِلُكَ الْعربُ والعجمُ﴾

يعني که ته د دے نفاذ غواړے نو تاسره به عرب او عجم په دے باندې جهګړے کوی.

دا د قراٰن کريم پنځه حقوق وو.

الله تعالی دې مونږ ته په دے باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي. امين

# د قرآن کریم په باره کښې تپوس

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿اِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَیْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰی مَعَادٍ۔۔۔ الخ﴾(قصص:۸۵)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّۃِ عَمَّا یَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَی الْمُرْسَلِیْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ۔

## په قرآن سره اصلاح:

نبی کریم ﷺ ته چې د نبوت نه بعد د کومې خبرې حکم وو نو هغه د امت اصلاح وه د قرآن کریم په ذریعے سره.

اوپه دې آیت کښې د قرآن کریم اهمیت بلکه فرضیت بیان شوے دے.

نبی کریم ﷺ د دے کار د پاره د زید بن ارقم رضی اللہ عنہ کور خاص کړے وو چې په هغے کښې د دے قرآن کریم درسونه کیدل او د دے د خورولو دپاره به جماعتونه د دغے مدرسے نه د نورو خلقو د هدایت دپاره وتل او دا دین او قرآن کریم به ئے خلقو ته رسوؤ.

دا د بل چاکتاب نه دے دا د الله کتاب دے د دې قدر دانی عزت کول پکار دی.

## لوې نعمت:

الله تعالی په هر امت باندې او خصوصًا په امت محمدی ﷺ باندې ډیر لوے او ګڼر نعمتونه کړی دی.

الله تعالی فرمائی: ﴿وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا﴾(ابراهیم:۳۴)

یعني که تاسو د الله تعالی نعمتونه شمیرئ نو چرے ئے هم نه شئ شمیرلے.

په دے نعمتونو کښې د قرآن کریم د راتګ دا نعمت ډیر لوے او عظیم نعمت دے.

## سورة رحمان د قرآن ذکر:

سورة رحمن کښې الله تعالی فرمائی:

سورة رحمان داسې سورة دے چې په دې کښې الله د دنیا او د آخرت نعمتونه بیان کړی دی خو په دې کښې لوے نعمت هغه کتاب الله دې ځکه د دې نعمت بیان په اول ابتداء کښې شوې دے.

﴿اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ خَلَقَ الْاِنْسَانَ﴾(الرحمن:۳)

یعني الله تعالی ډیر رحیم ذات دے نو د رحم تقاضه ئے دا وه چې د امت د هدایت بندوبست اوکړی نو الله تعالی ورپسے پیوست فرمائی چې د دغے مقصد د پاره الله تعالی د قرآن کریم علم ښودلے دے او بل نعمت دا چې انسان ئے پیدا کړے دے.

الله تعالی په دے آیت کښې د قرآن کریم د نعمت تذکره د انسان د پیدائش نه مخکښې د اهمیت او فضیلت د قرآن کریم د وجے نه کړے ده.

الله تعالی به د دے نعمت په باره کښې تپوس کوی لکه څنګه چې د نورو نعمتونو په باره کښې تپوسونه کیږی.

یو حدیث کښې راځی چې نبی کریم ﷺ،حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت ابوبکر رضی الله عنه یو ورځ اوګے وو نو نبی کریم ﷺ د دوی سره د یو صحابی رضی الله عنه کور ته د میلمستیا په نیت راغے نو هغه ئے په کهجورو سره میلمستیا اوکړه نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې د دے په باره کښې به هم زمونږ نه تپوس کیږی.

نبي ﷺ اوصحابه رضي الله عنهم که چرته په میاشتو میاشتو خائسته خوراک نه موندلو او بیا که لږ څۀ ورته ملاؤ شو نو د نعمت قدرداني ورسره وه چې د دې تپوس به کیږي او زمونږه دا حالت دے چې په میاشتو میاشتو په مړه خیټه خوراکونه کوؤ او سره د دې ناشکري کبر او د نعمت بې قدري کوؤ.

بیا په دغه موقع عمر رضي الله عنه په ژړا شو چې د دې تپوس به هم کیږي د انسان نه، نو دا حالت وو د صحابو او د الله د پیغمبر ﷺ.

الله تعالی هم فرمائي:

﴿ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ﴾(التکاثر:۸)

یعني بیا به د قیامت په ورځ خامخا د دے نعمتونو په باره کښې تپوس کیږي.

دا رنګ د قرآن کریم په باره کښې به هم تپوس کیږي.

# د قرآن تپوس :

الله تعالی فرمائي:

﴿وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ﴾(زخرف:۴۴)

یعني دا قرآن کریم ستا او ستا د قوم د پاره د عزت او شرافت دے او زر ده چې ستاسو نه به د دے په باره کښ تپوس کیږي.

د دې نعمت قدرداني شوې ده او که نه په دې باندې د عمل،ایمان او عقیدې اصلاح کړې شوې ده او که نه د دې څۀ حق انسان ادا کړے دے.

په دنیا کښې به هم تپوس کیږي. په قبر کښې به هم کیږي او په آخرت کښې به هم کیږي او په دوزخ کښې به هم دا تپوسونه کیږي.

## په دنیاکښې تپوس :

په دنیا کښې به تپوس داسے کیږی.

الله تعالی فرمائی:

﴿مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾(طٰہٰ:۱۲۴)

یعني چاچې په دنیاکښې زما د قرآن کریم د زده کړے نه مخ واړوؤ نو ژوند به ورله تنګ کړم.

د ژوند تنګ والے دا دے چې سره د هر څۀ نه به ژوند د پریشانو نه ډك وی.

نن مسلمان سره د مال ، دولت ، سرمایه او جاګیر نه پریشان حاله دے د خپل ژوند نه مطمئن نه دے لنډ تنګ ژوند او په بې قرارے سره ژوند تیروی .

پکار دا وه چې دې سهولت سره د پرشانئ نام ونشان هم نه وے خو وجه دا ده چې د الله کتاب زمونږه په ژوند کښې نشته .

د حضرت عائشے رضی اللہ عنہا نه چا تپوس اوکړو چې ستاسو کو ر کښې به په میاشتو اُور نه بلیدو نو ستاسو ګوزاره به په څۀ کیده نو هغے ورته جواب ورکړو چې یو کهجوره دوه کهجورو باندې به زمونږ ګوزاره کیده.

د مال قلت دے خو ژوند او زندګی د حضرت عائشے رضی اللہ عنہا او د نورو صحابو رضی اللہ عنہم ښه فراخه وه.

سفیان ثوری رحمۃ اللہ علیہ به فرمائیل چې که دے بادشاهانو ته د دے پته اولګیده چې زمونږ دا زندګی د څۀ د وجے نه په دومره خوشحالئ کښې ده نو دوی به مونږ سره په تورو باندې د دے خوشحالئ اغستلو د پاره جنګ اوکړی.

ځکه په دنیا کښې خوشحالی د الله په دین او د الله په کتاب

باندې ملاویږی .
دا رنګ په قبرکښې به هم د دے قرآن کریم په باره کښې تپوس کیږی.

## په قبر کښې تپوس:

په قبر کښې به درے تپوسونه کیږی.
یو دا چې مَنْ رَّبُّكَ ؟
یعني عقیده دے په چاجوړه وه.
دویم دا چې مَنْ نَبِیُّكَ ؟
یعني عمل دے د چا په طریقه وو؟
دا رنګ دریم تپوس به دا کوی چې مَادِیْنُكَ ؟
یعني په دنیا کښې دې په کوم قانون ژوند تیر کړے وو.

ستا د ژوند قانون قبائلی یاقومی رسم ورواج وو یا خپل وضعی قانون یا د انګریز نه اغستلی شوی قانون وو او که نه دین اسلام شریعت محمدی ﷺ ستادین او قانون وو.

نو د دے جوابونه چې څوك صحیح ورکړی نو فرشتے به ترینه تپوس اوکړی چې دا جوابونه تا چرته زده کړی وو؟
نو دے به جواب ورکړی.

﴿قَرَءْتُ كِتَابَ اللهِ وَاٰمَنْتُ بِهٖ وَصَدَّقْتُ﴾(الزهد لابن مبارک)

یعني ما په دنیا کښې د الله تعالی کتاب لوستلے وو او بیا مې پرے ایمان راوړے وو او د دے تصدیق مې هم کړے وو.

او څوك چې جواب ورنکړی نو فرشتے به ورته اووائی چې نۀ تۀ د الله تعالی په کتاب پوهیدلے او نه د پوهیدونکی په نقش قدم تلے.

نو خلاصه دا چې په قبر کښې به هم خلاصے د قرآن کریم په زده کړے سر ه کیږی.

حضرت عثمان ﷛ به چې کله په مقبره تیریدو نو ژړل به ئے نو چا ترینه د دے باره کښې تپوس اوکړو چې ته ولے د دے قبرونو په لیدو ډیر ژاړے نو هغه جواب ورکړو چې په دے ځکه ژاړم چې دا د اٰخرت د پوړو نه ړومبئ پوړئ ده.

ځکه خو نبی کریم ﷺ د دے دریو خبرو یادګیرنے د پاره امت ته دا دعا ښودلے ده.

﴿رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيًّا﴾(ابوداؤد)

یعني زه د الله تعالی په ربوبیت او د اسلام په دین کیدلو او د نبی کریم ﷺ په نبی کیدلو باندې راضی یم.

## دا آخرت سزا دَ قرآن په باره کښې:

او اخروی سزا ئے الله تعالی په دے الفاظو ذکر کوی.

﴿وَنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَعْمٰى﴾(طٰہٰ:۱۲۴)

یعني مونږ به دا انسان د قیامت په ورځ ړوند راپاسوؤ.

نو دا انسان به الله تعالی ته سوال اوکړی چې په دنیا کښې خو زه بینا ووم نو دا ولے دې ړوند راپاسولم؟ نو الله تعالی به ورته جواب ورکړی.

﴿كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى﴾(طٰہٰ:۱۲۶)

یعني دا رنګ تاسو ته زمونږ اٰیاتونه راغلی وو خو تاسو هغه هیر کړی وو نو نن ورځ مونږ د خپل رحمت نه هیر کړئ او حشر مو درله د ړندو سره اوکړو.

د جهنمی نه به هم د دے په باره کښې تپوس کیږی.

الله تعالی سورة ملك کښې فرمائی.

﴿كُلَّمَا اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَا اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ﴾(ملک:۸)

یعني کله چې دې جهنم ته خلق واچولے شی نو خازن به ترینه

تپوس اوکړی چې آیا تاسو ته څوك یرونکے نه وو راغلے؟
نو دوی به جواب ورکړی.
﴿قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ﴾
(ملک:۹)

یعني دوی به اووائی چې ولے نه وو راغلے خو مونږ هغوی ته د دروغو نسبت اوکړو او مونږه اوئیل چې الله تعالی په دوی باندې هیڅ دلیل نه دے رالیږلے. نو د دے وجے نه مونږ په جهنم کښې یو او په عذاب کښې مبتلاء یو.

او بیا به د قیامت په ورځ ارمان کوی:
﴿لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْ اَصْحَابِ السَّعِيْرِ﴾(ملک:۱۰)

افسوس ارمان دے که مونږه قرآن اوریدلے وے او یا مو وربانديې ځان پوهه کړے وے نن به دجهنم په ګرم اُور کښې نه وے په دغه وخت به فریاد ارمان پښیمانتیا څۀ فائده نه ورکوی .

الله تعالی دې مونږ ته په دے خبرو باندې د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# د قرآن او حدیث اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُوْنَ﴾ (المائدہ:۸۱)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهٖ﴾ (موطا امام مالک)

## داهل کتابو د ګمراهۍ اسباب:

د قرآن کریم په دې ذکر شوې اٰیت کښې او د نبی کریم ﷺ په دې حدیث کښې مسلمان ته خبردارے ، تنبیه او د یهود اونصاراؤ د طریقو، چال چلونو نه بچ کیدل په دې کښې ذکر دی.

اوبار بار ئے مسلمان ته تذکره کوی چې د هغوی د نقش قدم او روش، عاداتونه بچ شی.

په ایت کښې درے بنیادی خبرے ذکر کوی چې ډیرے اهمے دی او د دین بنیادی احکا م دی.

سورة مائده کښې الله تعالی د اهل کتابو تذکره کړے ده او د هغوی برایانے ئے ذکر کړی دی چې په هغوی کښې د الله تعالی او د رسول نافرمانی وه ، په خپله هم ګمراه وو او نور ئے هم ګمراهۍ ته رابلل، شرک بدعات پکښې عام وو او د الله تعالی بندګان او اولیاء ئے د الله تعالی سره شریکان جوړ کړی وو.

لکه نصارو عیسی علیه السلام او یهودو عزیر علیه السلام ته د

الله ځوئے وئیل .

د الله او د رسول خلاف، د دین په مقابله کښې بغاوت دا ټول قسم مرضونه په هغوی کښې موجود وو. او غلو فی الدین ئے کوله .په دین کښې ئے خپلے خبرے دننه کړے وے. او دَ منکر نه ئے خلق هم نه منع کول.

## درې اهم بنیادونه :

بیا د دے برایانو بیانولو نه بعد په اٰخر کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ﴾(المائدہ:۸۱)

یعني که دا درے کارونه ئے کړے وے چې یو په الله تعالی باندې ایمان دے. دویم په رسول الله ﷺ باندې ایمان دے.

او دریم د وخت د رسول د راؤړلے شوی قانون او کتاب منل وو.

نو نتیجه به ئے دا وه چې چرے به هم دوی د الله تعالی سره نور بندګان اولیاء نه وو شریك کړې.

او د مخلوق د غلامۍ نه به ئی نجات، خلاصې موندلے وو.

نو که ځوك دا درے خبرے نه منی نو د هغوی به هم دغه حالت وی کوم چې د اهل کتابو وو.

## د کامیابۍ درې خبرې :

او که څوك عقیده د الله تعالی د توحید لری او د خپل پیغمبر اتباع کوی په خپل عمل سره او د ژوند تیرولو قانون ئے د الله تعالی کتاب وی نو دا انسان به کامیاب وی.

او که دچا په عقیده کښې ایمان بالله،توحید نه وی، په عمل

کښې ئې اطاعت رسول او سنت نه وی اونظام حیاة او قانون ئې کتاب الله نه وی نو یقینًا دغه انسان د کامیابۍ نه لرې دی.

د دې انسان حشر به هم د دغه یهود اونصاراؤ سره وی.

ځکه الله فرمائی: ﴿وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ فَاسِقُوْنَ﴾ ، زیات په دوی کښې نافرمان دی. سره د دې نه چې د انبیاؤ اولاد وو د لوے خاندان سره ئې تعلق وو او بیا سره د علم نه ګمراه ورته الله وائی اوبیا هم الله هلاک کړل. نه د نسب لحاظ اوکړے شو اونه صرف علم بچ کړل اونه ئې لوے نومونه پکار راغلل اونه ملاتوب اوپیر پرستۍ فائده ورکړه .

د دے وجے نه په دې موقع د دے خبرے وضاحت ضروری دے چې توحید څۀ ته وائی، د رسالت منل څنګه وی او د قانون الهی حقیقت څۀ دے. د توحید تعلق عقیدي سره دے او د سنت تعلق عمل سره دے او قانون الهی د معاشرې سره تعلق لری .

په دے دریو خبرو کښې ړومبۍ خبره د الله تعالی وحدانیت منل دی خو دا به هم د قرآن او سنت په رنړا کښې وی. او عمل به هم د قرآن او سنت په رنړا کښې کوی، ځکه چې د اسلام بنیاد په دے دوؤ خبرو(قران،سنت) جوړ دے.

د انسان عمل به د دے دین اسلام په تله تللے کیږی که پوره وو نو مسلمان به وی او که کمے وو نو دا انسان به ناکام وی. دا د قرآن او سنت قانونی حیثیت دے.

او بل د قرآن او سنت عقیدوی ، حیثیت دے بحیثیت عقیده قران او سنت تسلیمول.

قرآن د الله کتاب دے او سنت د رسول الله ﷺ ارشادات او افعال دی که قرآن او سنت په عقیده، عمل او قانون کښې نه وی نو دغه

عقیده الله ته قبول نه ده او هغه عمل چې طریقه د پیغمبر ﷺ نه وی الله ته منظور نه دے او دغه قانون هم مردود قانون دے.

عقیده،عمل،ژوند ټول به د قرآن او سنت په رهنمائے کښې اداکیږی. فیصلے جرګے به د قوم په رسم ورواج، د ملک په قانون وضعی باندې نه وی بلکه په شریعت الهی به کولے شي.

هرڅیز به په خپل تول تللے شي.

نو خلاصه دا چې هر چا چه څه قول ، عمل او کړه نو هغه به په تله د قرأن او سنت تللے کیږی که هغه د هر چا قول ، فعل وی. ځکه چې د الله تعالی او د رسول نه بعد هیڅ یو بنده هم د خطاء نه خالی نه دے.

## دَ رسول اطاعت:

قرأن کریم کښې الله تعالی فرمائی:

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾(النساء:۵۹)

یعني اے مؤمنانو د الله تعالی او د الله تعالی د رسول تابعداری اوکړئ.

د الله اطاعت کتاب الله دے، د رسول الله ﷺ تابعداری سنت نبوی ﷺ دے او د دوی په اطاعت کښې بیا د علماؤ حکمرانانو خبره منل دی خو چې د قرآن او سنت سره موافق وی .

او بل ځاې کښې فرمائی:

﴿ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهُ ﴾(النساء:۸۰)

یعني چا چې د رسول اتباع اوکړه نو دهٔ په حقیقت کښې د الله تعالی اتباع اوکړله.

## د گمراهئ نه د بچاؤ لاره:

د دے وجے نه نبی کریم ﷺ فرمائیلی وو چې که زهٔ وفات شوم نو بے فکره اوسئ ، په دے دوؤ خبرو عمل کوئ.

نبي کریم ﷺ فرمائی.

دا قانون حیاة او لائحه عمل د ژوند ، نبی ﷺ صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ته ښودلے وو زه ستاسو نه رحلت کومه تاسو هیچرے گمراهه کیدے نه شئ ځکه د گمراهئ ، بې دینئ نه د بچاؤ لار تاسو ته ښایم مطلب دا دوه د کامیابئ بنیادونه دی که د عالم خبره وی اوکه دحکمران وقت حکم وی دا قرآن اوسنت به ئے بنیاد وی .

﴿تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهٖ كِتَابَ اللّٰهِ وَسُنَّةَ رَسُوْلِهٖ﴾

(موطا امام مالک)

یعني ما تاسو ته دوه داسے څیزونه پریخودلی دی چې که تاسو په هغے باندې عمل اوکړئ نو چرے به هم گمراه نه شئ ، یو د الله تعالی کتاب او بل د نبی کریم ﷺ سنت دے .

## رسمی اوحقیقی مسلمان:

سورة احزاب کښې الله تعالی د مؤمن صفت دا ښودلے دے .

چې د مؤمن عقیده نظریه او رویه به د الله او د الله د کتاب سره څهٔ وی؟

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ﴾(الاحزاب:۳۶)

یعني کله چې الله تعالی او رسول یو فیصله اوکړی. په قرآن کښې او رسول فیصله اوکړی د حدیث په ذریعه نو په دے کښې بیا د یو مؤمن

سړی یا ښځے خپل اختیار نه چلیږی. بلکه دا به منی.

هغه رسم اورواج ملکی دستور، د خپل زړهٔ خبره دا ټول به د قرآن او سنت رسول د پاره قربانوی.

د دهٔ اختیار، سوچ ، رائے به قرآن او سنت رسول وی.

صحابه کرامو رضی اللہ عنہم به د الله تعالی هر حکم منو او د پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم خبره ئے هم چرے کوزه نه ده غورځولے.

## د صحابه کرامو صلی اللہ علیہ وسلم په قرآن عمل:

د شرابو حرمت چې کله راغے نو بغیر د حیلو او چل ول نه ئے ټول شراب واړول او تردے چې په کومو لوخو کښې به ئے شراب څکل هغه ئے هم مات کړل او د هغے استعمال ئے پریخودو.

د خپل قوم عادت ئے مات کړو. دا خبرې نه وے چې دا خو تاوان دے دا خو ډیر قیمتی څیز دے یا چې دا شتهٔ ختم شی بیا به نور نه استعمالوؤ،بس د الله د حکم راتللو سره د شرابو نه بند شو هغوې پابند دَ حکم خداوندی وو بلکه هغه لوخی چې شراب به په کښې څکلے شو هغه ټول ئے لرې کړل او ختم ئے کړل .

حضرت عمر رضی اللہ عنہ به چې کله په دلیل کښې قرآن یا حدیث واؤریدو نو فورًا به ئے خپله خبره واپس واغسته. د هغه باره کښې راځې چه:﴿كَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللهِ﴾

یعني د الله تعالی د کتاب په وړاندے به چپ شو.

دا رنګ یو صحابی رضی اللہ عنہ د سرو زرو ګوته اچولے وه نو نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ترینه لرے اوغورزوله چې دا په سړو باندې حرام دی.

ځکه مسئله دا ده چه سونا اوریښم په سړو باندی حرام دی .

نو هغه صحابی رضی اللہ عنہ د مجلس په ختمیدو کښې بیا راؤچته نکړه

نو چا ورته اوئيل چې راوائےخله او کور کښې به ئے زنانه استعمال کړی نو دے صحابی رضی اللہ عنہ جواب ورکړو چې زه څۀ رنګه هغه څيز راواخلم چې نبی کريم صلی اللہ علیہ وسلم غورځولے دے.

## د نافرمان او نه منونکی سزا :

خو چه کوم خلق دا قران او حديث د خپل ژوند قانون نه منی نو د داسے خلقو په باره کښې الله تعالی فرمائی:

﴿وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا﴾

(سورة نساء:١٦)

يعني چا چې د الله تعالی او د رسول نافرمانی اوکړه او د حدودو نه تير شو نو الله تعالی به ئے جهنم ته واچوی.

بيا هم په دے سورت کښې فرمائی.چې دا شان د منافق دے چې قرآن او حديث پابندی نه کوی .

﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنَافِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا﴾(النساء:٦١)

يعني کله چې دوی ته اوئيلے شی چې قرآن او سنت طرف ته راشئ نو منافق سړے به دَ دين طرف ته د راتلو نه منع کيږی.

کله به دا خبره کوی چه زه منم خو کور ښځه بچې دی، خلق، ګاونډيان، ملګری ټول خفه کيږی نو ماته څۀ ګناه ده زه څۀ اوکړمه .

دا رنګ کله وائی چه مونږ لره د پلار نيکۀ رسم اوطريقه پوره ده .

﴿وَقَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا﴾(المائده:١٠٦)

يعني کله چې دوی ته اوئيلے شی چې د الله تعالی او د رسول خبره اومنی نو دوی وائی چې مونږ له د خپلو مشرانو طريقے کافی دی.

اوس هم داخبره ده چې وائی زه د پلار نيکه په طريقه مړے ژوندے کومه

ځکه زمونږه مشرانو داسې کړی دی . دا خو د قرآن ا و حدیث قانونی حیثیت وو.

## د قرآن ایمانی اوعقیدوی حیثیت:

اوس د دے مسئلے عقیدوی حیثیت بیانیږی.
د مسلمان عقیده به هم د قرآن او سنت مطابق وی.
دا د ایمان او د هدایت خدائی کتاب دے.
قرآ ن کریم کښې الله تعالی فرمائی:
﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَ اللهِ وَاٰيَاتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ﴾(الجاثية:٦)
یعني د الله تعالی دخبرے او د آیتونو نه بغیر به په کومه خبره د انسان عقیده او ایمان جوړیږی.
نو که څوك د الله تعالی د کتاب نه بغیر په بل څۀ باندې د عقیدے جوړولو دعوی کوی نو دا دروغژن دے.

## داصلاح کتاب:

دَ نبوت نه مخکښې نبی کریمﷺ به هم هر وخت په دے فکر کښې وو چې څۀ رنګه به دا خلق صحیح شی او عقیده به ئے په الله تعالی باندې جوړه شی.
حضرت خدیجة رضی الله عنها هم فرمائی چې په دے فکر کښې به نبی کریمﷺ غار حراء ته تللو چې دا قوم، مکے والا به څۀ رنګه پوره په هدایت باندې راشی. د دوی دا شرکی عقیدے اصلاح به څنګه کیږی او دا د جاهلیت نه ډک عمل به څنګه صحیح شی د دغه سوچ او فکر د پاره به غار حراء ته تلو، نو الله د دې د اصلاح د پاره وحی د قرآن ورته ورکړه ترڅلوېښت کالو پورے اصلاح نه شی کولے او بیا په یو څو کالو په ټوله

دنيا کښې يو انقلاب د هدايت راپورته کړو.

نو سورة شورى کښې الله تعالى فرمائی:

﴿ وَكَذٰلِكَ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ رُوۡحًا مِّنۡ اَمۡرِنَا مَا كُنۡتَ تَدۡرِىۡ مَا الۡكِتٰبُ وَلَا الۡاِيۡمَانُ وَلٰـكِنۡ جَعَلۡنٰهُ نُوۡرًا ﴾ (الشورى:۵۲)

يعني مونږ تاته د خپل طرف نه روح درکړو چې د دے نه مخکښې تا نه کتاب پيژندو او نه دَ ايمان بيان ليکن مونږ دا کتاب نور جوړ کړو.

قران ته روح ځکه وائی چې د روح اصلاح په دې سره کيږی او نور ورته ځکه وائی چې دا دنيا او د شرکياتو فساداتو دَ تيرو نه دَ وتلو لاره ده.

## دقرآن انقلاب:

قران داسے نور چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ د نبی کريم صلی اللہ علیہ وسلم د قتل په باره کښې راؤوتلو نو لاره کښې ورته چا اوئيل چې خور او اوخے دې مسلمان شوے دے نو دے سيدها دلته راغے او د خپل اوخی او خور د وهلو نه بعد ئے چې کله سورة طٰهٰ اٰيتونه واؤريدل نو فورًا ئے ايمان راؤړو.

يا هغه عمر رضی اللہ عنہ چې د نبی صلی اللہ علیہ وسلم قتل پسې روان دے د کور نه اوځی او يا هغه عمر رضی اللہ عنہ چې کامل مومن مسلمان په اسلام قربان کورته واپس کيږی.

دارنګ کله چې د نجاشی په دربار کښې د سورة مريم څو اٰيتونه تلاوت کړے شو نو فورًا په ژړه شو او ايمان ئے راؤړو.

الله تعالى هم دغه کيفيت بيانوی.

﴿وَاِذَا سَمِعُوۡا مَاۤ اُنۡزِلَ اِلَى الرَّسُوۡلِ تَرٰۤى اَعۡيُنَهُمۡ تَفِيۡضُ مِنَ الدَّمۡعِ﴾ (المائدہ:۸۳)

يعني کله چې دوی قرآن کريم واؤری نو ته به دوی لره وينے چې د سترګو نه به ئے اوښکے دارے وهی او ژاړی به.

قرآن د ایمان کتاب دے، ایمان په دے کتاب سره مضبوطیږی اوقرآن د هدایت او د رشد کامیابۍ کتاب دے او هدایت انسان ته په دے سره حاصلیږی ځکه الله وائی:

﴿إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ﴾ (بنی اسرائیل:۹)

دا قرآن هغه لار انسان ته ښائی چې هغه پوره سیدها او مضبوطه لاره ده د هغے نه دپاسه بل هدایت نه شی تصور کیدے، چې کوم انسان ته په قرآن سره هدایت اونشی نو دا لوې بدبخته، بدقسمته، سرکشه باغی انسان دے. قرآن چې څومره مضبوط او زبردست هدایت انسان ته کوی داسے هدایت په بل څۀ کښې نشی کیدے.

یو سړی په خوله باندې په زبانی دعوت سره پوهه کړه، په کتاب یا لټریچر باندې ورته د اسلام وضاحت اوکړه او بل انسان ته په قرآن سره وعظ اونصیحت اوکړه، د دوی په مینځ کښې به د زمکے اسمان فرق وی.

که اول انسان د دغه مجلس او دغه ماحول نه جدا شی نو کله هم په دۀ بل خلاف ماحول اثر کولے شی خو د قرآن هدایت یافته سوال نه پیداکیږی چې د اسلام نه روستو شی.

# د حدیث فضیلت

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَاَنْزَلْنَا اِلَیْکَ الذِّکْرَ لِتُبَیِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَیْھِمْ وَلَعَلَّھُمْ یَتَفَکَّرُوْنَ﴾ (نحل:۴۴)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ : تَرَکْتُ فِیْکُمْ اَمْرَیْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّکْتُمْ بِھِمَا کِتَابَ اللّٰہِ وَسُنَّۃَ رَسُوْلِہٖ﴾ (موطا امام مالک)

## د حدیث اهمیت:

د قرآن کریم یو آیت او د نبی ﷺ یو حدیث ذکر شو په دې کښ د قرآن کریم او سنت رسول ﷺ تذکره ده مخکښ دا خبره بیان شوې وه لکه ځنګه چې د الله اطاعت ضروری دے دغه شان د رسول الله ﷺ تابعداری هم د یو مسلمان ذمه داری ده د حدیث منلو نه بغیر قرآن نشی منلے کیدے او نه وربانډې عمل کیدے شی.

د نبی ﷺ د احادیثو څۀ فضیلت او ضرورت دے او په دین اسلام کښ د دې څۀ اهمیت او درجه ده د دې برصغیر لوئے عالم دین محدث دهلوی حضرت شاه ولی الله رحمۃ اللہ علیہ په خپل کتاب (حجة الله البالغه) کښ فرمائی:

چه د تمامو دینی علومو سرچشمه د نبی ﷺ احادیث دی لکه ځنګه چې د یو مسلمان د پاره د قرآن علم ضروری دے دغه شان د نبی ﷺ د احادیثو علم هم هرمسلمان د پاره ضروری او لازم دے ځکه قرآن پاک ته رسائی د احادیثو په ذریعه باندې کیدے شی که د قرآن پاک

یو حکم انسان معلومول غواړی نو د نبیﷺ احادیث به د دې د پاره مطالعه کول ضروری او لازم وی.

## قرآنی تفصیلات په احادیثو کښې:

تقریبًا دا خبره هر مسلمان ته معلومه ده چه د ټولو نه اول نازل شوی آیتونه د سورة قلم اول پنځه آیتونه دی او دا هم معلومه ده چه دا په غار حراء کښې نازل شوی دی نو په قرآن کښې دا آیتونه شته خو دا هیڅ چرته نشته چه دا اول نازل شوی یا دا په غارحراء کښې نازل شوی وو یا د دې نازلیدو په وخت کښې د نبی ﷺ کیفیت اوحالت څۀ وو ، نو د دې ټولو بنیادی معلوماتو ذریعه مونږ سره صرف او صرف د نبیﷺ احادیث دی په بخاری شریف اول باب،(باب بدء الوحی) کښې شپږ احادیث دی اول حدیث پکښې حدیث د غارحراء دے چه په هغے کښې دا ټول تفصیلات بیان شوی دی نو دا صرف د دې یو سورت پس منظر دے چې حدیث مونږ ته راکړو او دا په بل ځائے کښې نشته.

اوکله چه یو مسلمان مونځ کوی نو اول (سورت فاتحه) وائی اول (سورة القلم) نه وائی ځکه چه دا ټولے طریقے مونږ ته نبی ﷺ ښودلی دی او دا معلومات په قرآن کښې نشته دے دغه رنګه د قرآن ترتیب مصحفی د وحی دا ترتیب د کوم طرف نه راغلے دے نو دا ټول څیزونه د دې د پیژندلو طریقه مونږه سره د نبی ﷺ احادیث مبارکه دی .

## د قرآن نه مخکښې پیغمبر اسلام منل:

بل دا چه د قرآن د منلو نه مخکښې به حدیث منل لازمی کیږی که یو انسان حدیث نه منی نو هغه قرآن نه شی منلے ځکه بغیر د حدیث نه په قرآن باندې عمل نه شی کیدے نو یو انسان د قرآن نه مخکښې محمد

رسول الله (ﷺ) منی ځوک چې په قرآن ایمان لری او په نبی ﷺ ایمان نه لری دغه ایمان، ایمان نه دے او نه دې انسان ته فائده ورکولے شی په هغه دور چې کوم انسان قرآن منلے دے چې دا د الله کتاب دے نو هغه اول محمدرسول الله ﷺ د الله رسول منلے دے بیا ئے په قرآن ایمان راوړے دے چې دا د الله کتاب دې او په نبی علیه السلام باندې ئے نازل کړے دے قدم په قدم به مسلمان د نبیﷺ سیرت، سنت، احادیثو احادیثو ته ګورې اوبیا به دا قدم پورته کوی.

بله خبره دا چې که د قرآن د یو آیت په تفسیر،تفصیل،وضاحت کښې یو مسلمان ته مشکل پیدا شی نو بیا به هم د نبیﷺ احادیثو ته رجوع کوی د دې ډیر واقعات دی بطور نمونه او مثال یوه واقعه ذکر کوؤ په سورة المائده کښې یو آیت دے الله فرمائی :

﴿يَآيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ لَا يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ اِذَا اهۡتَدَيۡتُمۡ﴾

(مائده:۱۰۵)

اے ایمان والو! د خپل ایمانونو حفاظت اوکړے کله چه تاسو په هدایت باندې روان ئے نو د ګمراهانو ګمراهی تاسو ته نقصان نه شی درکولے.

د آیت نه ظاهرًا دا معلومیږی چې انسان دې خپل ځان برابر کړی که نوره دنیا ګمراهه وی نو پرواه نشته حالانکه داسے نه ده قرآن او سنت مونږ ته دا تعلیم راکړے دے چه انسان به خپل ځان، ښځه، بچې ټول د الله د عذاب نه د بچ کیدو کوشش کوی او انسان به منکر منع کوی یا په لاس یا په ژبه یا په زړه کښې به منکر منع کوی.

## د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د سنت په وجه اعلان جهاد:

دغه شان حالات صحابه کرامو رضی الله عنهم ته هم پیدا شوی دی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور خلافت کښې څهٔ فتنے راپیدا شوی خواؤشاء

نزدې قبائلو کښې خلق د اسلام نه مرتد کيدل شروع شو دويم منکرين ختم نبوت پيدا شو د مسيلمة کذاب پيروکار، دريم مانعين زکوة پيدا شو مونږ بيت المال ته زکوة نه ورکوؤ نو ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د دغه خلقو خلاف د جهاد اعلان اوکړو بلکه دا قسم ئے کړے وو چې د زکوة په باره کښې که دې خلقو اوښ، بيت المال ته ورکولو او پکښې رسے ئے نه ورکوله نو زه به ورسره جنګ کومه بعض صحابه کرامو رضی اللہ عنہم ورته دغه آيت د قرآن پيش کړو چې قرآن دا خبره کوی ﴿لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ﴾ که تاسو په سمه لاره روان ئے نو د نورو ګمراهی درته نقصان نه درکوی که څوک مرتد کيږی که څوک د ختم نبوت نه انکار کوی او که څوک د زکوة نه روستو کيږی نو پرواه نشته تاسو ته څۀ نقصان نشی درکولے، ابوبکر رضی اللہ عنہ پاسيدو او خطبه ئے اووئيله چه تاسو دې دا ايت دهوکه نه کړی ما د نبی صلی اللہ علیہ وسلم نه اوريدلی دی اے خلقو امربالمعروف او نهی عن المنکر کوے تر دې پورې چه يو داسے وخت راشی چې خواهش پرست خلق او بخل والا خلقو کښې د فتنو داسے زور شی چې يو مسلمان به خپل ايمان محفوظ نشی ساتلے نو دا آيت د داسے وخت والا خلقو په باره کښې دے دا د آخری دور خبره ده چه کله دعوت او تبليغ بےاثره شی او د انسان خپل ايمان ته ورته خطره شی نو د قرآن دا آيت د دغه وخت په باره کښې دے لکه بل حديث کښې راځی چه په دغه دور کښې بهترين انسان هغه دے چه ګډی چيلے د ځان سره واخلی او غرونو کښې ئے څروی د خپل ايمان د حفاظت د پاره دغه بهترين انسان دے نو دې کښې دا سبق دے چه کله په آيت کښې مشکل پيدا شو نو ابوبکرصديق رضی اللہ عنہ دغه مشکل د قرآن په حديث پاک د نبی صلی اللہ علیہ وسلم سره حل کړو.

يو بل صحابی دے ابوثعلبه الخشنی رضی اللہ عنہ د هغه نه چا د دې آيت په

باره کښې تپوس اوکړو چه د دې آیت په باره کښې څۀ وائے؟

نو هغه جواب ورکړو چه دا ډیره ښه خبره ده چه تا د پوهه سړی نه تپوس اوکړو زه په دې آیت پوهه یم دغه داسے اشکال ماته هم پیش شوے وو او ما د نبی ﷺ نه تپوس کړے وو نو نبی ﷺ دا فرمائیلی وو چې دا د هغه آخری دور سره تعلق ساتی نو مسلمان به هم دا عقیده ساتی که د قرآن د یو آیت متعلق چاته شبهه وی نو هغه به په حدیث سره حل کولے شی که بالفرض والتقدیر یو غیرمسلم د قران په یو ایت اعتراض اوکړی نو هغه ته به جواب د حدیث رسول ﷺ نه ورکولے شی.

## د قرآن د ایت مراد ښودل:

او داسې شوی هم دی چه کله د سورت توبے آیت

﴿اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾(توبہ:۳۱)

دا آیت چې کله نازل شو په دې ایت کښې الله تعالی د اهل کتابو په باره کښې فرمائی چې دې اهل کتابو خپل مُلیان او پیران په خدائی توب سره نیولی وو بغیر د الله نه او عیسی علیه السلام ځوی د بی بی مریم هغه ئے هم خدائے ګرځولے دے په دغه دور کښې د عیسائیانو سردار دے روستو بیا مسلمان شوے دے عدی بن حاتم رضی اللہ عنہ دۀ دا آیت اوریدلے وو نو نبی ﷺ ته راغے او وئیل ئے چه مونږه عیسی علیه السلام هیڅ چرته هغه ته رب نه دے وئیلے او قرآن دا خبره کوی نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه د دې خبرې جواب راکړه چه آیا تاسو خپل پیران او ملیان اختیار مند په عیسائیت کښې ګرځولی وو او که نه ، تاسو هغوی ته د حلالولو او د حرامولو اختیار ورکړے وو او که نه چې هغوی به څۀ حلال کړل نو تاسو به هم ورسره حلال کړل او هغوی چې به څۀ درته حرام کړل تاسو به هم حرام کړل خو دا حلت او حرمت د هغوی د ځان د طرف نه وو د تورات

او انجیل نه به ئے دا خبره نه کوله. عدی بن حاتم رضی اللہ عنہ جواب ورکړو چې یقینًا دغه شان خبره وه نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه همدغه په خدائې توب سره نیول دی او هم دې ته رب وئیلے کیږی نو د دغه غیرمسلم یا نو مسلم اشکال د قرآن پاک په باره کښ نبی ﷺ په خپلے خبرې، حدیث سره رفع کړو او دا یقینی خبره ده نن هم د عیسائیت اتهارټی د حلالولو او د حرامولو په باره کښ اختیارات د پاپائے روم سره وی، هغه چې څۀ حرام کړی هغه حرام وی او هغه چې څۀ حلال کړی هغه همیشه حلال وی نو دا اصول جوړ شو که چرته یو غیر مسلم په قرآن اشکال اعتراض اوکړی نو زمونږ سره به د هغے جواب د نبی ﷺ احادیث مبارکه وی.

## د حلت او حرمت اختیارات:

او پاتې شوه دا خبره چې زمونږ په شریعت کښ به د حلال او حرامو اختیارات د چاسره وی نو مفتی صاحب،عالم صاحب، پیرصاحب، خو لا څۀ کوے دا اختیارات د محمد ﷺ سره هم نشته دے هغه د خپل ځان د طرف نه بغیر د الله د حکم نه د حلت او حرمت اختیار نه لری.

احادیثو کښ چه کوم حلال او حرام ذکر کیږی نو دا پیغمبر د خپل ځان د طرف نه، نه کوی بلکه دا د الله د حلال کړی شوی او حرام کړی شوی تشریح وی الله قانون ساز دے او محمد ﷺ د الله د قانون شارح دے شرح کونکے دے ځکه الله په قرآن پاک کښ نبی ﷺ مخاطب کوی ﴿لِمَ تُحَرِّمُ مَآأَحَلَّ اللّٰهُ لَکَ﴾ ته ولے حلالوے هغه څیز چه الله پاک حرام کړے دے دا اختیارات ستا سره نشته دے نو څنګه چې قرآن منل ضروری او لازم دی دغه شان احادیثو باندې ایمان لازم او ضروری او لازم دی ځکه احادیث د ټولو علومو سرچشمه ده څنګه چې مونږه یو سنت عمل معلوموؤ نو احادیثو ته رجوع کوؤ دغه شان فقهی مسائلو حل هم په احادیثو باندې بناء کولے شی. والحمدلله رب العالمین.

# د مونځ اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ [العنکبوت :45]

﴿وقال رسول الله ﷺ: مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ او كما قال رسول الله ﷺ﴾

[طبرانی]

## مونځ دایمان ترجمان:

په مسلمان باندې د عقیدے جوړولو نه بعد دویم اهمه فریضه په ده باندی د الله تعالی عبادت لازم کیږی.

ځکه دایمانیاتو نه بعد په انسان باندې عبادات لازم دی اوبدنی مالی عبادت د انسان د عقیدې اونظرې عملی ثبوت وی اودا د انسان دعقیدې عکاسی کوی دې سره داپته لګی چې دې سړی کښې دننه ایمان شته دې.

ځکه دا انسان عبادات کوی اعمال کوی .

اوکه چرته ایمان اوعقیده وی خوپه ظاهر کښې عمل نه وی نو د دې انسان د ایمان په ظاهر باندې پته نه لګی .

دا دې وجے نه چې د شریعت د احکامو فیصله په ظاهر باندې کیږی نو که څوك د الله تعالی عبادت کوی نو دا د دے نښخه ده چې دے مومن دے او که څوك داسے قسمه عبادات نه کوی او په مشترکه معاشره کښې اوسیږی نو څوك پرے د مسلمان کیدو ګمان نشی کولے.

## دعباداتو مرکب معجون:

شاه ولی الله فرمائی.      الصلوٰة معجون مرکب
یعني مونځ هم د نورو عباداتو نه مرکب یو څیز دے چې دا د ټولو عباداتو مجموعه ده نو د قیامت په ورځ که مونځ ناقص وو نو نور اعمال به ئي هم برباد وی او که د مونځ حساب کتاب ئی صحیح وو نو نور اعمال به هم الله تعالی ورته اسان کړی.
ځکه په مونځ کښې عملی تربیت دې د نور قسم عباداتو دپاره که یو انسان هره ورځ پنځه ځله الله ته مخې ته په عاجزۍ سره لاس په نامه ودریږی نو دغه انسان بیا په کال کښې د رمضان روژې هم اداکوی اوپه عمر کښې د حج بیت الله فریضه باندې هم عمل کوی او د خپل مال څلویښتمه حصه هم اداکوی نو مونځ بنیاد دې د نورو عباداتو دپاره .
د دے وجے نه نبی کریم فرمائي.ځکه چې دااهم عبادت وو .
الصَّلاةُ عِمادُ الدِّينِ      یعني مونځ د دین ستنه ده.

## دمونځ ډیر اهمیت:

دارنګ شاه ولی الله په حجة الله البالغه کښې فرمائی.
چې مونځ په عباداتو کښې لوی شان والا دے نو سلیم الفطرت خلقو کښې په دین باندې پوهه خلقو کښې د دے شهرت زیات دے او دا مونځ نفس ته هم فائده رسوی او نفس پدے سره درست کیږی.
او دا د نفس علاج هم دې .
نو شارع د دے وجے نه د دے احکام ډیر بیان کړی دی او ددے فرائض ، ارکان او شرائط او واجبات ئي بیا ن کړے دی او خشوع خضوع ئي ورله ذکر کړے ده.

د نورو عباداتو تفصيل او اهميت د دې عبادت په شان نه دې بيان شوې لکه څنگه چې د دی عبادت احکامات کليه اوجزئيه په باريک انداز بيان شوی دی .

او دا د دين اسلام په لوی شعائر و کښې شامل دی .

دا مونځ په دے طريقے جامع او پوره دين دے. ځکه چې دد ے مونځ الفاظ او اداګانے د ايمان عکاسې کوی او پکښې د الله تعالی د ربوبيت وغيره اقرار دے نو د روژے شکل هم په مونځ کښې شته چې نور خوراك پرے بند دے نو د قبلے طرف ته مخ کول د حج ياد دهانی ده . دارنګ دکان وغيره بندول او د مال قرباني ورکول د زکوٰة شکل دے او جمعے سره مونځ کول د معاشرت شکل دےاو د صفونو صف بندی د جهاد ياد دهاني ده. دا رنګ يو بل سره نزدے اودريدلو کښې د مينې او محبت د اظهار شکل دے او د همدردئ طرف ته پکښې اشاره ده.

بيا په مونځ کښې د يو امام په اقتداء کښې خکته پورته کيدل رکوع سجده د يو امام په اقتداء کښې اداکول د اطاعت امير طرف ته تعليم دې د دی نه علاوه نور مختلف قسم احکام په دې عبادات کښې راجمع شوی دی .

ځکه شاه ولي الله فرمائي چې دا معجون مرکب دے.

د نبی کريم نه چا تپوس اوکړو چې فلانکے سړې د مونځ نه غلا کوی نو نبی کريم ورته اوفرمائيل چې دا مونځ به دے د دے کار نه منع کړی.

ځکه دامونځ انسان د بدعملۍ نه منع کوی اوداتجربه ده چې کوم انسان پنځه وخته مسجد ته راځی دا انسان به د نورې بدعملۍ نه محفوظ وی ځکه دا انسان که مسجد ته راشی نو د امام صاحب مولوی صاحب نه څه خبره واوری يا د نورو مسلمانو سره يوځائی شی د هغې نه د ايمان يا د

عقیدې متعلق څه خبره زده کړی او نورې څومره فائدې چې د مونځ دی هغه ټولې فائدې دې انسان ته حاصله شی .

اوکه مونځ نه کوی نه که حج د بیت اللّٰه ورباندې فرض شی پرواه نه ساتی اوکه زکوة انفاق فی سبیل اللّٰه وربانديې لازم شی نو دې انسان ته دا خپل تاوان ښکاری.

## موسی علیه السلام دمونځ حکم:

موسی علیه السلام ته هم په اوله وحی کښې فرمائیلے وو.

کله چې د مدین نه کوه طور ته روان وو د شپې تیارهٔ ده باران وریږی اوبی بی ته درد زه د بچی پیدا کیدو تکلیف هم دې په دغه حالت کښې هم اللّٰه ورته دمونځ په باره کښې حکم کوی .

﴿إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ (طه:۱۴)

یعني یقینا زه اللّٰه تعالی یم او نیشته دے لائق د بندګۍ سواء زما نه او د مانځه پابندی کوه زما د یادداشت دپاره.

بعضے مفسرینو لیکلے دی چی ذکر نه مراد توحید دے نو د دغے توحید د یادګیرنے د پاره د مونځ په شکل کښې پریکټس پابندی کوه.
دا د توحید عملی شکل دی ظاهری علامه دتوحید مونځ دی .

## د کافر اومسلمان عملی فرق:

په مونځ سره د مسلمان او د کافر په مینځ کښې فرق هم کیږې.
نور فرقونه ډیر دی خو د ایو ظاهری فرق دې مثال په یوځائی څه خلق ناست دی هندو مسلمان سکھ وغیره نو د مونځ وخت شو اوس د دې د پیژندلو علامه د مونځ ادائیګی جماعت ته تلل د آذان دآواز اوریدلو سره نو په دې پته لګی چې دا انسان مسلمان دې دا وجه وه چې دَ امام احمد په نزد په ترک صلوة سره انسان کافر کیږی .

نبی کریم فرمائیلے وو.

د مسلمان او د کافر په مینځ کښې فرق د مونځ په پریخودو کښې دے نو بیا ئي اوفرمائیل ﴿فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ﴾ (نسائی)

یعني چاچې دا مونځ پریخودو نو دهٔ کفر اوکړو.

عبد الله بن شقیق یو تابعی دے. هغه فرمائی

﴿كان أصحابُ مُحَمَّدٍ صلَّى اللّهُ عليه وسلَّم لا يَرَوْنَ شيئًا مِن الأَعْمَال تَرْكُه كُفْرٌ غيرَ الصَّلاةِ.﴾ (صحیح الترمذی)

یعني صحابه کرامو په اعمالو کښې د مانځه پریخودو نه علاوه بل څه ته کفر نه وئیلے.

## مونځ دالله ذمه او وعده:

یو حدیث کښې راځي ابوالدرداء فرمائی چې ماته نبی کریم یو څو نصیحتونه کړے وو چې په هغے کښې یو وصیت دا وو.

﴿وَلَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا ، فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا ، فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ﴾

(ابن ماجه)

یعني فرض مونځ مه پریږده ځکه چې چا قصدا مونځ پریخودو نو دے د الله تعالی د ذمه واریٔ نه ویزاره دے.

مطلب که دا انسان په حضر کښې الله سره مخامخ شی نو د څه خیر امید به لری چې الله ورته معافی وکړی یارسول الله ورته شفاعت وکړی ځکه دې انسان خو الله او رسول د خپلی ذمی نه فارغه کړل لکه انسان مور پلار یا د اداری افسر وائی چې مړه خپل کار کوه ځما ستاسره څه تعلق نشته.

خوك چې د مونځ پابند وی نو د هغوی فضیلت الله تعالی پدے الفاظو بیانوي چې

﴿خَمْسُ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللّٰهُ تَعَالَى مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَصَلاَّهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَ أَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ﴾ [ابوداؤد]

يعني الله تعالى پنځه وخته مونځ فرض کړے دے نو چاچي ښکلے اودس اوکړو او په خپل وخت ئي مونځ اوکړواو پوره رکوع او خشوع سره ئې مونځ اوکړو نو د دۀ د الله تعالى سره دا لوظ دے چې الله تعالى به دۀ ته بخښنه کوي.

دارنګ يو حديث کښې فرمائي.

﴿مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلاَّ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ ﴾ [صحيح مسلم]

يعني کله چې يو مسلمان اودس اوکړی او دوه رکعته مونځ سره د خشوع او خضوع نه اوکړی نو دۀ دپاره جنت واجب شي.

دا مونځ دومره اهم عبادت دے چې د پنځوستومونځونو اجر او ثواب به پرے ملاويږی.

## په پيغمبرانو مختلف مونځونه:

عنايه کتاب کښې فرمائی

چې د سحر مونځ اٰدم عليه السلام دوه رکعته کړے وو نو الله تعالى ته خوښ شو نو په دے امت ئې فرض کړو.

د ماسپخين مونځ ابراهيم عليه السلام کړے وو چې کله ترينه د ځوی د حلالولو حکم ساقط شو نو دا مونځ ئي اوکړو نو الله تعالى ته خوښ شو نو الله تعالى په دے امت فرض کړو.

د مازيګر مونځ يونس عليه السلام د مهي د ګيډے نه په راؤوتو په شکريه کښې کړے وو نو الله تعالى ته خوښ شو نو فرض ئي کړو.

د ماښام مونځ د داؤد عليه السلام په امتحان کښې په پاس کيدو په شکريه کښې کړے وونو الله تعالى ته خوښ شو نو فرض ئي کړو.

دارنګ د ماسخوتن مونځ موسی عليه السلام کړے وو چې کله

ورته الله تعالی نبوت ورکړو او حکم ئې ورته اوکړوچې:

﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي.﴾ [طه:١٤]

یعني د مونځ پابندي کوه زما د یادګیرنے دپاره.

## دمونځ فائدی:

د مونځ ګنړ فوائد دی.

د مونځ یوه فائده دا ده چې صفائی ورسره کیږی او د ډیرو بیمارو نه ورسره انسان محفوظ کیږی.

اولکه څنګه چې دَ بدن صفائی ورسره کیږی دغه رنګه دګناهونو نه ورسره انسان پاک کیږی حدیث کښې راځی چې د یو انسان د کور مخې ته نهر وی او دا انسان د دی نه پنځه وخته غسل کوی: (هَلْ يَبْقَىٰ مِن دَرَنِهِ شَيْءٌ؟) په دې انسان به څه ګندګی یاخیرې پاتې شی نوصحابو جواب ورکړو چې نا یارسول الله نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل چې دغه مثال د پنځه وخته مونځونو هم دې چې په دې سره د انسان ګناهونه ختمیږی .

اونورې ډیرې د صحت فائدې هم ورکښې دی .

دارنګ دویمه فائده داده چې په دے سر ه انسان الله تعالی ته نزدے کیږی.

ځکه د مونځ په حالت کښې انسان د خپل رب سره کلام کوی د دنیا د هر څیز سره تعلق ختم شی صرف یو الله ته مخې ته ولاړوی .

دارنګ دریمه فائده دا ده چې د داسے انسان دعاګانے قبلیږی.

ځکه په مونځ کښې دننه ډیرې دعاګانې دی که د انسان دغه دعاګانې قبول شی دا انسان د دنیا اوآخرت په کامیابۍ باندې روان شو .

دارنګ د مونځ یو غټه فائده قرآن کریم ذکرکړے ده .

الله تعالی فرمائی.

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ﴾ [سورة العنكبوت:٤٥]
يعني يقينا مونځ انسان د بے حيائی او د ناکاره کارونو نه منع کوی .

## حقيقي جاندار مونځ:

خو چی کله مونځ حقيقی نه وی نو دغه مونځ بيا دے انسان ته په مخ وراوويشتلے شی او دا مونځ ورته خيرے کوی.

د مونځ د فائدو نه مونږ ځکه محروم يو چې د نبی کريم طريقه پکښې نيشته.حالانکه نبی کريم فرمائيلے دی.
﴿صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي﴾ يعني زما د مونځ په شان مونځ کوئي.
دويمه وجه دا ده چې د مونځ په معنی او مقصد نه پوهيږی.
الله تعالى هم فرمائي.
﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ(٤) الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ(٥)﴾ [سورة الماعون :٤،٥]
يعني هغه مونځ کونکو لره هلاکت دے چي په مونځ کښې کوتاهی او غفلت کوی.
دريمه وجه داده چې مونځ باجماعته نه کوی.

## اهم احکام وآداب:

د جمعے مونځ د امام احمد او اهل ظواهر په نيز مونځ په جمع سره فرض دے.

زمونږ د محققينو احنافو قول دادے چې په جمعے سره مونځ کول واجب دی.

علماء احناف فرمائی چې تارك الجماعة فاسق دے او ګواهی به ئي نه قبليږی.

نويوه کوتاهی داده چې په جماعت سره مونځ نه اداکوی دويمه کوتاهی دا ده چې د مونځ د مقصد اومعنی نه انسان خبر نه دې د دې

حکمت او فائده ورته معلومه نه ده اومونځ وربانديږ بنهٔ اثر نه کوی چې هغه په دين مضبوط کيدل دګناهونو نه بچ کيدل دی بل داچې د مونځ آداب سنن مستحبات مونږه ته معلوم نه دی بيا د مونځ د پاره چې کوم قسم اودس پکار دې هغه اودس نن صبا مونږه کښې نشته .

څلورمه وجه دا ده چې د مونځ نه علاوه نور احکامات هم منل ضروری دی نو چې کله هغه اداکړے شی نو هله به مونځ دغه فائده ورکوی او که نور حقوق ترينه فوت کيږی او صرف د مونځ پابند وی نو دغه مونځ هم دهٔ ته فائده نه ورکوی نو دے څکه د ګناهونو نه نشی بندولے.

نو مونځ دپاره به اول صحيح اودس کوے او قبلے ته به مخ کړے.

او د خپوګوتے به هم قبلے طرف ته وی.

او د دواړو خپو په مينځ کښې به څلور ګوتے فاصله پريږدے او صفونه به سيدها ساتې.

دا رنګ ګيتهئ د ګيتهوسره او اوګے د اوګوسره برابر ساتل.

اول صف پوره کول.

حديث کښې راځی ﴿فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوفِ مِن إِقَامَةِ الصَّلَاةِ﴾ (بخاری)

د صفونو برابر والے د مونځ حصه ده .

صفالباس اچول.

داسې لباس چې غم ښادی ورکښې کوی شی د دنيا اشرافو خلقو سره په هغه جامو کښې ملاويدې شی .

ټوپئ په سر کيخودل.

وس يو رسم جوړ دې چې جماعتونو کښې ټوپۍ پرته وی هغه په سر کړی او بس بيا ئی پرواه نه کوی .

پينسې اوچتے ساتل.

رکوع سجده صحیح کول.
قومه جلسه صحیح کول.

نو خلاصه دا چې په دے اعمالو کښې زمونږ نه کوتاهی کیږی نو د دے وجے نه مونږ د مانځه د فوائدو او ثمراتو نه محروم پاتے شو.

الله تعالی دے مونږ ته د صحیح مانځه دَ ادائیږئ توفیق رانصیب کړی. امین

# په مونځ کښې خضوع

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾ [المؤمنون:۱،۲]

سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين.

## د كامل مؤمن صفات:

د سورة المومنون په شروع كښې الله تعالى د مومن لس صفات ذكر كوى.

او دا بيان كوى چې مومن څوک دې د هغۀ څه صفات دى كوم كوم كارونه به مومن كوى اوبيا چې كوم مومن مسلمان داصفات په خپل ځان كښې راولى نو دغه يقينا كامياب فلاح موندونكې مسلمان دې اوپه حقيقى معنى كښې مومن دغه انسان دې .

او چې چا كښې دغه صفتونه راشې نو الله تعالى فرمائې چې هم دغه كسان فلاح موندونكى دى.

الله تعالى د كاميابى دَ دارومدار اصول ئې بيان كړى دى.

لكه الله تعالى فرمائى : ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ [سورة المؤمنون:۱]

اوس د مومن څه صفات دى نو په هغے كښې اولنې د مونځ پابندى ساتل دى.

او خپل رب ته د مونځ په حالت كښې عاجزى كوى خشوع او رغبت خپل ځان كښې پيداكوى د الله د رضا كيدو د پاره ، دويم د عبثو او فضولو كارونو نه به ځان بچ ساتى .

بې مقصده بې فائدې كار هغه كارچې په هغې كښې دنيا يا د

آخرت څه فائده یاګټه نه وی داسې بې مقصده کارونه نه کوی .

دریم دا چې د حیاء خیال به ساتی او د خپل شرمګاهونو حفاظت به کوی.

د حیاء خاوند به وی او بی حیاء کارونه ته به غاړه نه ږدی .

نور هم صفات د مومن پکښې ذکر دی.

یونفس ایمان دے او یو کامل ایمان دے نو په دے صفاتو سره ایمان کښې تکمیل راځی او ایمان ورسره مکمل کیږی.

نوکوم یو انسان کښې چې دغه صفات موجود شی دغه کامل مسلمان دې د مونځ پابند د زکوة اداکونکے عبث فضول کارونه نهٔ خوښوی اوبې حیائۍ ته نهٔ نزدې کیږی د خپلو وعدو باندې پوره والې کونکې وی نو دا د کامل ایمان علامه ده .

## د فلاح مطلب اومعنی:

فلاح کامیابۍ ته وئیلے شی خو په عربۍ کښې دا یو لوے مفهوم لری چې د دنیا او د اٰخرت دواړو خوشحالو او کامیابۍ ته شامل دے.

دا رنګ چې کله سورة بقره کښې د متقیانو پنځه صفات بیانولو نه بعد هم دا ذکر شوی دی چې دا کسان فلاح موندونکے دی مطلب دنیا او آخرت کښې ګټه ترلاسه کوونکی خلق دغه دی.

دارنګ په اذان کښې هم فلاح طرف ته انسان رابللے شی ،فرمائی.

حَيَّ عَلَى الفَلاحِ یعني د دنیا او د اٰخرت کامیابۍ طرف ته راشئ.

د دنیا فلاح داده چې که نور هیڅ هم نه وی نو د زړهٔ اطمینان به ورته حاصل وی.

کهٔ کافر مشرک بې ایمانه د ټولې دنیا ساز وسامان خرچ کړی اوبیا دغه اطمینان قلب حاصل کوی نه دغه نه شی ترلاسه کولې داپه

دنیا سره نه حاصلیږی داپه پوخ یقین مضبوط ایمان سره الله خپل بنده ته نصیب کوی .

دویم داچې الله تعالی به ئي د مصائبو نه ساتي او بیمارئ تکالیف به پرے نه راځی.

الله دې انسان ته ښهٔ صفات او ایمان د حفاظت سبب جوړکړی .

بله داخبره هم قابل ذکر ده چې سورة المومنون کښې د مومن په صفاتو کښې ړومبنی صفت د مونځ کولو دے . نو مونځ کولو سره فریضه اداء کیږی.

دا انسان به بی لمانځه نه حسابیږی دالله په دربار کښې نو یو مونځ کول دی وی لیکن په خشوع عاجزۍ سره مونځ کول دی وی که صرف مونځ کوی نومجرم ګناهګار نه دې اوکه په خشوع سره مونځ کوی نوبیا داکامل مسلمان مومن دې او دا انسان کامیاب دې .

او په خشوع سره به د دنیا او د اٰخرت برکات او ثمرات دے انسان ته ملاویږې.

نوقراٰن کریم فلاح موندونکے هغه چاته وئیلے دے چی مونځ سره د خشوع نه اوکړی.

## دکامل مونځ فائده:

الله تعالی بیا دداسے مونځ غټه فائده په دے الفاظو بیانوی.

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ [العنكبوت:٤٥]

یعني مونځ انسان د بے حیائی او ناکاره کارونو نه منع کوی.

نن صبا که اوکتلے شی نو خلق مونځ هم کوی او په ګناهونو کښې هم مبتلاء وی نو د هغے وجه داده چې دغه مونځ کښې خشوع نه

وي ځکه زمونږه مونځ فائده نه کوی .

قرآن کريم کښې د مونځ د کولو حکم دوه شپيته ځله د اهميت د وجے نه راغلے دے.

## دمونځ حفاظت اوهميشه والی:

عمر فاروق په خپل دور حکومت کښې ټولو حاکمانو ته خطونه اوليږل چې

﴿إِنَّ أَهَمَّ أُمُرِكُمْ عِنْدِی الصَّلاَةُ فَمَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا أَضْيَعُ﴾ [موطا امام مالك]

يعني زما په نيز د ټولو نه اهم کار مونځ کول دی نو چا چې د دے حفاظت اوکړو او په نورو ئي هم د دے پابندی اوکړه نو د دوی دين محفوظ شو او چا چې دا ضائع کړو نو د مونځ د ماسواء خو به بيا په طريقه اولی ضائع کونکے وی.

## د عاجزئ والا مونځ:

د دے وجے نه چې قرآن کريم کښې کله هم د مونځ ذکر کيږی نو خشوع ورسره هم ذکر کيږی.

ځکه کم انسان چې د مونځ نه غلا کوی چې د الله مخې ته ولاړوی نودا انسان به د مخلوق په حق کښې هيڅ قسم پرواه نه کوی دغه ده وجه چې په آخری وخت کښې هم عمررضی الله عنه د مونځ په باره کښې وصيت کړی وو .

د نن صبا د ګورنر يابل آفسر به څه ذمه داری وی د حضرت عمر

رضی الله عنه سره د ټولو عرب، افریقه، مصر مشری وه سره د دی نه د هغه په زړهٔ او دماغو کښې د مونځ دومره اهمیت وو.

خشوع او خضوع دواړه عاجزئ ته وئیلے شی. خو فرق دادی چې

خشوع د زړهٔ عاجزئ ته وئیلے کیږی او خضوع د ظاهری اندامونو عاجزئ ته وئیلے کیږی.

دارنګ قنوت څه ته وائی چې انسان الله ته ولاړ وی په استحضار قلب سره به ولاړ وی.

الله تعالی فرمائی.

﴿وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾ [سورة البقرة :238]

يعني الله تعالی ته په سکون سره اودريږئ.

نو قنوت په سکون او اطمينان سره اودريدو ته وئيلے شی.

## مونځ کښې عبث حرکات:

لکه يو حديث کښې راځی چې نبی کريم ﷺ يو سړے اوليدو چې مونځ کښې ئے بے ځاحرکات کول نو نبی کريم اوفرمائيل:

﴿لَو خَشَعَ قَلبُهُ لَخَشَعَت جَوارِحُهُ.﴾ [الجامع الصغير]

يعني که د دهٔ زړهٔ کښې خشوع او عاجزی وے نو د ده اندامونه به هم په عاجزئ سره ولاړ وو.

ځکه د دې انسان په زړهٔ کښې دا تصور نشته چې زهٔ الله ته ولاړيمه نودغه وجه ده چې د دې انسان نور اندامونه په فضول عبث کار کښې په دغه وخت کښې هم مشغوله دی.

بل دا چې کله انسان د دنیوی یومشر افسر مخې ته ولاړ وی بالکل په عاجزی سره ولاړ وی په دغه حالت کښې نورڅه حرکت نه کوی چې بې ادبی رانه ونه شی نو کوم انسان چې د الله مخې ته ولاړوی نو دا انسان د خالق حقیقی قادر مطلق ذات مخې ته ولاړدې په دې حالت کښې به د دې انسان سره یره وی چې بې ادبی رانه اونه شی .

دارنګ د صحابه کرامو باره کښې راځی چې داسے مونځ به ئی کوو چې لکه لرګے ولاړ وی.

دا رنګ خبره د عبد الله بن مبارك په باره کښې هم نقل کړے شوے ده.

نو مطلب دا چي بلاضرورت حرکات کولو سره د مونځ ثواب کښې کمے راځی.او کله خو د عمل کثیر د وجے نه ورسره مونځ هم ماتیږی.

دا رنګ خشوع دا نه ده چې په مونځ کښې دے سر ټيټ کړے وی .

حضرت عمر یو کس په داسے طریقے سره مونځ کولو باندي اولیدو نو وے فرمائیل لیس الخشوع هذا انما الخشوع هٰهنا.

یعني دا خشوع او عاجزي نه ده بلکه خشوع په زړه کښې وي.

الله تعالی دے مونږ ته خشوع والا مونځونه نصیب کړی.امین

# په مونځ کښې د خضوع اهميت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾ [المؤمنون:۱،۲]

سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين

مونځ په عباداتو کښې اهم عبادت دے او په قرآن او سنت کښې د دے د اداء کولو د تاکید سره سره دا ضروری ده چې مونځ په صحیح طریقے سره قائم کړې شی.

نو د مونځ اقامة دا دے چې د مونځ د اودس اهتمام، بیا الفاظ درست، بیا صحیح طریقے سره رکوع، سجده، قیام،قومه ،جلسه، قرائت، په مونځ همیشوالے او په دے کښې الله تعالی ته توجه دے ټولو خبرو ته اقامة الصلٰوة وئیلے کیږی.

او کله چې د کامل مومن صفات ذکر کیږی نو په هغے کښې هغه مونځ ګوزار هم ذکر شوے دے چې په مونځ کښې ئې خشوع او عاجزی وی.

اوس خضوع دے ته وائی چې ظاهری اندامونه هم الله تعالی ته په عاجزئ سره متوجه وی او دا به هله کیږی چې کله د نبی کریم د سنتو اعمالو پابندی وی پکښې نو د دے وجے نه د خضوع متعلق نبی کریم فرمائیلے وو.

﴿صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّيْ﴾ [بخاری]

یعني د مانځه ظاهری ډهانچه په صحیح طریقے سره جوړولو د پاره زما د

مونځ په شان مونځ کوئ.

نو په دے سره به په مونځ کښې د خشوع سره سره خضوع هم راځی.

حضرت عمر،حضرت عثمان او حضرت علی (رضی الله تعالی عنهم) به سره د خلیفه والی نه خلق راټول کړل او د اودس چل به ئې ورته ښودلو او بیا به ئې اوفرمائیل چې داسے اودس به نبی کریم ﷺ هم کولو.

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالی عنه یو ځل خلقو ته اوفرمائیل

﴿أَلَا أُصَلِّي بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾

یعنې اُیا د نبی کریم ﷺ د مونځ په شان مونځ درته نه کوم.

دے ته خضوع وئیلے کیږی.

کله چې په مونځ کښې خضوع وی نو په هغه مونځ کښې به خشوع راځی چې د زړهٔ دهیان او توجه ورته وئیلے کیږی.

دا خبره نبی کریم ﷺ هم فرمائیلے وه. جبرئیل امین ترینه د احسان په باره کښې تپوس کړے وو نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل

﴿أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ﴾ [بخاری]

یعنې احسان دے ته وائې چې یو انسان د الله تعالی عبادت په داسے طریقے سره اوکړی چې زه ګویاکه الله تعالی وینم او که دغه توجه نه جوړیږی نو چې دومره عقیده خو وی چې الله تعالی ما وینی.

د صحابه کرامو مونځ په دے دوو صفتونو یعنی خشوع او خضوع باندې قائم وو نو ځکه به په مونځ کښې د دنیا نه بے خبره وو.

یو ځل یو صحابې مونځ کوو او کور کښې ئې اور اولګیدو. خلق راغلل او مړ ئې کړو او دهٔ چې سلام واړؤ نو وے فرمائیل چې څه چل

شوے دے؟

يعني د اور لګيدو او د مړ کيدو پته ورته نه لګيده.

دا رنګ حضرت علی رضؓ په يو غشی لګيدلے وو او وتهٔ نهٔ نو حضرت علی رضؓ صحابو ته اوفرمائيل چې په مونځ کښې ئې رانه اوباسئ صحابو هم دغه رنګ اوکړل او د حضرت علی رضؓ د بدن نه ئې غشې بغير د څه تکليف نه اوويستو.

د دے توجه او خشوع او خضوع پيدا کيدلو د پاره اول ادب دا دے چې مونځ د دهٔ دنبی کريم ﷺ په طريقه وی او ظاهری ډهانچه د سنت برابر وی.

دويم ادب دادے چې په مانځه کښې به د مونځ الفاظو ته توجه کوی او په صحيح طريقے سره به ئې ادا کوی. چې ماخه اوئيل.

دريم ادب دادے چې په معنی باندې توجه کول خو د دے دپاره ضروری دا ده چې انسان په معنی د مونځ باندې پوهه وی.

مفتی محمد شفيع رحمة الله عليه فرمائي.

چې زما پنځوس کاله د فتوے ورکولو اوشو خو اوس هم کله کله ماته په مانځه کښې داسے مسئله پيخه شی چې په حل ئې نه پوهيږم.

يوصحابی عثمان بن ابی العاص نبی کريم ﷺ له راغے سره د خپل قوم نه. دے فرمائی چې مونږ کله اورسيدو نو ملګرو په سامان مقرر کړم نو چې کله هغوی راغلل نو بيا زه نبی کريم ﷺ له راغلم او ماترينه تپوس اوکړو چې زه مونځ کوم خو توجه مې نه برابريږی نو نبی کريم ﷺ راته د هغے حل اوښايو. او وے فرمائيل چې د دے وجه دا ده چې يو شيطان دے

چې د هغه نوم خنزب دے او هغه په مونځ کښې انسان ته وسوسے اچوی او مونځ پرے خرابوی . نودارنګ په اودس کښې هم ورته وسوسے اچوی چې لاس دے اوچ پریښے دے یا نور څه وساوس وغیره

نو کله چې تاته په مونځ کښې داسے حالت راشی نو د څټ اړولو نه بغیر درے ځله اعوذبالله وایه او ګس طرف ته درے ځله توکاړے توکه نو دا وسوسه به دے ختمه شی.

دا صحابي فرمائي چې ماداسے اوکړل نو وساوس مې ختم شول.

څلورم ادب دا دے چې په مونځ کښې به دا یقین پیدا کړے چې زه الله تعالی ته ولاړیم نو د داسے انسان ولاړه او نور حرکات به په عاجزئ سره وی او الله تعالی ته به متوجه وی نو د داسے خلقو په مونځ کښې بیا هغه برکات او ثمرات ملاویږی کوم چې د مونځ سره تړلے شوے دی.

الله تعالی دے زمونږ په مونځونو کښې خشوع او خضوع پیدا کړی. امین

# د زکوة ثبوت او اهمیت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (٣٤) يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ (٣٥)﴾ [سورة التوبة]

وقال رسول الله : مَا خَالَطَتِ الزَّكَاةُ مَالًا قَطُّ إِلَّا أَهْلَكَتْهُ او کما قال رسول الله ﷺ

[الجامع الصغیر]

## د عزت میاشتې:

الله تعالی په میاشتو کښے څلورو میاشتو ته حرمت او عزت ورکړے دے او دا عزت د ابراهیم علیه السلام د زمانے نه راروان دے. نو د رجب په میاشت کښے عام خلق زکوٰة ورکوی او دے ته زبرګه میاشت وائی.

او د زکوة میاشت هم ورته وائی .

نو د زکوٰة تخصیص په دے میاشت پورے شرعا جائز نه دے خو عام خلق ئی د دے وجے نه په دے میاشت کښے ورکوی چه دے پسے بیا د شعبان او رمضان میاشت راځی نو چه غریبانان هم د دغے د پاره تیارې اوکړی او روژه کښے ځان ته سټاك جمع کړی نو د دے دپاره پاك خلق په دے میاشت کښے دا ورکوی.

زکوة څه ته وائی او د دی اهمیت مرتبه اومقام څه دې داڅه ته وائی د دې حقیقت څه دې دا په چا باندې کله فرض کیږی جبرئیل علیه السلام د نبی علیه السلام نه تپوس کړې وو.

چې اسلام څه څیز دې نوهغه جواب ورکړې وو چې اسلام دې دې څیزونوته وائی نو په دې کښې یو اهم رکن زکوة دې.

## اهمیت زکوة:

د اسلام بنیادی ارکانو کښے دریم رکن د زکوٰة دے نو د دے وجے نه د منکرین زکوٰة حکم د کافرد ے او ابوبکر هم د دوی خلاف د جهاد حکم هم کړے وو.

دارنګ په قرآن کریم کښے چه کو م ځاې هم د مونځ کولو حکم شوے دے نوورسره ورسره د زکوٰة ورکولو حکم هم شوے دے.

دا د زکوٰة د اهمیت د وجے نه مونځ سره یوځاې ذکرشوے دے.

دارنګ دا حکم د زکوٰة د دے شریعت نه علاوه په نورو شریعتونو کښے هم فرض وو.

## امم سابقه کښې زکوة:

نو د ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیه السلام په باره کښے راځی.

﴿وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ﴾ [انبیاء :۷۳]

یعنې مونږ دوی ته د نیکو کارونو حکم کړے وو او داحکم مو ورته هم کړے وو چه د مونځ پابندی به کوے او زکوة به ورکوے.

دارنګ د اسماعیل علیه السلام په باره کښے راځی

﴿وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ﴾ [مریم:۵۵]

یعنی دۀ به خپل اهل ته د مونځ او د زکوٰۃ حکم کوو.

دا رنګ عیسی د مور په غیږه کښے اوفرمائیل :

کله چې بی بی مریم علیه السلام خپل قوم طرف ته روانه وه نو قوم ترینه تپوس وکړو او دیته وئیلے شوے وو چې ته به جواب نه ورکوې اودې خپل بچې طرف ته اشاره وکړه نوبیا عیسی علیه السلام داخبره هم په خپلو خبرو کښې کړې وه.

﴿وَأَوْصَانِيْ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا.﴾ [مریم:۵۵]

یعنې الله تعالی ماته د مونځ او زکوٰۃ ورکولو حکم کړے دے نو دا به زه ورکوم ترڅو پورے چه زه ژوندے یم نومعلومیږی داچې د عیسی علیه السلام په دین کښې هم دمونځ سره زکوة لازم او فرض وو لکه څنګه چې په شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم کښې دی او بار بار په قرآن کښې د مونځ سره یوځاې ذکر شوی دی.

نو دا دزکوة اهمیت دې چې دا د شریعت حکم دې او دا اهمیت ئې دی چې دادمخکښې شریعتونو حکم هم دی.

## د الله مختلف امتحا نونه:

د زکوٰۃ مقررکولو کښے الله تعالی د انسان دَ پاره او خصوصی توګه باندې د مسلمان د پاره یو امتحان کیخودے دے ځکه چه په دنیا کښے هوښیار سړے د دوست د تللو د پاره په هغه باندې امتحانات کوی.

دا د هوښیار سړی علامه ده چې زما د دی دوست رفتار ګفتار

څنګه دې اوناسته پاسته ئې څنګه ده د دهٔ اخلاق څنګه دی هسې نه چې زما په اخلاقو باندې اثر انداز شی هسې نه چې داغلطې طور طریقې زما په ژوند کښې راشی اوزهٔ د دهٔ په طریقه اولاره باندې روان نه شم .

چه اٰیا په مشکل کښے به مے پکار راشی که نه؟ نو که امتحان کښے کامیاب شی نو دوستانه ورسره اوساتی ګنی نو ځان ترینه ډډے ته کړی.

نو بالکل دغه رنګه الله تعالی هم د دغے مقصد دپاره پرے امتحان کوی نو ړومبې پرے دعقل امتحان اوکړی.

ځکه هغه حکیم ذات دی د هغه هر کار د حکمت او دانشمندی نه ډک دې هیس یوکار په دې عالم کښې فضول اوعبس نه دې او د عقل انسانی امتحان ورسره کوی .

چه اٰیا عقلمند دے که نه؟ نو په ایمان راؤړلو کښے پرے امتحان اوکړی چه دے د پیغمبرانو اتباع او پهچان په خپل عقل کولے شی او که نه؟

داخه په خپله ډله کښې شامل کوم اوس دا انسان دحزب الله یوفرد دی اوس دې انسان ته مؤمن وئیلی شی اوس دې انسان ته مسلمان وئیلے شی دې انسان ته جنتی بنی آدم وئیلی شی نو د دی د پاره د انسان د عقل امتحان اخلی .

نو د اول قسم امتحان دې دے ته د ایمان او عقیدې امتحان وئیلې کیږی چې دا انسان یو الله پیژنی او نه کهٔ پیژنی رسول اوغیر رسول کښې فرق کولې که نا شی که د دروغو پیغمبر باندی خو یقین نه کوی .

دویم امتحان الله تعالی د انسان د اخلاقی قوت کوی چه بدی او

نیکی ، رشتیا او دروغ پیژنی که نه ؟ او که پیژنی نو نیکی کوی او که نه ؟ او بدی پریږدی او که نه ؟رشتیا خپلوی اوکه نه دروغو ځان نه ساتی اوکه نه ؟

دریم امتحان الله تعالی د اطاعت او فرمانبردارئ کوی. چه په دے انسان کښے اطاعت شته که نه؟

د دهٔ مختلف قسم ضرورتونه دی د دنیا نوآیا دا انسان زما حق پیژنی اوکه نه پیژنی چې مونځ پنځه وخته اداکړی .

د الله اکبر سره دا انسان خپله نوکری تجارت پریږی اوکه نه پریږی.

نو دا امتحان دے چه دے په ورځ کښے د الله تعالی پنځه وخته دعوت او اعلان قبلوی او که نه؟

دا ما زما په لار کښې خرچ کوی او کهٔ نه خرچ کوی د زکوة خیرات صدقې په ذریعې دا قربانی پیش کولې شی اوکه نه شی کولې .

څلورم امتحان پرے د قربانئ راشی چه دے دا مال د الله تعالی د رضا د پاره خرچ کوی او که نه ؟

## د زکوة لغوی مفهوم:

د زکوٰة لفظی معنی پاکی، برکت، زیاتیدل دی. او دے ته زکوٰة ځکه وائی چه باقی کوم مال پاتے شی نو الله تعالی هغه پاك کوی او برکت ورله پکښے اچوی.

یازکوٰة ورته د دے وجے نه وائی چه د گناهونو او بدو خصلتونو نه ورسره انسان پاکیږی.

اوزکوة ته هم خیری وئیلی کیږی دا په نسبت د دې مال سره یعنی د زکوة مال که دا اصل مال سره یوځائی وی نوگنده به وی ترڅو چې دا بل

انسان نه ورکړي نه وي .

د دے وجے نه الله تعالی نبی کریم ته حکم کوی.

﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم﴾ [التوبه:۱۰۳]

یعنې د دوی د مالونو نه زکوٰة اخلئ دے دپاره چه د دوی مال پاك شی او د دوی د نفسونو تزکیه ورسره هم اوشی.

## زکوة د حفاظت مال سبب:

دا رنګ نبی کریم هم فرمائی.

﴿بَادِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا﴾ [مشکوة]

یعنې صدقات ورکوئی ځکه چه مصیبتونه د زکوٰة نه نشی وړاندے کیدے.

دارنګ نبی کریم فرمائی.

﴿مَا خَالَطَتِ الصَّدَقَةُ أَوِ الزَّكَاةُ مَالًا قَطُّ إِلَّا أَهْلَكَتْهُ﴾ [مشکوة]

یعنې نه دے ګډ شو ے د صدقے او زکوٰة مال د نور مال سره مګر د غه نور مال ئی هلاك کړے دے.

د دے وجه دا ده چه په زکوٰة کښے درے پهلوګانے دی.

## د زکوة فائدې:

یو د دے اهمه پهلو په دے کښے د عبادت ده. نو څنګه چه مونځ کښے د خپلے بندګئ او عاجزئ اظهار کوی نو دغه رنګه په زکوٰة کښے هم دغه پهلو ده.

یعنې په دې سره د الله قرب انسان ته حاصلیږی دا انسان په دې سره الله

ته نزدی کیږی .

دویمه پهلو پکښے اخلاقی ده چه په دے سره د ضرورتمندو حاجت پوره شی او د هغوی سره د همدردئ اظهار دے.

نوپه دې سره د حاجتمندو راهنمائی او د هغوی سره دښیګړې کولو موقع انسان ته ملاؤشی .

دریمه پهلو پکښے روحانی ده . هغه داچه په دے سره انسان کښے روحانی بیمارئ پیداکیږی چه په هغے کښے یو حُبِّ مال دے.

لالچ، حرص، دولت پرستی، دنیا پرستی، مادی بیماریانی، مال جمع کول او ګټل بد نۀ دی اجازت دې خو د آدابو او حقوقو سره چې د غریب حق د حاجتمندو حقدار حق په کښې اداکړی شی .

نو د زکوة درې فائدې دی یوعبادت دې بل معاشرتی حق اوښیګړه ده بل دمختلف قسم مادیت بیماریانو یوخائسته علاج هم دې .

او په دے سره به حب دنیا هم پیدا شی او ایمان کشے بیمارئ دې او کله ناکله د دے نه لاعلاجه بیماری جوړه شی.

مولانا ابوالکلام اٰزاد فرمائی چه د مسلمانانو د زوال او غربت غټه وجه دا ده چه د زکوٰة تقسیم په صحیح طریقے سره نه کیږی. نوکه په صحیح طریقے سره زکوٰة اداء شی نو غربت به مکمل ختم شی او په دے سره به نور اسلامی شعائر هم محفوظ شی.

د دۀ تحقیق دا دے چه که یو کس په لس او شل روپے باندې دا زکوٰة اداء کړی نو دا نه اداکیږی.

اللّٰه تعالی دے مونږ ته په صحیح طریقے سره د زکوٰة د اداء کولو توفیق رانصیب کړی. امین

# نظام زکوة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَ کَفٰی وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ﴾ [بقرة :۳]

وقال تعالى: ﴿خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [توبه:۱۰۳]

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ لِمُعَاذٍ حِیْنَ بَعَثَہٗ اِلَی الْیَمَنِ فَاَعْلِمْھُمْ اِنَّ اللّٰہَ قَدْ فَرَضَ عَلَیْھِمْ صَدَقَۃً تُؤْخَذُ مِنْ اَغْنِیَاءِھِمْ فَتُرَدُّ عَلٰی فُقَرَاءِھِمْ فَاِنْ ھُمْ اَطَاعُوْا لِذٰلِكَ فَاِیَّاكَ وَ کَرَائِمَ اَمْوَالِھِمْ اَوْ کَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ. [متفق عليه]

مخکښې د زکوة حقیقت مفهوم مقام فوائد بیان شوې دی نن د زکوة فرضیت ادائیگی طریقه کار او اجتماعی نظام زکوة باندې څه خبرې کوو.

## د زکوة حکمت او فائدې:

د زکوٰة د فوائدو په باره کښې شاه ولی الله فرمائی

چه د زکوٰة په فرضیت کښې د الله تعالی ګڼړ حکمتونه دی خو یو دوه حکمتونه پکښې دا دی چه یو خو د زکوٰة په ادائیګئ سره روحانی اصلاح کیږی او انسان ورسره د بخل نه محفوظ کیږی.

دویم حکمت پکښې د غرباؤ سره اخلاقی مدد کول دی چه هغوی سره د همدردئ اظهار اوکړے شی او د هغوی سره په غمخوارئ

کښې شريك شي او په زکوٰة ورکولو سره دے د دوی حاجت رفع کړی.
د هغوی معاونت وکړې شي اوکفالت ئې ورسره وکړې شي .

## زکوة اجتماعی عمل دې:

مولانا ابوالکلام اٰزاد فرمائی چه دا يو اجتماعی عمل دے نو د دے د پاره اجتماعی کميټۍ تشکيل کول پکاردی او د دے د راټولولو اجتماعی کوشش کول پکار دی او بيائی د هغه علاقے په غرباؤ کښے اجتماعی طور تقسيمول پکاردی او فرمائی چه يو پنځه کسه هم د يو علاقے په سطح تيار شی او دغه زکوٰتونه دے راټولوی او په صحيح طريقه دې تقسيم کړے شی نو په ګهنټه کښے به د مسلمانانو معاشی مسئله حل شوے وی.

او دا خبره کوی چې نظام زکوة دې په منظم طريقې سره بحال کړې شی اوکه څوک داخبره کوی چې خلافت اونظام نشته نوبيا دې دجمعې مونځ هم ادا نهٔ کړې شی ځکه د هغی د پاره هم خلافت ضرورې دی او حاکم سلطان امام عام به وی خو چې کله په دې زمانه کښې ممکن دغه شان نه دی نو بيا دې نظام زکوة هم په دغه طريقه وجود ته راشی د مسلمانو يوه کميټۍ دې وی د علاقې په سطح د يومسجد په سطح بلکې د هر کلی په سطح دې دا طريقه اختيار کړې شی نو د مسلمانانو معاشی مسائل به نن ختم شی .

دارنګ شاه ولی الله فرمائی چه په دے زکوٰة ورکولو سره د بخل ، لالچ او د حرص نه نجات ملاويږی او د انسان روحانی تربيت ورسره کيږی.

دارنګ که زکوٰة صحيح تقسيميږی نو غلا ، ډهاکا، لوټ مار،شوکی، جيب وهل داسے قسمه نورے برايانے به ورسره هم ختمے شی.

بل دا چې نن په دې دنيا کښې د غريب او مالدار کوم کشمکش نن شروع دې اوکومه دشمنی کيږی دغريب اومالدارۍ په بنياد دغه به ختم شی او د اخوة، رورولۍ فضابه قائم کړې شی .

او د دې دا مطلب هم نه دې چې انسان کۀ خليفة المسلمين ترينه زکوة نه اخلی نو د مسلمان داخپله دينی فريضه جوړيږی چې په خپله تبه به زکوة په خپله مرضۍ اداکوی او دا به د الله يو حکم په خپل ځان باندی لازم ګنړی .

## د زکوة فرضيت:

د زکوٰة فرضيت په مکه کښے شوے دے ځکه چه د قرآن کريم په مکی سورتونو کښے د زکوٰة ذکر موجود دے.

څوک وائی چې مدينه کښې فرض شوې دې او د زکوة نه تزکيه د زړۀ مراد اخلی اوله خبره صحيح ده خو په مکه کښې لږه ياډيره خيرښيګړه ته زکوة وئيلې کيدو بيا روسته تفصيلی نصاب په مدينه کښې مقرر شو .

دارنګ په مکی دور احاديثو کښے هم د دے زکوٰة تذکره موجوده ده.

لکه کله چه جعفرطيار سره د نورو ملګرو نه حبشے ته هجرت کړے وو نو مکے والو د دوی په سر بادشاه ته شيطانے اوکړو نو نجاشی بادشاه دوی راؤغوښتل نو جعفر طيار ورته اوفرمائيل چه زمونږ پيغمبر مونږ ته دا حکم کوی چه ﴿يَأمُرُنَا بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ﴾

یعنی دغه پیغمبر مونږ ته د مانځه او زکوٰة حکم کوی.
نو دے واقعے نه دا معلومیږی چه زکوة په مکه کښے فرض کړے شوے وو.

دارنګ نبی کریم ﷺ چه کله بادشاهانو ته خطونه لیګل نو هرقل ته ئی هم خط لیږلے وو نو هغه تپوس اوکړو چه اوګورئ چرته د عربو قافله خو نه ده راغلے نو چه کله اوکتلے شو نو د ابوسفیان قافله موجوده وه نو دهٔ نه ئی لس سوالونه کړی ووچه په هغے کښے یو دا وو چه دے تاسو ته څه حکم کوی ؟ نو دهٔ جواب ورکړو.﴿يَأْمُرُنَا بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ﴾ یعني دغه پیغمبر مونږ ته د مونځ او زکوٰة اداء کولو حکم کوی.

## مکی اومدینی زکوة کښې فرق:

نو دے واقعاتو نه دا معلومیږی چه د زکوٰة فرضیت په مکه کښے شوے وو خو مقدار ئې نه وو مقرر کړے شوے نو چه کله ئې مدینے ته هجرت اوکړو نو هلته ئې مقدار هم مقرر کړو او د فتحے مکے نه بعد د هغے اجتماعی شکل جوړ کړے شو او عاملینو به دا زکوٰة راټولو او بیت المال کښے به جمع کیدو او د اسلامی ریاست لاندی به په مستحقینو کښے تقسیمیدو. دا نظام زکوة دې په اسلامی خلافت او حکومت کښې چې د خلیفه د طرف نه ذمه دار فرد به ئې راجمع کوی اوبیا به ئې بیت المال په انصاف سره تقسیموی په مستحقینو کښې.

## د اجتماعی نظام زکوة منکر اوسزا:

یو واقعه کښے راځی چه بنومصطلق پسے نبی کریم د زکوٰة د راټولولو د پاره عامل اولیږو نو دوی د دغه کس د استقبال د پاره راؤوتل

خو عامل اویریدو چه ګنی دوی زما د وژلو د پاره راوتلے دی نو واپس راغے او نبی کریم ته ئیے حال اووے نو نبی کریم ځان سره فوج واخستو د دوی سره د جنګ کولو د پاره .

ځکه د هغه ګمان دا وو چې دې زکوة نه انکار کوی او زکوة بیت المال ته نۀ اداکوی .

خو بیا د غلط فهمئ ازاله اوشوه نو واپس راغلل.

دے واقعے نه دا معلومیږی چه نبی کریم د منکرینو خلاف لشکر کشی کړے وه.

دارنګ د ابوبکر په دور کښے منکرین زکوٰة پیدا شو نو حضرت ابوبکر د دوی خلاف د لشکر کشئ حکم اوکړو او وے فرمائیل چه

﴿وَاللّٰهِ لَأُقْتِلَنَّ مَنْ فرَّقَ بَيْنَ الزَّكَاةِ والصَّلَاةِ﴾ [ترمذی]

یعنې قسم مے دے وی په الله تعالی باندې چه زه به د هغه خلقوسره جهاد کووم کوم چه د مانځه او د زکوٰة په فرضیت کښں فرق کوی.مصیبت دا دې چې نن په دنیا کښې د هرڅه د پاره انجمن تنظیم تحریک شته اګر که هغه د بې دینئ کار ولې نه وی خو د زکوة د پاره داسې قسمه تنظیم هیڅ څوک کوشش نه کوی نه تاجر اوملاصاحب اونه بل څوک حال دادې چې دا یوه اهمه فریضه ده او ډیر اهم فائده مند ضروری نظام دی .

نو دے نه هم معلومیږی چه زکوٰة یو اجتماعی عمل دے نو بیت المال ته به راټولیږی او اجتماعی طور به په غرباؤ کښے تقسیمیږی.

الله تعالی دے مونږ کښے اجتماعی طور د زکوٰة نظام عملی طور باندې نافذ کړی. امین

# د زکوة اهمیت او احکام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ﴾ [توبه:۳۵]

﴿وقال تعالى وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ﴾ [بقرة:۴۳]

سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين

## د عبادت قسمونه:

عبادات په درے قسمه دي.

یو هغه چه د بدن سره تعلق ساتی.

دویم هغه چه د مال سره تعلق ساتی.

دریم هغه چه د بدن او مال دواړو سره تعلق ساتی.

## زکوة په خاص میاشت کښې اداکول:

هغه عبادت چه د مال سره تعلق لری نو هغه زکوٰة دے.

دا د الله تعالی په احکاماتو کښې یو اهم حکم او په عباداتو کښې یو اهم عبادت چې هغه ته زکوة وئیلې کیږی زیات خلق داعبادت یعنې زکوة د رمضان په میاشت کښې ورکوی .

د زکوٰة د پاره د میاشتے تخصیص نیشته بلکه کله هم چه یو سړے صاحب نصاب شی او کال پرے تیر شی نو زکوٰة په داسے انسان واجبیږی.

د الله دطرف نه داحکم لازمی نه دې چې انسان زکوة په شعبان یارمضان کښې خامخا اداکړی اوکه چرته داخیال وی چې په روژه کښې د بنده فرض عمل یو په اویا باندې قبلیږی نو بیا صحیح ده خوشرط دا دی چې لازمی حکم دَ شریعت به ئے نه تصور کوی .
اوچې کله کار پوره شی نوبیابه زکوة ورکوی .

## د زکوة نه ورکونکؤعذاب:

قرآن کریم کښے الله تعالی د هغه خلقو تذکره کوی.
چې الله مال ورکړې وی اوزکوة ورباندې فرض وی اوبیاهم دهغې زکوة نه ورکوی . نو دغه خلقوته عذاب .
او عذاب ئی په دے الفاظو ذکر کوی.
﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ [توبه:٣٤]

یعنې هغه خلق چه سونا او چاندی جمع کوی او د الله تعالی په لار کښے ئی نه خرچ کوی نو دوی د پاره به دردناك عذاب وی.
او د دے عذاب کیفیت الله تعالی په دے الفاظو بیانوی
﴿يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ﴾ [توبه:٣٥]

یعنې د قیامت په ورځ به دغه مال ګرم کړے شی او د دوی اندامونو لره به پرے داغونه ورکوی او فرشتے به وائی چه دا ستاسو هغه مال دے چه تاسو جمع کړے وو نو د هغے سزا اوس اوڅکئ.
او الله په دې بل آیت کښې ذکر کوی وَ أَقِيمُوا الصَّلاةَ وَ آتُوا الزَّكاةَ یعنې لکه څرنګه چې مونځ اهم عبادت دې اداکول ئی لازم دی دغه شان

د الله په مال کښې زکوة اداکول هم یو اهم عبادت دی او دا ورکول په انسان لازم اوفرض دی د مونځ په شان باندې.
دا رنګ الله تعالی په سورة الهمزه کښے فرمائی.

﴿وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ (١) الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ (٢) ﴾ [سورة الهمزة]

یعنې هلاکت دے دهر عیب جن طعنه ګو د پاره د هغه چا نه چه مال ئې جمع کړے وی او هر وخت ئې شماری.

او دغه شان ام المؤمنین ته د الله پیغمبر فرمائی چې د الله په لارکښې په شمار باندې مهٔ لګوه بې شماره لګوه نوالله به تاته بې شماره درکوی .

د دے نه مراد هغه مال دے چه دے ئې د الله تعالی په لار کښے نه لګو ی او دا خیال ئې وی ﴿يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ﴾ چه ګنی دا مال به ماسره همیشه وی نو الله تعالی د دهٔ عذاب ذکرکوی چه ﴿كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ﴾ یعنی هرګز داسے نه ده بلکه دا انسان به خامخا الله تعالی حطمے یعنې جهنم ته غورځوی او دا داسے ځاې دے چه

﴿نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ﴾ [همزة:٦]

یعنی دا حطمه هغه اور دے چه اثر به ئې زړونو ته رسی.

﴿فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ﴾

او په ستنو کښے به دهٔ پسې بند کړے شوے وی.

یو بنده نبی علیه السلام په بې کاره حالت کښې ولیدو نو هغه ته ئې اووئیل هل لک من مال ستاسره څه مال شته ؟

نوهغه جواب ورکړو چې شته د الله پیغمبره نبی علیه السلام ورته اووئیل چې بیائی په ځان باندی ولې نه خرچ کوې .

نو انسان به په ځان خرچ کوی خو د خپل وس مطابق فضول خرچې به هم نه وی او بخل اوکنجوسی هم به نه وی او یو د الله فرض لازم حق دې هغه زکوة اداکول دی .

د دے وجوهاتو نه شریعت په ثابت کال کښے څه نصاب مقرر کړے دے چه دے به ئې د الله تعالی د رضا د پاره ورکوی.

الله تعالی فرمائی. ﴿وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ﴾ [بقرة :٤٣]

یعنی د مونځ پابندی کوئی او زکوٰة ورکوئ.

په دے اٰیت کښے چه څنګه الله تعالی د مونځ د فرضیت حکم کړے دے نو دغه رنګ د زکوٰة ورکولو حکم ئې هم کړے دے.

## د زکوة مقدار:

دا زکوٰة شریعت په سلو کښے دوه نیمې روپۍ او مقرر کړی دی.

که الله د انسان نه د ټول مال مطالبه کړی وی نو بیا هم بې انصافی نه وه د عدل او انصاف اصول نه ماتیدل ځکه چې دا ټول مال د الله دې چې انسان ئې مجازی مالک جوړ کړې دې اوکه الله ورنه نیم په نیمه ګټه غوختلې وې نو بیا هم بې انصافی نه وه خو د دی نه بعد هم الله د انسان نه په خپل مال کښې ډیره کمه حصه مقرر کړې او بیاهم ناشکره انسان دغه مال په صحیح طریقه نه اداکوی.

سره د دې نه چې الله په دې نصاب کښې د انسان ضرورت د انسان طبیعیت او مزاج ته ډیر خیال کړې دې او په انسان ئې دومره بوج نه دې بار کړې چې انسان ئې نه شی باروی .

او حقیقت هم داسې دې که زمیندار فصل وکری بیا د هغې فصل خپل مقدار ته رسول، هغه غټول د الله کار دې د انسان دومره وس دې

چې صرف دانه په زمکه کښې خخه کړی دغه رنګ دکاندار دکان کښې ناست وی نوګاک ورله الله راولی د هغه په زړهٔ کښې واچوی نو دا ټول مال د الله مال دې انسان د دې مجازی مالک دې .

ځکه الله فرمائی ﴿ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ﴾ [واقعه: ٦٤]

آیا تاسو د دي کرونده کوئ او که نه مونږ د دي کرونده او اصلاح کوو .

دا د وجے نه چه دا مال ما انسان له ورکړے دے.

ځکه خو الله تعالى فرمائى. ﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ﴾ [سورة البقرة:٣]

یعنی د هغے مال نه چه مونږ دوی ته ورکړے دے نو دوی د هغے نه بعضے مال خرچ کوی.

## دزکوة ما نعین سزا په احادیثو کښې:

نوځوك چه زکوٰة ورکوی فرشتے ورته دعاګانے کوی او چه ځوك نه ورکوی نو فرشتے ورته خیرے کوی.

﴿اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَأَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا﴾ [بخاری]

یعنې اے الله تعالى ! خرچ کونکی له د دے بدل ورکړے او دَ نه ورکونکی مال هلاك کړے.

دا رنګ یو بل حدیث کښے راځی چه د کوم مال نه زکوة نه ورکولے کیږی نو د قیامت په ورځ به ترینه غټه اژدها جوړه شی او دهٔ لره به ټکونه ورکوی او دهٔ ته به وائی چه زهٔ ستا هغه مال ووم چه تا زهٔ جمع کولم او د الله تعالى په لارکښې دې نه ورکولم.

دا رنګ یوبل حدیث کښے راځی چه که زکوة پوره ورنکړے شی نو هغه دغه نور مال لره هلاکوی.

دا رنګ د زکوٰة فائدے قرآن کریم ذکر کړے دی.

الله تعالی فرمائی.

﴿یَمۡحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَیُرۡبِی الصَّدَقٰتِ﴾ [البقرة :۲۷٦]

یعنی الله تعالی د سود مال کموی او د صدقے مال زیاتوی.

دا رنګ یوحدیث کښے راځی، نبی کریم فرمائی.

﴿مَا نَقَصَتۡ صَدَقَةٌ مِنۡ مَالٍ﴾ [مسلم]

یعنی صدقه ورکول چرے هم مال لره نه کموی بلکه په دے ورکولو سره الله تعالی مال کښے برکت اچوی.

د برکت مطلب دادے چه ستا مال ستا نه په صحیح صحیح ځاې کښے اولګی او د ضرورت مطابق استعمال شی او بے برکتی دا ده چه مال درسره دے خو غل ، ډاکو یا بیماری درته پیښخه شوه او په هغے درنه مال اولړیدو نو دے ته بے برکتی وئیلے کیږی.

## د زکوة نصابونه:

زکوٰة په هغه چا فرض دے چه مالك د نصاب وی.

د زکوٰة څلور نصابه دی.

یو سرۂ زر چه کله ساړهے سات تولے سونے ته رسی.

دویم چاندی ده چه ساړهے باون تولے چاندی ته رسی.

دریم نقدی ده چه ساړهے باون تولے چاندی قیمت ته رسی.

څلورم مال تجارت دے چه د ساړهے باون تولے چاندئی قیمت ته رسی .

## احکامات متعلقه زکوة:

دا رنګ د زکوٰة ورکولو د پاره حولان حول یعنې د کال تیریدل شرط دې.

یا د کمپنۍ شئیروی په هغې کال تیر شی نو زکوة واجب کیږی اوکه پلاټ زمکه په نیت د تجارت وی او کال پرې تیر شی بیا هم زکوة اداکول واجب دی .

بیا د کارخانې خام مال یا تیار مال ټولو باندې زکوة اداکول واجب دې د خام مال قیمت او د تیار مال قیمت به جمع کړې شي بیا به ترینه زکوة اداکړی شي مجموعی توګه باندې .

نو ابتداء او انتهاء لره به اعتبار ورکولے کیږی او په مینځ مینځ کښے چه کوم مال راځی نو هغه به د دے مال سره جمع کیږی او زکوة به ترینه اداء کیږی.

بله دا مسئله چه د ګټے په اسباب او ذرائعو باندې زکوٰة نیشته خو د هغے نه په حاصلاتو باندې بیا زکوٰة شته چه کله نصاب ته اورسی او کال پرے تیر شی.

که مسلمانان په صحیح طریقے سره زکوٰة ورکول شروع کړی نو غربت به ختم شی.

دا رنګ زکوٰة چه ورکوے نو په داسے طریقے سره ئې ورکړه چه د هغه ضرورت پرے پوره شی او په لس او شل روپے ورکولو سره د سره زکوٰة نه کیږی.

دا د مولانا ابو الکلام ازاد مسلك هم دے.

## مصرف زکوة:

د زکوٰة بهترین مصرف هغه خلق دی چه کوم قرآن په دے الفاظو ذکر کړے دی. ﴿الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ [سورة بقرة :۲۷۳]

یعنی هغه کسان چه د الله تعالی په لاره کښے بند کړے شوے دی.

د ے نه مراد مجاهدین ، طلباء کرام وغیره دی.

نو داسے خلقو له زکوٰة ورکول بهتردی باقی نور مصارف هم الله تعالی په قرآن کریم کښے ذکر کړے دی.

الله تعالی دے مونږ صحیح زکوٰة اداکونکی جوړ کړی. امین

# د زکوة نه ورکولو نقصانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ. اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ﴾ [توبه:۱۰۳]

﴿وقال رسول الله : مَن آتَاهُ اللَّهُ مَالًا ، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ له مَالُهُ يومَ القِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ له زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يومَ القِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يقولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ، ثُمَّ تَلَا [وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]﴾

[آل عمران: ۱۸۰] [بخاری]

سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين

## زکوة اهم رکن دین:

په دنیا کښې د نظام حیاة قائم ساتلو د پاره شریعت څه داسې احکام مقرر کړې دی چه په هغې سره د نظام حیاة قیام راځی. هغې کښې اهم رکن زکوٰة دے.

زکوة چې د معاشرې د اصلاح دپاره لوې حکم دې اوپه دې سره معاشرې ته کوم فوائد ښیګړې رسی .

دغه شان د دې په نه اداکولو سره معاشرې ته دغه نقصانات مخې ته کیږی .

او د نبی علیه السلام د دعوت طریقه هم دا وه چې عاملان به ئ

يو علاقې ته ليږل داعيانو ته به ئې دا ارشاد کولو چې اول دغه خلقوته د اسلام ايمان دعوت ورکړې شي ايمان او عقيدې نه بعد د مونځ دعوت او دعوت مونځ نه بعد به ئې ورته د زکوة دعوت ورکولو.

## د زکوة دعوت او آداب امير وداعی:

زکوٰة په دين اسلام کښې ډير لوے اهميت لری نو چه کله به هم يو علاقه د نبی کريم په وخت کښې اسلامی رياست کښې داخليده نو د دے نظام اجراء به ئې پکښې فورًا کوله نو په دغه سلسله کښې چه کله نبی کريم يمن ته معاذ بن جبل ليږلو نو يو څو اٰداب ئې ورته ښودلے وو چه په هغے کښې ئې ورته يو ادب دا خودلے وو چه

﴿فأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قدْ فَرَضَ عليهم صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِن أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ علَى فُقَرَائِهِمْ، فإنْ هُمْ أَطَاعُوا لكَ بذلكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ ﴾ [بخاری]

يعنې کله چه ته هلته لاړ شی نو ورته اووايه چه الله تعالی په تاسو باندې زکوٰة فرض کړے دے چه د مالدارو نه به اغستے شی او د دغے قوم په فقراؤ کښے به تقسيميږی نو که چرته دا حکم ئې اومنلو نو بيا پام کوه چه عمده مال ته اسره اونهٔ کړے بلکه درميانه حال مال ترينه اخله.

او دا د دې وجې چې کله انسان مشر شی گورنر امير شی بادشاهی سلطنت د انسان لاس ته راشی نوبيا په ظلم اوزياتی سره بغير د څه احتياط نه د خلقو مالونه لوټ کوی اوفضول ئې ضايع کوی نو د دې وجې نه نبی عليه السلام ورته د مخکښې د آداب ورته ئې تعليم ورکړو چې د قوم اورعيت سره ظلم زياتے بې انصافی ونهٔ کړې شی ځکه دا د اسلام بنيادی تعليم دې چې حاکم اورعيت په خوشحالۍ سره ژوند تيرکړی.

نوځکه ورته نبی عليه السلام وائی چې که د الله حق ترينه اخلې نو په اعتدال او انصاف سره ئې ترينه اخله دا سې غوره مال نهٔ چې

اداکولو ته ئے تیار نه وی اونه بې قیمته مال چې دالله حق ضائع نه شي اوغریب خلقوته فائده مطلوبه هم حاصله شي .

اوځکه ئې ورته په دې حديث آخر کښې وائی ﴿واتَّقِ دَعْوَةَ المَظْلُومِ؛ فإنَّه ليسَ بيْنَهُ وبيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ﴾ چې د مظلوم د بد دعا نه یریږه ځکه د دۀ او الله ترمینځه پرده نه وی او دا ځکه چې حاکم د دغه انسان سره چې د چا نه زکوة اخلی ظلم ونۀ کړی اوکوم غریب ته ئې چې ورکوی بیاهم په صحیح طریقه سره هغه ته اداکړی د هغه سره هم ظلم ونۀ کړی ځکه نبی علیه السلام دا ارشاد ورته وفرمائیل .

## ما نع زکوة سزا:

دارنګ یو حدیث کښے نبی کریم د زکوٰة نه ورکونکی عذاب په دے الفاظو سره ذکر کوی.

﴿مَن آتَاهُ اللَّهُ مَالًا، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ له مَالُهُ يَومَ القِيَامَةِ شُجَاعًا أقْرَعَ له زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَومَ القِيَامَةِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِي بشِدْقَيْهِ ثُمَّ يقولُ أنَا مَالُكَ أنَا كَنْزُكَ﴾ [بخاری]

یعنې چالره چه الله تعالی مال ورکړے وی او دے ئې زکوة نه اداء کوی نو الله تعالی به د دغه مال نه د قیامت په ورځ یو اژدها جوړه کړی او دۀ ته په غاړه کښې اچولے شوے وی او دے به د دواړو وښکو نه راکاږی او ټکونه به ورکوی نو دے به ترینه تپوس اوکړی چه دا ته څه شے یے؟ نو هغه مار به ورله جواب ورکړی چه زه ستا مال یم او ستا خزانه یم.

شُجَاعًا أَقْرَعَ هغه مار ته وائی چې ګنجې سر والا وی ځکه د داسې مار زهر ډیر تیزوی اوډیر خطرناک هم وی .

او دا مار به ټکونه ځکه ورکوی چې دې انسان هم په دنیا کښې په غریب خلقو ګیره تنګه کړې وه او هغوی ته ئې قسم قسم تکلیفونه

ورکړې وو لکه څنګه چې نن دا سرمایه دار انه نظام دې چې مال د یو خاص طبقې په لاس کښې وی اوغریب په هر ځاې کښې خوار او ذلیله وی.

او بیا نبی کریم دا اٰیت مبارك تلاوت کړوچه

﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ [آل عمران: ۱۸۰]

یعنې بخیلان دے داګمان نه کوی چه ګنی د دوی د پاره دغه مال بهتر دے بلکه دا د دوی د پاره شر دے او دا مال به په ورځ د قیامت دوی ته په غاړه باندې واچولے شی.

نوچونکه دوی په دنیا کښے په مال باندې لکه د مارګیډه اچولے وی نو په اخرت کښے به هم الله تعالی سزا په شکل د اژدهے ورکوی.

## قرآن کښې مانع زکوة سزا:

قرآن کریم سورة توبه کښے الله تعالی دهغه خلقو تذکره کوی او عذاب ئې په دے الفاظو ذکر کوی.

﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ [توبه:۳٤]

یعنی هغه خلق چه سونا او چاندی جمع کوی او د الله تعالی په لار کښے ئې نه خرچ کوی نو دوی دپاره به دردناك عذاب وی.

او د دے عذاب کیفیت الله تعالی په دے الفاظو بیانوی

﴿يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ﴾ [توبه:۳۵]

یعنی د قیامت په ورځ به دغه مال ګرم کړے شی او د دوی اندامونو لره به پرے داغونه ورکوی او فرشتے به وائی چه دا ستاسو هغه

مال دے چه تاسو جمع کړے وو نو دهغے سزا اوس اوڅکئ.

مال جمع کول په جائزه طريقه سره منع نه دی خوکه مال په ناجائزه طريقه سره جمع کړی شی نو بيا ئی دا سزا ده يوکسب حرام ، اوبل په مال کښې فرض زکوة نه ورکول اوځان سره جمع کول داهم بياپه ناجائز جمع واری کښې شامل دی .

دا رنګ فرشتے هره ورځ دا دعا کوی او دا نبی عليه السلام هم کړی وه .

﴿اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا ،اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا﴾ [بخاری]

## مانعين زکوة حال:

يعنی اے الله تعالی خرچ کونکی ته دهغۀ بدلے ورکړے او دَ نه خرچ کونکی مال هلاك کړے.

دا رنګ د معراج په شپه نبی کريم فرمائی چه ما داسے خلق اوليدل چه مخکښے او روستو ترينه غوښے زوړندے و ےاو زقوم او کانړی ئی خوراك وو نو ما د جبرئيل امين نه د دوی په باره کښے تپوس اوکړو نو هغه راته اوفرمائيل چه دا ستا د امت هغه خلق دی چه زکوٰة نه ورکوی.

نو د مال زکوة په خپل ذاتی مقصد کښې استعمالول اوحقدار ته نه ورکول دا بدترين قسم خوراک دې چې دا انسان ئی خوری او په غفلت کښې پروت دی .

دغه شان د زکوة نه ورکولو سره قحط مهينګائی راشی اوبارانونه نه کيږی او که کيږی نو هغه هم بغير دځه ضرورت نه کيږی چې کله ئی ضرورت نه وی اوپه ځاې دفائدې خلقوته نقصان وشی نو دا هم په دنياوی نقصاناتو کښې شامل دی .

## دَ منکر زکوة حکم:

دارنګ دا مسئله هم یاد ساتل پکار دی چه منکرزکوٰة کافر دے او د اسلام نه خارج دے .

د دے وجے نه حضرت ابوبکر د منکرین زکوة خلاف د جهاد اعلان کړے وو او فرمائیلے ئی وو چه

﴿واللهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَن فرَّق بيْنَ الصَّلاةِ والزَّكاةِ﴾ [بخاری]

یعنی قسم په الله چه زه به د هغه چاسره جهاد کوم څوك چه د مونځ او زکو ة د فرضیت په مینځ کښ فرق کوی.

عمر رضی الله عنه وائی چې ددغه خلقو سره جهاد کول زما ذهن داخبره نه اغسته خوبیا زما سینه الله کولاؤ کړه اوکومه خبره چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه کوله دغه صحیح اوحق خبره وه .

اوبیا ابوبکر صدیق رضی الله عنه داخبره فرمائیلی وه چې قسم په الله تردې پورې به زه جهاد کومه ترڅو پورې چې دې خلقو یوه رسۍ نبی علیه السلام ته اداکوله چې هغه هم دې اداکړی .

سره د دې نه چې هغه خلقو د زکوة نه سراسر انکار نه وو کړې صرف داخبره ئی کوله چې نرمی دې اوکړې شی اومونږ به زکوة امیر ته نه ورکؤو په خپله به ئی تقسیم کوو .

دارنګ د مسلمان په انکار سره به دے هم مرتد کیږی او دهٔ ته به مهلت ورکولے کیږی او د دهٔ د شکوکو ازاله به کولے شی نو که بیا هم نه منی نو دے واجب القتل دے.

زکوٰة په مسلمان، آزاد، عاقل اوصاحب نصاب باندی فرض دے. خوشرط ورله دادے چه کال پرے تیر شی.

د مسلمان په مقابله کښې د کافر نه به ټیکس اغستلې شی چې جزیه ورته وئیل کیږی .

## دزکوة نصابونه:

د زکوٰة څلور نصابه دی.

یو سره زر چه کله ساړهے سات تولے سونے ته رسی.

دویم چاندی ده چه ساړهے باون تولے چاندی ته رسی.

دریم نقدی ده چه دَ ساړهے باون تولے چاندۍ قیمت ته رسیٔ

څلورم مال تجارت دے چه د ساړهے باون تولے چاندۍ قیمت ته رسی .

د ضرورت نه چې زائد څیز وی که ضرورت وو یاحاجت اصلی وو لکه ګاړی اسلحه، کتابونه دینی ،لوخی ،دګرمۍ یخنۍ جامې، آلات صنعت وحرفت لکه په ټیکسې، رکشې باندې مزدوری کوی نو په دې څیزونو زکوة نیشته اوکه اخلی اوخرڅوی دتجارت د پاره نوبیا به وربانديې زکوة واجب وی .

اوپه زکوة کښې به د قمری کال اعبتار کولے شی .

الله تعالی دے مونږ ته د صحیح زکوٰة اداء کولو توفیق رانصیب کړی.

ا مین

# احکام ومسائل زکوة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ [توبه:٦٠]

﴿وقال عبد الله ابن عمر رضی الله عنه: مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ فِيْهِ حَتّٰى يَحُوْلَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ عِنْدَ رَبِّه﴾ [ترمذی]

## د زکوة شرائط:

د زکوٰة په شرائطو کښے اول شرط مسلمان کیدل دی او دویم شرط دا دے چه دا مسلمان به اٰزاد وی.

غلام بانديِ زکوة نشته بين الاقوامی قانون داپاس شوې دې.

چې غلامی نشته ده خودا شرعی مسئله ده چې څومره پورې ظالم د ظلم نه دستردار کیږی نۀ نو هغه به غلام کولی شی.

کوم خلق چې د غلامۍ ختمیدو چغې وهی.

هغه خلقو يو انسان دوه نه بلکې ټوله دنيا دخپل قانون غلامان کړی دی.

او هر قسمه اخلاقی معاشی اقتصادی مذهبی آزادی ئې د دې عالم د انسانانو نه اغستې ده خوکه د الله دحق مسئله راشی.

نوغلامی نشته اوکه د دوی د مفادو مسئله راشی نوبیاکه په

خوښه نه وی نوپه زور او زبردستی باندې ټول انسان د خپلې خبرې غلامان کوی.

او پابند ئې جوړوی نوآزاد خلق دخپل مفاد خبره هم د داسې قسمه خلقو سره نشی کولی.

اوکه د خپل جائز حق دپاره آواز اوچت کړی نوبیا بدترین د غلامۍ تاریخ چې هغه د نن زمانې تاریخ د غلامۍ دې. هغه وربانديې یقینی او لاګو کوی په جیل خانو کښې قسم قسم عذابونه، د هغوی د عزت توړ پوړ او بے حیائی ورله کول احساسات او جذبات ورله مجروح کول، تر مرګ پورې سزا خولاخه کوے چې د مرګ نه بعد د هغه د لاش قسم قسم بې عزتی کیږی او د اسلام د غلامۍ ژوند دآزاد انسان د ژوند نه ډیر پرامن دې کوم اسلامی اصول چې د غلامۍ دی دهغے په رڼړا کښې.

نومطلب داچه که مسلمان نه وی او آزاد نه وی نو په هغه باندے زکوٰۃ نشته.

دریم شرط بلوغ دے نو په نابالغه باندے زکوٰۃ نیشته. د دے وجه دا ده چه نابالغ د احکامو شرعیو مکلف نه دے.

څلورم شرط دا دے چه عاقل به وی نو په لیونی باندې زکوة نه کیږی.

پنځم شرط دادے چه په دغے مال باندی به ملکیت تامه وی. لکه یو ښځه لا وادهٔ نه ده او مهر ئې شته نو چونکه لا د دے زنانه په ملك کښے نه دے نو زکوٰۃ پرے نیشته.

دا رنګ د میراث حکم هم دے چه لا تقسیم شوے نه وی نو د

دهٔ ملك تام پرے نیشته نو ځکه به په دے مسلمان زکوٰة نه وی.

شپږم شرط دا دے چه دا مسلمان به صاحب نصا ب وی.

نو د سونے حساب اوؤنیمے توله سونا ده او د چاندئ نصاب ساړهے باون تولے چاندی ده.

دا رنګ نقدی چه د چاندئ نصاب ته رسی او مال تجارت هم د چاندئ نصاب ته رسیدو نو په دغه مسلمان باندې به هم زکوٰة ورکول فرض وی.

د نقدو او د مال تجارت په صورت کښے د چاندئ نصاب مقررولو وجه داده چه په دے کښے فقراؤ ته فائده ده. که نصاب د سونے مقرر شی نو بیابه په ډیر کمو خلقو زکوة راځی نو فقراؤ ته پکښے نقصان دے.

اووم شرط داد ے چه په دغه نصاب باندی د کال تیریدل شرط دی. نو فی الحال مالك کیدلو سره زکوٰة نه واجبیږی.

چې کوم اسلامی تاریخ دې هغه ورباندی تیرشی نوبیابه ئې زکوة ورکوی ځکه حدیث کښې راځی :﴿مَنِ اسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكَاةَ فِيْهِ حَتّٰى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ﴾ چې انسان سره مال راشی نوترڅو پورې چې کال نه وی تیر شوی نو تر د هغی پوری په دهٔ باند زکوة د دې مال نشته .

## د سونې زکوة او نصاب:

د سونے د پاره د زکوٰة ورکولو نصاب به په قیمت فروخت ورکولے کیږی.

په قیمت خرید باندې به نه شی ورکولې چې په کوم قیمت ئی زرګر اخلی په هغه قیمت نه بلکې دهغه دخرڅ په قیمت باندې.

یعنې کوم قیمت چه د دغې سونے تاله صراف او زرګر درکوی نو د هغې نه به زکوٰة ورکولے کیږی.

او په دغه سرو زرو کښې چې کوم قیمتی کانړی وی یاموتی وی نو د دې قیمت به ورسره نه یوځاې کیږی بلکې د دی نه به جداکولې شی ځکه په هغې باندې زکوة نشته .

دغه شان د زنانه د استعمال په کالو زرو باندې هم زکوة شته دې که استعمالوی اوکه نه استعمالوی زکوة به ئې ورکوی .

بله دا مسئله هم یاد ساتل پکار دی چه دا نصاب به هله وی چه یو انسان سره صرف یو صنف د نصاب وی یعنی صرف سونا، یا صرف چاندی، یا صرف نقدی ، یا صرف مال تجارت.

## ټول مالونه یوځاې کول:

خوکه یو انسان داسے دے چه هغه سره هرنصاب برابر خو نیشته خولیکن د هرنصاب نه ورسره لږ لږ وی نو بیا به هغه دواړه راجمع کولے شی او که نصاب ئې د چاندئ د قیمت نصاب ته رسیدو نو هم به پرے زکوٰة ورکول واجب وی. لکه لس زره نقدی ده او د شل زره مال تجارت دے او پنځه ماسه سوناده او شل تولے چاندی ده نو د دے قیمت به راجمع کړے شی که دا د ساړهے باون تولے چاندی نصاب ته ورسیدو نو زکوٰة پرے واجب دے.

اوپه ګډوډ نصابونو کښې به د چاندی د نصاب اعتبار کولے شی یعنې سونه اونقدی به راجمع شی که قیمت ساړهے باون تولې چاندۍ ته رسیدو نو زکوة به ئې ورکوی په څلویښت کښې یوه روپیه .

اوکه دجهیز نقدی یا سونه چاندی وی اومالک ئی ماشوم یا ماشومه وی مطلب د هغوی واک او اختیار کښې وی د هغوی نه بغیر په کښې بل څوک تصرف نشی کولے نوبیا په دې باندې زکوة نشته اوکه په نوم د هغوی وی خو د تصرف اختیار ئې مور پلار سره وی نو بیا د دې هغوی مالکان نه دی بلکه مور پلارئې مالکان دی نوبیا وربانديې زکوة شته دې .

## د پلاټ مسئله:

د تجارت د پاره چه کوم پلاټ اغستے شوے وی نو په هغے به هم زکوٰة اوړی.

او که یو پلاټ د کور جوړولو د پاره اغستے شوے وی نوبیاپرے زکوة نیشته.

دارنګ د کرائے په کور باندې هم زکوة نیشته که هغه ډیر قیمتی ولې نه وی .

دغه شان دکرائے په کور زکوة نشته دې هاکه دا کرایه نصاب ته ورسی د نورو مالونو سره اوکال وربانديې تیرشی نوبیابه ئې زکوة ورکوی .

دا رنګ د روزګار ګټلو په اٰلاتو باندې هم زکوٰة نیشته.لکه رکشه وغیره

دارنګ په دوکان کښے چه کوم فرنیچر وغیره دے یا یو کارخانه کښے مشینری ده نو په دے باندې هم زکوٰة نیشته.

د مشینرۍ قیمت به نه یوځائی کیږی بلکه هغه آله تجارت ده .

## د ایډوانس زکوة تفصیل:

دارنګ که یوسړې په دوکان ایډوانس ورکړے وی نو په دے باندې به زکوٰة کیږی. ځکه چه دا د هغه سره امانت دے.

دارنګ په دوکان وغیره چه کوم پټکے ورکولے وی نو که بطور امانت وی او مالك ته به واپس کیږی نو زکوٰة پرے شته او که امانت نه وی اومالك ئی نه واپس کوی نو بیاپه دے زکوٰة په ورکونکی نیشته.

پټکے ورکول جائز دی یانه دی دا جدا مسئله ده په معاملاتو کښې انشاء الله د دې تفصیل راځی .

زکوٰة په چا کیږی؟

## مستحق زکوة وغیر مستحق:

په مور پلار او ځوی لور باندې زکوٰة نه کیږی نور هرچاله ورکولے شے.

دارنګ زمونږ د احنافو په نیز ښځه خاوند هم یوبل له زکوٰة نشی ورکولے.

ځکه د دې مالی فوائد یوبل سره مشترک وی .

دارنګ بنوهاشمو او سیدانو ته زکوٰة نشی ورکولے خو نفلی تعاون به ورسره کولے شی.

خو چې برائے نام سید نه وی بلکې حقیقی بنوعباس یا د جعفر یا د علی په اولاد کښې وی یا په بنو هاشم کښې وی نوبیاورته زکوة ورکول ناجائز دی ځکه دا د مال خیرې دې بل داچې د چا سوچ ته دا مسئله رانشی چې نبی علیه السلام د زکوة نظام خپلو خپلوانو د فائدې

دپاره راویستې دې .

د زکوٰۃ اصناف قران کریم اته ذکر کړے دی.

یو فقیر محتاج دے چې مال ورسره وی خونصاب ته نه رسی .

دویم مساکین دی چې هیح څه ورسره نه وی

دریم عاملین دی یعنې هغه خلق چه زکوٰۃ راټولولو باندې مقرر وی.بیت المال واله کمیټی .

یایوه اداره ټرسټ دې چې په دې کار کښې مصروف عمل دی نوهغه ته ورکول هم جائز دی .

څلورم قرضداری دی. چه د نورو خلقو قرض پرے وی.

پنځم هغه خلق دی چه د الله تعالی په لارکښے دی. د دے ګنړ مصداقه دی یو مجاهد او دویم طالب ، دریم مبلغ او څلورم حاجی وغیره دے.

الله تعالی دے مونږ ته په دے باندې د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# د الله تعالی په لارکښی خرچ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الۡاَنۡبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصۡحَابِهِ الۡاَتۡقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعۡدُ:

فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ، بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ۔

﴿الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ﴾ [البقرة:٣]

سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين

## د قرآن درې صفات:

الله تعالی د سورة بقرے په شروع کښے د قرآن کریم درے صفاته بیانوی .

یو دا چه الکتاب

یعنې دا پوره او کامل کتاب دے. دا عظیم الشان انقلابی روح روان کتاب دی .

دنیا کښې به نور ډیر کتابونه وی ښه ښه کتابونه به وی خو قرآن ته هغه یو کتاب هم په مرتبه اوکاملیت کښې نشی رسیدی .

## د شک نه پاک کتاب:

دویم دا چه لاریب فیه

یعنې د دے په حکم کښے هیڅ شك نیشته .

یعنې هره مسئله ئې یقینی او رشتنی ده لکه پختانهٔ ورته د کانړی کرخه وائی لکه څنګه چې هغه متاویږی نه نو دغه شان د قرآن تعلیمات

او احکام همیشه د اوپه دې باندې هیڅ قسم زوال او خزان نشی راتلې دا په هره زمانه کښې په هر ځاې او مقام کښې واجب العمل او د کامیابۍ راز دې.

د بل مخلوق په کتاب، خبره، مسئله، فیصله کښې شک اوتردد کیدې شی خو د الله دکتاب په هیڅ یوحکم باندې ګوته کیخودل د اعتراض د پاره خولاځه چې ګوته ورباندې بالکل اوچتولے هم نشی چې د اعتراض اشاره ورته وشی .

نومطلب دا چه د الله تعالی د کتاب په حکم او مسئله او هره فیصله کښے هیڅ شك نیشته.

دریم صفت ئې دا بیان کړے دے چه هدی للمتقین

یعنې دا قرآن کریم هدایت دے د پاره د متقیانو.

ځکه دغه سعادت مند د دې کتاب نه فائده مند کیږی .

## دمتقی پنځه علامات:

اوس متقی چاته وائی نو د دے نه بعد ئے د هغوی پنځه علامے بیان کړے دی،هغه ئخښې دادی .

یودا چه یؤمنون بالغیب

یعنې دوی به په غیبو باندې ایمان لری په نادیده باندې یعنې د پټو څیزونو د وجود عقیده به ساتی .

نومطلب داچه الله تعالی او رسول ، دارنګ جنت، جهنم، دارنګ د قیامت احوال چا هم نه دی لیدلے خو بیا هم پرے ایمان لری.

ځکه د دې خبرو خبر داسې راست ګویا انسان ورکړې دې چې د هغه تزکیه، د صداقت، او د عدل الله پخپله باندې په خپل کتاب کښې بیان کړې دی او د هغه دوست ملګری خوشه چې غټ لوې دشمن هم هغه ته کله د دروغو نسبت نه دې کړې نو داسې انسان چې د یوڅیز خبر ورکړی بیاهغه یقینی څیز وی د هغې په واقع کیدلو کښې هیڅ قسم شک نشی کیدې.

نو دا د متقی اولنے صفت دے.

نو اولنے څیز ایمان دے او بیا تقوی په څه سره حاصلیږی نو ورپسے دوه کاره نور ښائی چه په هغے کښے یو بدنی عبادت دے او دویم مالی عبادت دے.

بدنی عبادت مونځ دے . نوچه دا بدن د الله تعالی په عبادت کښے استعمال کړی.

بدنی عبادت د بدن شکریه اداکول دی چې انسان د خپل بدن د الله د رضا حاصلولو د پاره شپه او ورځ وکړوی، سترئے کړی چه شکریه ئې ادا شي دغه رنګه مالی عبادت د دې د پاره چې انسان د مال حلال نعمت شکریه اداکړی اوپه دغه مال باندې یوه لوې سودا د الله رضامندی طلب کړی اوهغه اولتوی بله داخبره چې انسان ته خپل ځان بدن اوخپل مال دولت ډیر محبوب اوخوښ وی نو الله د دې انسان د ایمان امتحان په دې دوه قسمه عبادتونو سره کوی اوداصفتونه په صحابه کرامو کښې په کامل او اکمل طریقې سره موجود وو ځکه هغوی ته الله دهر څه نه محبوب اومعظم اوعزتمند وو.

دويم مالی عبادت يعنې صدقات واجبه او نفليه دی نو كله به ئې په شكل د زكوٰة كښې وركوی نو كله په شكل د صدقه فطر او عشر وغيره كښې وركوی نو كله به د صدقات نفليو په شكل كښې د مخلوق خدا سره مدد كوی.

دا صفتونه په صحابه كرامو كښې په كامله درجه كښې موجود وو.

## د صحابه كرامو ايمان:

نبی كريم چه كله دعوت شروع كړو نو ډير تكاليف ورته مخے ته راغلل خو د دوؤ كسانو ډاډ ورسره ډير زيات وو يو حضرت خديجة او دويم د نبی كريم ترۀ ابوطالب. نو نبی كريم د حضرت خديجے مال لګوو او ابوطالب به د دۀ ډاډ ګيرنه كوله خو د نبوت په اووم كال دا دواړه وفات شو نو دے ته نبی كريم د [عام الحزن] نوم وركړو.

ځكه دغم كال وو چې بی بی ئے وفات شو اويولوې د شفقت ظاهری سبب ابوطالب نه محرومه شو بل د مشركانو تكاليف اوسختئ دوچنده شوې .

نو الله تعالى د تسلئ د پاره نبی كريم معراج له بوتلو. نوچه كله ئې دا واقعه بيان كړه نو صحابو ئې تصديق اوكړو خو مشركينو ورپسے ټوقے شروع كړے .

ابوجهل خبر شو نو ابوبكر ته ئے اووئيل چه صاحب خو دے وائی چه زه په يو شپه كښے اسمانونو ته ختلے ووم او نورے نورے خبرے هم كوی نو حضرت ابوبكر صديق ورته اوفرمائيل چه هغه وائی نو قسم په الله دې چې رشتيا او ټهيك وائی.

دا ایمان بالغیب وو.

دارنګ د مونځ صفت هم په هغوی کښې بدرجه اتم موجود وو.

کله چې به مونځ ته ودریدل نوټوله توجو به ئې الله ته وه کور ښځه کاروبار د دے څیزونو خولاڅه کوے چې د خپل ځان د حالاتو نه به خبر نه وو ځکه د لوې ذات سره به ئې خبرې کولې هرڅه به ئې ترینه هیر کړی وو.

د حضرت علی په بدن کښے غشی ننوتے وو او په ویستلو کښے ئې ډیر درد کوو نو حضرت علی ورته اوفرمائیل چه د مانځه په حالت کښے ئې رانه اوباسئ هغوی هم دغسے اوکړل او حضرت علی د مونځ په حالت کښے د سره په درد پوهه نه شو.

دا رنګ د انفاق صفت هم په هغوی کښے بدرجه اتم موجود وو. دا صفت په هغوی کښې په لوې درجې سره موجود وو چې که نن یو انسان د صحابه کرامو حالات ګوری نوعقل ئې حیران شی اویقین ئې نه راځی چې داسې هم کیدې شی ځکه زمونږه خپله ایمانونه کمزورې دی نوپه خپل ځان چې کوم ګمان کوو دغه ګمان په صحابه کرامو باندې هم زمونږه وی خوهغه خلق خلق وو.

## انفاق فی سبیل اللّٰه:

کله چه دا آیت نازل شو چه ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾

یعنی نیکی او جنت تر هغے پورے نشی ملاویدے ترڅوپورے چه ئې خپل محبوب مال نه وی خرچ کړے. [اٰل عمران:۹۲]

ځکه په حدیث کښې راځی ﴿أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ غَالِيَةٌ﴾ [ترمذی] خبردار ائ خلقو د الله سره سوداکول ډیره قیمتی ده د الله سودا ډیره قیمتی ده نوقیمتی څیز په قیمتی بدل باندی ملاویږی نو د الله جنت هم ډیر زیات قیمت لری ﴿أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ الْجَنَّةُ﴾ د الله د سودا بدله جنت دې .

یو انصاری صحابی ابوطلحه نبی کریم لره راغے او دبیر رحاء باغ ئی د الله تعالی په لار کښے صدقه کړو او دا باغ دهٔ ته ډیر زیات خوښ وو. داخبره مونږه ته ګرانه ښکاری خو د صحابه کرامو حالت به د نزولِ آیت د قرآن سره بدلیدلو تر څو پورې ئی به چه پرې عمل نه وو کړې .

الله تعالی د ابوطلحه هغه باغ داسے قبول کړو چه اوس هغه باغ د مسجد نبوی حصه ده او خلقه پرے مونځ کوی.

دارنګ حضرت عمر د خیبر محبوب ترینه زمکه د الله تعالی د پاره خیرات کړه خو دا شرط ئی اولګوو چه دا به خرڅوئ نه چه ټول عمر ئی ماته ثوابونه رارسی. د الله د پاره ئی وقف کړه .

عبد الله بن عمر په تلاوت کښے یو ورځ دا آیت اولوستو ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ﴾. نو فورا ئی یوه ښکلے او محبوبه وینځه د الله تعالی په لار کښے آزاده کړه.

ځکه چې ددی آیت حکم صرف د نبی علیه السلام د زمانې پورې خاص نه وو نوبیا د نبی علیه السلام د مرګ نه بعد ئی دغه وینځه آزاده کړه .

زمونږه داحالت دې چې نفلی صدقات خولاڅه چې مونږه فرض زکوة هم نه اداکوو ځکه مونږه نهٔ مړیږو سره د دې نه چې د مال ډیر والې دې د رزق وسعت دې خوبیاهم مونږه نه مړیږو .

## ډير مال خرچ کول:

يو حديث کښے راځی نبی کريم صحابو ته د انفاق ترغيب ورکووځکه چه يو قافله راغلے وه او د غربت اٰثار پرے ډير زيات وو. نو نبی کريم اعلان د انفاق اوکړو.

په دے کښے يو صحابی د خوراك او سامان يوه غټه بوجئ راؤړه چه د درون والی د وجے نه ئی په تکليف سره راؤړه نو د نبی کريم مخ مبارك د خوشحالئ نه روښانه شو. نو په دے موقع نبی کريم فرمائيلے وو چه د سخاوالا صفت خپل کړئ ځکه چه څوك سخاکوی نو الله تعالی به ئی جنت ته اورسوی او څوك چه بخل کوی نو الله تعالی به ئی جهنم ته اورسوی.

او بيا ئی دا خبره وکړه مَنْ ﴿سَنَّ فِيْ الْاِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ اَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا﴾ [صحيح مسلم] څوک چې يوښهٔ بنياد کيږدی هغه ته ئی اجر ملاويږی او ورسره د هغه چا اجر چې څوک ورباندې بعد کښې عمل کوی .

او دا د الله يونعمت دې چې دغه احکامات د نبی عليه السلام زمانې پورې خاص نه وو بلکې که نن يو بنده په دې باندې عمل کول غواړی نو الله ئی ورته اجر وثواب يو شان ورکوی .

دا رنګ نبی کريم چه کله مدينے ته هجرت اوکړو نو يو ځائې ئی د جمات د پاره خوښ شو نو هغه ځاې د دوؤ يتيمانو وو هغوی هسے ورکوو خو نبی کريم ابوبکر ته حکم اوکړو چه پيسے ورکړه ، هسے ئی نه اخلم. ابوبکر هغه پنځوس فته ځاې په خپلو پيسو واخستو او اوس د مسجد نبوی په شکل کښے موجود دې.

الله تعالی دے موږ کښے هم د انفاق فی سبيل الله جذبه پيدا کړی . امين

# رمضان څه ته وائي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَ خَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ۔ اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [بقرة:۱۸۳]

﴿وقال تعالى: شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ﴾ [بقرة:۱۸۵]

سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين

## د روژې د پاره تیارې:

د مسلمان دا ذمه دارې ده چې کله هم په دهٔ باندې یو عبادت فرض کړے شي نو چې دے د هغے د مسائلو نه خبر وی.

د مخکښې نه د هغې احکام، اهمیت، اومسائل ځان ورنه خبر کړې او دا دَ هوښیار انسان طریقه هم ده او د نبی علیه السلام طریقه هم داوه چې د رمضان نه مخکښې په شعبان کښې به ئې خلقو ته د رمضان مسائل بیانول.

او بیا د هغے د پاره د ذهنې طریقے سره هم ځان تیار کړی او د هغے د پاره عملې مشق هم اوکړی.

نبی کریم به هم د رمضان د تیاری د پاره په شعبان کښې روژے نیولے او په اٰخره کښې به ئې بیا روژے نه نیولے دے د پاره چې روژے ته چست وی.

حضرت عائشه فرمائی چې کله به رمضان رالنډ شو نو نبی کریم به ورته خپل لنګ مضبوط کړو.

د دې مطلب دا دې چې ځان به ئې ورته تیار کړو لکه پښتانه وائی دې کار بدې وتړه مطلب ځان ورته تیار که نودا اشاره وه د رمضان اهمیت ته ځکه ورته نبی علیه السلام خپله ملاتړلې وه د اسلامی ژوند په تعمیر کښې د پنځو بنیادونو ډیر لوې کردار دې په هغه ځیزونو کښې یوه روژه هم ده دا د اسلام په بنیادی ارکانو کښې شامل ده د دې هر بنیاد یو مستقل خپل اثر دې د مسلمان په ژوند کښې دغه شان د روژی هم یو خپل مستقل اثر رسوخ شته دې د مسلمان په ژوند کښې .

## دروژی فرضیت:

رمضان کښې روژه نیول فرض دې.

الله تعالی فرمائی. ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ﴾ [بقرة:۱۸۳]

یعني اے مؤمنانو! په تاسو باندې روژه فرض کړے شوے ده.

صوم په لغت کښې بندیدلو ته وئیلے کیږی او په اصطلاح د شریعت کښې خپل ځان د سحر صبح صادق نه واخله ترد ماښامه پورے په نیت د روژے د خوراك، څکاك او جماع نه ځان بند کړی نو دے ته شرعی روژه وئیلے کیږی.که نیت ئې د روژې نه وی هسې خپل ځان د خوراک څکاک خواهش جماع نه ځان بندکړی او نه ئې کوی نو دا روژه نه ده بلکې په نیت د روژې چې دا د الله حکم دې د دې ځیزونو نه بند شه نو دې ته روژه وائی .

## مکمل روژه:

دارنګ د دے نه علاوه نور هم څه پرهیزونه دی چې د هغے نه

ځان ساتل هم ضروری دی.

ددې مثال داسې چې يو طبيب حکيم ډاکټر مريض ته يا عام انسان ته د څه ځيزونو نه د پرهيز حکم ورکړې د دې د پاره چې د دې انسان صحت تندرسته او روغ وی بيمار نه شی نقصان ورته ونه شی نو دغه شان په اسلامی معاشره کښې د خوشحالئ او اطمينان ژوند تيرولو د پاره انسان له د دغه ځيزونو نه ځان ساتل لازم دې په عام حالاتو کښې به هم ځان ساتی او په روژه کښې به هم نه ورنزدې کيږی خوکۀ دچاعادت جوړ شوی وی دهغې ختمولو د پاره به په دې مياشت کښې لږ مشقت برداشت کوی چې دغه غلط عادت نه ورته خلاصې ملاؤشی .

لکه دروغ، غيبت، چغلي، دهوکه،فضول خبری ، حرام خوراک ، څکاک جنګ جهګړی کنځلې کول . وغيره

مخکښې شريعتونو کښې په روژه کښې خبرے کول هم منع وو. د دے مثال دا دے چې مريم عليها السلام چې کله عيسى عليه السلام خپل قوم ته راوستونو الله تعالى ورته فرمائيلے وو چې دے قوم ته به اووے چې:﴿ إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴾ [مريم:٢٦]

يعني مانن ورځ د الله تعالى د پاره روژه منلے ده نو زه به چاسره هم خبرے نه کووم.

الله تعالى په دے امت خو دا حکم نه دے لازم کړے خو بيا هم يو حکم ئې باقی دے . هغه دا چې د فضول خبرو نه به ځان ساتے.

دا رنګ يو حديث کښې نبی کريم فرمائی.

کم من صائم ليس له من صومه الا الجوع والعطش.

يعني ډير روژه دار داسے شته چې په روژے باندی ورته سواء د لوږے او تندے نه بل هيڅ نه ملاويږي.

او وجه داوه چې دا روژه دسنت طريقې مطابق ادا شوې نه ده نو د

الله په نزد پوره روژه نه ده ناقصه روژه ده دغه شان دې حديث كښې دى كم قائم ليس له من قيامه الا النصب ډير كرته يو ولاړ سرې چې الله ته د شپې ولاړ وې خو صرف ځان سترې كوى ځكه د الله رضا مقصد نه وى د دې انسان .

## مخكښې امتونو كښې روژه:

دارنګ روژه په مخكښنو امتونو باندې هم فرض وه.

ځكه دا ډير اهم عبادت دې نو الله په دې امت او په نورو امتونو ټولو باندې فرض كړې ده .

نومطلق روژه الله په ټولو اُمتونو باندې فرض كړې ده اګر چې په تعداد، كيفيت، وختونو كښې به فرق وى.

الله تعالى فرمائى.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [البقرة : ١٨٣]

يعني اے مومنانو ! په تاسو باندې روژه فرض كړے شوے ده لكه څه رنګه چې ستاسو نه مخكښې په امتونو باندې فرض وه.

د روژے ابتداء د اٰدم عليه السلام نه شوے وه چې په مياشت كښې درے روژے وے چې اوس ورته ايام البيض وئيلے كيږى.

د موسى او عيسى عليهماالسلام په امتونو باندې روژه هم فرض وه.

په دے وخت كښې يونانيان او داسے نور غير مذهبه هم روژے نيسى.

هندوا ن هم روژه نيسى او [ورت]ورته وائ.

## دروژې وخت فرضيت:

په اسلام كښې د روژے فرضيت د مانځه او زكوٰة د فرضيت نه

بعد فرض کړے شوے دے. یعني په اسلامی ارکانو کښې روژه دریمه فرض کړے شوے فریضه ده.

او دا ځکه چې روژه په نسبت د مونځ او زکوة لږ سخت عبادت دې مخکښې نه خلق د مونځ او زکوة سره عادت شوی وو نو بیا د روژې پشان عبادت ادا کولو ته تیار وو اوپه دې کښې ورته څه مشکل نه وو ځکه الله ترتیب وار په دریم نمبر کښې فرض کړه .

د دے فرضیت په مدینه کښې شوے دے د دے حکمت دا وو چې د روژے مقصد صرف امتحان وو نو په مدینه کښې مالونه ډیر شو، جنګونه شروع شو، بیبیانے ډیرے شوے نو اوس امتحان ډیر شو نو ددے وجے نه ئې روژ ه په مدینه کښې فرض کړه او په مکه کښې خو فقر وو او خوراك هسے هم نه وو نو روژه نیول اسان کار وو نو امتحان کم وو نو د دے وجے نه ئې هلته فرض نه کړه او چونکه مدینه کښې بیا هرڅه ډیر تیر شو نو ځکه ئې په مدینه کښې فرض کړه.

الله تعالی دے مونږ ته د صحیح روژے نیولو توفیق رانصیب کړی. امین.

# فضیلت رمضان

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ (البقرة:۱۸۳)

## دوه قسمه عبادات:

د ایمان نه بعد الله رب العزت په انسان باندے عبادات فرض کړې دي. عبادات په څو قسمه باندې دی څه عبادات خالص بدنی عبادات دی چې صرف بدن پکښے استعمالیږی لکه روژه نیول څه عباداتو کښ خالص د مال سره تعلق لری لکه زکوة، صد قات وغیره او دریم قسم عباداتو کښ مال او بدن دواړو ته ضرورت وی لکه حج او جهاد کول لکه څنګه چې مونږ یو بدنی عبادت دے په دې کښ انسان د خپلے عاجزے او کمزورے اقرار کوی او د الله د رضا کیدو د پاره دا بنده قسم قسم حرکات په خپلو خپو لاسونو باندے کوی د دې د پاره چې الله رضا شی دغه شان روژه هم یو خالص بدنی عبادت چې انسان په دې کښ خپل خواهش خوراك څکاك پریږدی او ځان ته یو قسم لره مشقت او تکلیف ورکوی دا هر څه صرف او صرف د دې د پاره کوی چې الله رضا شی او په دې سره د انسان د بے وسے او عاجزے کمزورے اقرار هم کیږی.

## مخکښ اُمتونو باندے روژه:

دا روژه دومره اهم عبادت دے چې د دې امت سره سره الله په نورو امتونو باندے هم دا فرض کړے شوے وه او قرآن پاك کښ الله د دې خبرے

تذکره د سورة بقرے په دې ایت کښې کړے ده:

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ (البقرة:۱۸۳)

اے مؤمنانو! په تاسو روژه فرض کړے شوے ده لکه څنګه چې روژه په نورو امتونو باندے فرض وه او دا الله د دې د پاره ذکر کوی چې کله انسان ته یو اسان کار ادا کول هم ګران شی د دې وجے نه چې ځان لره وی څوك ورسره په دغه کار کښې مصروف او شريك نه وی او کله یو مشکل او ګران کار الله په اجتماعیت سره آسانوی نو په دغه مشکل کارونو کښې یو کار روژه هم ده چې دا مشکل کار دے خو د دې وجے نه الله انسان ته دا اسان کړے ده چې نور خلقه ورسره مشغوله وی بلکه ټول امتونو دا فریضه ادا کړے ده نو د دې وجے نه الله دا په بنده باندے ډیره اسانه کړے ده نو الله د دې امت د تسلے د پاره ذکر کړل چې دا صرف په تاسو باندے نه بلکه په نورو امتونو هم دا فرض وه. د دې امت او مخکښے امتونو روژه او تعداد او طریقه کار کښې څه نه څه فرق شته دے اګرچه نفس روژه لکه څنګه چې په هغوی باندے فرض وه دغه شان الله په مونږه باندے هم فرض کړے ده.

## د روژے تعریف:

روژه څه ته وائی؟ د دې تعریف څه دے د دی لنډ تعریف دا دے چې د صبح صادق نه واخله تر د غروب افتاب پورے د روژے په نیت د خوراك څکاك او مباشرت نه انسان خپل ځان اوساتی. دې ته مفطرات ثلاثه وائی ځکه د دې په کولو سره د انسان روژه ماتیږی او د کاملے روژے د پاره انسان د دې نه علاوه د نور څه څیزونو نه هم خپل ځان بچ کوی لکه دروغ به نه وائی، غیبت، دهوکه به نه کوی نور ګناهونه به نه کوی نو بیا به د دې انسان کامله او مکمله پوره روژه وی.

## د روژے مقصد فرضیت:

دا روژه الله ولے فرض کړے ده په دې کښې څه حکمت او فلسفه ده چې الله دا فرض کړے ده د دې مقصدونه او حکمتونه ډیر زیات دی خو بطور تمهید په ذهن کښې دا کیخودل غواړی ، اصل کښې روژه یو عبادت دے لکه څنګه چې مونځ، حج، زکوة ،جهاد عبادات دی دغه شان روژه هم یو عبادت دے چې الله فرض کړے دے اوس دا عبادت څه ته وائی او دې عبادت ګذار بنده ته عبد ولے وائی. په سورت ذاریات کښې الله ذکر کوی: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ﴾ ما دا انسانان او پیریان په دنیا کښې د خپل عبادت د پاره پیدا کړی دی نو دا عبادت د انسان د وجود او پیدائش اصل مقصد دے او څوك چې د مسلمان کیدو دعوی کوی نو د دهٔ څلورویشت ګهنټے ژوند به د الله په عبادت کښې صَرف کیږی لکه مثال په یو ورځ شپه کښې پنځه وخته مونځ دے په دې کښې الله ته لاس په نامه اودریدل، رکوع، سجده کول او په دې کښې د الله حمد او ثناء وئیل دا عبادت دے او د الله د تابعدارے او فرمانبردارے وخت دے خو د دې دا مطلب نه دے چې دغه پنځه، لس منټه دې مونږه د الله بندګان یو او د دې نه بعد به آزاد یو، دا عبدیت نه دے. دغه شان بل عبادت په رمضان کښې یو میاشت روژے نیول دی په دې کښې د الله تابعداری د سحر نه ماښام پورے د جائز خواهش، جائز خوارك، حلال څکاك نه خپل ځان بندول دی اوس که د یو انسان تصور دا وی چې په دې میاشت کښې د دې حلال څیزونو سره حرام هم یو ځائے کوه او په څه طریقه چې دا خوړے شی دا خوره د حرام او حلال څه پابندی نشته آزادی ده نو دې انسان د الله عبادت نه دے پیژندلے او نه د الله حق پیژنی. دغه شان حج او زکوة وغیره دا ټول عبادتونه د هغه غټ عبادت د پاره یو

تربیت او عملي تیارے دے. غټ عبادت چې هغے ته حقیقي عبودیت او عبدیت وائی هغه دا دے چې انسان شپه او ورځ د الله د حکم پابند وی او په هر وقت کښې په هر څه کار کښې دا انسان خپل ځان ته الله رب العزت مخے ته کوی نو دا د الله لوے عبادت دے چې انسان به هر وخت په هر ځائے کښې که مسجد کښې دے که کور کښې دے او که په دکان یا بازار کښې دے د الله مطیع او تابعدار به وی او د هغه د حکم به پابند وی او په هر حالت کښې به د الله عبد وی نو دا مقصد دے د انسان د پیدائش او هم د دې د پاره الله په انسان دا روژے فرض کړی دی چې د عبدیت عملي تربیت او مشق او ټریننګ اوشی او په دې روژه کښې دا تعلیم دے د عبدیت چې انسان به د الله د پاره خپل خواهش او نفس قربانی کوی لکه څنګه چې په روژه کښې وی.

## روژے او نورو عباداتو کښې فرق:

بیا روژے او نورو عباداتو کښې فرق دا دے چې په نورو عباداتو کښې لازمی او خامخا داسے څه حرکات شته دے چې دغه عبادت پټ نشی پاتې کیدے لکه مونځ واخله، اودس کول پکښے ښکاری، مونځ په جمع سره ادا کول ښکاری، رکوع، سجده، جلسه انسان ته ښکاری نو دا پټ دې نه شی کولے ځکه د دې حرکات ښکاره دی دغه شان زکوة کوم غریب ته ئے چې ته ورکوے د هغه نه پټیدے نه شی، حج دے، اجتماعی عبادت دے. د عرفات په میدان به راجمع کیږی، منی مزدلفے ته به یو ځائے راځی خو روژه یو داسے عبادت دے که یو انسان د پیشمنی په وخت کښې ځان لره په دسترخوان کینی او خوراك کوی نو خلقو ته هیڅ معلومات نه کیږی او که د ماښام په وقت کښې روژه ماتوی نو بیا هیڅ چا ته معلومات نه کیږی چې دا انسان روژه دے که په دې مجلس کښې یو انسان نفلی روژه

نیولی وی نو په عبادت کښې مشغوله دے خو هیڅ چاته پته نه لږی دا خالص د الله او د بنده تر مینځه معامله ده دې کښې د چا مداخلت نشی کیدے. دې وجے نه حدیث کښې راځی چې:

﴿كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ لَهُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ إِلاَّ الصَّوْمَ﴾ [بخاری]

هر عمل د بنی ادم الله هغه ته یوه نیکی یو په لس نه واخله تر اوؤ سوؤ پورے ورکوی

﴿قَالَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ إِلاَّ الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِيْ وَأَنَا أَجْزِيْ بِهِ﴾ [بخاری]

مګر روژه چې دا عبادت خالص زما د پاره کولے شی او په دې به زه په خپله بدله ورکومه. دا یو په لس او اوه سوؤ پورے خبرے نه دی د دې بدله زه په خپله ورکومه. هر عبادت د الله د پاره وی خو دا روژه داسے عبادت دے چې د انسان ظاهری حرکات او سکنات پکښے نه ښکاری د دۀ او د الله ترمینځه یو راز وی نو ځکه د دې او د نورو عباداتو د بدلے په مینځ کښې فرق دے اوس الله به څنګه بدله ورکوی نو دا د هغه د شان سره ښائیږی چې د دنیا بادشاه په خپل لاس یو نوکر خادم لره انعام ورکوی نو هغه قیمتی انعام وی نو د دنیا او آخرت حقیقی بادشاه الله چې چا لره بدله ورکوی هغه به حقیقی او یقینی بدله وی چې په هغے کښې هیڅ قسم هیر پیر نشی کیدے او د هغے بدلے مونږه تصور نه شو کولے ځکه الله د دغه بدلے څه مقدار تعداد ذکر نه کړو.

## بے حسابه بدله:

په یو بل حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې روزه دار بنده ته

د روژې دوه خوشحالۍ ورکولې کيږي يوه خوشحالي د روژه ماتی په وخت کښې او بله خوشحالي په هغه وخت کښې کله چې دا انسان د الله سره په ميدان محشر کښې مخامخ شي. هغه به څه خوشحالي وي د هغې د ذکر کولو نه حديث چپ پاتې شوې دے او ځکه د دغې بيان نه دے شوے او د دې څه حد او تصور نه شي کيدے.

## دَ ايمان بالغيب عقيده:

او بل حکمت د روژې دا دے چې په دې سره د انسان ايمان بالغيب عقيدې ته قوت ملاويږي لکه انسان خپل ځان د موجوده مادی ضروریاتو نه دې د پاره منع کوی چې دا د الله حکم دے او دغه د الله حکم په دۀ باندې په نسبت د مادياتو سره غالبه وی هر څه ګوری او وينی، زړۀ خواهش لری د بدن ضرورت ورته وی خو د دې ټولو خبرو سره د هغه غائب ذات حکم ورته ياد وی د هغه فرمانبردار وی او د دې څيزونو طرف ته د دې انسان د زړۀ تصور هم نه ځی نو په د غه طريقه سره د دې انسان ايمان بالغيب مضبوطيږی او هغه عقائد د دۀ په ذهن او دماغو کښې به هميشه برقرار پاتې وی.

## ايمان او د ثواب نيت:

بل يو حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، ﴾ [بخاری]

خوك چې په حالت د ايمان کښې روژه اونيسی ايمان ځکه ذکر کوی بغير د ايمان د دولت نه نيك عمل الله ته قبول نه دے . هر نيك عمل چې انسان د هغې د بدلې اميد لری نو د دې د پاره ايمان اساس او ضروری دے ځکه نن صبا هم په عيسائيت کښې د روژې تصور شته دے خو ايمان نشته دغه شان په هندوانو کښې څه نا څه داسې طريقې شته

دے خو ایمان نشته ځکه الله ته قبول نه دی دغه عیسائی، هندو، یهودی سره د مشقت او تکلیف نه هیڅ اجر او ثواب هغه بے حسابه بدله چې الله به ئے مسلمان ته ورکوی هغه دوی ته نه ملاویږی. دې وجے نه یو بل حدیث کښ راځی چې﴿ كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلاَّ الْجُوعُ وَ الظَّمَأُ﴾ ډیر په نوم روژه دار هغوی ته بغیر د تندے او تکلیف نه هیڅ صله او بدله نه ملاویږی ولے ځکه ایمان نشته نو روژه دار به ایماندار وی او دویم صرف رواجی روژے به هم نه وی ﴿واحتسابًا﴾ په نیت د ثواب سره روژه اونیسی صرف دا نه چې پلار نیکه به روژه نیوله ځکه زه هم دا روژه نیسمه نو رسمی رواجی طریقه به روژه نه ګنړی بلکه دا به د الله حکم او نیت د ثواب به پکښے وی او یا د احتساب دا مطلب چې د ځان سره به حساب کوی چې په دې یوؤلس میاشتو کښ به هم زه د الله د نافرمانے نه ځان لرے ساتمه لکه څنګه چې د رمضان په میاشت کښ ما ځان د نافرمانے نه ساتلے وو او ورسره به دا نیت هم کوی چې یوؤلس میاشتے ما په آزاده طریقه سره خوراك څکاك کړے وو دا یوه میاشت به د الله د پاره زه پابند یمه نو کله چې انسان په دې طریقه سره روژه نیسی نو الله به ورته دا انعام ورکړی چې ﴿ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ﴾ نو دې انسان ته به الله د مخکښ ګناهونو بخښنه اوکړی.

## د وخت پابند کیدل:

بل د روژے یو حکمت دا هم دے چې په دې سره د انسان ورځ شپه د یو نظام او قانون پابند وی سحر وختی پاسیدل د مانځه د وخت نه مخکښے، نو په عام ورځو کښ به انسان مانځه ته غاړه کیږدی او د سحر مونځ د پاره به په وخت باندې پاسیږی بیا مونځ د جمع سره ادا کول، مابنام سره په وخت باندے روژه ماتے کول، د شپے تراویح کول، په عامو ورځو

کښې به انسان اته (۸) رکعته نفل کولو ته تیار وی او لکه څنګه چې په دې خاص وخت کښې الله حلال څیز نه منع کوی دغه شان به ټخپله خپل ځان په عام ورځو کښې د حرامو نه منع کوی نو په دې سره انسان د یو نظام الاوقات پابند جوړ وی او بل د الله د حکم پابند کیږی.

بیا الله دا روژه په کال کښې تقسیمه کړے نه ده او نه الله انسانانو ته دا اختیار ورکړے دے چې کومه میاشت ستاسو خوښه وی په کال کښې د هغے میاشت روژه نیسۍ داسے الله نه دی کړی او نه الله دا یو انفرادی عمل ګرځولے دے بلکه ټول په یو ځل په یوه میاشت د رمضان کښې به روژه نیسی دا دې د پاره چې څنګه په دې سره په یو فرد کښې اصلاح پیدا شی دغه شان د ټولے معاشرے اصلاح ورسره کیږی بل دا لکه څنګه هر یو انسان انفرادی د الله د حکم تابعدار دے او الله ته عاجزه دے دغه شان دا ټول انسانان هم د الله د حکم به اجتماعی تابعدار وی او الله ته به غاړه ګدی بل دا چې هر انسان په هر حالت کښې الله ته عاجزه او محتاجه دے که دا انسان یواځے ځان له دے او که د ده سرۀ ډیرے لښکرے او نور انسانان وی نو بیا به هم د الله د حکم مطیع وی.

# مقصدرمضان

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ (البقرة:۱۸۳)

## دوه قسمه عبادات:

عبادات څه داسے دی چه بدنی عبادات دی لکه مونځ دا رنګ څه عبادات داسے دی چه مالی عبادات دی لکه زکوٰة

دارنګ څه عبادات داسے دی چه بدن اومال دواړه پکښے استعمالیږی لکه حج

نو روژه یو بدنی عبادت دے. او الله تعالی په دے امت فرض کړے ده بیا د روژې مقصد احکامات اداب څه د دې د دې بیان هم ضروری دې ،بیا روژه هم یو بدنی عبادت دې چې انسان د الله د رضا د پاره پوره یوه میاشت خپل خوراک خپل څکاک حلاله جماع نه بند شی او دا خواهشات د الله د رضا قربان کړی او د الله د حکم پوره کولو د پاره خپل ځان ته یوقسم مشقت اوتکلیف ورکړی.

## د روژې فرضیت:

الله تعالی فرمائی.

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ﴾ [البقرة:۱۸۳]

یعنی اے مومنانو په تاسو باندې روژه فرض کړے شوے ده.

خو كله چه يو مشكل كار كښے انسان سره ملګرى ډير وى نو كه كار ډير هم مشكل وى نو اسان شى نو ځكه الله تعالى اوفرمائيل چه دا روژه يواځے په تاسو نۀ ده فرض بلكه ستاسو نه په مخكښے قومونو هم فرض كړے شوے وه.

الله تعالى فرمائى ﴿كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ﴾ [البقرة:۱۸۳]

يعنې لكه څه رنګه چه ستاسو نه مخكښے هم په خلقو باندې فرض كړے شوے وه، نفس روژه په مخكښې امتونو او په دې امت باندې فرض ده خوبيا لږ لږ فرقونه په دې امت اومخكښې امتونو كښې شته دغه شان د ورځو په شمار كښې فرق او د روژې په اوقاتو كښې هم ورسره اختلاف اوفرق شته دې. نونفس روژه تصور په يهوديت نصرانيت كښې نن هم مندلى كيږى .

په آدم عليه السلام باندې د روژو د فرضيت ابتداء شوے وه چه درے روژے وے او اوس ورته مونږ د ايام البيض روژے وايو.

## د روژې تعريف اوكامله روژه څه ته وائي:

روژه د دريو څيزونو نه ځان بندولو ته وئيلے كيږى. يو خوراك، دويم څكاك او دريم جماع. دې نه علاوه نورڅه څيزونه نه شته چې هغه په عام حالاتو كښې هم په انسان باندې حلال وى اوپه روژه كښې به هم انسان د خپل ځان حفاظت د هغې نه كوى هغه داچې غيبت نه كول دروغ نه وئيل غلا ډاكه نه كول قتل وغارت نه ځان ساتل يو انسان ته د ردې بدې كنځل نه كول نوكه يو انسان د رمضان په مياشت كښې د دى څيزونو نه پرهيز اوكړى نو بيابه ټول كال خپل ځان د دې نه په امن او حفاظت كښې ساتى .

او د دې اومخكښې څيزونو كښې فرق دا دې چې هغې سره روژه ماتيږى

او د دي ځيزونو سره روژې ته نقصان اوکمزوري رسيږی نو کامل او پوره روژه به هغه وی چې د دې ټول احکاماتو رعايت په کښې وکړې شی ، د روژې ډير حکمتونه دي.
د روژے د فرضيت اهم مقصد او حکمت دا وو چه انسانانو کښے د الله تعالى نه يره پيداشي.
الله تعالى فرمائی. ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾
يعنې دے د پاره چه په تاسو کښے تقوی او د الله تعالى نه يره پيداشي.

## دعبادت حقيقت:

انسان الله تعالى د خپل عبادت د پاره پيدا کړے دے نو ځکه په عربئ کښے بنده ته عبد وئيلے کيږی.
الله تعالى فرمائی. ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾
[سورة الذاريات:٥٦]
يعنې د جناتو او انسانانو پيدائش ما د خپل عبادت د پاره کړے دے.
نو اصل عبادت دا دے چه د انسان خليريش کهنتے د الله تعالى په عبادت کښے تيرے شی.او دا د مسلمان نه د اسلام مطالبه ده چې څوک ځان اسلام ته منسوب کوی نو د اسلام مطالبه دا ده چې دا انسان به هميشه دالله عبادت گزار بنده وی د اسلام د احکاماتو پابند او د الله د قانون رعايت کونکی اوخپل ژوند به ددين اسلام په نړا کښې تيروی .
صرف مونځ کول خو د عبادت يو جزء دے . دے باندې د پوره عبادت اطلاق کول مناسب نه دی.خومونځ صرف لس منته عبادت دې چې په دغه وخت کښې انسان الله ته خپل سر په زمکه باندې کيږدی لاس په نامه د هغه ذات مخکښې په تعظيم سره ودريږی د هغه ټول بدن د الله د عظمت د اظهار کولو د پاره په حرکت کښې وی خو دا هميشه

عبادت نه دي ،نو د دې دا مطلب نه دې چې د مونځ په حالت کښې انسان پابند دَ حکم الهی وی او د دې نه باهر آزاد او اختیار مند وی نه داسې نشی کیدې .

نوڅنکه چې په یوه میاشت کښې د الله اطاعت اوتابعداری ده دغه شان پوره کال به انسان د الله د حکم فرمانبردار او پابند وی آزاد به نه وی چې څه وئیل غواړی هغه به په خولهٔ باندې وائی اوڅه کار کول غواړی هغه کار به کوی یا څه چې د هغه ذهن ته راشی هغه به خامخا پوره کوی داسې نشی کیدې او دا کامل عبودیت د الله بندګی نه ده کامل عبودیت د الله بندګی داده چې د انسان هرقول اوفعل نشت وبرخاست رفتار ګرفتار غرض هر قسم معامله د قانون شریعت مطابق شی نو دغه کامل عبد دې دغه کامل اوپوره بنده د الله فرمانبردار تابعدار اومطیع دې .

دا رنګ صرف حج کول یا زکوٰة ورکول یا روژے نیول دا صرف د دغے غټ عبادت اجزاء دی او دا اعمال صرف د هغے غټ عبادت د پاره تربیت او ټریننګ دے. اصل عبادت خو دا دے چه د انسان چوبیس ګهنټے د الله تعالی په عبادت کښے تیرے شی که دے خوراك کوی که څکاك کوی، که کار کوی ، که زمینداری کوی وغیره وغیره

دا معنی د بنده هم ده چه دے به چوبیس ګنټے د الله تعالی په تابعدارئ کښے بند وی.

## د روژې او نورو عباداتو فرق:

د روژے او د نورو عباداتو په مینځ کښے فرق دا دے چه مونځ د ظاهر سره هم تعلق لری ځکه چه خامخا به جمعے له راځی او خلق به ئی دا حرکات سکنات وینی. دا رنګ زکوٰة هم ښکاره عبادت دے ګنی کم ازکم

چاله چه ئې ورکوی نو هغه ته خو پته اولګیده کنه.

دارنګ حج هم یو ظاهر باهر عبادت دے.او دا هم یوقسم له تیاری ده همیشه دعبادت د پاره .

روژه صرف یو داسے عبادت دے چه خالص د اللّٰه تعالی او د بنده په مینځ کښے راز دے.

او دا فرق دې په دې عبارت اونورو عبادتونو کښې چې روژه صرف د یو اللّٰه د پاره وی او په دې کښې داسې حرکات نشته چې انسان په ریاء یانوم کولو کښې په عام حالاتو کښې اونور عبادات لکه مونځ ، حج ، زکوة وغیره هغې کښې داسې حرکات ضرور موجود وی چې بل انسان ترینه خبریږی .

نو د دې عبادتونو حرکات سکنات ظاهر وی . او د روژې حرکات ظاهر نه دې نن که په دې مجلس کښې یو انسان روزه وی نوموږنږه ته احساس نه کیږی د دې وجې نه حدیث کښې راځی اللّٰه وائی ﴿إِلَّا الصَّوْم فَإِنَّهُ لِيْ وَأَنَا أَجْزِئُ بِهِ﴾ چې روژه زما د پاره ده او د دې بدله به زهٔ خپله ورکوم .

د دے وجے نه خو نبی کریم فرمائی چه

**﴿كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى مَا شَاءَ اللّٰهُ يَقُولُ اللّٰهُ إِلاَّ الصَّوْمَ﴾** [مسلم]

یعنې د بنیادم د هر عمل ثواب دے انسان ته د لسو نه واخله تر اوؤ سوو پورے ثواب پرے ملا ویږی سواء د روژے نه ځکه چه د روژے په باره کښے اللّٰه تعالی فرمائی. **﴿فَإِنَّ الصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ﴾** [مسلم]

یعنی روژه خالص زما د یرے او زما د رضا د پاره نیولے کیږی نو بدله به ئې زه خپله ورکوم.

دارنګ یو حدیث کښے راځی
چه روژه دار ته دوه خوشحالۍ ملاویږی
یو د روژه ماتی په وخت کښے او دویم د قیامت په ورځ چه کله ورته الله تعالی د دے بدلے ورکوی.

## د روژې بل حکمت:

د روژے یو حکمت دا دے چه په دے کښے ایمان بالغیب مضبوطیږی ځکه چه دے کله هم اوږے یا تږے شی نو د الله تعالی حکم د روژے ورته رایاد شی نو دے خپل خواهش د الله تعالی د خواهش د پاره مغلوب کړی. نو دے عمل سره ایمان بالغیب مضبوطیږی.
بل دا روژه یو مسلسل ټریننګ دے.

## د روژې دوه شرطونه:

نبی کریم فرمائی
﴿مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ﴾ [بخاری]

یعنې چاچه روژه په دوو شرائطو باندې پوره اونیوله نو دهٔ ته به الله تعالی ټول مخکنی ګناهونه معاف کړی.
یو دا چه په حالت د کامل ایمان کښے ئې اونیسی.

او دویم داچه دا روژه د حساب او تربیت په نیت اونیسی.یعنې په نیت دثواب .

نوچه د ر یانه محفوظ وی او د الله تعالی استحضار ئې په زړهٔ کښے وئې او دا نیت ئې وی چه اٰئنده یوولس میاشتے به هم په دے طریقه تیروم.

ځکه په روژه کښې یو انسان غیبت نه کوی که یو انسان غیبت

کښې اخته شوې وی بل انسان ورته وائی روژه ده غیبت مهٔ کوه دغه غلا ډاکه قتل وغارت فضول عبس خبرې وغیره ډیرګناهونونه انسان په امن کښې پاتې شی نو احتساب دا معنی چې څنګه په دې یوه میاشت کښې بنهٔ سړے شوې ئی دغه شان نور کال هم بنهٔ سړې شه .

د دے ټریننګ د پاره دے د پیشمنی پاسی او د سحر فرض مونځ اوکړی او بیا حلال رزق تلاش کړی بیا الله تعالی ته اودریږی بیا لږ ارام اوکړی نو بیا د مازیګر الله تعالی ته اودریږی نو بیا ذکر اوکړی او د روژه ماتی په انتظار کښے دعاګانے غواړی نو بیا د شپے په شروع کیدو سره د الله تعالی څلورم حکم د مونځ ته متوجه شی او بیا د اودهٔ کیدو نه مخکښے اخری فریضه اداء کړی او د هغے نه بعد په شرعی طریقه اودهٔ شی نو دا بیا هره ورځ کوی نو دے ته یو مسلسل ټریننګ وئیلے کیږی ، نو دا یو طویل مشق دې د الله د عبودیت د پاره .

الله تعالی دے مونږ د روژے د برکاتو نه محروم نکړی . امین

# درمضان اهميت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ (البقرة:۱۸۳)

﴿وقال رسول الله ﷺ : إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتْ الشَّيَاطِيْنُ اوكماقال رسول الله ﷺ﴾[نسائی]

## د رمضان استقبال اوجنت:

د رمضان المبارك ډير لوے بركات دي . دا داسے د فضيلت نه ډكه مياشت ده چې كله شروع شي نو د اولنۍ ورځ نه د جنت دروازے كهلاؤ كړے شي دا د روژې خير اوبركت دي .

او څوك چې په روژه كښې وفات شي نو بختور ګڼړلے كيږی ځكه چې بلا واسطه جنت ته داخليږی.

الله تعالى لكه چې څنګه نورو مخلوقاتو كښې بعضو له په بعضو باندې فضيلت وركړے دے.

اوكله الله مكاناتو ځايونو كښې يو ته په بل باندې فضيلت وركړې وی اوبعضې زمانې په نسبت د نورې زمانې فضيلت اوبهتری والې لری .

نو دارنګ په كال كښې الله تعالې په مياشتوكښې مياشت د رمضان له ډير لوے فضيلت وركړے دے.

دا دومره لوی مقام اوچته مرتبه اولوې فضيلت الله دې مياشت

ته ولې ورکړی دے دا الله ځکه ورکړې دې چې په دې میاشت کښې یو عظیم عبادت اهم ترین اطاعت الهی روژه اداکیږی د دې وجې نه ورته الله دا لوې فضیلت ورکړې دې .

## داشرف المخلوقات کیدو اسباب:

اصل کښې الله تعالی انسان اشرف المخلوقات پیدا کړے دے.

دا انسان لکه څنګه چې الله اشرف المخلوقات پیداکړې دې دا به پخپله کله داسې جوړیږی صرف نوم کیدو سره انسان حقیقتا اشرف المخلوقات کیدې نشی هغه څه صفات دی چې دې انسان کښې دا اوچت شان پیداکوی .

نو دا کرامت او فضیلت دے انسان ته په حقیقت کښې هله ملاویږې چې یوڅو صفات په انسان کښې پیداشي.

د انسان شرافت عزت اوعظمت دا درې خبرې دې چې کله انسان کښې پیدا شی نو انسان دې مرتبې ته رسی .

هغه صفات درې خبرے دی.

یو دا چې انسان له الله تعالی نفس ورکړے دے او شیطان هم ده پسې لګیدلے دے نو چې دے دا نفس سرکشه قابو کړی او د الله تعالی بندګی پرے غالبه شی نو دے به اشرف المخلوقات ګنړلے کیږی.

الله تعالی ځکه فرمائی چې دا د انسان دپیدائش مقصد دے .

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

یعني ما جنات او انسانان محض د خپل عبادت د پاره پیدا کړی دی .دعبادت پهلو به غالبه وی .

نو د انسان اشرف المخلوقات کیدل په دوؤ خبرو سره پیدا کیږی چې یو په نفس قابو موندل دې او دویم د عبادت د پهلو غالب کیدل دې.

دا دواړه څیزونه په روژه کښې په کامله طریقے سره پیدا کیږی.
ځکه چې په دے کښې خواهشات قابو کښی وی .
که هغه هرڅومره غټ نه غټ شهوت یا لذت وی نوهغه مغلوبه شی او د نورو میاشتو په نسبت عبادت ډیر شی په انسان باندې.
عباداتو ته د سړی شوق کیږی او د الله تعالی نه یره او د الله تعالی سره تعلق پیدا کیږی.
چې دې انسان ته هر وخت الله یا دوی اوالله نه ئې غواړی دا درې خبرې دی چې په دې سره د انسان نفس قابو کیږی او د عبدیت الهی صفت په انسان باندې غالبه کیږی یو خواهشات قابو کړی دویم عبادات زیات کړی دریم د الله سره تعلق پیدا کړی او درې خبرې په روژه کښې په کاملې طریقې سره وی ځکه دا روژه الله ته ډیر محبوب ترین عبادت دې ځکه حدیث کښې راځی چې د رمضان راتلو سره د جنت دروازې کولا ویږی او د جهنم دروازې بندیږی اوشیطانان تړلی کیږی .

## د روژې مقصد:

دا مقصد الله تعالی هم ذکر کړے دے.
او د روژې اهمیت مرتبه ئې ځکه بیان کړې ده چې دا یو عظیم الشان عبادت مخکښې امتونو او په دې امت ټولو باندې الله فرض اولازم کړی دے ځکه په دې سره لوې مقصد رضائی الهی او خوف خداوندی تقوی په انسان کښې پیداکیږی .

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [البقرة: ١٨٣]

یعنې د روژے مقصد دا دے چې تاسو کښې د الله تعالې نه یره او د الله تعالې سره تعلق پیدا شې.

## فضيلت رمضان:

دا رنګ نبي کريم په يو حديث کښې درمضان المبارك فضيلت په دے الفاظو بيان کړے دے.

دَ روژه اهميت څه دې په دې کښې څه قسم اعمال کول پکار دې دا د نبي عليه السلام په يو حديث سره د دې وضاحت کوو.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾ [مشكوة المصابيح]

يعني اے خلقو په تاسو باندې يو عظيم الشان او مبارك مياشت راغله او دا داسے مياشت ده چې د زرو شپو نه بهتره ده.

نو که څوك په دغه شپه کښې عبادت اوکړی نو د زرو مياشتو د عبادت ثواب پکښې ملاويږی.

زرمياشتې څه د پاسه اتيا کال جوړيږی دا فضليت الله صرف دې امت ته ورکړې دې ځکه چې د نورو امتونو عمرونه ډير وو داسې امتونه شته دې چې الله هغوی پنځه سوه کاله عمر درې سوه کاله عمر دوه سوه کاله عمر پورې ورکړې وو او د دې امت عمر کم دې اوسطا شپيته کاله عمر وی.

## ددې مياشت برکتونه:

او دا ځکه چې د دے امت عمر کم وو نو الله تعالی ورله پدے مياشت کښې دغه يوه ورځ مقرر کړه چې د دوی ګيله رانشی او د نورو سره برابر شی.

ځکه نبي عليه السلام وائی چې شهر مبارک د برکت مياشت ده او دا برکت دې چې په کم وخت کښې د ډير ډير عمرونو عباداتونو اجر وثواب الله ورکوی.

او بیا فرمائی ﴿فَرَضَ اللّٰهُ صِيَامَهُ وَجَعَلَ قِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا﴾

يعني دا داسے مياشت ده چې روژه ئې فرض ده او د شپے ولاړه ئې زياتي ثواب دے.

## دويم برکت رمضان:

او بيا ئې اوفرمائيل:

﴿فَمَنْ تَطَوَّعَ فِيهِ بِخِصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ وَمَنْ أَدَّى فِيهِ فَرِيضَةً كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً﴾

يعنې د نفلو مقام پکښې د عامو ورځو د فرضو برابر دے. او د فرض مونځ ثواب پکښې د عامو ورځو د اويا فرضو مونځونو برابر دے.

داکمال الله صرف دې مياشتې ته ورکړې بلې مياشتې ته الله دا فضليت نه دې ورکړې .

## دريم برکت د رمضان:

او بيا فرمائ ﴿وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ ، وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ﴾

يعني دا مياشت د صبر ده او په دے کښې عامو عباداتو ته او نيکو کارونو ته توجه زياته وې نو دا صبر على الطاعات شو.

بيا په دے کښې دے مصائب برداشت کوی ، لوږه تنده تيروی نو دا صبر على المصائب شو.

دارنګ دا هم صبر دے چې يو کس تا سره جهګړه کوی نو ته به صبر کوے او هغه ته به وائے چې زما روژه ده.

اوس داخبره التہ شوې ده معامله بالعکس ده هغه داسې که يو انسان بل ته يوه خبره وکړی نو دغه بل انسان دۀ ته لس خبرې کوی که څوک يوګزار وکړی نو دا بل انسان دوه درې ګزارونه ورباندې کوی او بيا

دا عذر پیش کوی چې یره برداشت نه شم کولې ځکه روژه داری ده.

اوس د دے صبر اجر به څه وی نو نبی کریم ﷺ فرمائی چې د دے په بدله کښې به الله تعالی جنت ورکوی.

او بیا فرمائی: ﴿وَهُوَ شَهْرُ الْمُوَاسَاةِ﴾

یعني بیا فرمائی چې دا د غمخوارئ میاشت ده نو دا میاشت د دے خبرے ترینګ دے چې د دے میاشتو نه علاوه به هم د خلقو خیر خواه او غمخوار ئے.

ځکه انسان د الله په حکم لوږه تنده برداشت کوی او پته ورته اولګی چې دا سومره سخت کار دې نو په دې سره انسان ته احساس وشی چې په دې معاشره کښې داسې خلق شته دې چې هغوی یومیاشت نه ټول عمر د لوږے تندې برداشت کوی د هغوی سره ښیګړه کول پکار دی.

دا رنګ رمضان ته د نیکو موسم بهار وئیلے کیږی ځکه چې دا د نیکو ګټلو سیزن دے او خلق په دے کښې د پیسو ګټلو په کوشش کښې وی او دے ته د پیسو ګټلو سیزن وئیلے کیږی.

## ځلورم برکت د رمضان:

اوبیا فرمائی:

﴿وَهُوَ شَهْرٌ يُزَادُ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ فِيهِ , مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ عِتْقُ رَقَبَةٍ وَمَغْفِرَةٌ لِذُنُوبِهِ﴾

بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې په دے کښې د مومن رزق زیات شی.

او دا یقینی خبره ده چې که ډیر غریب انسان وی نوپه رمضان کښې دهغه په دسترخوان د دۀ درې قسمه خوراکونه موجود ورته حاضر وی.

بیا نبی کریم ﷺ او فرمائیل چاچې په یو روژه دار روژه ماته کړه نو په دے به الله تعالی د دغے انسان مغفرت اوکړی.
نو دا دوه انعامونه دې انسان ته الله ورکوی یو مغفرت دګناهونو بل الله به د دې انسان ستړ دجهنم د عذاب نه خلاص کړی .
یوصحابی عرض اوکړو چې که زمونږ دا وس نه وې نو بیا؟
نو نبی کریم ﷺ ورته جواب ورکړو چې د پیو لسی او یوه کهجوره باندې هم دغه ثواب ملاویږی. یا د اوبو یو ګوټ هم د دے ثواب د پاره کافی دے.
اوکه یو کس له ئي پوره روژه ماتے اوکړو نو د قیامت په ورځ به الله تعالی دے چرے هم تګے نه کړی.

## پنځم برکت د رمضان:

**﴿وهُوَ شَهرٌ أوَّلُهُ رحمةٌ ، وأوْسَطُهُ مَغفرةٌ وآخِرُهُ عِتقٌ مِنَ النَّارِ ، مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوْكِهِ فِيْهِ غَفَرَ اللهُ لهُ ، وَأعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ﴾**

یعني د دے میاشت اولنۍ لس ورځے رحمت دے نو مینځنۍ ورځے ئې د مغفرت دی او آخری عشره ئې د جهنم نه د خلاصی عشره ده.
دا میاشت الله په دې درې حصو تقسیم کړې ده اوداځکه چې په اول کښې رحمتونو باران شروع شی نوچې کله دغه رحمت الهی انسان ته متوجې شی بیاورته الله په دویمه حصه کښې مغفرت وکړی اوکله چې د دې انسان مغفرت وشی نو دا انسان په آخری حصه کښې الله د جهنم د عذاب نه ورته خلاصې ورکړی مطلب داکه د یو انسان د پاره خدانخواسته جهنم په کال یوولس میاشتو کښې واجب شوې وی نو الله ورته په دغه لس ورځو کښې مغفرت اوعفو ودرګزر وکړی .
او بیا فرمائی چاچې په خپل نوکر باندې په دے میاشت کښې کار

اٰسان کړو.

ځکه څنګه چې الله په دې میاشت کښې د خپل بنده سره احسانات کوی اوډیره مهربانی او رحم وکرم ورباندې کوی دغه شان بنده له پکار دې چې د بل بنده سره د آسانی معامله وکړی په غلام نوکر باندې بوج کم اچول بلکې مالک له پکار دې چې پخپله ورسره لاس واړوی او بوج ورنه سپک کړی .

نو الله تعالی به دهٔ ته مغفرت اوکړی او الله تعالی به د ے د جهنم د عذاب نه خلاص کړی.

حدیث کښې راځی جبرئیل علیه السلام بددعا کوله اونبی علیه السلام ورباندې آمین وئیلو په هغے کښې یو هغه انسان ذکر شوے دې چې رمضان راشی اوتیر شی دې انسان ته مغفرت اونشی .

نو دا میاشت د غمخوارئ ده نو که غم خواری په شکل د مدد او تعاون کښې وی او که په شکل د همدردې کښې وی او که په شکل د ماتحت نه د بوجهه په کمی کښې وی . دا کارونه ټول د خیر دی او د روژے د میاشت مقصد هم دے .

الله تعالی دے مونږ په صحیح او کامل دین روان کړی. امین.

# د رمضان اهمیت او مسائل

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ (البقرة:١٨٣)

﴿وهُوَ شَهرٌ أَوَّلُهُ رحمةٌ ، و أَوْسَطُهُ مَغفرةٌ وآخِرُهُ عِتقٌ مِنَ النَّارِ ، مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوْكِهِ فِيْهِ غَفَرَ اللهُ لهُ ، وَأَعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ او كما قال رسول الله ﷺ﴾

[ابن خزيمة]

## دروژې فضیلت:

څه رنګه چې په موسمونو کښې په کال کښې موسم بهار راځی نو دغه رنګ د ثوابونو په اعتبار سره هم د ثوابونو بهار راځی چې هغه میاشت د رمضان ده.

د دې میاشتې فضیلت مقام ومرتبه نبی علیه السلام په خپله د دې میاشت د شروع کیدو نه مخکښې په تفصیل سره په یو لوې حدیث کښې بیان کړې دې دومره مبارکه عظیم الشان میاشت چې یوه ورځ په کښې د زرمیاشتو نه غوره ده .

دا داسے میاشت ده چې نفل پکښې د فرضو برابر دی او فرض په اویاؤ فرضو قبلیږی.

دارنګ دے میاشت ته نبی کریم ﷺ د صبر میاشت وئیلے ده ،

دارنګ دے ته ئی د همدردۍ میاشت وئیلے ده. دارنګ دے میاشت ته ئی د رزق د فراخۍ میاشت وئیلے ده.

## د همدردی میاشت:

دا رنګ نبی کریم د همدردۍ یو مثال دا خودلے دے چې چا په بل کس باندې روژه ماتے اوکړو نو د هغه د روژے برابر به دۀ ته هم ثواب ملاویږی.

نوکه یو انسان د بل انسان سره همدردی وکړی الله د ثواب په ورکولو کښې د دغه انسان ښیګړه اوهمدردی وکړی .

صحابو اوفرمائیل چې مونږ خو د دے وس نه لرو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې په یو ګوټ اوبو سره هم الله تعالی دا اجر ورکوی نو د د الله بل لوې احسان دې دبنده سره .

دویمه همدردی دا نبی کریمﷺ بیان کړے ده.

﴿مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوْكِهٖ فِيْهِ غَفَرَ اللهُ لهُ ، وَأَعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ﴾

یعنی چاچې په خپل نوکر باندې په دے میاشت کښې کار اٰسان کړو نو الله تعالی به دۀ ته مغفرت اوکړی او الله تعالی به د ے د جهنم د عذاب نه خلاص کړی.

نیک مشر آقا به په هر حالت کښې دلاندې کشر سره ښۀ اخلاق اونرمی کوی خو په رمضان کښې به ورسره ډیره نیکی او همدری نرمی ښۀ اخلاق، په مشقت کښې نه اچول، د خپل شاګرد سره احسان، په رمضان کښې به ډیر زیات وی د روژی د برکت د وجې نه .

مزدور کار ماتحت لاندې خلقو سره نرمی کول .

## رمضان درې تقسیمونه او حکمت:

دارنګ په دے حدیث کښې نبی کریمﷺ دا هم فرمائیلے دی چې رمضان په درې حصو کښې تقسیم دې .

﴿وهُوَ شَهرٌ أوَّلُهُ رحمةٌ ، و أوْسَطُهُ مَغفرةٌ وآخِرُهُ عِتقٌ مِنَ النَّارِ﴾

یعنی د دے میاشت اولنۍ لس ورځے رحمت دے نو مینځنۍ ورځے ئې د مغفرت دی او اٰخری عشره ئې د جهنم نه د خلاصی عشره ده.

علماء کرام فرمائی چې دا درې تقسیمونه ځکه دې چې خلق درے قسمه دی.

یو هغه کس چې د اول نه پاك وی نو د اولنۍ عشرے نه په هغوی رحمتونه شروع شی .

دویم هغه کس دے چې مخکښې ئې څه عمل نیك نه وی خو د اولنۍ عشرے د وجے نه الله تعالی په دویمه عشره کښې د دهٔ ګناهونه اوبخښلی شی.

دریم هغه کس دے چې ډیر نافرمان وی نو په اوله او دویمه عشره کښې چې کله دے مشقت برداشت کړی نو په اٰخری عشره کښې د دهٔ اٰزادی د جهنم نه اولیکلے شی.

اویا دا درې تقسیمونه دې وجې نه دې چې په اوله عشره کښې د الله رحمتونه انسان ته متوجه شی نو په دویم عشر کښې ورته په دغه رحمتونو سره مغفرت وکړی اوکله چې انسان ته الله مغفرت وکړی نونتیجه ئې دا وی چې الله دغه انسان د جهنم د اور نه آزاد او بری کړی او

خلاصې ورته ورکړی .

یو حدیث کښې راځی.

## دوه شفاعتیان:

نبی کریم ﷺ فرمائی چې دوه سفارش کونکی داسے دی چې الله تعالی به ئی د قیامت په ورځ شفاعت نه رد کوی یو روژه او بل قرآن کریم روژه به الله تعالی ته وائی:

﴿إِنِّيْ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهْوَاتِ بِالنَّهَارِ﴾

یعنې ما دے په ورځ کښې د خوراك ، څکاك او شهواتو نه بند کړے وو نو زما سفارش د دهٔ په حق کښې قبول کړه.

او قرآن به وائی ﴿مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ﴾ ما دا انسان د شپې د خوب نه منع کړی وو نو د قرآن او رمضان ترمینځه ډیر لوې مناسبت دې کامیاب ترین بنده به هغه وی چې رمضان او د قرآن دواړو حقونه اداکړی نو دا دواړه به د دې انسان د پاره په دربار الهی کښې شفاعت کونکی جوړشی .

## شرائط روژه:

روژه صرف په مسلمان فرض ده په کافر نه ده فرض اسلام شرط دې د روژې د پاره .

فقهاء فرمائی چې اسلامی حکومت کښې به دا اجتماعی طور مناویږی او دا روژه به نیولے کیږی.

د سیاست مدنی احکامو کښې د روژے نفاذ یوضروری حکم

دے نو په دے سره به اجتماعی طور باندې الله تعالی برکات نازلوی او دا ملك به ترقی کوی.

دا رنګ اجتماعی همدردی به پیداشی وغیره وغیره.

د پاکستان په اٰئین کښې هم احترام رمضان ضروری دے او د دے مخالفت کونکو ته به سزا ملاویږی.

دویم شرط دادے چې روژه دار به عاقل وی نو په لیونی باندې روژه نیشته.

دریم شرط بلوغ دے نو په نابالغه باندې روژه نیشته.

که د روژې د نیولو طاقت یو نابالغه انسان لری چې بلوغ ته نزدې وی نو دهغه د عادت جوړولو د پاره روژې نیول ورله مستحب دې .

څلورم شرط صحت دے نو په داسے بیمار چې روژے سره ئې بیماری زیاتیږی یا دے ترینه مړ کیږی نو بیا به روژه نه نیسی په تجربې سره ئې دامعلومه کړی وی یاماهر مسلمان ډاکټر مشوره ورکړی .

پنځم شرط نیت دے نو که یوکس بغیر د نیت نه ټوله ورځ خوراك څکاك نه کوی نو دا به روژه نه شمارلے کیږی.

نیت به د شپے نه کوی او که د چا نه هیرشو نو د نصف النهار پورے دے نیت کولے شی.

بیا په نیت کښې د خولے وینا ضروری نه ده بلکه د زړهٔ کیفیت او حالت نه مراد نیت دے چې دے په زړهٔ سره د روژے اراده او قصد اوکړی.

## دَ سحری او افطاری طریقه:

دَ سحری او پیشمنے کول سنت عمل دے نو که څوك پیشمنے نه کوی نو دا عمل خلاف سنت دے.

او دا د دې وجې نه چې په نهاره روژه نیولو سره د انسان په بدن کښې کمزوری ډیره راځی بیا صرف یوه روژه اونیسی اونور عبادتونه اداکوې نشی اونه د هغوی د اداکیدو طاقت لری .

پیشمنے په آخر وخت کښې بهتر دے او په دے کښې فائده دا ده چې زر به نه اوږے کیږے او دارنګ مونځ به هم په خپل وخت اوکړے ځکه چې خلق اکثر د وخته پیشمنے اوکړی نو بیا اوده شی.

دارنګ روژه ماتے زرکول پکار دی چې کله اعلان یا اذان یا ټلئ اووهلے شې . په دے کښې بیا تاخیر کول خلاف سنت دی.

خو په شرط د دې چې غروب به شوی وی نمر به پریوتی وی ځکه آذان یا اعلان وغیره ضروری نه دې شرط د افطار د پاره غروب شمس دې نن صبا خلقه په آذان سره روژه افطار کوی .

نومؤذن له پکار دې چې غروب شمس یقینی کیدو نه بعد آذان کوی .

## روژه ماتونکی څیزونه:

د روژے ماتیدو څیزونه:

خوراك ، څکاك او جماع سره قصدا روژه ماتیږی او که په خطاء ئې اوکړله نو روژه ماته شوه او د دے به صرف قضا راؤړی. او قصدًا خوړلو سره به یو روژه قضائی راؤړی او مسلسل شپیته روژے به نیسی. که د چا

طاقت د روژو نه وو نو شپیتو مسکینانو لره به سحر ماښام په مړه ګیډه متوسطه روټۍ ورکوی.

عام خلق نه بلکې غریب مسکین به وی .

اوکه څوك د دے هم طاقت نه لری نو فدیه به ورکوی چې هغه دوه نیم کلو غنم یا د هغے قیمت دے د یوے روژے په مقابله کښې .

قے که بے اختیاره وی نو که لږ وی او که ډیر . روژه پرے نه ماتیږی او که په قصد او زور سره وی نو که په ډکه خولۀ وو نو ماتیږی او قضا به صرف راؤړی او که کم وو نو روژه ورسره نه ماتیږی.

دا رنګ یو کس بے هوشه وی او په هوش کښې راغے ، یا د ورځ په نیمه کښې د زنانه بیماری بنده شوه، یاماشوم بالغ شو یا کافر په نیمه ورځ کښې مسلمان شو نو په دے ټولو صورتونو کښې به باقی ورځ روژه نیسی.

او په دغه ورځ به خوراک نه کوی دا د دې وجې نه چې دا انسان روژه نه دې خو د رمضان د عزت او د احترام د وجې نه به خوراک څکاک بند کړی او دا به نه کوی .

هاں دومره مسئله هم ذهن کښې ساتۍ چې په ماشوم او په کافر چې نوے مسلمان شوے وی نو په دوی دواړو باندې د دے قضانیشته.

اللہ تعالی دے مونږه باندې د روژے برکات نازل کړی . امین.

# د رمضان اعمال

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ (البقرة:۱۸۳)

﴿سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾

## د الله يره كول:

د روژے په اهمو مقاصدو كښے د الله تعالى نه يريدل يو اهم مقصد دے. نو دے دپاره د روژے په شروع كيدلو اول د الله تعالى نه توبه ويستل پكار دى.

ځكه چه دا روژه نيول د الله تعالى د اصل عبادت د پاره يو تربيت دے.

نو د الله تعالى د خوشنودئ د پاره هغه كار كول چه الله تعالى پرے خوشحاليږى او هغه كار نه كوى چه د الله تعالى د نافرمانئ سبب جوړيږى.

نو صرف خوراك ، څكاك بندول روژه نه ده بلكه د روژے حقيقت پيژندل ضرورى دى.

صرف لوږه تنده ياخوراک څكاک نه كول عبادت نه دي ډير غير مسلم خلق هم لوږه تنده د څه وخت د پاره برداشت كوى نو بيا د هغوى

دا کار هم عبادت پکار دې یا په عام ورځو کښې یو انسان د ډیر مشغولیت د وجې نه خوراک څکاک کوی.

نو هغې ته څوک روژه نه وائی معلومه داشوه چې روژه صرف دا نه ده چې انسان خوراک څکاک نه کوی بلکې د دې سره به څه نور مقاصد چې هغه د روژې سره تعلق اوربط ساتی هغه پیژندل ضروری او اهم دې.

او په هغه مقاصدو کښې یو دا چې انسان اصل او همیشه غټ عبادت د پاره خپل ځان همیشه تیار ساتی اوهغه غټ عبادات دادې چې انسان د څه مقصد د پاره الله په دنیا کښې موجود کړې دې.

د څه د پاره الله پیداکړې دې هغه ورته معلوم شی اوهغه لوې مقصد زندګی د الله نه یره کول د الله خوف په خپل ځان کښې پیداکول.

بیا د دې نه بعد ژوند الله د قانون خلاف ورزی نه کول او د هغې په رنړا کښې ژوند تیرول اوبیا هر هغه کار چې الله ئې حکم کړي دې.

هغه په ډیر شوق اومینې سره پوره کول د الله د خوشحاله کولو د پاره په دغه کار خواهش نفسانی او خواهش پرستۍ نه خپل ځان په حفاظت کښې ساتل اوکه په کوم یو انسان کښې خوف الهی نه وی.

او د محبت الهی د نشوالی د وجې نه د الله قانون باندې عمل نه کوی اوبیا دخپل نفس اوخواهش غلام جوړشوی وی.

نوکه دا قسم انسان په خیټه یو ورځ دوه ورځې نه که لس ورځ وږی تږی وی نو حقیقی اجر وثواب د روژې ورته نه ملاویږی او دا انسان د روژې د مقصد نه په غفلت کښې ډوب دې ناخبره دې.

مقصد ورته معلوم نه دي ځکه صرف خوراک څکاک بندول روژه نه ده .

## روژه صرف خوراک او څکاک بندول نه دی:

دغه وجه ده چه نبی کریم هم فرمائی.

**﴿مَن لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ والعَمَلَ بِهِ، فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِيْ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وشَرَابَهُ﴾** [بخاری]

یعنې څوك چه دروغ او په دے باندې عمل نه پریږدی نو الله تعالی د پاره د دهٔ په خوراك څكاك پریخودو كښے هیڅ ضرورت نیشته.

دا رنګ نبی کریم فرمائی **﴿كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الظَّمَأُ﴾**

[ابن ماجه]

یعنې ډیر کرته یو روژه دار ته د تندے نه علاوه نورڅه نه ملاویږی ځکه چه دهٔ پکښے د الله تعالی معرفت نه دے حاصل کړے او دے د روژے د مقصد نه ناخبره دے.

## دوه مقصدونه د روژې:

ځکه نبی کریم د روژے دوه مقاصده په یو حدیث کښے بیان کړے دی.

نبی کریم فرمائی. **﴿مَن صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ ما تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ﴾** [بخاری]

یعنې څوك چه د رمضان روژے په ایمان سره اونیسی او په دے کښے د خپل نفس سره محاسبه کوی اونیت دثواب ورکښې اوکړی نو دهٔ ته به د دهٔ ټول مخکنی ګناهونه معاف کړے شی.

یعنې دا انسان په روژه کښې د الله د رضا طلب ګار وی اوسوچ

به کوی په خپل ټول ژوند کښې چې زۀ په کوم مقام باندې د الله قانون نه خلاف بغاوت اوغارت ګړی کوم په کوم ځائې کښې زۀ د اللّٰه حکم نه خلاف کوم اوپه کومه مرحله کښې امر الهی زما په عمل کښې نه راځی حال دا دې چې الله دغه حکم ماته کړې دې .

نومطلب دا چه اول شرط عقیده او ایمان درست کول دی او دویم شرط دا چه ریا او سمعت او ښودنه به پکښے نه وی.

## محاسبه نفس:

دویمه معنی د احتساب دا چه دے به د خپل ځان سر ه د ټول کال احتساب اوکړی چه څومره مې نیکئ کړے دی او څومره مې ګناهونه کړی دی او بیا به دا عهد کوی چه څه رنګه صفات مې په روژه کښے خپل کړی وو نو په راتلونکو میاشتو کښے به هم دا حالت برقرار ساتم.

که داسے نه وی او د روژے په حالت کښے هم د ګناهونو ارتکاب کوی او حراموکارونوکښے مبتلاء وی ، پردی غیبتونه کوی ، دروغ وائی ، چغلی کوی، په کاروبارونو کښے یو بل له دهوکے ورکوی نو د داسے روژے په باره کښے

## ګناه پریښودل:

نبی کریم ﷺ فرمائی. ﴿فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِيْ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وشَرَابَهُ﴾ [بخاری]

یعنې الله تعالی ته د دے هیڅ ضرورت نیشته چه دۀ په رمضان کښے خوراك ، څکاك پریخو دے.

دې وجې نه انسان له پکار دی چې د روژې اهمیت قدر وقیمت

معلوم کړی چې د میاشت دجنت دګټهولو میاشت ده د الله رضا د حاصلولو میاشت الله ته دا نزدیکت میاشت ده نوبیا به د انسان په ګناه باندې اقدام نه کوی .

دا رنګ نبی کریم فرمائی. ﴿اَلصَّومُ جُنَّةٌ﴾ [نسائی]

دا رنګ فرمائی ﴿فَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَسْخَبْ﴾ [بخاری]

یعنې کله یوه ورځ د یو تن ستاسو روژه وی نو کوروالے او فسا د به نه کوی او که څوك ورته کنځل کوی نو دے به ورته وائی چه زما روژه ده.

## د همدری درس:

عبد الله بن عباس رض هم فرمائی

چه په عامو ورځو کښے هم نبی کریم ډیر شفیق وو خو د روژے په میاشت کښے به دا شفقت نور هم زیات شو نو که یو سوالی به راغے نو نبی کریم به ورسره مدد کوو او دارنګ جیل یان به نبی کریم آزادول ځکه چه دا د رحمت میاشت وه.

او د دې میاشت په مقاصدوکښې یوه داخبره هم وه چې انسان پخپله باندې لوګه اوتنده برداشت کړی نو د نورو غریبانانو د لوګے اوتندې احساس ددهٔ سره پیدا شی اودغه وجه ده چې په روژه کښې انسان د خپل عام حالاتونه زیات سخی وی او د نورو خلقو خیال زیات ساتی او رعایت ئیِ هم کوی .

نو انسان په دغه حالاتو کښې شفقت او رحم بنیګړه بنۀ کول د بل بنده سره داقسم صفات په ځان کښې پیدا کړی .
دارنګ فرمائی

﴿مَنْ فَطَّرَ فِيْهِ صَائِماً كَانَ لَهُ مَغْفِرَةٌ لِذُنُوْبِهِ وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ﴾

[شعب الإيمان]

یعنې چاچه روژه دار باندې روژه ماته کړه نو دابه د دۀ د ګناهونو مغفرت وی او د جهنم نه به ئی ازاد کړی او دۀ له به هم د هغه روژه دار د روژے برابر ثواب ورکړی.

## نیک عمل ته مخکښې کیدل:

دا رنګ دا دۀ نیکو ګټلو سیزن دے نو په یو سورة فاتحه وئیلو باندې په زرګو نیکۍ ملاویږی ځکه چه په روژه کښے نفل د فرض حیثیت لری او یو فرض د اویا فرضو حیثیت لری.

نوپه یومنټ کښې یو انسان که کوشش وکړی نوبیا په سلولونه زرګونه باندې نیکی ګټلی شی اوکه بیا ټوله ورځ اوټوله میاشت سحر اوماښام په ذکر سره نیکی ګټی او دغه شان که صدقه وکړی د دې نه علاوه نور نیک اعمال اوکړی نور د انسان به څومره الله ته نزدې کیږی .
اوکه یو انسان داکلمات اووائی :

﴿لَاإِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾

دادعا په یومنټ کښې دری څلور ځله وئیل کیګے .
دارنګ دعاګانے وئیل لکه نبی کریم فرمائی

﴿كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيْلَتَانِ فِيْ الْمِيْزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمٰنِ

﴿سُبْحَانَ اللَّهِ وبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ العَظِيمِ﴾ [بخاری]

الله دې معافي وکړی زمونږ خلق موبائیل او فیس بک انټرنیټ نه نه وزګاریګی د هیڅ یوڅیز مقصد انګریز قوم سره د دې نه چې هغوی دا ایجاد کړی دې د دې استعمال بقدر ضرورت کوی اومسلمان دومره استعمال کوی چې خپل تجارت معاملات بلکې د دین نه ئی په غفلت کښې اچولې دې نوکله دبدقسمتئ د وجې نه زمونږ مسلمانان هم داڅیزونه په رمضان میاشت کښې بیا لږ خپل قیمتی اوقات په دغه څیزونو کښې استعمالوی اوضائع کوی نوچې کومه طبقه چې د کار کولو طبقه هغه په دې مرض کښې مبتلاء کړی .

یعنې دوه کلمے داسے دی چه په خولے سپکے معلومیږی خو تله د قیامت درنوی چه هغه﴿سُبْحَانَ اللَّهِ وبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ العَظِيمِ﴾ ده.

دارنګ درود شریف وئیل او کلمه د استغفار وئیل نو دارنګ امر بالمعروف کول او نهی عن المنکر کول دا معمولی غوندے کارونه دی خو ثواب پرے ډیر ملاویږی.

نو په روژه کښے اهم مقصد د ګناه نه ځان بچ کول دی .

الله تعالی هم فرمائی ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾

او تقوی کښے دوه خبرے دی.

## عبس کاراوګناه نه کول:

یو ګناه پریخودل او دویم نیك کارونه کول.

دخپل ځان د فائدې دپاره چې د دې میاشت تقدس چې کوم په

اسمانونو کښې وو هغه يامال نشى او انسان د دې د خير او برکاتو فوائدو نه محرومه نشى د دې د پاره دې ګناه نه لرې شى اونيکئ ته دې نزدې شى .

او بل انسان دا اوقات اولحظات په فضول اوعبس کارونو کښې تير نه کړى ځکه د دې مياشت سحر اومابنام ورځ او شپه الغرض هر وخت اوهره لحظه دخير اوبرکت نه ډکه ده نو انسان دې په کښې د خپل ځان خير طلب کړى داسې نه وى چې کله په تاش کښې مشغوله وى او کله په لهو کښې که تپوس ترينه وکړى چې داکار ولې کوې نو جواب به درکړى چې روژه ورباندې لنډومه.

فرض روژه ده او په عبس فضول کارونو ئې لنډه کوى په دې روژه کښې د قرآن تلاوت قرآن ته ناسته هغه اوريدل په دې نيکو کارونو باندې لنډول په کار وو خو افسوس دا دې چې دغه دخير اوقات نن په ګناه کښې ضائع کيږى څوک تى وى ته ناست وى څوک ګانې بجانې اورى ځکه نبى عليه السلام فرمائى چې الله ته هيڅ ضرورت نشته د دې انسان د خوراک څکاک پريخودوکښې .

نوچه د چا روژه کښے دا مقصد حاصل نه شى نو دے ته روژه نه وئيلے کيږى. بلکه دے هم هغه رنګه ګناهونو کښے مبتلاء وى.

نبى کريم ﷺ هم فرمائى چه څوك روژه کښے دروغ وئيل نه پريږدى نو الله تعالى ته د دۀ خوراك څکاك پريخودو هيڅ ضرورت نيشته.

الله تعالى دے مونږته په رمضان کښے دَ نيکو اعمالو کولو توفيق رانصيب کړى. امين

# تزکیه نفس او رمضان

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ (البقرة:١٨٣)

﴿وقال رسول الله: إِذا جَاءَ رَمَضَانُ، فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الجنَّةِ، وغُلِّقَت أَبْوَابُ النَّارِ، وصُفِّدَتِ الشَّيَاطِيْنُ او كما قال عليه الصلوٰة والسلام﴾

## دا نسان دپاره تسخير كائنات:

الله تعالى په زمکه باندې انسان ته اشرف المخلوقات وئيلے دے او ټول کائنا ت باندې الله تعالى انسان ته تسلط او اقتدار ورکړې دې او د انسان په خدمت کښې الله مشغول کړی دې . د دهٔ پاره ئې مسخر کړی دی نو ډير کم خلق به وی چې هغوی ته د دے د راز پته وی چې ولے الله تعالى انسان لره اشرف المخلوقات پيدا کړے دے او دهٔ ته ئې دومره لويه مرتبه ورکړے ده.

د انسان اقتدار اوظاهری مشری الله انسان ته ولې ورکړې ده د دې معلومات کول پکار دې او د دې بنيادې وجه او سبب پيژندل پکار دې .

## دَ اشرف المخلوقات کيدو سبب:

قرآن کريم او حديث د دے غټه وجه نفس قابو کول ښودلے دی .

د انسان د پیدائش سره الله انسان سره دوه زیاتی اضافی څیزونه پیداکړی دې .

یو انسان سره نفس دے او د نفس خواهشات دې نو بل خوا ته انسان پسې شیطان لرېدلے دے نو اوس د دۀ امتحان دے چې دے د الله تعالی فرمان برداری کوی او که د خپلو خواهشاتو او د شیطان اتباع کوی نو که دے دخپل پیدائش په مقصد روان شو چې هغه د الله تعالی بندګی ده .

د الله تعالی عبودیت اختیار کړی او خپل نفس او شیطان باندی غلبه قائم کړی اوپه خپل ژوند کښې د زندګ حقیقی مقصد چې الله په قرآن کښې بیان کړې دې ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

[الذاریات:٥٦]

هغه داچې الله فرمائی ما انسان او پیرې د خپل عبادت د پاره پیداکړی دې نو په دغه قانون خپل علمی ژوند اختیار کړی خپل رب اوپیژنی دهغه حقوق اوصفات په خپل ځان کښې پیداکړی .

او د الله تعالی د رضاکولو تلاش  شروع کړی نو دے په حقیقت کښې اشرف المخلوقات دے او هم دے کامیاب دے.

الله تعالی فرمائی ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا﴾ [الشمس:٩]

یعنې چاچې د خپل نفس تزکیه اوکړه او نفس ئې قابو کړو نو دے کامیاب دے ،او بالمقابل خلق دهغی بیان کوی.

او بیا فرمائی ﴿وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا﴾ [الشمس:١٠]

یعنې ناکامه دے هغه څوك چې خپل نفس ئې په خواهشاتو کښې

ډوب کړو.

## د نفس د قابو کیدو اسباب:

د دے نفس د قابو بهترینه ذریعه هغه روژه نیول دی .

په دے روژه کښې مقصد هم دا وو چې نفس ورسره قابو شې.

د دے نفس د قابو کولو دپاره درے کارونه کول پکار دی.

چې د دې انسان خواهشات قابو شی اونفس دباؤ شی او د الله رضا حاصلول په انسان دا سوچ فکر وی .

یو دا چې دے خپل لذتونه او شهوتونه کم یا ترك کړی نو نفس به ورسره کنټرول شی.

علماء وائی د دې مثال داسې دے لکه یوځناور شتر بې مهار سرکشه ځناور دې چې هغه په هر وخت کښې نقصان کوی نو د هغه په پوزه کښې پیزوان تیرسرې واچوی یا ورباندې خوراک کم کړی نو دغه ځناور بیاڅه نقصان نه کوی دغه مثال د روژې اونفس انسانی هم دې په دې سره قابوکیږی .

دویم دا نفس د الله تعالی په عبادتونو کښې مشغوله کول او د عبادت بوج پرے اچول چې دے مصروفه وی.

نو په روژه کښې هم عبادتونه په انسان باندې ډیر ګنړ وی دَ ورځې روژه بیا د شپې تراویح، ختم، ذکر فکر وغیره عبادات کوی نو په دې سره هم د انسان نفس قابو وی انسان تلاوت کوی نوافل اداکوی وغیره .

دریم دا چې هر وخت د الله تعالی د استحضار یقین وی.

انابت رجوع الی الله الله ته فریاد عاجزی کول د دې سره د انسان نفس

قابو کیږی .

اوس که اوکتلے شی نو دا دریواړه څیزونه په روژه کښې بدرجه اتم موجود دی.

د انسان په مزاج کښې الله تعالی دوه څیزونه کیخودے دي او دواړه د یو بل ضد دي .

یو روحانیت ملکیت او دویم حیوانیت بهیمیت .

روحانیت د فرشتو والا صفت دے او دویم د عام حیوانانو والا خصلت دے نو روحانیت د عباداتو تقاضه کوی او حیوانیت د خواهشاتو د تابعدارئ تقاضه کوی. اوس انسان به کامل مومن هله جوړیږی چې د روحانیت دا صفت په حیوانیت باندې غالب شی .

دروحانیت د غلبې سره انسان ته کمال حاصلیږی او د الله تعلق ورسره پیدا کیږی .

دا صفت هم په روژه کښې بدرجه اتم موجود دی.

ځکه دسحر نه ترماښام پورې خوراک څکاک نه وی دغه شان د انسان عبادتونه فکرونه ذکرونه د بدو خبرو نه ځان په حفاظت کښې ساتل انسان ته احساس د لوګے تندې کیدل .

## د روژې فلسفه اوحکمتونه:

دا رنګ د روژے بله فلسفه دا ده چې په دے روژے سره انسان کښې د غریب سړی د غمخوارئ احساس پیدا کیږی. چې په دے مالدار څه وخت د پاره لوګه تنده تیره شی نو دۀ ته به د غریب د اولږے احساس اوشی.

ځکه که ټول عمر انسان ته خوراک څکاک پریمانه وی نوبیا انسان لوګه تنده د دې احساس د چا د ضرورت احساس ورته نه کیږی .

دا رنګ طبی تحقیق دا دے چې په کال کښې د قسماقسم خوراکونو د وجے نه د انسان په جسم کښې فاسد رطوبتونه پیدا شی نو په دے یو میاشت کښې هغه رطوبتونه ختم شی.

دارنګ په روژه کښې یو قسمه تعلق د فرشتو سره پیدا کیږی. ځکه چې فرشتے هم خوراك نه کوی.

بله دا چې په روژه کښې په لوږے تندے باندې الله تعالی د انسان ګناهونه معاف کوی او د روژے دا مکمل وقت د دۀ په عبادت کښې شمارلے کیږی.

بله دا چې په روژے سره په مزاج کښې عاجزې او نرمې پیدا کیږی.

بله فائده دا ده چې څلیرش ګهنټے د انسان الله تعالی طرف ته توجه وی او د الله تعالی استحضار ئې په زړه کښې وی. ځکه چې تنده ورله راشی نو فورًا ورته الله تعالی رایاد شی چې زما خو د الله تعالی د رضا د پاره روژه ده . دا هغه ایمانی قوت دے او د الله تعالی استحضار دے.

## د سلمان فارسی رضی اللہ عنه حدیث:

سلمان فارسی فرمائی چې نبی کریم ﷺ مونږ ته د شعبان په اٰخری ورځ یو خطبه بیان کړه.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ " قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ فَرَضَ اللَّهُ صِيَامَهُ وَجَعَلَ قِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا ، فَمَنْ تَطَوَّعَ فِيهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ

**أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدَّى فِيهِ فَرِيضَةً كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً، وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ،وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ،وَهُوَ شَهْرُ الْمُوَاسَاةِ،وَهُوَ شَهْرٌ يُزَادُ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ فِيهِ،مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ عِتْقُ رَقَبَةٍ وَمَغْفِرَةٌ لِذُنُوبِهِ﴾**

يعني اے خلقو په تاسو باندې يو لويه عظيمه مياشت راغله چې د برکت نه ډکه ده او په دے کښې يوه شپه ده چې عبادت ئې د زرو مياشتو په برابر قبليږې او الله تعالى د ورځے عبادت فرض کړے دے او د شپے عبادت خو پکښې زياتی ثواب دے. چاچې پکښې نفل اوکړل نو دا به فرضو په ځاې قبليږی او يو فرض په اويا فرضو قبليږی او دا د صبر مياشت ده او د دے صبر سره دهٔ ته جنت ملاويږی.او دا د غمخوارئ مياشت ده او رزق پکښې فراخيږی نو چاچې په چا روژه ماتې اوکړو نو دَ دهٔ به ټول گناهونه الله تعالى معاف کړی.

يو صحابی اوفرمائيل چې که د چا د دے وس نه وی نو بيا؟ نونبی کريمﷺ ورته اوفرمائيل چې که د پيو لسی ياکهجوره يا يو گوټ اوبهٔ هم چاله ورکړی نو هم پرے دا ثواب ملاويږی.

الله تعالى دے مونږ ته په دے هر څه د عمل توفيق رانصيب کړی.

ومن الله التوفيق

تمت بالخير.

# په رمضان کښې توبه او استغفار

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النبي وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [تحریم:۸]

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ .

الله تعالى په قرآن كريم كښے د توبے طرف ته ترغيب وركړے دے. او بيا رمضان المبارك كښے خو د دے اهميت نور هم زيات شى ځكه چه اوله عشره د رمضان رحمت دے او دويمه مغفرت او دريمه د جهنم نه د خلاصى مياشت ده. نو كه د دے مياشت په شروع كښے هم يو كس د ګناهونو نه توبه اونه باسى نو داسے انسان ډير تاوانى دے.

بلكه په يو حديث كښے ورته جبرئيل امين خيرے كړے دى.

نبى كريم په منبر ختو نو درے ځله ئې امين اوئيلے نو صحابو ترينه وجه اوتپوسله نو نبى كريم ﷺ په هغه دريو خبرو كښے يوه خبره دا بيان كړه چه جبرئيل امين راغے او خيره ئې اوكړه چه هلاك دے شى هغه سړے چه د رمضان مياشت پرے تيره شى او دے په الله تعالى باندې ځان اونهٔ بخښى. نو ما پرے امين اوئيل .

نو كه دے حديث ته اوكتلے شى نو دا سخت وعيد لرى ځكه چه

خیرے د جبرئیل امین وی او امین پرے نبی کریم وئیلے وی نو د داسے دعا قبلیدو کښے هیڅ شك نیشته.

نوخلاصه دا چه د روژے میاشت لوے فضیلت والا میاشت ده او سخت مشقت دے او تعلق ئې ټول د الله تعالی سره دے نو د دے وجے نه الله تعالی فرمائی. ﴿اَلصَّوْمُ لِیْ وَاَنَا اَجْزِیْ بِهٖ﴾ [بخاری]

یعنې روژه خالص زما د پاره نیولے کیږی او زهٔ به په خپله د دے بدلے ورکومه.

اوس په رمضان کښے څه کول پکار دی؟

نود دے د جواب د پاره د نبی کریمﷺ سیرت تلاش کول پکار دی.

نو کله به چه رمضان شروع شو نو نبی کریم به قرآن کریم راواغستو او جبرئیل امین سره به ئې دور کوو.

د دے وجه دا هم وه چه د قرآن کریم تعلق د رمضان المبارك سره دے ځکه چه دا قرآن کریم په روژه کښے نازل شوے دے .

د دے تعلق د وجے نه یو حدیث کښے راځی چه نبی کریم فرمائی چه د قیامت په ورځ به قرآن د خپل وئیونکی او روژه د خپل نیونکی د پاره شفاعت کوی او د دے دواړو شفاعت نه رد کیږی.

دارنګ په دے میاشت کښے مالی تعاون پکار دے. ځکه چه په دے سره د غریب خیر خواهی او غمخواری پیدا کیږی.

دارنګ په دے میاشت کښے په کثرت سره الله تعالی ته توبه او استغفار اوباسۍ.

الله تعا لی د دے حکم کوی.﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْۤا اِلَی اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا﴾

[تحریم :۸]

يعنې اے مومنانو الله تعالی ته خالصه توبه اوباسئ نو د دے يوه فائده به داوی . ﴿يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ﴾

يعنې الله تعالی به ستاسو نه ستاسو ګناهونه اورژوی.

او دويم دا چه ﴿وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ﴾

يعنې تاسو به داسے جنت ته داخل کړی چه د هغے د ونو او بنګلو نه لاندې به نهرونه بهيږی.

او دا کارونه به په داسے ورځ کوی چه

﴿يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ﴾

يعنې په دغه ورځ به الله تعالی نبی کريم او مومنانو لره نه شرمنده کوی او د دهٔ د ايمان رڼړا به د دوی نه مخکښے روانه وی او دا دعا به غواړی.

﴿يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [تحریم :۸]

يعنې دوی به دا دعاغواړی چه يا الله دا رڼړا مې پوره کړے او ګناهونه راته اوبخښے ځکه چه ته په هر څيز باندې قادر ئے.

نوخلاصه داچه د دے عزتونو حاصلولو د پاره توبه ويستل پکاردی .

علامه ابن قيم فرمائی چه زه د توبے په حقيقت د يو واقعے نه پوهه شوم. هغه واقعه داده چه يوه ورځ ما يو ماشوم اوليدو چه مور پرے غصه وه نو د کور نه ئې بهر کړو او ور ئې ورته بند کړو نو دا ماشوم به بار بار راتلو او دروازه به ئې وهله خو مور ورته ور نه کهلاواو. په اخر کښے ستړے شو نو سملاستو او اودهٔ شو. مور ئې لږ ساعت بعد ورکهولاؤ کړو او ماشوم ئې په غيږ کښے راواخستو او خکل ئې کړو او دننه ئې بوتلو.

نو دارنګ د الله تعالی دربار کښې به هم په دے طریقے سره باربارتو به اوباسے او منت زاری به کوے.
د توبے د پاره اولنے شرط دادے چه ګناه ته به ګناه وائي.
دویم شرط دادے چه دا ګناه به پریږدي.
دریم دا چه د نه کولو مصممه اراده به اوکړي.
څلورم داچه که حقوق العباد کښے ترینه کوتاهی شوے وی نو د هغے دادائیګئ کوشش به کوی.
پنځم که حقوق الله وی نو د هغے د ادا کولو کوشش به کوی او توبه استغفار به کوی.
شپږم که د بنده مالی حق دے ضائع کړے وی نو هغه ته به هغه مال ورکوے نو هله به دے توبه قبلیږی.
او که مړ وو نو اولاد له به ئې ورکړی او هغه له به د الله تعالی نه توبه او استغفار غواړی نوچه کله په دے طریقے سره توبه اویستلے شی نو الله تعالی پرے ډیر زیات خوشحالیږی.
نبی کریم هم فرمائی
﴿لَلّٰهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ، سَقَطَ عَلَى بَعِيرِهِ، وَقَدْ أَضَلَّهُ فِي أَرْضِ فَلَاةٍ﴾[بخاری]
یعني الله تعالی د انسان په توبه باندې د هغه انسان نه هم زیات خوشحالیږی چه په ځنګل کښے د سورلئ د اوریکیدو نه بعد د هغے د ملاویدو نه نااميده شی او بیا دے اودهٔ شی او هغه ئې سرته ولاړه وی نو دے چه به په دغه وخت کښے څومره خوشحاله شی نو الله تعالی د دے نه زیات د بنده په توبے خوشحالیږی.
الله تعالی دے مونږ ته هم د صحیح توبے ویستلو توفیق رانصیب کړی. امین

# د روژے احکام

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!
فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔
﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ﴾(بقرہ:۱۸۵)
﴿وقال تعالیٰ: اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ (۱) وَمَآ اَدْرٰكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ (۲ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ (۳ تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ مِّنْ كُلِّ اَمْرٍ (٤) سَلٰمٌ هِیَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ (٥)﴾ (سورۃ القدر)
سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ .

## آخری عشره او فضیلت:

د رمضان المبارك اٰخری عشره داسے ده چې په دے کښې د جهنم نه اٰزادی ملاویږی.

انسان په ټول رمضان کښې خپل محنت کوشش کوی په دې آخری عشره کښې ډیر زیات محنت کول پکار دی بدقسمتی زمونږه دا ده چې په عامو ورځو که یو تاجر دکاندار په وخت دکان بند کړی او په کور کښې یا مسجد کښې څه عبادت وکړی نو دا ممکنه ده او کیدی شی خو په دې آخری عشره ځوان ماشوم وړوکې زنانه نارینه ټول سحر مابنام بلکې ټوله شپه د دنیا په کار کښې اخته وی الله ورته یاد نه وی نو شیطان په دغه قسم خلقو باندې ډیر کوشش کوی ځکه شیطان ته دا احساس شته دې چې دې انسان ته په دې عشره کښې د جهنم د اور نه

آزادي ملاويږي که شیطان محبوس یا بند دے نو د انسان نفس انسان لره په لالچ او حرص کښې مبتلا کړې دې .

دے آخرې عشرے ته الله تعالیٰ د نورو عشرو په نسبت لوے فضیلت ورکړے دے.

د فضیلت وجه داده چې یو خو په دے عشرے کښې اعتکاف هم یو سنت عمل دے.

دویم په دے کښې شپه د لیلة القدر ده چې ډیر لوے فضیلت لري.

دریم دا چې په دے عشره کښې د لیلة القدر په شپه باندې د قرآن کریم نزول شوے وو.

د دے څو وجوهاتو د وجے نه دے عشرے ته امتیازي شان حاصل دے.

## د جبرائیل علیه السلام بد دعا:

په یو حدیث کښې راځی .

چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په منبر ختو نو امین ئې درې ځله فرمائیلو نو دا ئې د دې وجې نه امین وئیلے وو چې جبرئیل امین خیرے کولے. په دغه خیرو کښې یوه خیره جبرئیل امین دا کړے وه چې الله تعالیٰ دے هغه سړے برباد کړي چې د رمضان میاشت پرے راشي او دے په الله تعالیٰ باندې ځا ن اونه بخښی . نو نبي کریم پرے امین اوئیل.

یو دا چې د نبي علیه السلام ذکر په مجلس کښې اوشي او دا انسان ورباندې درود شریف اونه وائی او یو دا چې یو انسان مور او پلار په آخرې عمر کښې لاندې کړي او مغفرت ورته اونشي .

دے روایت ته که اوکتلے شي نو ډیر سخت وعید پکښې دے

ځکه چې خيرے د جبرئيل وی او امين پرے نبی کريم اووائی نو په قبليدو کښې ئې هيڅ شك نيشته.

او دا د دې وجې نه چې په دې رمضان کښې الله خپل بنده ته د مغفرت ډيرې زياتې مواقع فراهم کړې دی که انسان لږ ډير د الله دَ راضی کولو کوشش کوی نو يقينا الله به دې انسان ته بخنه مغفرت کوی.

او بيا آخری عشره د دې مثال داسې دې چې يو انسان ته عهدې تقسيم کوی آواز لګوی نو په آخر کښې چې کومې عهدې پاتې شی دا انسان آواز کوی چې دا آخری عهده که کوم انسان حاضری اونه کړه نو بيا به محرومه وی.

نو آخری عهده که کم انسان حاضری اونه کړه بيابه محرومه وی نو آخری عشره کښې هم د الله د طرف نه ډيرې لوې غټې عهدې تقسيمېږی اعتکاف، ليلة القدر، ليلة العيد نو يقينًا دغه بيا بدبخته انسان دې.

چې په داسې موقع هم دا انسان د الله د رحمت د الله د جنت نه محرومه پاتې شی سره د دې نه چې الله د خپل کمزوری عاجزه بنده د مغفرت د پاره بهانې لټوی.

چې دې انسان ته په څه طريقه خپل رحمت متوجې کړی کم از کم انسان ته د اورځې شپې په دې کښې غفلت نه دی کول پکار تراويح نوافل دې ورسره په څه طريقه ادا کوی .

نو څومره چې اهمے ورځے شپے دی نو دومره خلق د دے نه بے پرواهی کوی.

پکار خو دا وو چې تراويح پابندۍ سره کيدلے او د تهجدو اهتمام هم کيدے چې د شب قدر د برکاتو نه مستفيد شوے وے.

## د روژې څه احکامات:

په هيره باندې خوراك سره روژه نه ماتيږی.

دارنګ خوشبو سره روژې ته نقصان نه رسی بلکه په روژه کښې فرشتے راکوزيږی نو د دے اهتمام پکار دے.

دا رنګ لوګی او دوړے سره هم روژه نه ماتيږی، هاں د سيګريټ استعمال سره روژه ماتيږی.

دارنګ سرمے او رنجو اچولو سره هم روژې ته نقصان نه رسی.

دارنګ بعضې خلق د مسواك استعمال مکروه ګڼړی خو دا خبره صحيح نه ده ځکه چې په مسواك سره خو د غاښونو بدبو ختميږی او هغه فضيلت والا بوئ خو د معدے نه راځی.

## دا نسان د بدن څلور مقامات:

دارنګ په انجکشن او ډرپ سره هم روژه نه ماتيږی.ځکه چې د انسان په جسم کښې څلور جوفونه دي.

يو معده ده، دويم حلق دے، دريم کولمے دی او څلورم دماغ دی.

دے خلاګانو ته ځانله د تلو لارے دی.

لکه دا ميډيکل تحقيق او ريسرچ دې او ميډيکل او دين خپلو کښې سره لوې تعلق ساتی دين او سياست اسلامی دا يو څيز دې اګر خلقو په دې قسم قسم فرقونه کوی چې دين د سياست نه جدا کړی شی حال دا

دې چې دين او سياست لازم او ملزوم دې دا سيکولر سوشلټ خلقو آواز دې چې دين جدا څيز دې سياست جدا څيز دې بهر حال ډاکټری تحقيق د دی .

لارے دا دی. خولے ، پوزه ، غوږ او سبيلين

اوس دا مسئله ياد ساتئ چې د غے څلورو جوفونو ته که په دے څلورو لارو څه څيز لاړ شی نو روژه ورسره ماتيږی او که داسې نه وی نو روژه ورسره نه ماتيږی. نو په انجکشن سره او ډرپ سره هم روژه نه ماتيږی که په رګ کښې وی او که په غوښه کښې وی.

ځکه دې څلورو څيزونو ته د دې لاره نشته دې .

## مسائل د اعتكاف:

اعتکاف سنت موکده علی الکفايه دے نو که يو کس هم د محلے نه کيښناستو نو د ټولے محلے غاړه پرے ازاديږی او که يو هم اونکړو نو ټوله محله به پرے ذمه داره وی .

نبی کريم په مدينه کښې لس کاله پرله پسې په هر رمضان کښې اعتکاف ته ناست دے.

يو موقع کښې ئې پريخودے وو او د هغے وجه دا وه چې د نبی کريم نه په دغه موقع يو بی بی د اعتکاف دپاره اجازت اوغوښتونو نبی کريم اجازت ورکړو . نورے بيبيانے چې خبر شوے نو هغوی هم ټولے اعتکاف ته ځان له ځايونه جوړ کړل .

نبی کريم چې راغے او دا حالت ئې اوليدو نو غصه ورغله او اعتکاف ئې اونکړو بيائې د شوال په مياشت کښې نفلی اعتکاف اوکړو.

دې پرېښودود کښې څه حکمتونه دی کیدې شی که نبی علیه السلام په دغه موقع اعتکاف کولی نو په امت به واجب شوې وې یا نور څه عوارض به مخې ته راغلې وې نو اعتکاف لکه څنګه چې په نارینه باندې شته دغه شان زنانه هم اعتکاف اداکولې شی فرق دا دې چې سړی به ئې په مسجد کښې او زنانه به ئې د کور په جماعت کوم ځاې کښې چې مونځ کوی یا یو خاموشه طرف وی په هغې کښې ادا کوی بعض خلق وائی چې دَ ښځو اعتکاف نشته اوکه بالفرض شته دې نو بیا به ئې په مسجد کښې اداکوی خو حقیقت دا دې چې د دې بعضې خلقو فقاهت نه وی ځکه که په دې زمانه کښې اجازت ورکړی شی زنانوؤ ته د اعتکاف په مسجدونو کښې نو بیا د دې معاشرې د خلقو د فساداتو د وجې نه دا د خیر خبره کله شر ته اوځی نو دغه وجه ده چې زنانه په مسجد کښې د مونځ نه منع کړې شوې چې کله مکمل د پردې نظام نه وی او په دې اجماع شوې ده د ټولو صحابو په موجودګۍ یو صحابی دا اعتراض نه دې کړې نو په زنانه فرض عبادت د مصلحت د وجې نه بند کړې شو او مونږه یو سنت عمل که د هغې په باره کښې دا حکم هم د دغه مصلحت د وجې نه ورکړو نو بیا نه منل کیږی .

## د اعتکاف اقسام:

اعتکاف درے قسمه دے.

یو واجب اعتکاف دے.

دویم سنت دے.

دریم نفل اعتکاف دے.

واجب اعتکاف نذر اعتکاف ته وئیلے کیږی او شرط پکښې دادے چې روژے به هم ورسره نیسی.

دویم اعتکاف سنت دے او دے نه مراد رمضان والا اعتکاف دے.

دې ته سنت علی یالکفایه اعتکاف وئیلی کیږی .

دریم نفلی اعتکاف دے او دے د پاره ورځ هم شرط نه ده او روژه هم . یو ګنټه هم د اعتکاف نیت کولے شی لکه یو کس جمات ته راشی او د مانځه پورے د اعتکاف نیت اوکړی نو د نفلي اعتکاف ثواب ئی کیږی.

## د اعتکاف مقصد:

د اعتکاف مقصد دا نه دې چې انسان یو طرف ته کینی ذکر یا استغفار وکړی ځکه دا خو په عامو ورځو کښې هم یو انسان کولې شی .

د اعتکاف مقصد دا دے چې د دنیا نه کټ کیدل دی او په ځان نظر اچول دی چې ما کښې څومره کمې دي او چې څومره کوتاهی رانه شوے ده .

ما په دې ټول کال کښې څومره ګناهونه کوتاهۍ او معصیتونه کړی دی .

نو چې په هغے استغفار اووئیلے شی او آئنده د نیك کارونو کولو عهد اوکړی.

دا رنګ معتکف خپل اوقات د ذکر، تلاوت، دعاګانو، مسائلو کتلو د پاره تقسیم کړی.

د اعتکاف حدود هغه ځایونه دی چې پکښې مونځ کیږی. نو د اودس ځایونه، لائبریری، باتهه روم وغیره د دے حدودو نه بهر دی نو اعتکاف به ورسره فاسدیږی.

دا رنګ د لاس ونځيلو او توکانړو توکلو د پاره هم دے د اودس ځاې ته نشي ورتلے.

دارنګه بغير د حاجت ضروريه نه به دا انسان غسل لامبل نه کوی او حاجت ضروريه جنابت دې يعنې د جنابت نه بغير د بل څه د پاره غسل نه شی کولې يا د ځان د يخوالی د پاره يا بغير د ضرورت نه .

## د قضاء عمری مونځ حقيقت:

دا رنګ په رمضان کښې په جمعة الوداع باندې قضاء عمری کوی. او دا د دے د پاره کيږی چې د ټول عمر د مونځ کوتاهی پرے معاف کيږی.

او دا بدعت نن صبا جاهله کم ظرفه خلق ډير په اهتمام سره کوی په دين اسلام کښې د دې څيز هيڅ څه حقيقت نشته دې دا يو خود ساخته طريقه ده .

دا خبره د شريعت نه د سره ثابت نه ده بلکه تمامو علماء ديوبند دے عمل ته بدعت وئيلے دے. او د بدعتی ځائې جهنم دے.

دويم نقصان د دے دا دے چې په دے سره خو بيا انسانان ډاډه کيږی او په مونځ باندې د اهتمام به هيڅ حيثيت پاتے نشی .

او حقيقت دا دې چې يو انسان قضاء مونځ ترڅو پورې قضاء کړې نه وی نو د دې انسان د ذمې نه نه ساقطيږی دا به په دې انسان باندې راګرځول ضروری او لازم وی .

الله تعالیٰ دے مونږ ته په صحيح دين باندې د عمل توفيق رانصيب کړی. امين

# ختم تراویح

**اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔**

**﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن كَانَ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾**

**(بقرہ:۱۸۵)**

**وقال رسول الله ﷺ: مَنْ صَامَ رَمضانَ اِيْمَانًا وَاِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ.(بخاری)**

## عملی ژوند:

په دے موضوع باندې د بیان کولو نه مخکښې دا خبره ذهن کښې اوساتئ چې بیان اوریدل هغه خوند کوی چې د عمل په نیت سره واؤریدلے شی.

امام مالك رحمة الله علیه فرمائی **لَا اُحِبُّ الْكَلامَ اِلَّا تَحْتَهٗ عَمَلٌ.**

یعنې زه بیان هغه خوښوم مګر چې په هغے باندې مي بیا عمل هم وی.

ځکه د تقریر او بیان مقصد عمل دې که عمل نه وی نو بیا بیان ته ضرورت نشته اوکه مقصد عمل بغیر د بیان نه حاصل شی نو بیا هم که بیان نه وی نو نقصان نه دې .

خو فائده به ئې داوی چې د بیان سره به انسان ته یاد دهانی کیږی .

د رمضان په باره کښې نبی کریم فرمائی:

## د همیشه رمضان تمنی:

چې که چرے امت ته د رمضان د اجرونو پته اولګی نو دوی به د دے د همیشه کیدو ارمان اوکړی.

ځکه د دې اجر وثواب دومره زیات دې چې مسلمان ته هیڅ یو د خیر کار نه دې پرېخودل پکار نو په دې میاشت کښې الله بندګانو ته دومره بدلې اجرونه او ثوابونه مقرر کړی دی دا بله خبره ده چې مونږه ته په سترګو نه ښکاری نو پټ څیز انسان ته بې قدره وی خو کامل مومن چې په قرآن او حدیث ئې ایمان وی هغه به په دې کلک مضبوط یقین کوی .

دا رنګ یو بل حدیث کښې نبی کریم فرمائی

﴿مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِیْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَلَهٗ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ﴾

یعنې څوك چې د رمضان روژے په ایمان سره اونیسی او په دے کښې د خپل نفس سره محاسبه کوی نو دۀ ته به د دۀ ټول مخکنی ګناهونه معاف کړے شی.

## د رمضان دوه شرطونه:

نو مطلب دا چې اول شرط عقیده او ایمان درست کول دی.

ځکه دا د عمل د قبلیدو د پاره بنیادې اهم شرط دې .

او دویم شرط دا چې ریا او سمعت او ښودنه به پکښې نه وی.

دویمه معنی د احتساب دا چې دے به د خپل ځان سر ه د ټول کال احتساب اوکړی چې څومره مې نیکئ کړے دی او څومره مې ګناهونه کړې دی او بیا به دا عهد کوی چې څه رنګه صفات مې په روژه کښې

خپل کړے وو نو په راتلونکو میاشتو کښې به هم دا حالت برقرار ساتم. آئینده ټول کال کښې چې کم عمل کوی نو د رمضان د عمل په شان به ئې کوی .

که داسې نه وی او د روژے په حالت کښې هم د ګناهونو ارتکاب کوی او حرامو کارونو کښې مبتلاء وی ، پردی غیبتونه کوی ، دروغ وائی ، چغلی کوی، په کاروبارونو کښې یو بل له دهوکے ورکوی نو د داسے روژے په باره کښې نبی کریم فرمائی.

﴿ فليسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ أنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وشَرَابَهُ ﴾ (بخاری)

یعنې الله تعالیٰ ته د دے هیڅ ضرورت نیشته چې دۀ په رمضان کښې خوراك ، څکاك پریخی دی.

الله تعالیٰ دے مونږ د رمضان د برکاتو نه محروم پاتے نکړی.. امین

# د رمضان جمعة الوداع

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّآ اَنْزَلْنَاهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ (١) وَمَآ اَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ (٢) لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ (٣) تَنَزَّلُ الْمَلَآئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ مِّنْ كُلِّ اَمْرٍ (٤) سَلَامٌ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴾ (سورۃ القدر)

﴿وقال تعالى: وَتُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (نور:٣١)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ .

## د ګناه د معاف کيدو مياشت:

الله تعالی ډير رحيم ذات دے نو د مهربانۍ د وجے نه الله تعالی په ثابت کال کښے يوه مياشت داسے مقرره کړے ده چه په هغے کښے الله تعالی د نيکو سيل لګولے وی . ځکه چه ثابت کال د الله تعالی نافرمانی اوکړے شی نو د هغے ګناهونو د کفارے د پاره الله تعالی دا مياشت او د دے روژے فرض کړی دی چه د دوی ګناهونه ورسره معاف شی.

د الله بله مهربانی دا ده چې په دې سخته ګرمۍ کښې دروژې توفيق ورکړی او دا نيک بختی به هم وی چې د هغوی روژو به د الله په دربار کښې شرف قبوليت حاصل کړی وی او ډير کم بخته بدبخته به داسې هم وی چې د هغوی د صحت مند بدن طاقت ورجسم سره سره به د روژې د فضيلت نه محرومه وی .

دا د الله تعالى خصوصى فضل وکرم دے چه د انسان د معاف کولو د پاره بهانے لټوی او د روژے ټول اوقات الله تعالی د خیر اوبرکت نه ډك کړځولے دی.

د دې میاشت هره لحظه هره موقعه د الله دعبادت د پاره وی دَ ورځې روژه او په شپه کښې تراویح بیا قیام اللیل او نور عبادت کښې انسان مشغوله وی په دې ټولو اوقاتو کښې بنده خپل رب ته ډیر نزدې کیږی او لکه څنګه چې روژه میاشت راتلل د نیک بخته بندیګانو د پاره خوشحالی وی نو بیا دا خیر او برکتونه ختمیدل په دغه نیک خلقو باندې لوې غم اومصیبت وی .

## د تاوان واله بنده:

اوس غټ نقصان والا هغه سړے دے چه د رمضان د مبارکه میاشت پرے تیره شی او دے په الله تعالیٰ باندې ځان اونه بخښی.

دا انسان چې خومره ژړه وکړی اوخکې توی کړی توبه استغفار وکړی نو بیا به هم ډیره کمه وی چې د الله رحمت ته په دې میاشت کښې نظر وکړی .

او بیا په دې آخری عشره کښې لوې فضیلت دا دې چې نو بیا په دغه عشره کښې ئې ورته لیلة القدر شپه مقرره کړې ده .

## د آخری عشرې فضیلت:

بیا په دے رمضان کښے یوه شپه داسے ده چه الله تعالی داصرف د دے امت خصوصیت ګرزولے دے. چه دے ته لیلة القدر وئیلے کیږی نو

په دے شپه جبرئیل امین سره د نورو فرشتونه زمکے ته راکوزیږی او عبادت کونکو انسانانو سره ملاویږی او دعاګانے ورته کوی.

دا رنګ د دے یوے شپے عبادت د زرو میاشتو په عبادت قبول دے په دې شپه کښې الله په سورة قدر کښې بیان کړې دې ﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ﴾ یعنې د دے نه تقریبا درې اتیا کاله جوړیږی. نو د یوے شپے عبادت دومره اجروثواب ملاویږی.

درې اتیا کاله عمر په ډیره مشکله انسان ته ملاویګی په سلونو کښې یو نیم انسان ته الله دا عمر ورکوی ځکه نبی علیه السلام فرمائی زما د امت درمیانه عمر تقریبا شپیته یا اویا کاله پورې به وی غالبًا داسې وی په دې امت کښې.

او دا ځکه چه مخکنو امتونو عمرونه ډیر وو نو هغوی عبادت به هم زیات کوو نو ذهن ته دا یو سوال راتلو چه هغوی خو به زمونږ د دے امت نه په ثوابونو کښے زیات وی نو د دغے سوال د ازالے د پاره الله تعالیٰ دا شپه مقرر کړه چه که څوك دا شپے رونړے کړی نو د هغوی نه هم زیات ثواب حاصلولے شی.

که یو نیک بخته انسان ته په لس کالو کښې هم دغه شپه ملاؤ شی نو ډیره دَ خوش قسمتیِ خبره ده یو عوامی سوچ وی هغه دا چې ونې سجدې کوی او ستوری روښانه وی یا نوری ډیرې خبرې مشهورې دی خو دا علامه چې په طاق ورځو کښې به وی دا علامه په احادیثو کښې ذکر شوې وه .

دا مسئله هم د یاد ساتلو ده چه نبی کریم فرمائیلے وو چه دا د

رمضان د اخري شپے په طاق شپو کښے اولټوئ.

نو د لټولو مطلب دا دے چه په دے کښے په مختلفو طریقوسره د الله تعالی عبادت اوکړئ.

د دے شپے د پټولو حکمت دا وو چه که چرته الله تعالیٰ دا ښکاره کړے وے نو بیا به خلقو صرف د دے شپے عبادت کولو او نورو ورځو کښے به ئې د عباداتو اهتمام نه کولو نو الله تعالیٰ دا شپه د دے وجے نه پټه کړه.

## د شب قدر دعا:

نو په دے شپه دا دعا په کثرت سره وئیل پکار دی.

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيْمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي(ابن ماجة)

یعني اے الله تعالیٰ ته عفو کونکے او عزتمند ئے نو ته عفو خوښوے نو یا الله تعالیٰ ماته زما ګناهونه معاف کړے.

## د صدقه فطر احکام او مسائل ضروریه:

صدقه فطر:

دې ته سرسایه وائی د دې حکمت څه څیز دې حکمت ئې څه دې دا په اصل کښې د دې سړی د سر صدقه ده چې د ټول کال د نعمت شکریه ادا کړی او بیا په رمضان کښې ئې ځکه مقرر کړې ده چې د ټول کال فیصلې په دې شپه کښې کیږی اوس چې کله دا شپه په دې سړی راشی نو آئینده کال به دا انسان یا ژوندے وی او یا به مړ وی نو په دواړو صورتونو کښې د انسان فائده پکښې ده .

بیا مسئله د صدقه فطر هم اهمه ده.

نو صدقه فطر د دے وجے نه ورکولے کیږی چه که چرته په روژو کښے رانه څه غفلت شوے وی نو دا به د هغے په ځاې کفاره جوړه شی.

صدقه فطر په ماشوم اولوے ټولو باندې لازم ده. نو که یو ماشوم په دغه ورځ د صبح صادق نه مخکښے پیدا شو نو هم به پرے سرسایه کیږی.

دا صدقه فطر سرسایه په صاحب نصاب یعنې څوک چې زکوة ادا کوی په هغه خلقو باندې واجبیږی خو فرق دا دې چې زکوة صرف انسان د خپل مال نه اداکوی او سرسایه د هر بنی آدم ماشوم او غټ نه اداکول لازم دی که یو انسان په دغه ورځ د سحر نه مخکښې پیدا شی نو لازم صدقه فطر ده اوکه په دغه ورځ د صبح صادق نه مخکښې مړ شی نو بیا نه ده لازم اوکه بعد کښې مړ شی نو بیا لازم ده صدقه فطر .

د صدقه فطر نصاب پنځه څیزونه دی.

یو سرۀ زر چه کله ساړهے سات تولے سونے ته رسی.

دویم چاندی ده چه ساړهے باون تولے چاندی ته.

دریم نقدی ده چه ساړهے باون تولے چاندیۂ قیمت ته رسی.

څلورم مال تجارت دے چه د ساړهے باون تولے چاندئی قیمت ته رسی .

پنځم د مال ضرورت نه علاوه مال چه کله د ساړهے باون تولے چاندئ قیمت ته رسی نو په ده به هم سرسایه ورکول لازمی وی.

دا نصا ب نصف صاع غنم دی چه تقریبا پو باندې دوه کلو جوړیږی. او د کجورو، کشمش وغیره نصاب پوره صاع دے. نو غریب به د غنمو نصاب ورکوی او مالدار به دا دویم نصاب ورکوی.

الله تعالی دے مونږ ته د صدقات واجبه سره سره د صدقات نفلیه ورکولو هم توفیق رانصیب کړی. امین

# اعتکاف

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿عَنْ عَائشة رضی اللہ عنہا اَنَّ النَّبِيَّ صلی اللہ علیہ وسلم كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْاَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتّٰى تَوَفَّاهُ اللهُ ثُمَّ اعْتَكَفَ اَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهٖ اَوْ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ السَّلَام﴾ (صحیح مسلم)

## د نبی صلی اللہ علیہ وسلم اعتکاف:

د رمضان المبارك سره الله رب العزت ډېر عبادات تړلي دي په دغه عباداتو کښې يو اعتکاف هم دے اعتکاف څه ته وائی؟ د دې شرائط اداب څه دی څه اهميت او فضيلت لری او د دې مقصد څه دے ځکه عائشه رضی اللہ عنہا فرمائی:﴿اَنَّ النَّبِيَّ صلی اللہ علیہ وسلم كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْاَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ﴾

نبی صلی اللہ علیہ وسلم به د رمضان په اخری عشره کښې اعتکاف کولو ﴿حَتّٰى تَوَفَّاهُ اللهُ﴾ تر دې چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم د دنیا نه رخصت شو یعنې وفات شو یو بل روایت کښې راځی صحابی فرمائی چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم په مدینه کښې لس کاله تیر کړې دې او هر کال نبی صلی اللہ علیہ وسلم په رمضان کښې اعتکاف کړے دے په اخری کال نبی صلی اللہ علیہ وسلم اعتکاف شل ورځے کړے وو د هغے وجه دا وه چې یو اعتکاف نبی صلی اللہ علیہ وسلم د ائنده راروانے میا شت کړے وو او دویم اعتکاف وجه دا وه چې نبی صلی اللہ علیہ وسلم د اعتکاف د پاره په مسجد کښې خپله خیمه اولګوله په دې وخت یو بی بی د نبی صلی اللہ علیہ وسلم راغله او د هغوی نه د اعتکاف د پاره ئے اجازت طلب کولو نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته اجازت ورکړو نو هغے بی بی خپله خیمه په مسجد کښې اولګوله نورے بیبیانے چې خبر شوے نو

هغوی ورسره هم خپلے خیمے په مسجد کښې اولګولے نبیﷺ چې دا حالت اولیدو نو حکم ئے اوکړو چې تاسو دا ټولے خیمے اوباسئ او زما خیمه هم ورسره لرے کړئ ځکه دا کال زۀ اعتکاف نه کومه نو بیا راروان کال نبیﷺ د تیر کال واله اعتکاف قضا راوګرځوله او د دې وجے نه نبیﷺ شل ورځې اعتکاف کړے وو.

په دې حدیث کښې ام امومنین د اعتکاف د ادا کولو تسلسل ذکر کړے دے چې نبیﷺ اعتکاف کړے وو د هغۀ نه بعد د هغۀ بیبیانو دا د اعتکاف سلسله جاری ساتلے وه نو اعتکاف د نبیﷺ مسلسل د پابندئ واله سنت دے.

## د اعتكاف فضيلت او مقام:

بل حدیث د ابن ماجه کښې راځی چې نبیﷺ د معتکف اعتکاف کوؤنکی باره کښې دا خبره کړے وه چې ﴿ **هُوَ يَعْتَكِفُ الذُّنُوبَ** ﴾ دا انسان خپل ځان د ګناهونو نه ساتی ځکه دا انسان چې په مسجد کښې ناست وی نو د ګناه د ماحول نه په حفاظت او امن کښې وی او بیا فرمائی چې: ﴿ **وَيُجْرَى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كلها** ﴾ الله به دې انسان لره دا اجر او ثواب جاری ساتی لکه څنګه چې یو نیکو کار انسان خپله نیکی همیشه ساتی مطلب اعتکاف کوؤنکے په اعتکاف سره د باهر واله ټولو ګناهونو نه هم محفوظه وی او دغه شان چې کومه نیکی باهر کیږی لکه خیرات مسکین لره ورکول یا د یو غریب سره بوج او بار اوچتول یا څوك د ګناه د کار نه بچ کول نو دا اعتکاف واله اګرچه د اعتکاف په دوران کښې دا نیکیانے نشی کولے خو بیا هم الله دۀ ته د دې پوره اجر او ثواب د دغه نیکی کوؤنکی ورکوی بغیر د څه مشقت نه ورته الله دا بدله ورکوی دا د اعتکاف فضیلت او مقام دے.

## د اعتکاف معنی:

او اعتکاف څه ته وائی د اعتکاف تعریف څه دے د عکوف معنی ده په یو ځائے کښې ځان لازم کولو ته اعتکاف وئیلے کیږی او دې ته اعتکاف ځکه وائی چې معتکف خپل ځان په جماعت پورې لازم کړے دے خو شرط دا دے چې نیت د اعتکاف به ورسره وی که یو انسان بغیر د نیت د اعتکاف نه په مسجد کښې ناست وی نو دا اعتکاف نه دے اګرچه اجر او ثواب د دې هم شته دے خو دا شرعی اعتکاف نه دے.

## د اعتکاف درے قسمه:

د اعتکاف درے قسمه دی یو واجب اعتکاف دے دویم سنت اعتکاف دے چې یو انسان په خپل ځان باندے نذر اومنی چې که الله زما دا کار اوکړو نو زه به یو ورځ ، دوه ورځے، هفته یا میاشت اعتکاف کومه نو دا په دې انسان د دې سره واجبیږی دا خبره یاد ساتل پکار دی که څوك د اعتکاف نذر اوکړی نو په دهٔ باندے د دې سره سره روژے هم واجبیږی ځکه شرعی واجب اعتکاف بغیر د روژے نه نهٔ کیږی که دغه نذر اعتکاف په روژه کښې ادا کوی اوکه دغه نذر اعتکاف بغیر د روژے نه ادا کوی مطلب د رمضان میاشتے نه بعد اعتکاف کوی نو ورسره به روژے نیسی دویم اعتکاف سنت اعتکاف دے چې هغه د رمضان په اخری عشره کښې ادا کیږی نبیﷺ هم دا اعتکاف کړے دے او تر قیامته پورے به جاری وی د دې حکم دا دے چې دا اعتکاف سنت مؤکده علی الکفایة دے مطلب دا چې اهم او ضروری سنت دے خو په بعضو خلقو باندے، په ټولو باندے ضروری نه دے محله کښې به جامع مسجد کښې به یو کس یا دوه کسان خامخا دا اداء کوی د دې د پاره چې دا نور خلق ورسره د ګناه نه بچ شی او که په مسجد کښې یو کس هم نه

وی نو تړوله محله ګناه ګاره ده خو د دې د پاره شرط دا دے چې دا به د شلم رمضان نه شروع کیږی د ماښام مانځه نه مخکښے به په نیت د اعتکاف سره په مسجد کښې پاتې کیږی او د اختر په شپه به د اعلان کولو نه بعد د مسجد نه باهر ته اوځی دا به لس ورځې وی یا به نهه (۹) ورځے وی.
دریم قسم اعتکاف نفلی اعتکاف دے چې د هغے د پاره د څه وقت مقدار نشته چې څو ورځے به وی یا څو میاشتے به وی دا مقدار پکښے نشته او د دې د پاره روژه هم شرط نه ده که روژه وی او که نه وی دا انسان د اعتکاف په نیت مسجد ته راتلے شی .

## د سنت اعتکاف شرائط:

او بل سنت اعتکاف د پاره څه شرطونه دی یو دا چې نیت د اعتکاف به وی دویم شرط مسلمان به وی کافر عیسائی په خپله ګرجه کښې اعتکاف نشی کولے دریم عاقل کیدل لیونے بےعقله باندے اعتکاف نشته څلورم په حالت د جنابت کښې به نه وی پنځم دا چې کوم ځائے د ناستے د پاره دے دغه ځائے به شرعی مسجد وی که یو انسان د مسجد نه باهر په مدرسه یا خانقاه کښې اعتکاف کوی نو دغه اعتکاف د دهٔ نه کیږی ځکه شرعی مسجد نه دے قرآن کښې راځی:

﴿وَاَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ (بقره:۱۸۷)

چې تاسو په مسجدونو کښې اعتکاف کونکی ئے. که یو سړے نارینه په خپل کور کښې اعتکاف کوی نو د دهٔ اعتکاف نه کیږی او مسجد نه مراد هغه مسجد دے چې کم از کم پنځه وخته مونځ پکښے اداء کیږی بعضے مساجد داسے وی لکه کارخانه، مارکیټ ، بازار واله مساجد په دې کښې که پوره مونځونه نه کیږی نو بیا په دې کښې اعتکاف نه صحیح کیږی. ځکه دا شرعی مسجد نه دے، شرعی مسجد

هغه دے چې د مسجد په نوم باندے وقف شوے وی او پنځه وخته مونځ پکښے اداء کیږی که د جمعے د ورځے مونځ په کښې نه کیدو بانډه یا صحرائی علاقه وی خو پنځه وخته مونځ په دغه مسجد کښې په پابندے سره ادا کیږی نو هم په دې کښې اعتکاف صحیح کیږی د جمعے مانځه د پاره به د بلے علاقے جامع مسجد ته ځی بل شرط دا دے چې سنت او واجب اعتکاف د پاره روژه نیول شرط ده بغیر د روژے نه واجب او سنت اعتکاف نه صحیح کیږی بل دا چې مسجد کښې به دننه مقیم وی باهر ته به نه اوځی که د اودس ماتی یا اودس نظام په مسجد کښې نه وی نو بیا به باهر دومره وخت به تیروی چې اودس پکښے اوکړی دوباره به مسجد ته راځی دا انسان باهر به وخت نه تیروی. په مسجد کښې چې کومه کمره وی اعتکاف کوؤنکے به دغه کمرے ته نه ځی ځکه دا شرعی مسجد نه دے اګرچه عرفی مسجد دے په مسجد کښې چې د چهت د پاره پوړے وی نو معتکف به دغه ځائے کښې کینی او پاسی نه بغیر د ضرورت نه ځکه دا هم مسجد شرعی نه دے.

## د اعتکاف نور څه مسائل:

معتکف د مسجد نه باهر د څه څیز د پاره اووتلے شی نو یو انسان د اودس د پاره باهر طرف ته تلے شی دغه شان که د غسل کولو ضرورت وی نو هم د مسجد نه باهر ته تلے شی که په یو مسجد کښې د جمعے مونځ نه کیږی نو د جمعے مونځ د پاره بل مسجد ته تلے شی هاں د جمعے مونځ نه بعد به فورًا دوباره خپل مسجد ته راځی.

معتکف ته د اعتکاف په دوران کښې څه کارونه کول پکار دی د خلقو سوچ دا وو چې اعتکاف کوؤنکے د مسجد په یو ګټ کښې به ناست وی او نور څه به نه کوی دا یاد ساتے اعتکاف صرف دا نه دے

اعتکاف دا لس ورځے به انسان کور ،تجارت، دکانداری به پریږدی او په مسجد کښې به ذکر تلاوت کوی لس ورځے تیری کړی او بیا کور ته ځی نو دا انسان د اعتکاف د مقصد نه خبر نه وی د اعتکاف مقصد دا دے چې انسان لس ورځے د دنیا نه راجدا شی او په مسجد کښې پوره دین باندے عمل کول او د هغے د پاره سوچ فکر ورسره پیدا شی بل دا مقصد چې اعتکاف یو تربیت دے څنګه چې انسان لس ورځے د مسجد سره تعلق لری نو دغه شان به ټول عمر د مسجد نه، نه جدا کیږی او د اللّٰه د کور سره به تعلق ساتی بل دا چې انسان به په دی کښې خپل ځان د نفلی عباداتو سره اموخته د امام او خطیب دا ذمه داری ده چې خلقو ته د اعتکاف اداب، شرائط، عبادات د هرڅه تعلیم ورکړی او د دې دا اعتکاف یو معنی لرونکے او جاندار اعتکاف جوړ شی دې د پاره چې که یو انسان د جماعت نه دوباره کور ته ځی نو د خپل ځان سره څه نه څه ثواب خو واخلی تش خالی لاس واپس نشی.

خطیب امام صاحب لره پکار دی چې په اعتکاف کوؤنکو باندے قیام اللیل، درس حدیث، په یو ځائے کښې مونځ، ترجمه، مسائل احکام، عقیده زده کول، مطالعه کول، مسنون اذکار زده کول، د قرآن تلاوت کول، د سیرت بیانول، نوافل بیانول او اداء کول، د لیلة القدر فضیلت بیانول، د جمع سره د مونځ اهمیت ښودل، د مسجد اداب زده کول، د وحدت امّت تعلیم ورکول وغیره ورباندې لازم کړی.

والحمد للّٰه رب العالمین.

# بیان اعتکاف

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿عَنْ عَائشۃ رضی اللہ عنہا اَنَّ النَّبِیَّ صلی اللہ علیہ وسلم کَانَ یَعْتَکِفُ الْعَشْرَ الْاَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتّٰی تَوَفَّاہُ اللّٰہُ ثُمَّ اعْتَکَفَ اَزْوَاجُہٗ مِنْ بَعْدِہٖ اَوْ کَمَا قَالَ عَلَیْہِ السَّلَام﴾ (صحیح مسلم)

## د نبی صلی اللّٰه علیه وسلم اعتکافونه:

د اعتکاف اهمیت او فضیلت د چا نه هم پټ نه دے د دے وجے نه حضرت عائشه فرمائی چه نبی کریم به د رمضان په اٰخری عشره کښې اعتکاف کوو خو چه وفات شو نو بیا به دغه اعتکاف د دهٔ بیبیانو کوو.

دا رنګ یو بل صحابی فرمائی چه نبی کریم په مدینه کښې لس کاله اعتکاف کړے وو خو اٰخری اعتکاف ئې شل ورځے کړے وو او د دے وجه دا وه چه د دے نه وړاندی کال یوے بی بی د نبی کریم نه د اعتکاف اجازت اوغوښتو نو نورو بیبیانو هم ځان له په مسجد نبوی کښې ځایونه جوړکړل او د اعتکاف نیت ئې اوکړو. نبی کریم چه راغے او په حال احوال خبر شو نو غصه شو او وے فرمائیل چه دا ځایونه واپس وران کړئ او زه هم اعتکاف نه کوم.

## اعتکاف مقصد:

دا رنګ د عبد اللّٰه بن عباس نه روایت دے چه نبی کریم د معتکف په باره کښے فرمائیلے وو.

﴿ هُوَیَعْتَکِفُ الذُّنُوبَ﴾ دا یعنی دهٔ ځان د ګناهونو نه بچ کړو.

او بیا ئې اوفرمائيل چه

﴿وَيُجۡرَى لَهُ مِنَ الۡحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الۡحَسَنَات كلهَا﴾ (ابن ماجة)

يعنې د اعتكاف د وجے نه چه بهر ئې كومے نيكئ كولے نو هغه ترينه پاتے شوے نو الله تعالى به ورله هسې بيسه د هغے ثواب او اجر وركوی.

يعنې كه دا انسان د مسجد نه بهر د غريب په خدمت كښې به حاضريدو يا به ئے نورخه نيک كارونه كول لكه د جنازی مونځ كول د بيمار پرسې د پاره تلل وغيره د دې اجر وثواب دې انسان ته الله په هفته كښې وركوی اګر چې د اعتكاف د وجې نه د انسان حاضری وو نه كړی دا د اعتكاف فضيلت دې .

## د اعتكاف تعريف:

د اعتكاف معنى او مطلب:

اعتكاف د عكوف نه دے او ځان له ناستے ته وئيلے كيږی او د اعتكاف په حالت كښې هم معتكف په مسجد كښې يومخصوص ځاې د خپل ځان د پاره خاص كړے وی .

د دے د پاره نيت شرط دے نو كه بے نيته ئې شل ورځے هم تيرے كړے نو د اعتكاف ثواب به ورته نه ملاويږی.

## اقسام د اعتكاف:

اعتكاف په درے قسمه دے.

يو واجب اعتكاف لكه نذر او منخته د اعتكاف منل خو په دے اعتكاف كښے روژے نيول هم لازم دی.

دويم سنت اعتكاف دے لكه د رمضان د اٰخری عشرے اعتكاف.

دا اعتكاف نبی عليه السلام هم كړې دې اوتر د قيامته پورې به جاری وی . او دا سنت مؤكده على الكفايه دے اهم اوضروری سنت دې

خو په هر فرد انسان باندې لازم نه دې لکه څنګه چې فرض کفایه ده چې هغه د یو انسان په ادا کولو سره ادا کیږی دغه شان دا هم دې .

نو که د محلے یو کس هم کیناستو نو د ټولو ذمه به فارغیږی او که یو هم ناسته اونه کړه نو ټوله محله به ګناهګاریږی.

خو د دې اعتکاف دپاره دا ضروری ده چې په شلم د رمضان د غروب آفتاب نه مخکښې مخکښې انسان مسجد ته حاضر شی او د لس ورځو سنت اعتکاف په نیت دغه ځاې کښې خپل ځان بند کړی بیا که د اختر ورځ پورې لس ورځی برابر شوې او که نه د اختر شپې پورې به مسجد کښې د اقامت نیت کوی .

دریم نفل اعتکاف دے او دا اعتکاف د لږ ساعت د پاره هم کیږی او روژه نیول پکښے هم ضروری نه دی.

لکه انسان په دې وخت کښې مسجد ته دننه راشی نونیت د اعتکاف وکړی چې څومره پورې زۀ په جماعت کښې یمه په نیت د اعتکاف سره به وخت تیروم .

## شرائط اعتکاف:

د اعتکاف شرائط:

یو شرط دادے چه نیت د اعتکاف به وی، که یو انسان بغیر د نیت د اعتکاف نه جماعت کښې ناست وی نو که لس ورځې ولې نه وی نو بیا هم د دۀ اعتکاف نه کیږی .

دویم دا چه دامعتکف به مسلمان وی.

که یو غیرمسلم عیسائی په خپله ګرجه کښې یا یهودې په خپله عبادت خانه کښې ناست وی او نیت د اعتکاف هم وکړی دا نه صحیح کیږی ځکه د عمل د صحت دپاره اول شرط ایمان دې .

دریم شرط عاقل کیدل دی نو د لیونی اعتکاف نه کیږی، اونهٔ د ماشوم چې عاقل نه وی .

څلورم شرط دا دے چه معتکف به جنبی نه وی یعنې پاك به وی.

که یو انسان د هغه بدن پاک نه وی په حالت د غسل کښې وی نو د دهٔ اعتکاف نه صحیح کیږی .

پنځم شرط دادے چه په جمات او مسجد کښې به وی. دغه ځاې به شرعی مسجد وی ، داحکم د سړی د پاره دے.

که یو انسان صرف په دینی مدرسه کښې یا خانقاه کښې اعتکاف ته ناست وی نو د اعتکاف صحیح نه دې او نه د سړی د پاره په خپل کور کښې اعتکاف صحیح کیږی .

الله تعالیٰ هم فرمائی ﴿وَاَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ﴾ (بقره:۱۸۷)

یعنې چه تاسو په جماتونو کښې د اعتکاف د پاره ناست ئی.

دا رنګ په هغه جمات کښې ناسته شرط دے چه پنځه وخته مونځ پکښې باجماعته کیږی. اګر که د جمعے مونځ پکښې نه کیږی.

اووم شرط دا دے چه په واجب او سنت مؤکده اعتکاف کښې روژه نیول هم شرط ده.

نفلی اعتکاف لره نهٔ پوره ورځ شرط ده اونه روژه بغیر د روژې نه هم صحیح کیږی .

## مسجد کښې د ننه اقامت:

دا مسئله هم ضروری ده چه معتکف به د مسجد د حدودو نه بهر نه ووځی. اودس خانے ته د اودس د پاره تللے شی خو د اودس نه بعد به فورا واپس خپل مسجد ته راځی. نو داودس ځاې هم د حدودو نه بهر دے.

دا رنګ د امام کمره هم د مسجد د حصے نه بهر ګڼړلے کیږی نو

دے ته هم بلا ضرورته نشي ورتلے . دارنګ سيرهئ هم بهر دی.

معتکف د غسل د پاره بهر وتلے شی او دا رنګ د جمعے د مونځ د پاره هم بل جمات ته تلے شی .

ځکه د اعتکاف خپل څه اصول اوآداب دي د هغي خيال ضروری دي .

## د اعتکاف آداب:

دا رنګ اعتکاف صرف چپ ناستے ته نه وائی بلکه د دے ناستے يوه فلسفه ده. هغه دا چه د دنيا دمصروفياتو نه سرے راجدا شی او په يکسوئۍ سره الله تعالیٰ ته کينی .

او دوی ته پکار دي چې خپل اعتکاف يو بامقصده اعتکاف وګرځوی په اعتکاف کښې قصد وکړی د مونځ ترجمه مسائل تلاوت قرآن پاک دعاګانې وغيره د نيکو کارونو اهتمام وکړی درس حديث نوافل سيرت او سلف صالحينو واقعات مسنون اذکارو پابندی د ليلة القدر تالاش دا کارونه پکار دی د اعتکاف په حالت کښې .

دويم داچه دا يو تربيت دے چه دا انسان به د خپل نفس محاسبه اوکړی او د اٰئنده زندګئ دپاره به يو نيك لائحه عمل جوړئ.

دا رنګ د اعتکاف شپے رونړے کول پکار وی چه د ليلة القدر هغه ثواب ملاؤشی. ځکه چه دغه شپه په دے اٰخری عشره کښے ده خو متعين نه ده.

عباده بن صامت فرمائی چه نبی کريم اوفرمائيل چه زه د کور نه د د ے دپاره راؤتم چه تاسو ته د ليلة القدر شپه متعين کړم خو د دوؤ کسانو د جهګړے د وجے نه هغه شپه مانه هيره کړے شوه نو د اٰخيری عشرے په طاق شپو کښې ئۍ تلاش کړئ.

الله تعالیٰ دے مونږ ته په دے خبرو د عمل توفيق رانصيب کړی. امين

# صدقة فطر

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ فَكُّ رَقَبَةٍ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ﴾(البلد:١١.١٤)

وقال رسول اللهﷺ: بَادِرُوا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا اَوْكَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ(طبرانی)

## د رمضان كفارة:

څنګه چې په مختلف اوقاتو کښې الله په خپل بنده باندې مختلف قسم اعمال لازم او واجب کړی دې دغه شان درمضان په آخر کښې الله يو بل عبادت صدقة الفطر واجبه کړې ده . د رمضان المبارك د تيريدو نه بعد په طور د شکريے او کفارے الله تعالیٰ په مسلمان باندې صدقة فطر ورکول واجب کړی دی.

صدقات په دوه قسمه دی .

يو فرضی او واجبی صدقه ده او دويم نفلی صدقات دی.

فرضی لکه زکوٰة او واجب لکه صدقه فطر او عشر وغيره او د نفلی صدقاتو مثالونه ګڼړ دی.

صدقة الفطر ته سرسايه وائی او صدقة الرءوس ورته هم وائی او صدقة التوحيد ورته هم وائی چه مسلمان ئی د توحيد د عقيدے په شکريه کښے اداء کوی.

سرسايه په مسلمان، آزاد او صاحب نصاب باندې ورکول واجب دی.

## پنځه قسمونه نصابونه:

دا به څوك ورکوی ؟ نو د دے جواب دا دے چه د دے دپاره پنځه نصابه ضروری دی.

يو سره زر چه کله ساړهے سات تولے سونے ته رسی.

دويم چاندی ده چه ساړهے باون تولے چاندۍ ته رسی.

دريم نقدی ده چه ساړهے باون تولے چاندۍ قيمت ته رسی.

څلورم مال تجارت دے چه د ساړهے باون تولے چاندئ قيمت ته رسی .

پنځم د مال ضرورت نه علاوه مال چه کله د ساړهے باون تولے چاندئ قيمت ته رسی نو په دۀ به هم سرسايه ورکول لازمی وی.

ضرورت اصلی نه زائد اشياء نه مراد هغه مال دے چه په کال کښې يو ځل هم نه استعماليږی. لکه د دي نۀ استعماليدونکی لوخی، ټی وی، وی، سی، آر، وغيره.

## دصدقه الفطر وخت:

دا صدقة الفطر د اختر په صبح صادق راختو سره واجب کيږی. نو که د صبح صادق نه منټ دوه مخکښې هم يو ماشوم پيدا شو يا يو کافرمسلمان شو نو هم به پرے صدقه فطر لازم وی او که يو سړے د صبح صادق نه بعد وفات شو نو د دۀ نه به هم سرسايه ورکولے کيږی.

دارنګ د صدقة الفطر ورکول د اختر د مونځ نه مخکښې ورکول مستحب دی.

په رمضان کښې هم صدقه فطر ورکولے شی . دا د احنافو مسلك دے . او دا ځکه ضروری دی چه غريب هم د اختر د پاره ځان له هر څه واخلی.

## احکامات متعلقه صدقة الفطر:

دا رنګ دا صدقة الفطر به په داسے طریقه ورکوے چه د یو مسکین حاجتمند ضرورت پرے پوره شی او که پنځوس پنځوس شلو کسانو له ورکړے شی نو دا صدقة الفطر د ابوالکلام اٰزاد په نزد باندې نه کیږی. نو دومره ورکول ضروری دی چه د چا ضرورت پرے پوره شی.

دا مسئله هم یاد ساتئ چه که چانه د اختر په ورځ پاتے شوه نو روستو ورکول پرے هم لازم دی او دا به اداء شمارلے کیږی ، قضاء ورته نه وئیلے کیږی.

دارنګ د بالغ صدقه په مور پلار نیشته نو د خپل طرف نه به ورکوی او د ښځے هم په خاوند ورکول نیشته نو په خپله به ورکوی.

دا رنګ د نابالغه صدقه فطر پلار باندې ده او دا رنګ که د کور مشر د ټولو دطرف نه ورکړی نو هم کیږی خو بهتر دا ده چه بالغ اوښځه خپله سرسایه په خپله ورکړی.

سرسایه نصف صاع یعنې دوه کلو غنم ورکول دی او کهجورے او کشمش به څلور کلو وی یعنې پوره صاع.

نو مالدار به د کجورو والا نصاب ورکوی او دا ورله بهتر ده او غریب به د غنمو مطابق ورکوی.

دا صدقة الفطر په هغه چاکیږی چه هغه مستحق د زکوٰة وی.

دارنګ داسے مدارسو له ورکول هم جائز دی چه هغوی ئې په طلباؤ تقسیموی.

دا رنګ مختلفو ټرسټونو له هم ورکولے شی چه هغوی ئې په مستحقینو کښې تقسیموی.

دا رنګ مجاهدینو له ورکول هم جائز دی.

دا صدقة الفطر خپل امام او ملا له هم ورکولے شی خو چه غریب وی او دا سرسایه ئی حق نه گنړی. که چرته دا حق گنړی نو بیا دا صدقة الفطر نه کیږی.

دا رنګ هغه قاری له ورکول هم جائز نه دی چه په روژه کښې ئی ورته ختم کړے وی.

الله تعالیٰ دے مونږ ته په دے مسئلو د عمل توفیق رانصیب کړی.

امین

# مسائل صدقه فطر

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾(بقره:۱۸۵)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ .

## دفضیلتونو مجموعه:

الله تعالیٰ په دنیا کښے بعضے څیزونو لره په بعضو نورو څیزونو باندې فضیلت ورکړے دے نو میاشتو کښے ئې د رمضان المبارك میاشتے لره فضیلت ورکړے دے نو بیا په میاشت د رمضان کښې ئې آخری عشرے لره فضیلت ورکړے دے ځکه چه په دے کښې اعتکاف هم کیږی ، او شپه د لیلة القدر پکښے هم شته نو دارنګ د قرآن کریم نزول هم په دے عشرے کښے د لیلة القدر په شپه شروع شوے دے.

د روژې اهمیت، حکمت، فلسفه اجتماعی معاشرتی اخلاقی اقتصادې حکمتونه او فوائد د روژې بیان شوی وی د رمضان سره متعلقه مسائلو کښې اعتکاف اختر او د صدقه الفطر مسائل هم شامل حال دې . دارنګ د رمضان په ختمیدو سره په طور د کفارے الله تعالی په انسانانو باندې فطرانه ورکول مقرر کړے دی.

## صدقه الفطر څه ته وائی:

د دے صدقه فطر متعلق به څه احکامات او مسائل بیانیږی.

کله چه میاشت د رمضان په خیر تیره شی نو په طور د شکریه دا سرسایه

ورکولے کیږی.

کله چې یو انسان ته الله د روژې نیولو توفیق ورکړی دغه شان پنځه وخته مونځ ورسره نوافل، عام صدقات په اهل وعیال نفقه او خرچه او بیا ذکر فکر دګناهونو نه توبه و استغفار نور ډیر نیک اعمال اداکړی نو د دغه اعمالو د شکریه په طور الله په انسان باندې صدقة الفطر واجبه کړې ده هغه انسان چې صاحب نصاب وی چې هغه فرض زکوة د خپل اداکوی.

دے ته صدقة الفطر او صدقة الرءوس هم وئیلے کیږی. یعنې د سر صدقه.

صدقه صدقې ته وائی او فطر روژه ماتولو ته وائی نومطلب دا چې د اختر د راتلو خوشحالۍ او د روژې د تلو شکریه په عبادتونو اداکولو باندې.

او پختانهٔ ورته سرسایه وائی ځکه په دې میاشت کښې یوه شپه داسې ده چې په هغې کښې د ټول

دا رنګ دے صدقه فطر ته صدقة التوحید هم وئیلے کیږی ځکه چه دا د ایمان د شکریے په طور ادا کیږی.

بیا په دې کښې دا مسائل چې دا صدقه په چا باندې فرض ده او کوم حقدار ته به ئې ورکوی او کله به ئې ورکوی کوم وخت کښې اداکیږی بهتر وخت د ادا کیږی ئې څه دې .

## دصدقة الفطر شرائط:

دا صدقة الفطر په آزاد ، مسلمان باندې ورکول واجب دی.

د زکوة اوصدقه الفطر په مینځ کښې فرق دا دې چې زکوة د عاقل بالغ د مال نه اداکولې شی د ماشوم د مال نه زکوة نه اداکیږی خو صدقة

الفطر هميشه د عاقل غير عاقل او ليونى غير ليونے صحيح بيمار ماشوم بالغ بوډا نارينه زنانه د ټولو نه ادا كيږى .
نو د صدقة الفطر دا مسئله ده چې مسلمان به وى او آزاد به وى .
دا رنګ دا صدقة الفطر به د ماشوم او د ليونى نه هم وركولے كيږى.
دا به څوك وركوى ؟ نو د دے جواب دا دے چه د دے د پاره پنځه نصابه ضرورى دى.
يو سره زر چه كله ساړهے سات تولے سونے ته رسى.
دويم چاندى ده چه ساړهے باون تولے چاندۍ ته.
دريم نقدى ده چه ساړهے باون تولے چاندۍ قيمت ته رسى.
څلورم مال تجارت دے چه د ساړهے باون تولے چاندئ قيمت ته رسى .

## ضرورت اصليه اوغير اصليه كښې فرق:

پنځم د مال ضرورت نه علاوه مال چه كله د ساړهے باون تولے چاندئ قيمت ته رسى نو په دۀ به هم سرسايه وركول لازمى وى.

ضرورت اصلى نه زائد اشياء نه مراد هغه مال د ے چه په كال كښے يوځل هم نه استعماليږى. لكه نه استعماليدونكى لوخى، ټى وى، وى، سى ،آر، وغيره.

او يا ضرورت اصليه دا دې چې دينى دنيوى فائده وركښې وى او چې كوم څيز كښې دينى دنياوى فائده نه وى نوهغه څيز زائد ضرورت اصليه نه دې .

دا صدقة الفطر د اختر په صبح صادق راختو سره واجب كيږى. نو كه د صبح صادق نه منځ دوه مخكښې هم يو ماشوم مخكښې پيدا شو يا يوكافرمسلمان شو نو هم به پرے صدقه فطر لازم وى او كه يو سړے د صبح صادق نه بعد وفات شو نو د دۀ نه به هم سرسايه وركولے كيږى.

## متعلقه احکام صدقة الفطر:

دا رنګ دا صدقة الفطر ورکول د اختر د مونځ نه مخکښے مستحب دی.

او دا د دې د پاره چې انسان غریب مسکین د اختر په خوشحالۍ کښې شریک شی د نورو بنی آدمو سره او د غم او خفګان نه په دغه موقع په حفاظت اوپه امن کښې شی .

دا رنګ دا صدقة الفطر به په داسے طریقه ورکوے چه د یو مسکین حاجتمند ضرورت پرے پوره شی او که پنځوس پنځوس شلو کسانو له ورکړے شی نو دا صدقة الفطر د ابوالکلام آزاد په نزد باندې نه کیږی. نو دومره ورکول ضروری دی چه د چا ضرورت پرے پوره شی.

که یو انسان خپل زکوة یاصدقه فطر په شلوزرو باندې تقسیم کړی نو زکوة به ئې ادا شی خو دا طریقه ئې ادائیګۍ غلطه ده د دې اصلاح په کار ده .

دا رنګ د بالغ صدقه په مور پلار نیشته نو د خپل طرف نه به ورکوی او د ښځے هم په خاوند ورکول نیشته نو په خپله به ورکوی.

دا رنګ د نابالغه صدقه فطر پلار باندې دی او دا رنګ که د کور مشر د ټولو د طرف نه ورکړی نو هم کیږی خو بهتر دا ده چه بالغ او ښځه خپله سرسایه په خپله ورکړی.

## سرسایه مقدار نصاب:

سرسایه نصف صاع دا یوه پیمانه وه د نبی علیه السلام د زمانی لکه نن صباپاؤں کلو دوکلو دړی من وغیره .

یعنې دوه کلو غنم ورکول دی او کهجورے او کشمش به څلور کلو وی یعنې پوره صاع.

نو مالدار به د کجورو والا نصاب ورکوی او دا ورله بهتر ده او غریب به د غنمو مطابق ورکوی.

او دا څه انصاف نه دي چې کوم انسان د کروړ لاکو مالیت لری او هغه هم د غنمو په حساب اداکوی زۀ دا وائم چې د دغه انسان سرسایه کامله نه ده ادا شوې چې د لوې قیمت په عوض کښې صرف د غنمو قیمت ورکړی.

دا صدقة الفطر په هغه چاکیږی چه هغه مستحق د زکوٰة وی.

دا صدقة الفطر خپل امام او ملا له هم ورکولے شی خو چه غریب وی او دا سرسایه خپل حق نه گنړی. که چرته دې ئې حق گنړی نو بیا دا صدقة الفطر نه کیږی.

چې هغه ورته د امامتۍ په عوض کښې ورکړی نو دا سرسایه دوباره اداکول لازم دي .

دا رنگ هغه قاری له ورکول هم جائز نه دی چه په روژه کښے ئې ورته ختم کړے وی.

دا رنگ داسے مدارسو له ورکول هم جائز دی چه هغوی ئې په طلباؤ تقسیموی.

دا رنگ مختلفو ټرسټونو له هم ورکولے شی چه هغوی ئې په مستحقینو کښې تقسیموی.

دا رنگ مجاهدینو له ورکول هم جائز دی.

خو هغه مجاهدین چې هغوی د کافرانو خلاف برسرپیکار وی او هغوی براه راست د کافر سره جنگیږی او د هغه قتل وقتال کوی خو کوم خلق چې اسلام او مسلمان ته نقصان رسوی نو هغه له نه د زکوة مال ورکول جائز دي اونه دصدقة الفطر مال ورکول جائز اونۀ ورته عام نفلی صدقات ورکول جائز اودهغوی سره بدنی تعاون کول هم ناجائز دي .

الله تعالی دے مونږ ته په دے د عمل توفیق رانصیب کړی. امین

# مسائل عید الفطر

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ فَلَا يُنَازِعَنَّكَ فِي الْاَمْرِ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ اِنَّكَ لَعَلٰى هُدًى مُّسْتَقِيْمٍ﴾ (سورة الحج:٦٧)

﴿وقال علیه الصلاة والسلام : إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا، وَهَذَا عِيدُنَا﴾ (رواه احمد)

## د اجر او ثواب واله خوشحالی:

الله رب العزت دا د خوشحالے ورځ په مسلمان باندې د رمضان د خوشحالے نه بعد هر کال دوباره کوی په رمضان کښې مسلمان د جائز خواهشاتو نه ځان بند کړی. عبادتونه ، ذکرونه، تلاوتونه او نور ډیر قسم عبادات اداء کوی او دغه عبادات فرض یو په اویا باندے، نفل په فرضو باندے د روژے ثواب د تراویحو او د قیا م اللیل اجر د نفلی عباداتو اجر او نور دَ ښه کارونو نیکی د لیلة القدر عظیم اجر او ثواب د دې ثوابونو د حاصل کیدو نه بعد الله د مسلمان د خوشحالے د پاره چې مسلمان په دي ثوابونو خوشحاله شی نو وړوکے اختر ورباندے راولی، دا خوشحالی د عید الفطر د هغه چا ده چې هغه باندې د رمضان المبارك میاشت راشی او هغه پکښې نیك عملونو سره د الله د رضا او د جنت حقدار ګرځیدلے وی دا خوشحالئ هغه چا نۀ ده چې هغه خپل رب مالك الله نه وی رضا کړے په میاشت د رمضان کښې.

## د خوشحالۍ حقیقي حقدار:

دا ورځ د هغه چا د خوشحالے ورځ ده چې هغه د دې رمضان په آخري حصه کښې دا حدیث ور په یاد شوے وی او په دی باندے ئے عمل کړے وی. حدیث کښې راځی چې الله رب العزت د شپے په وخت کښې اسمان د دنیا ته راشي او دا اعلان کوی:

﴿هَلْ مِنْ مُسْتَغْفِرٍ فَأَغْفِرُ لَهُ﴾ (السنة لابن ابن عاصم)

څوك داسے شته دے چې زما مغفرت او بخښنه طلب کړی او زه ورته مغفرت او بخنه اوکړم او دا د هغه چا د خوشحالے ورځ ده چې هغه په روژه کښې چې یو طرف ته لوږه، تنده، تکلیف وی او بل طرف ته دا انسان د الله د ذکر او یاد نه غافله شوے نه وی او کله نفلي عبادتونه د مشقت په حالت کښې د الله د رضا د پاره، کله د کلام الله سره تعلق، کله د شپے قیام اللیل او تراویح او کله د انفاق فی سبیل الله جذبه او شوق کله د غریب، یتیم، مسکین یا مزدورکار سره احسان او ښیګړه کول نو دا خوشحالی حقیقي د دغه خلقو خوشحالی ده چې په آخري شپه د هغه په باره کښې د جهنم نه د آزادے اعلان شوے وی.

## د اختر دیني حیثیت:

بیا چې د اختر ورځ ده نو دا صرف یو مستی او خوشحالی ده فضول خرچی او تهوار دے او که نه د دې په دین اسلام کښې څه حقیقت نه دے موجود نو دراصل دا ورځ هغه ورځ ده چې الله هر مسلمان ته د هغه د مزدورے صله او بدله د رمضان المبارك د محنت او مشقت ثمره په دې ورځ الله خپلو بندګانو مسلمانو مؤمنانو ته ورکوی دا د انعام خداوندی ورځ ده رمضان تیر شی اختر راشي خلقه تیاری اوکړی خوشبو اولګوی، پاکے جامے واغوندی او د الله کور او در ته رااروان شی د

خوشحالے طمع او اُمید لری.

نبیﷺ چې کله مدینے منورے ته هجرت اوکړو او په هغه ځائے کښې نبیﷺ د مدینے څۀ خلقه اولیدل چې یو جشن او جوش او خوشحالی د هغے اظهار کوی دغه خوشحالی صرف خواهش پرستی د الله د احکاماتو نه بغاوت او نافرمانی وه نبیﷺ تپوس اوکړو چې دا څه څیز دے جواب ورکړے شو چې دا مونږه ته د خپل پلار او نیکه نه یو رسم او رواج پاتے شوے دے چې په دی ورځ مونږه خوشحالی مناوؤ، نبیﷺ جواب ورکړو چې الله مو نږه ته د دې په بدل او مقابله کښې د دی نه ډیر بهترین دوه ورځے راکړی دی چې یو ته عید الفطر وائی او بل ته عید الاضحی وائی نو دا ورځے یو دینی حیثیت او تاریخی پس منظر لری یو طرف ته د ابراهیمؑ د اخلاص نه ډکه قربانی وه او بل طرف ته د انسان جائز خواهشات د الله د پاره قربانی کولو خوشحالی وه نو دا خوشحالی صدقة الفطر، نوے کپړے، اختر هغه چا ته مبارك دے چې الله ئے په رمضان کښې رضا کړے وی او دا هر څه هغه چاته نا مبارك دی چې خپل رب ئے رضا کړے نه وی.

## د نبیﷺ بد دعا:

او دا خبره زه نه کوم دا خبره نبیﷺ کوی یو ځل نبیﷺ په منبر باندے یو ه پوړے بره پورته شو او دا خبره ئے اوکړه آمین بیا په دویمه پوړے پورته شو او بیا ئے امین اووئیلو بیا په دریمه پوړے پورته شو او په دریم ځل ئے بیا امین اووئیلو صحابه کرامورضی الله عنهم تپوس اوکړو چې دا عمل خو نور کله تاسو نه دے کړے نن دا خلاف عادت کار تاسو څنګه اوکړو نبیﷺ ورته اووئیل چې جبرائیلؑ نن راغلے وو او درے خبرے د شر او بدې دعاګانے هغه اوکړے او ما ورباندے امین

اووئیلو. اوله خبره دا وه چې تباه او هلاك دې شي هغه انسان چې مور پلار دواړه يا يو د بوډه والی په حالت کښې اوموی او هغه ته مغفرت اونشی نو ما وربانده امين اووئيلو. بيا هغه دا خبره اوکړه چې تباه او هلاك د شي هغه انسان چې زما ذکر اوکړے شي او په ما باندے درود شريف اونه وائی نو ما وربانده امين اووئيلو. دريمه خبره جبرائيل عليه السلام دا اوکړه چې تباه او هلاك د شي هغه انسان چې د رمضان ميا شت تيره شي او هغه ته مغفرت او بخښنه او نه شي نو ما وربانده امين اووئيلو نو دا د تباهی، بد بختے ،نا مبارکے ورځ ده د هغه چا په حق کښې چې هغه ته بخښنه ،مغفرت او نه شي او د جنت حقدار جوړ نه شي. هوښيار، عقلمند الله واله خلق، دا خبره صحيح ده چې هغوی به خوشحالی کوی خو د دی برکتی وختونو پسے د هغوی سترګے او زړونه خفګان کوی. هغه خلق د تعزيت قابل دی چې چا ته مغفرت نه وی شوې.

## د اختر د ورځ فضيلت:

حديث کښې راځی چې په دې ورځ الله رب العزت فرشتے دنيا ته راليږی او دغه فرشتے په لارو کوڅو کښې آوازونه کوی اے د الله بندګانو د الله کورونو او عبادت خانو ته راباهر شے، الله راضی کړے الله باندے خپل ځان اوبښے. دا د الله د راضی کيدو او مغفرت ورځ ده بيا الله د فرشتو نه تپوس کوی اے فرشتو﴿مَا جَزَاءُ اجيرٍ وَفّٰى عَمَلَهٗ﴾ فرشتې جو اب ورکوی اے الله ﴿جزاء هٗ ان يُوَفّٰى اجرهٗ﴾ د دغه انسان بدله دا ده چې پوره بدله ورته ورکړے شي بيا الله فرمائی اے فرشتو دا انسانان زما غلامان او وينځے فرمانبردار دی، دوی زما حکم باندے روژے نيولی دی او اوس زما د رحمت طلب کولو د پاره عبادت خانو ته راغلی دی اے فرشتو تاسو ګواه اوسيږے ﴿ وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَعُلُوِّيْ وَارْتِفَاعِ مَكَانِيْ ﴾ زما دی په خپل

عزت باندے قسم وی او په خپل جلال او لوئےوالی او اوچت مکان باندے دې زما قسم وی ﴿لَأُجِيْبَنَّهُمْ﴾ د دوی عبادتونه او دعاګانے به زه قبلوم بیا چې کله بندګان عبادت ژړا او فریاد اوکړی نو الله ورته فرمائی: ﴿اِرْجِعُوْا فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ﴾ اے بندګانو تاسو خپلو کورونو ته په داسے حالت کښې واپس شے چې یقینًا ما تاسو ته بخښنه کړے ده او یو بل اضافی انعام دا چې ﴿قد بدّلت سيّئاتُكم حسناتٍ﴾ ما ستاسو ګناهونه په نیکو باندے بدل کړی دی نبی ﷺ فرمائی: ﴿فَيَرْجِعُونَ مَغْفُورًا لَهُمْ﴾ (بیهقی شعب الایمان) دا خلقه په داسے حالت کښې واپس کیږی چې دوی ته بخښنه او مغفرت حقیقی خوشحالی ورکړے شوی وی.

## د اختر مونځ او مسائل:

د اختر د مونځ څه مسائل دا دی یو دا چې مخکښے د اختر مونځ نه وو دا په مدینه کښې نبی ﷺ ادا کړے دے په دې لس کاله مدنی دور کښې نبی ﷺ د یو ځل ، دوه ځلے ضرورت نه علاوه په مسجد کښې د اختر مونځ نه دے کړے نو دا سنت طریقه ده چې د اختر مونځ دې په میدان کښې اداء کړے شی. دویم کور، جماعت یا عیدګاه کښې د اختر د مانځه نه مخکښے هر قسم نفل کول مکروه دی اشراق وغیره هیڅ به نه کوی د علی رضی الله عنه په دور کښې یو بنده په عیدګاه کښې نفل کولو نو علی رضی الله عنه ورته جهټکه ورکړه او ورته ئے اوفرمائیل چې سلام واړوه نو هغه ورته وائی چې تهٔ ما د مونځ نه منع کوے علی رضی الله عنه ورته فرمائی چې تا د مونځ نه نهٔ منع کومه د پیغمبر ﷺ د مخالفت نه تا منع کومه بله دا چې د اختر مونځ کښې نیت کول دی د دې د پاره څه خاص الفاظ نشته صرف د زړهٔ ارادے ته نیت وائی . چې کله الله اکبر اووائی نو د ثناء ﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ﴾ وئیلو نه بعد به درے تکبیرات وائی او په دې کښې به لاس پورته کوی

بیا به قراءت کیږی بیا د ﴿الحمدلله﴾ او سورت نه بعد او په دویم رکعت کښې د رکوع نه لږ شان مخکښې دغه درے تکبیرات وائی او لاسونه به ورکښې پورته کو ی په څلورم تکبیر سره به رکوع ته ځی او که یو انسان امام صاحب په حالت د تشهد کښې رالاندے کړی نو هم په دغه طریقه به د مونځ قضاء راګرځوی او بله خبره دا ده چې د اختر د مانځه نه بعد خطبه اوریدل واجب دی او خطبه په آرام او سکون سره اوریدل او بیا د واپسے په وخت کښې په مسجد کښې د اختر مبارکی یا شور کول منع دی او د صحابه کرامو رضی الله عنهم د مبارکے طریقه دا وه چې دا دعا به ئې وئیله ﴿تَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَ مِنْكُمْ﴾(فتح الباری) الله دې ستاسو او زمونږه ټولو نه قبول کړی.

# عید قربانی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ اِنِّيْ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى قَالَ يٰاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيْ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصَّابِرِيْنَ﴾

(الصافات:۱۰۲)

## د ابراهیم علیه السلام قربانی او خوشحالی:

په دنیا کښې د هر قوم او مذهب څه اوقات د خوشحالے د اظهار د پاره وی چې په هغه وختونو کښې خوشحالی کوی. قسم قسم طریقو سره ښه لباس پوشاك ښه خوراك څکاك په خپله او بل انسان باندې خوری او دا د انسان یو فطری تقاضه ده انسان سره پیدائشی دا خبره تړلے شوے ده زمونږ په دین اسلام کښې دوه ورځے په کال کښې مقرر شوی دی چې هغے کښې به انسان د خوشحالے اظهار کوی یو ته عید الفطر وائی چې انسان روژے اونیسی، عبادتونه، ذکرونه، نوافل، مجاهدې او خپل خواهشات دباؤ کړی نو د هغے په اختتام کښې د اجر د مستحق کیدو نه پس په خوشحالے کښې وړوکے اختر مناویږی.

دویم عیدالاضحٰی د دی بنیاد هم د لوے تاریخی واقعے نه بعد کیخودلے شوے دے هغه دا چې اب الانبیاء د انبیاؤ پلار حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل رب په اشاره باندې خپل بچې حضرت اسماعیل علیه السلام په مرے باندے د خپل وَس مطابق چاړه راښکله نو دغه اداء او قربانی الله ته خوښه شوه تر ورځے د قیامت پورے الله د ابراهیم علیه السلام دغه اداء لره دوام

او همیشه والے ورکړو يو طرف ته دا قرباني د ابراهيم عليه السلام د دغه قربانے ياد دے او بل طرف ته د حج په موقع دغه سالانه اسلامي عظيمه اجتماع الله دغه منظر او مقام ته هم هميشه والے ورکړو تقريبًا څلور زره کاله مخکښې د عراق په سرزمين باندې الله داسے يو شخصيت پيدا کړو چې هغه ته دنيا ابراهيم عليه السلام وائی ټول عمر قرباني قرباني د پيدائش نه واخله تر وفاته پورے په کوم قوم او علاقه، وطن کښې چې پيدا شوے وو د دغه قوم حالت دا وو چې د بادشاه نه واخله تر ګدها غلام پورے عقلمند او بے عقله تر دې پورے چې خپل قوم او خاندان هم په شرك کښې متبلا وو کله چې ابراهيم عليه السلام د خپل قوم دا شرکيات مشاهده کړل نو اعلان ئے ورته اوکړو: ﴿يٰقَوْمِ اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ﴾ (انعام:۷۸)

اے قوم والو زه ستاسو د شرك نه بيزاره يمه زه ستاسو د دی معبودانو خلاف کومه او د دې بر خلاف ځمه.

﴿اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ﴾ (سورة الانعام:۷۹)

زما د ټولو عبادتونو مخ صرف هغه ذات طرف ته دے چې هغه زمکه او اسمان پيدا کړے دے او د مشرکانو نه، نه يمه نو د دې اعلان سره په ابراهيم خليل الله باندې د امتحاناتو، تکاليفو ،ازمائشونو يوه غټه سلسله شروع شوه خپل قوم خلاف، بادشاه وقت مخالف، تر دې پورے چې خپل پلار ناراضه دا يوه قرباني وه.

## د ابراهيم عليه السلام دويمه قرباني:

دويمه قرباني صرف د قوم خلاف نه بلکه کوم حق او هدايت صحيح لاره چې الله ابراهيم عليه السلام ته ښودلے وه د دغے لارے د بيان کولو د پاره په داسے قوم وطن او معاشره کښې تياريدل د مرګ مترادف خبره وه

پلار قوم وطن والوؤ ته بادشاه ته او په هر میدان او لاره کښې په هر دربار کښې د الله د توحید دعوت او د الله د وحدانیت آواز لګول دا بله غټه قربانی وه د ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د خلقو غلطے ته غلطی وئیل د قانون، عقیدے، نظام او عمل اصلاح کول دا اسان کار نه وو.

## د الله د توحید بیان:

دریمه قربانی خپل قوم وطن نه هجرت کول کله چې قوم خبره نه منی نو بیا د الله د توحید پرچار کولو د پاره کلی په کلی باندې ګرځی او خلقو ته د الله د معرفت بیان کوی کله عراق کښې پیدا شوے، کله د شام په زمکه تکلیف برداشت کړے کله مصر ته د الله پیغام رسولو د پاره تلے او کله حجاز مقدس ته د بچی ازمائش کښې اخته شوے ټول عمر د الله د توحید په مینه کښې مسا فر شوے، ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د هغه دا ژوند او زندګی وه.

## د اسماعیل عَلَیْہِ السَّلَام پیدائش او تربیت:

دا واقعه چې کله ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د فلسطین په زمکه الخلیل کښې دَ دوؤ ښځو سره مقیم وو الله ورله د اتیا کالو په عمر کښې یو بچے ورکړو جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام راځی او حکم ورته کوی چې الله فرمائی هجرت اوکړه د خپل کور د ضرورت سامان د ځان سره اخلی ورکوړے ماشوم بچے او د هجرت تیاری کوی کله چې روان شو نو جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام ورته وائی چې ستا مقام مخکښے دے تر دې پورے چې مکے ته راغلے نو جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام ورته اووئیل چې دا ځائے د الله حکم دے بیا دوباره د الله په حکم هجرت کوی ښځه ورته وائی: ﴿إِلىٰ مَنْ تَكِلُنَا يا ابراهيم﴾ اے ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام مونږه چا ته پریږدے، داسے ځائے چې هلته نه انسان شته او نه

حیوان شته ﴿ لَيْسَ فِيهَا ضَرْعٌ وَلَا زَرْعٌ وَلَا أَنِيس وَلَا زَاد وَلَا مَاء ﴾ نه انسان ملګرے شته نه فصل شته او نه اوبه شته او ته بیا هجرت خپل کلی ته کوے، ابراهیمعلیه‌السلام جواب نه ورکوی مخکښے روان دے د الله حکم پوره کوی بیا بی بی دا آواز کوی مونږه چا ته پریږدے په داسے ویران مقام کښې بیا جواب نه ورکوی او روان دے په دریم ځل چې آواز کوی نو ښځه پوهه شوه چې دا خو د الله پیغمبر دے، ظلم زیاتے نه کوی کیدے شی چې دا ورته د الله حکم وی نو ورته وائی: ﴿ آللّٰه اَمَرَكَ بهذا ﴾ الله درته حکم کړے دے نو جواب ورکوی چې آؤ دا حکم ماته الله کړے دے نو ښځه بیا صرف خپل ځان نه بلکه خپل خاوند ته هم تسلی ورکوی: ﴿ إِذَنْ لَا يُضَيِّعنَا ﴾ په دغه وخت کښې به الله مونږه نه ضائع کوی کله چې ابراهیمعلیه‌السلام خپل کور فلسطین ته لاړو نو ښځه ورته وائی چې ته د خپلو بچو تپوس ولے نه کوے، ابراهیم جواب ورکوی چې د الله حکم نشته ډیر وخت بعد کله چې بچے د لوبو شو لارو کښې ګرځیدو د خبرو کولو قابله شو او ځوان شو نو الله ابراهیمعلیه‌السلام ته د خپل بچې د تپوس کولو په باره کښې حکم اوکړو کله چې ابراهیمعلیه‌السلام مکے ته د غرونو په لاره باندې داخل شو نو څه ګوری چې خیمے او مخلوق آباد شوے دے تپوس کوی چې هاجره او اسماعیل څوك شته په دې علاقه کښې خلقه جواب ورکوی چې اسماعیلعلیه‌السلام خو زمونږه د دې قوم او قبیلے مشر دے.

## د اسماعیلعلیه‌السلام ذبح کول:

نو اخری امتحان په دې موقع په ابراهیمعلیه‌السلام الله دا کړے دے چې ابراهیم خوب کښې اولیدل او دغه د خوب واقعه قرآن ذکر کړے ده کله چې ابراهیمعلیه‌السلام د خپل خوب تذکره خپل بچی ته کوی:

﴿إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ﴾ (صفت:۱۰۲)

اے بچیه زه تا خوب کښې وینم چې زۀ تا ذبحه کومه ستا څه رائے ده، تیار ئے د الله حکم پوره کولو ته او که تیار نه ئے، زه چاړه تیره کوم او تا په زمکه باندې راپرزومه ستا د حلال کیدو د پاره ستا څه خیال دے نو بچے جو اب ورکوی بابا جانه کله چې دا د الله حکم دے نو ﴿**اِفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُ سَتَجِدُنِیۡۤ اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ مِنَ الصّٰبِرِیۡنَ**﴾(الصافات:۱۰۲)

اے بابا جانه! هغه کار پوره کړه د کوم کار په باره کښې چې تا ته الله حکم کوی زر دے چې ته به ما د صبر ناك خلقو نه اومومے، بچے چې تیا ر شو د منی طرف ته روان دے چاړه ئے ورته برابره کړه او هغه د دۀ مرے باندې چاړۀ راښکی چاړه کټ کول نه کوی ابراهیمعلیہ السلام ته پته نشته چې الله به د دې مقابله کښې ما ته ګڼ راکوی، جبرئیلعلیہ السلام ورباندې آواز اوکړو چې اے ابراهیمعلیہ السلام! تا خپل خوب رشتیا کړو چاړے ته څه ګناه نشته د الله حکم نه دے شوے او بیا ئے ورته ګډ ذبح کیدو د پاره ورکړو. نو که یو انسان دا سوچ اوکړی چې د چا بچے پیدا شی د بوډا والی په حالت کښې او په دغه حالت کښې انسان خپل بچی ته د هغه خدمت ته محتاجه وی بیا ځوان شی او د سل شپږ شلو کالو عمر کښې به دغه یو بچے څوك قربانی کړی؟ د الله حکم ته به انسان داسے تا بعدار وی لکه څنګه چې ابراهیمعلیہ السلام تابعدار وو ځکه الله دغه قربانی یو تاریخ اوګرځولو د ائنده خلقو د پاره چې د ابراهیمعلیہ السلام دا د اخلاص واله طریقه همیشه ژوندے وی.

## د قربانی مقصد:

بیا مونږ لره په دې قربانۍ کښې څه مقصد دے؟ صرف دا چې یو انسان ځناور حلال کړی او بس نا مقصد دا دے چې انسان به د الله د حکم پوره کولو د پاره او د الله د رضا حاصلولو د پاره هر عظیم څیز به

قرباني کوی که داسے موقع راشی لکه څنګه چې ابراهیمعلیه السلام دا قرباني کړے وه او بل دا چې صرف وینه توے کول هم نه دی بلکه اخلاص او د الله رضا طلب کول ضروری دی الله فرمائی:

﴿لَنْ يَنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَاءُهَا﴾(حج:۳۷)

الله ته د دې وینے او غوښے نه رسی بلکه الله ته د دې انسان اخلاص منظور دے چې دا وینه د الله په نوم صرف د الله د رضا د پاره توے کړے شی. او بل دا چې هر کله امتحان راشی نو انسان به بهانے نه ګوری بلکه د الله حکم ته به په هر صورت غاړه ګدی لکه ابراهیمعلیه السلام صرف د خوب په اشاره کښې خپل ځوے ذبح کولو ته تیار کړے وو. او بل دا چې هر قسم خوښ څیز به د الله د حکم د پاره قرباني کوی او بل دا سبق چې مسلمان به خپل هر څه د الله د پاره وقف کوی لکه ابراهیمعلیه السلام چې کړی وو. او بل د قربانے دا تعلیم دے چې په دنیا کښې د غریب او مسکین سړی سره به انسان احسان او ښیګړه کوی. مونږه قرباني کوؤ خو د قربانے د مقصد نه ځان نه خبروؤ د غریب مسکین د غوښو او نورو نفلی صدقو په صورت کښې انسان تعاون اوکړی.

## د یویتیم حالت:

یو حدیث کښې راځی نبیصلی الله علیه وسلم د خپل کور نه باهر د اختر په ورځ اووتلو څه ماشومان خوشحاله کیدل د اختر کپړے ئے اچولے وے نبیصلی الله علیه وسلم باندې ئے سلام اوکړو نبیصلی الله علیه وسلم جواب ورکړو مخکښے چې لاړو یو بل ماشوم په ګنده حالت کښې په شګو کښې ناست دے او خفه دے د هغه نه ئے تپوس اوکړو چې ته ولے دلته ناست ئے ولے ستا کپړے نشته نن خو د اختر ورځ ده هغه ماشوم په ژړا شو چې زما پلار نشته ځکه ما نوے کپړے نه دی اچولی او زما مور هم نشته چې ما

اولمبوی نبیﷺ سخت خفه شو او د غه ماشوم ئے اُم المؤمنین عائشهرضی الله عنها ته بوتلو چې د دے ماشوم پلار نشته د دهٔ پلار زهٔ یمه او مور ئے نشته د دهٔ مور ته ئے. نن یو حکمران دا سوچ کولے شی؟ دا سوچ زمونږه سره نشته چې زهٔ مالداره یمه زما په دې محله علاقه کښې به څومره یتیمانان او مسکینان وی چې د هغوی د خوراك څکاك کپړو بندوبست به نه وی د هغوی دا خوشحالی به نه وی بیا نبیﷺ خپل څادر دوه ټکړے کړو د یو نه ئے هغه لره پرتوګ او د بل څادر نه ئے ورته قمیص جوړ کړو او د ځان سره ئے روان کړو په خپله اوګه باندې ئے کینولو او د خطبے په دوران کښې ئے د ځان سره په منبر باندې کینولو دا د دې د پاره چې د خلقو سره د یتیمانانو ښیګړه او خپلولی پیدا شی. د خطبے نه بعد ئے د هغه په سر باندې لاس راښکو او صحابوؤرضی الله عنهم ته ئی دا خبره اوکړه چې د یتیم په سر باندې څومره ویخته وی او څوك د هغه په سر باندے د شفقت لاس راښکی نو د دغه ویختو په مقدار اجراوثواب الله دې انسان ته ورکوی. نو په دی خوشحالے کښې به انسان دغه بے وسه خلق د ځان سره شریکوی چې دا خوشحالے دغه خلق هم مناؤ کړی.

# احکام قربانی

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ وَکَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِیَآءِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہِ الْاَتْقِیَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ۔

﴿وَلِکُلِّ اُمَّۃٍ جَعَلْنَا مَنْسَکًا لِّیَذْکُرُوا اسْمَ اللّٰہِ عَلٰی مَارَزَقَھُمْ مِنْ بَھِیْمَۃِ الْاَنْعَامِ فَاِلٰھُکُمْ اِلٰہٌ وَاحِدٌ وَلَہٗ اَسْلِمُوْا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِیْنَ﴾ (سورۃ الحج:۳۴)

## شعائر اللّٰه:

د قربانۍ او د دې مياشت د فضائلو او احکاماتو سلسله شروع شوې وه. قرباني يو مستقل واجب عبادت دے بلکه د شعائر اسلام نه يوه علامه ده. ډير کارونه شعائر اسلام کښې داخل دی چې هغه د اسلام او مسلمانے علامه او نخښه ده لکه حج، د رمضان روژے، مسجد، اذان په دې کښې په لسم تاريخ د ذوالحجه باندې قرباني کول دا هم د شعائر اسلام نه يوه نخښه ده. ټول عالم کښې په دغه ورځ د مسلمان او کافر مينځ کښې فرق کونکے څيز قرباني ده که څوک سره د استطاعت او قدرت نه قرباني نه کوی نو دا شعائر اسلام پريښودل دی او حکومت وقت د دغه خلقو سره د سزا اختيار بلکه د جهاد کولو اختيار لری.

## د نبی ﷺ قربانی:

نبی ﷺ د هجرت نه بعد په مدينه کښې لس کاله عمر تير کړے وو په دغه لس کالو کښې نبی ﷺ قربانی نه ده پريښودلے او بيا اُمت تر نن ورځ پورے په دې باندې عمل کوی او دا قربانی چې څنګه حاجی صاحبان د حج په موقع په مقام منیٰ کښې کوی دغه شان نور اُمّت به هم دا عبادت ادا کوی چې کله د قربانۍ شرائط پوره وی نو حاجی صاحب او

غیر حاجی صاحب ټول به دا عبادت ادا کوی.

## د قربانئ تاریخ:

د قربانئ تاریخ څه نوے خبره نه ده او قرآن کریم کښې دا اشارات شته دے چې په مخکښې امتونو باندې هم الله قربانی لازم کړے وه لکه سورة حج کښې الله رب العزت فرمائی:

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ﴾ (سورة الحج)

الله رب العزت فرمائی د هر اُمت د پاره ما قربانی مقرر کړے ده او دا قربانی د دې مقصد د پاره وه چې دغه خلق د الله نوم په څناور باندے واخلی او وینه توے کړی د الله د رضا د حصول د پاره بل ځائے کښې وائی:

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ﴾(حج:٦٧)

د هر اُمّت د پاره قربانی مقرر شوې وه چې هغوی به دا قربانی په خپل وخت باندے ادا کوله، نو مفسرین دا ذکر کوی چې د دې شریعت نه مخکښې هم دا قربانی په ټولو شریعتونو کښې موجود وه.

## د قربانئ ابتداء:

د قربانے شروع د کوم وخت نه شوے وه د قرآن نه معلومیږی چې د قربانے شروع د آدم علیہ السلام د وخت نه شوے وه سورة مائده کښې الله رب العزت د آدم علیہ السلام د دوؤ بچو ذکر کړے دے د یو نوم قابیل او د بل نوم هابیل دے. دې دواړو ته الله رب العزت د قربانے په باره کښې حکم کړے وو د یو کسب زمینداری وه او بل سره څه ګډې چېلے وے نو زمیندار بے کاره خرابه شوې سبزی په نه زړهٔ باندې قربانے د پاره پیش کړه او د هغوی د قربانے د قبلیدو نخښه دا وه چې د اسمان د طرف نه به یو اُور راغلو او کومه قربانی چې به دغه اُور اوسوزوله نو د دې د قبولیت نخښه به وه، او

کومه چې به قبوله نه وه هغه به په خپل ځائے همداسے پاتے وه، د هابیل هغه د ګډ قرباني په اُور سره اوسوزیده او د قابیل قرباني په ځائے پاتې شوه نو قابیل د دې بل رور سره حسد پیدا شو چې زما قرباني قبوله نه شوه او ستا قرباني ولے قبوله شوه نو هغه جواب ورکړو:

﴿اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ﴾ (سورة المائدة:۲۷)

الله چې یو عمل قبلوی نو د متقی تقوی دارو خلقو نه الله دغه عمل قبلوی چې چا کښې اخلاص وی، ځان کښې اخلاص پیدا کړه نو الله به ستا قرباني هم ورسره قبوله کړی، شیطان دغه قابیل په خپله خبره کلك او مضبوط کړو نو دهٔ دا خپل بل رور مړ کړو د قربانے نه قبلیدو حسد په بنیاد باندې او حدیث کښې راځی چې د قیامت ورځ پورے چې څومره قتلونه کیږی نو د دغه ابن ادم به ورکښے حصه وی که یو انسان ښه کار او سنت طریقه ژوندے کړی نو څوك چې ورباندے عمل کوی د دغه انسان به ورکښے حصه وی او که څوك د بد کار بنیاد کیږدی نو څوك چې دغه بدکار کوی د دې انسان به ورکښے حصه وی.

## د قرباني نه کولو وعید:

څکه دې حدیث کښې صحابی فرمائي:

﴿اَقَامَ رسولُ الله ﷺ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ، يُضَحِّيْ﴾ (ترمذی)

نبی ﷺ په مدینه کښې لس کاله پاتې شوے وو چې قرباني ئے کوله او په یو موقع نبی ﷺ سل اُوښان حلال کړی وو، څلور شپیته په خپله او نور د علی رضی الله عنه په لاس باندے ئے حلال کړے وو او حدیث کښې راځی: ﴿مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ فلا يَقْرُبَنَّ مُصَلَّانَا﴾(مسند احمد)

څوك چې طاقت د قربانے کولو لری او بیا هم قرباني نه کوی نو دغه انسان دې زمونږه عیدګاه ته د مونځ د پاره نه راځی.

يو هغه چې انسان ته عذر وی غريبي وی هغه انسان نه دے مراد د دے نه مراد هغه مسلمان دے چې طاقت د قربانے لری او قربانی نه کوی نو دا د زورنے او تنبيه الفاظ او کلمات دی چې څه د پاره عيدګاه ته راځی چې اهم عبادت وينه توے کولو سره تا د الله رضا حاصل نه کړه نو صرف د مانځه سره الله نه راضی کيږی.

ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها نقل کړی دی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی:

﴿مَا عَمِلَ ابنُ ادم مِنْ عَمَلٍ اَحَبَّ اِلَى اللهِ يَوْمَ الْعِيْدِ مِنْ اِرَاقَةِ الدَّمِ﴾

(سنن ابن ماجة)

د اختر په ورځ انسان د وينے توے کولو نه بعد بل څه بهترين عمل نشی کولے.﴿ وانه لَيَأْتی يومَ القيامة بقرونها واشعارها واظلافها﴾(ترمذی) که د انسان دا ګمان وی چې بس ما صرف وينه توے کړه نو دا ګمان غلط دے بلکه د دې نيکی او ښه بدله شته دے. د دی قربانی دومره لوے فضيلت دے چې د قيامت په ورځ به د دې ښکرونه ،ويخته، خپے، نوکان، هډوکی هر څه په تله د نيکے کښې وی. په ورځ د قيامت به دا هر څه په نيك عمل کښې شمارلے کيږی نو انسان لره په دې عمل کښې بيا اخلاص ډير ضروری دے ځکه وائی:

﴿وَاِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ عِنْدَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ اَنْ يَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ﴾ (ترمذی)

د الله په نزد د دې وينے ته لوے مقام حاصل شوے دے مخکښے د پريوتولو نه په زمکه باندې، مطلب دغه وينه زمکے له نه وی رسيدلے چې د الله په نزديك بيا قبوله شوی وی ﴿فَطِيْبُوْا بِهَا قَلْبًا﴾ ډير په اخلاص او شوق سره د زړهٔ نه قربانے عمل ته مخکښے شی د مال پرواه مهٔ کوے د رياء او نوم کولو کوشش مه کوے ځکه د دې وينے ډير لوے مقام او لوے عزت دے.

## د قربانی اجر او ثواب:

زید ابن ارقم رضی اللہ عنہ فرمائی چې صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د نبی صلی اللہ علیہ وسلم نه د قربانے په موقع دا تپوس اوکړو چې د الله پیغمبره ﴿**ما هٰذه الاضاحی**﴾(ترمذی) دا قربانی د څه په باره کښې د دې حقیقت او تاریخ څه دے؟ نبی صلی اللہ علیہ وسلم جواب ورکړو چې ستاسو د نیکهٔ ابراهیم علیہ السلام د اخلاص نه ډك سنت او طریقه ده چې هغه کله خپل بچی اسماعیل علیہ السلام د الله د رضا د پاره قربانی کړے وو چې بیا د دې په غوض کښې ورته الله د ګډ قربانی ورکړے وه بیا صحابوؤ رضی اللہ عنہم تپوس اوکړو ﴿**مَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُوْلَ الله** صلی اللہ علیہ وسلم﴾ اے د الله رسوله زمونږ د پاره په دې کښې څهٔ اجرو ثواب او فضیلت دے. نبی صلی اللہ علیہ وسلم جواب ورکړو ﴿**بِكُلِّ شَعْرَة حسنةٌ**﴾ په هر یو ویختهٔ باندے په دې کښې انسان ته نیکی ملاویږی صحابوو رضی اللہ عنہم بیا تپوس اوکړو﴿**فالصُّوف يا رسول الله** صلی اللہ علیہ وسلم﴾ اے د الله پیغمبره! په وړے باندے انسان ته اجر ورکولے کیږی نو نبی صلی اللہ علیہ وسلم چې هاؤ د ګډ په هر ویختهٔ د وړے کښې اجر او ثواب شته دے نو قربانی کول په انسان باندې واجب دی چې د دې اداء کول ضروری دی او که یو انسان قربانی نه کوی نو ګناهګار کیږی فرض او واجب په عمل کښې یو شیز دے او فرق صرف په انکار کولو کښې د فرضو منکر کافر وی او د واجب عمل منکر بدترین ګمراه وی.

## د منکرین حدیث یو اعتراض:

د دې زمانے څه خلق آزاد خیال په قربانے باندې اعتراض کوی او بے دینه طبقه خلق هغه فکر د اسلام د دې عبادت د اهیمت ختمولو د پاره قبلوی نو دغه آزاد خیال منکرین حدیث دا پروپیګنډه کوی چې د قربانے په ورځ چې دا دومره څاروی او څناور ذبح کیږی دا فضول اسراف دے که د دې په ځائے دغه مال او دولت په غریب مسکین باندے تقسیم

شوے وے لویه فائده به وه؟ دا د دوی یو اعتراض دے او د دین نه ناخبره خلق دا خبره ډیره په آسانے سره قبلوی او کله ورسره دا خبره هم یو ځائے په آسانے سره قبلوی او کله ورسره دا خبره هم یو ځائے کړی چې دا قربانی صرف حج پورے خاص ده چې څوك حج کوی قربانی به کوی او که څوك حج نه کوی قربانی دې نه کوی؟ حقیقت او اصل خبره دا ده چې دا اعتراض کونکے د دین نه جاهله دی او د شرعی احکاماتو په حکمت باندې نه پوهیږی او څوك چې د اعتراض قبلوی هغه هم د دین د راز نه ناخبره دی نو که څوك دا خبره کوی چې ځناور ختمیږی دا خبره غلطه ده ځکه دنیا کښې چې څومره د انسان ضرورت دے دغه پورے الله یو څیز پیدا کوی دا خو صرف مسلمان په کال کښې یو ځل قربانی کوی که دا ټول مذهبونو واله یهودیان، عیسایان، هندوان او نور ورسره که په کال کښې دوه ځل قربانی شروع کړی نو دا ځناور به ختم نشی د دې مثال د اُوبو د کوهی په شان دے څومره چې کوهی نه اوبهٔ ډیرے راویستلے کیږی دومره هغے کښې اوبهٔ پیدا کیږی او که څوك ورنه اوبه نه راؤباسی نو بیا دغه اوبه ختمیږی او ضائع کیږی. او بل مثال ئے د اسونو په شان دے مخکښې په ځنګلونو کښې به ډیر استعمالیدل او ډیر به مرهٔ کیدل خو چې کله د هغے استعمال کم شو نو هغه اسونه کم شو دا د الله قانون دے چې د ضرورت مطابق انسانانو لره ضرورتونه پوره کوی.

**یوه بله شبهه او جواب:**

او که څوك دا وائی چې دا قربانی حج پورے خاص ده نو نبی ﷺ په ټول عمر کښې یو حج کړے دے په لسم کال د هجرت نبی ﷺ حج کړے وو او قربانی په لس کاله دور د مدینے منوره کښې هر کال ورسره قربانی کړې ده نو دا نهه کاله زیاتی قربانی د حج قربانی نه وه بلکه دا د دې

وجے نه وه چې دا يو مستقل عبادت دے ځکه نبیﷺ دا عبادت هر کال ادا کړے دے او دا خبره هم غلطه ده چې دغه مال دولت د قربانے دې عام مسکينانو ته ورکړے شي ځکه چې فرض او واجب د نفلو د پاره پريخودل دا حماقت او جهالت دے او په شريعت کښې د الحاد او تحريف طرف ته دعوت ورکول دی د غريب د پاره الله يو مستقل نظام ښودلے دے چې هغے ته نظام زکوة وئيلے کيږی هاں دا صورت کيدے شي چې يو انسان ټول ځناور په خپله حلالوی نو دا دې د دې په ځائے په ځناور کښې تقسيم کړی نن صبا د مالدارو خلقو يو رواج جوړ شوے دے چې لس او شل ځناور ذبح کوی صرف د نوم کولو د پاره نو د دې په ځائے دی واجب قربانی کولو په ځائے دې دغه پيسے غريب ته ورکړے شي ځکه مړی پسے قربانی کول نفل دی که دا پيسے د دې په ځائے غريبانانو کښې تقسيم کړے شي او دغه غريبانان ډير ضرورت مند او محتاجه وی نو دا جائز دی هاں دا ذهن سازی کول غلطه خبره ده چې د فرض، واجب قربانے په ځائے دې يو نفل عمل ته رواج ورکړے شي او هغه دې دَ واجبو په مقابله کښې شی نو دا خبره صحيح نه ده.

## د قربانی شرائط:

بيا دا خبره چې قربانی کله واجبيږی او په چا باندې واجبيږی نو:

اول شرط دا دے چې قربانی کونکے به مسلمان وی د کافر هندو سره قربانی نه صحيح کيږی.

دويم شرط چې بالغ به وی په نابالغه باندې قربانی نشته دے.

دريم شرط چې عاقل او عقلمند به وی په مجنون ليونی باندې قربانی نشته دے.

څلورم آزاد به وی په غلام باندې قربانی نشته.

پنځم مقیم به وی کۀ یو انسان شرعی مسافر وی په هغه باندې قربانی نشته دے.

شپږم صاحب نصاب کیدل چې څوك د زکوة نصاب لری او په چا چې زکوٰة ورکول واجب دی په دغه انسان قربانی کول هم واجب دی.

او قربانی صرف د کور په مشر سربراه باندې واجب نه ده دا غلطه خبره ده کور کښې چې څومره صاحب نصاب خلق که زنانه سره څومره وی او که بچی سره مال تجارت د نصاب مال ته رسی په دۀ باندې قربانی کول واجب دی په هغه صورت کښې صرف د مشر قربانی کافی کیږی چې کور کښې بل چا سره نصاب نه وی او مشر سربراه سره نصاب موجود وی نو که صرف هغه قربانی اوکړی نو صحیح ده او که د مشر او کشر ټولو سره نصاب نه وی نو بیا که هیڅ انسان قربانی او نه کړی نو دا هم صحیح دے.

# مسائل عید الاضحی

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!

فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿لَنْ يَنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآءُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ﴾

(سورۃ الحج:۳۷)

﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی اللہ عنہ: أَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم بِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ، يُضَحِّيْ كُلَّ سَنَةٍ ﴾(ترمذی)

## د ذوالحجة د اولې عشرے فضیلت:

د ذوالحجے د میاشتے یو عبادت قربانی هم ده نو د دې میاشت او د قربانے څه احکام ذکر کوؤ. د دې میاشت سره الله مختلف قسم عبادات تړلی دی او د دې میاشت څه اداب دی چې مسلمان به د هغے خیال ساتی څنګه چې الله په کال کښې مختلفے میاشتو او ورځو ته فضیلت ورکړے دے لکه رمضان ته الله فضیلت ورکړے دے او بیا اخری ورځو کښې شپه د لیلة القدر ډیره د فضیلت واله ده، دغه شان میاشت د ذوالحجه هم فضیلت واله ده او په دې میاشت کښې بیا د غټ اختر ورځ د ډیر فضیلت واله ده حدیث کښې راځی نبی صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی:

﴿مَا مِنْ اَيَّامٍ الْعَمَلُ فِيهِنَّ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْعَشَرَةِ﴾(بخاری)

یو عمل الله ته په هیڅ ورځو کښې دا سے خوښ او محبوب نه وی لکه څنګه چې په دې ورځو کښې الله ته خوښ او محبوب وی بیا ورته صحابی رضی اللہ عنہ فرمائی: ﴿ وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ د الله په لاره کښې جهاد کولو نه هم بهتر عمل نشته نبی صلی اللہ علیہ وسلم ورته اوفرمائیل: ﴿وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ

اللهِ﴾ اؤ د جهاد چې ډېر لوے فضيلت او اجر وثواب دے خو په دی ورځو کښې عمل کولو ته جهاد فی سبيل الله هم د عامو ورځو په نسبت نه رسی بيا ئے اوفرمائيل: ﴿ إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ ﴾ يو انسان چې په خپله ځان سره خپل مال واخلی او د الله په لاره کښې اوځی او بيا خپل کور ته راواپس نشی نو دا انسان بهتر کيدے شی او که داسے نه وی نو بيا په دې لس ورځو کښې د دے عمل مقابله هيڅ يو عمل نشی کولے.

## د عبادت بهترين ورځې:

او ابن ماجة کښې د ابوهريرهؓ روايت نقل شوے دے چې نبیﷺ فرمائی:

﴿مَا مِنْ اَيَّامٍ اَحَبُّ اِلَى اللهِ اَنْ يُتَعَبَّدَ فِيْهَا مِنْ هٰذِهِ الْعَشَرَةِ﴾ (ترمذی)

هيڅ ورځے الله ته د عبادت په نسبت ډيرے خوښے او محبوبے نه دی د دې لسو ورځو نه لکه څنګه چې الله ته دا لس ورځے ډيرې محبوبے دی په دې کښې روژه نيول د يول کال روژو نيولو ثواب لری او د دې په شپه کښې قيام کول د يو کال د قيام اجر او ثواب لری دا مقام او مرتبه د دې ورځو او شپو ده صرف ورځ بهترينه نه ده بلکه شپه هم ورسره الله برکت واله ګرځولے ده او نور احاديث هم د دې په فضيلت کښې شته دے.

## د ذوالحجة څه احکام:

کوم اعمال کول په دی ورځو او شپو کښې مسنون او سنت دی د دې د مستحباتو نه يو دا چې قربانی کونکے انسان به خپل نوکان او ويختۀ نه کټ کوی او که د نوم نه لاندے ويختۀ يا د ترخ ويختۀ غټ شوی وی نو انسان دغه کټ کولے شی بلکه د دغه انسان په حق کښې

مستحب دا ده چې دغه ویختهٔ دې بیا کټ کړی که غټ شوی وی او د مقرر حد نه ډیر اوګدهٔ وی هاں دا خبره ده چې که حاجی صاحب د حج په حالت کښې وی نو دا به په هیڅ یو شان ویختهٔ نه کټ کوی که کټ ئے کړل نو بیا وربانده دم (ګډه) لازمیږی او د دې نه کټ کولو حکم دا دے چې د حج ادا کونکی والو سره مناسبت او تعلق پیدا شی او د هغوی سره یو شان والے د انسان څه نه څه موجود وی د دې د پاره چې د حج او عمرے عظمت قدر او احترام د مسلمان په زړهٔ او دماغو کښې موجود وی.

## د حاجی صاحب سره مشابهت:

او لکه څنګه چې د عرفات په میدان کښې لویه اجتماع وی دغه شان الله رب العزت د دې خلقو د پاره دلته هم د اجتماع انتظام د اختر د مونځ په شکل کښې اوکړو او دا دې وجے نه چې دا ټول مخلوقات که حاجی صاحب دے او که غیر حاجی ټول په یو ځل الله رب العزت ته محتاجه دی او د هغهٔ نه د هغهٔ رضا محبت او مغفرت طلب کوی او که حاجی صاحب د حج قربانی کوی دلته عام خلق هم قربانی کوی او که هغوی تلبیه ﴿لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ﴾ یا د تکبیراتو اهتمام کوی نو مونږه او تاسو ته هم د دې د اهتمام کولو حکم په ایام تشریق کښې شوے دے.

## د غټ اختر تکبیرات:

د عرفے د ورځے نه تکبیرات شروع شی د ذوالحجه د نهم تاریخ نه او دا بیا پنځه ورځے وی یوه د عرفے ورځ، درے د اختر ورځے او ورسره یوه بله ورځ وی د هر فرض مانځه نه بعد نه دا تکبیرات په زوره تیز آواز باندې وئیلے شی او د دې تاریخ دا دے کله چې ابراهیم علیه السلام خپل بچے د چاړے د لاندے کړو او چاړه ئے وربانده په زور سره راښکله نو

جبرائیل علیہ السلام په تیزے سره د لارے د مینځ نه آواز اوکړو ﴿الله اکبر الله اکبر﴾ دا د دې د پاره چې خپل بچے حلال نه کړی ابراهیم علیہ السلام جواب ورکړو ﴿لا اله الا الله والله اکبر﴾ اسماعیل علیہ السلام چې دا واؤریدل چې زما په بدله کښې الله رب العزت ګډ د قربانے د پاره دنیا ته را نازل کړو نو هغه آواز وکړو ﴿الله اکبر ولله الحمد﴾ د الله رب العزت ته دا ذکر ډیر زیات خوښ شو نو په دی ورځو کښې د ټولو مسلمانانو د پاره د یو خاص ذکر په حیثیت سره دین اوګرځولے شو چې ټول مسلمانان به دا ذکر په تیز آواز سره کوی. دا تکبیرات یو ځل د هر فرض مانځه نه بعد په تیز آواز سره ادا کول واجب دی که هغه فرض مونځ انسان انفرادی ادا کوی او که په جماعت سره فرض مونځ ادا کوی خلقو دا درے ځل په ځان باندې لازم کړی دی. شامی او فتاوی دارالعلوم دیوبند کښې دی چې دا تکبیرات درے ځل په ځان لازم ګڼړل خلاف سنت دی او که د یو انسان نه دا تکبیرات هیر شی نو څو پورے چې د قبلے طرف ته ناست وی او خبرے ئے نه وی کړی نو په دغه حالت کښے که انسان دا اداء کړی بیا هم اداء کیږی او که د قبلے طرف بدل کړی یا خبرے اوکړی نو واجب ترك شو. د دې د ترك کیدو په وجه به استغفار وائی. او لکه څنګه چې نارینه دا تکبیرات وائی زنانه به هم دا تکبیرات وائی خو په جهر سره نه بلکې په پټ آواز سره به ئے ادا کوی دغه شان که یو انسان په حالت د سفر کښې دے نو په حالت د سفر کښې به هم دا تکبیرات اداء کوی او دا دومره اهم حکم دے که د یو انسان نه مونځ قضاء شی او بیا قضاء راګرځوی نو د دغه وخت مونځ قضاء سره به تکبیرات هم قضاء کوی او دا به د قضاء مونځ نه بعد وائی. افسوس دا دے چې په کوم ځائے کښې په شریعت کښې په جهر سره ذکر شته دے هغه مقام کښې مونږ په جهر سره ذکر

نه کوۀ او کوم ځائے کښې چې په جهر ذکر نشته هغه ځائے کښې مونږه په تیزه تیزه باندے چغے وهو بلکه کله په لاؤډ سپیکر باندے چغے وهی. دې ورځو ته ایام تشریق وائی تشریق مطلب یو څیز نمر ته کیخودل او خلق په دې ورځو کښې نمر ته غوښے ګدی.

## د عرفی روژه:

یو سنت مستحب عمل په دې ورځو کښې د یوم عرفے روژه ده مسلم شریف کښې د ابو قتادهؓ نه روایت دے نبیﷺ فرمائی چې کوم انسان د عرفے روژه اونیسی نو الله دې انسان ته د مخکښنی یو کال او د بعد یو کال ګناهونه معاف کوی او د دې نه وارۀ ګناهونه مراد دی د عرفے د ورځ نه علاوه په دې نورو ورځو کښې د اختر نه مخکښے انسان نفلی روژه، عبادات، نوافل، صدقات ورکولے شی که په چا باندې نذر یا فرض روژه قضاء پاتے وی نو بیا هغه فرض روژه قضاء کول یا نذر روژه نیول په دغه انسان اول لازم دی. دا دې خلقو کښې لوے مصیبت دے که چا باندې قضاء مونځ پاتی وی نو بیا هم نوافل کوی او قضاء مونځ نه راګرځوی اول دی انسان خپله ذمه فارغه کړی په قضاء راګرځولو سره بیا دې نوافل کوی ځکه د نوافلو پریخښودو تپوس نه کیږی خو د قضاء د پریخښودو تپوس شته او دا لازم دی د یوم عرفے نه علاوه په ایام تشریق باقی څلورو ورځو کښې روژه نیول ګناه ده.

## یوم الجزاء:

بل عمل حدیث کښې د اختر شپه د بدلے او صلے ورکولو شپه ده په دې شپه انسان ته بدله د ده د عمل ملاویږی او ابن ماجه کښې حدیث دے: ﴿مَنْ اَقَامَ لَيْلَةَ الْعِيْدِ مُحْتَسِبًا لَمْ يَمُتْ قَلْبُهُ يَوْمَ تَمُوْتُ الْقُلُوْبِ﴾(ابن ماجه) څوك چې د اختر په شپه په نیت د ثواب مونځ اوکړی نو د دې انسان زړۀ به په هغه

ورځ مړ نه شی په کومه ورځ چې زړونه مړهٔ کيږی. نو د نورو شپو په نسبت په دې دوؤ شپو، يو د وړوکی اختر شپه دويمه د غټ اختر شپه، په دې کښې عبادت، نفل، تلاوت زيات کول دی ځکه د دې اجر وثواب هم زياتيږی.

## د اختر په ورځ سنت عملونه:

او د اختر په ورځ غسل کول سنت دی مسواك وهل، نوے کپړے استعمالول يا صفا کپړے اغوستل، خوشبو لګول سنت دی او د غټ اختر په ورځ يو مستحب دا هم دی چې انسان خوراك، څکاك د قربانے نه بعد اوکړی که د قربانے څه غوښه وی او که نور څه خوراك وی پرواه نه کوی او جماعت، مسجد، عيدګاه ته پياده تلل مستحب دی.

## د قربانی شرائط:

بل اهم او عظيم عبادت د اختر په ورځ قربانی ده چې په چا قربانی واجب ده هغه به قربانی کوی او قربانی په دې سره واجبيږی چې انسان، مسلمان، عاقل، بالغ، آزاد، مقيم او صاحب نصاب وی نو قربانی په غير مسلم ليونی ماشوم يا غلام او يا مسافر باندے او يا چې غريب وی د نصاب مالك نه وی په دوی باندے قربانی نشته دے.

د نصاب د پاره پنځه څيزونه دی: يوه سونا دويمه چاندی اوو نيم توله سونا ده او دوه نيم پنځوس تولے چاندی نصاب دے يا مال تجارت چې د چاندی دغه قيمت ته رسی يا د ضرورياتو اصليه نه زيات څيزونه دا به هم راجمع کړے شی، که يو څيز ته مياشت کښې يو ځل ضرورت راځی يا په کال کښې يا د ميلمه د پاره ورته ضرورت راځی نو دا ضروريات اصليه دی. يا دا يو نصاب نشته، خو څه نا څه حصه شته دے په دې کښې او د دې څه نا څه حصه مجموعی لحاظ سره نصاب ته رسی نو بيا په دې انسان هم قربانی شته دے کله کله په يو کور کښې د هر چا سره د نصاب پيسے

برابرے وی او صرف مشر د کور په قربانے کښې حصه اخلی نو دا خبره غلطه ده د کور د مشر او سربراه قربانی په هغه صورت کښې د کشرانو نه کافی کیږی کله چې د کشرانو سره نصاب نه وی او که د لاندے بالغه بچی یا ښځے سره نصاب موجود وی نو په دې هر یو باندے خپله مستقله د قربانی حصه ده دغه یوه حصه د سربراه نه کافی کیږی.

بله مسئله دا چې د قربانے په نصاب باندے کال تیریدل ضروری نه دی لکه څنګه چې د زکوٰة په مال باندے کال تیریدل ضروری دی د قربانی د پاره دا شرطونه دی:

د اختر ورځ یا شپه تر درے ورځو پورے چې د انسان لاس ته د نصاب قیمت سره برابرے پیسے راشی نو دا انسان به قربانی کوی. د مړی د طرف نه قربانی کول صحیح کیږی. علی رضی الله عنه دوه ګډان حلال کړی وو یو د خپل طرف نه او یو د نبی صلی الله علیه وسلم د طرف نه او دا وصیت نبی صلی الله علیه وسلم علی رضی الله عنه ته کړے وو که مړی د قربانے کولو وصیت کړے وی نو دغه قربانی به صرف په غریبانانو، مسکینانو باندے خوړلے کیږی او که مړی وصیت نه وی کړی نو که یو انسان د خپل طرف نه هغه سره ښیګړه احسان اوکړی او قربانی کوی نو دغه قربانی په خپله مالدارانو، غریبانانو، دوستانو هر چا باندې خوړلے شی.

والحمد لله رب العالمین

# د ذوالحجه اهميت او اولى عشرے فضيلت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ وَاللَّيْلِ اِذَا يَسْرِ هَلْ فِىْ ذَالِكَ قَسَمٌ لِذِىْ حِجْرٍ﴾ (سورۃ الفجر:۱،۲،۳،۴،۵)

﴿وقال رسول الله ﷺ : مَا مِنْ اَيَّامٍ اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيْهِنَّ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ الْعَشَرَةِ﴾ (رواہ احمد)

## د ذوالحجة مياشت فضيلت:

د قرآن پاك د سورت الفجر يو څو ايات تلاوت شو په دې کښې الله رب العزت خپل خوږ محبوب پيغمبر ته د دې مياشتے او خاص د اولو لسو ورځو اهميت او فضيلت بيانوى او دا هر مسلمان لره ضرورى دى چې د هرے مياشت ورځے بلکه د هر ساعت احکامات او پيژنى او د خپل دين نه ځان خبر کړى دغه بهترين اوقات د غفلت په حالت کښې تير نه شى او بيا د دنيا د قومونو، ملکونو، بادشاهانو دا قانون دے چې هغوى په څه ورځو کښې جوش او جشن مناوهى او د خوشحالے اظهار کوى، دغه ورځ په نسبت د نورو ورځو بهتر ګنړى او بيا د دنيا د تاجرانو دوکاندارانو دا طريقه ده چې هغوى کله کله د يو څيز رواج ورکولو د پاره په هغے باندې نيلام اولګوى او دغه څيز په نيم قيمت يا په دريمه حصه باندے او کله مفت ئے خلقو ته ورکوى دغه شان الله رب العزت هم د مسلمانانو د خوشحالولو د پاره څه ورځے مقرر کړى دى او په دې کښې الله رب العزت په کم قيمت معمولى عبادت باندے ډير نه ختميدونکے اجر او

ثواب او بنه بدله ورکوی نو په دغه د خوشحالو ورځو کښې چې څنګه د جُمعے ورځ د رمضان المبارك میاشت د لیلة القدر شپه ګرځولے ده په دې کښې یوه د اهمیت نه ډکه میاشت دا میاشت د ذوالحجه هم ده او بیا په دې میاشت کښې دا اول لس ورځے د ډیر فضیلت مقام مرتبے واله ورځے دی.

## د اولې عشرے فضیلت:

دا لس ورځے د الله د رحمتونو ورځے دی په دې کښې عظیم عبادت د حج اداء کیدل دی د دې د وجے نه ورته فضیلت حاصل دے خو کوم خلق چې حج ته نه دی تلی هغوی ته الله خپله مهربانی او رحمت په بله طریقه ورشامل کړے دے د دې د پاره چې دغه خلقه د بے وَسے او د استطاعت نه لرلو د وجے نه د الله د فضل، کرم او مهربانے نه محرومه نه شی او دا دلیل دے د دې خبرے چې الله د خپل بنده هر عمل ته د محبت او شفقت په نظر باندې ګوری او د خپل بنده معمولی نه معمولی عمل نه ضائع کوی. دې وجے دغه حدیث کښې نبیﷺ فرمائی:

﴿ مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ [يَعْنِي أَيَّامَ الْعَشْرِ] ﴾

کوم نیك عمل چې الله ته په دې لسو ورځو کښې محبوب وی په نورو ورځو کښې دغه عمل الله ته داسے محبوب نه وی لکه څنګه چې په دې ورځو کښې وی ځکه د دې ورځو د الله په دربار کښې لوے مقام، مرتبه او فضیلت دے او د قرآن د سورت فجر په شروع شروع کښې الله دی لسو ورځو باندے د دې عظمت باندے قسم او ګواهی کوی فرمائی: ﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ قسم دے د سحر په وخت باندے او قسم دے په دغه لسو ورځو باندے. ځکه د الله قسم زمونږه په شان قسم نه دے الله

چې په څه ځيز باندے قسم کوی دغه ځيز الله ګواه کوی ځکه دغه ځيز د الله په نزديك د ګواهے حق لرى نو الله قسم کوى چې اے انسانه ستا په عمل باندے د سحر د خير نه ډك وخت او لس ورځے چې د عظمت واله دى دا ستا په دې عمل باندے ګواه دى. د سحر وخت د انسان په غفلت او نقصان باندے ګواهى کوى او دا لس ورځے بهترين اوقات هم به د انسان په عمل او غفلت باندے ګواهى کوى نو په داسے اوقاتو کښې انسان لره عمل کول پکار دى، غفلت کول نه دى پکار چې په فضولياتو کښې دا ضائع کړى.

## دا اختر د شپې فضيلت:

په دې کښې نفلونه ذکر او اذکار، صدقه، روژه ډير اجر او ثواب په نسبت د نورو ورځو باندے لرى بيا د دې غټ اختر او وړوکى اختر د شپے لوے فضيلت دے حديث کښې راځى نبى ﷺ فرمائى:

﴿مَنْ اَقَامَ لَيْلَةَ الْعِيْدِ مُحْتَسِبًا لَمْ يَمُتْ قَلْبُهُ يَوْمَ تَمُوْتُ الْقُلُوْبِ﴾(ابن ماجه)

څوك چې په دې دوؤ ورځو کښې په نيت د ثواب سره قيام الليل اوکړى د دغه انسان زړهٔ به مړ نه شى په کومه ورځ چې زړونه مړهٔ کيږى د دې نه مراد ورځ د قيامت ده چې د ډير خوف او هيبت د وجے نه به د انسان زړهٔ يريږى او خپل مرګ به خوښوى خو دا انسان به په دغه خوفناکه ورځ کښې هم مطمئن وى او خوشحاله به وى. په دې شپه کښې عبادت مستحب عمل دے خو د دې د پاره د اجتماع راجمع کيدو ته ضرورت نشته.

## د حاجيانو سره مشابهت:

د حج عظيم رکن سره مناسبت او تعلق پيدا کولو د پاره الله د عام انسانانو د پاره نور عبادات لازم کړى دى لکه حاجيان قربانى کوى نو عام

خلق به هم قربانی کوی، هغوی عرفات کښې راجمع کیږی نو عام خلق به د اختر مونځ ته راجمع کیږی هغوی تلبیه او تکبیرات ادا کوی عام خلق به هم تکبیرات وائی حاجی صاحب ویختو اغستو نه منع دے نو زمونږه قربانی کونکو د پاره ئے دا مستحب گرځولی دی.

## سنت ابراهیمی علیه السلام:

د عام مسلمانانو د پاره بل عظیم عمل سنت ابراهیمی قربانی کول دی قربانی کول واجب عمل دے حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی:

﴿مَنْ وَجَدَ سَعَةً فَلَمْ يُضَحِّ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَصَلَّانَا﴾ (مسند احمد)

څوك چې استطاعت او طاقت لری بیا هم قربانی نه کوی نو دا انسان دې زمونږه عیدگاه ته نه راځی. که یو انسان وس طاقت نه لری دا بیله خبره ده خو څوك چې طاقت لری او بیا هم قربانی نه کوی نو دا الله ته دومره ناخوښ انسان دے چې الله د دهٔ مونځ ادا کول خو لا څه کوے چې عیدگاه مسجد ته په دغه ورځ د دهٔ راتلل هم الله نه خوښوی.

بله خبره دا چې د یکم ذوالحجة نه څوك چې د قربانی اراده لری نو دغه انسان به خپل ویختهٔ نه کټ کوی دا مستحب دی، د حاجی صاحب په حق کښې واجب دی چې هغه به ویختهٔ نه کټ کوی بل فرق دا دے چې حاجی صاحب به د احرام د تړلو نه بعد ویختهٔ نه اخلی او قربانی کونکے به د یکم تاریخ د ذوالحجه نه ویختهٔ نه اخلی.

## تکبیرات تشریق:

دریم عمل چې په ټولو خلقو باندے واجب دے که حاجی صاحب وی او که نه وی که قربانی کوی او که قربانی نه کوی په هر انسان باندے واجب عمل تکبیرات تشریق دی چې هغه د فرض مونځ کیدونه بعد به

انسان ادا کوی که په جماعت سره فرض مونځ ادا کړی او که بغیر د جماعت نه مونځ ادا کړی خو دغه انسان به دا تکبیرات وائی یو ځل دا تکبیر وئیل واجب دی:﴿الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد﴾ دا به یو ځل خامخا وائی او که دا انسان دا اونه وائی نو ګناهګار به وی ځکه چې واجب ئے ترک کړل زنانه او نارینه دواړه به دا تکبیرات وائی هاں درے ځل دا وئیل لازم نه دی او که څوك درے ځله دا وئیل لازم ګنړی نو فتاوٰی دارالعلوم دیوبند واله ورته خلاف سنت او ناروا عمل وئیلے دے. زنانه به په آرام آواز سره او نارینه به دا په جهر تیز آواز سره ادا کوی مسافر که د سفر په حالت کښې وی نو هغه په هم دا تکبیرات وائی.

او د دې تکبیراتو ابتداء او تاریخ د کله نه شروع شوے دے دا چې کله ابراهیم علیه السلام خپل بچے د چاړے نه لاندې راسملولو نو جبرائیل علیه السلام ورباندے د لارے د مینځ نه آواز وکړو ﴿الله اکبر﴾ ابراهیم علیه السلام چې دا منظر مشاهده کړو نو جواب ئے ورکړو ﴿لا اله الا الله والله اکبر﴾ کله چې اسماعیل علیه السلام ته دا پته اولیږده نو هغه بطور شکریه دا الفاظ وئیل ﴿الله اکبر ولله الحمد﴾ نو الله ته د هغوی پاکو خلقو دا ادا خوښه شوه ځکه الله د قیامت پورے جاری او ساری اُوساتله او د ټول امت د پاره ئے یوه طریقه کار اوګرځولو. دا تکبیرات د عرفے د ورځ نه شروع کیږی او دیارلسمے ورځ پورے ادا کیږی.

او په دې ورځو کښې شریعت روژه نیول منع کړی دی دا پنځه ورځے پورے انسان روژه نشی نیولے ځکه انسان په دې کښې د الله میلمه وی.

# د حج ابتداء

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاِذْ بَوَّاْنَا اِبْرَاهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِیْ شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِیَ لِلطَّائِفِيْنَ وَالْقَائِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ وَاَذِّنْ فِی النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوْكَ رِجَالًا وَعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ﴾ (سورة الحج:٢٧)

## د حج مياشتې:

دې مياشتو ته د حج مياشتے وائی چا لره چې الله طاقت ورکړے وی نو هغه به دا کال د بيت الله د حج او زيارت کولو د پاره روانيږی د حج فرضيت او اهميت او په دې کښې د خلقو کو تاهيانې چې سره د فرض کيدو نه خلقه دې ته څه حيثيت نه ورکوی او نه ئے د ادا کولو څه اراده لری. د دې نقصانات په دې مجلس کښې څه وضاحت سره ذکر کوؤ.

حج څه ته وائی؟ او د حج څه معنیٰ ده؟ د حج لغوی معنیٰ زيارت قصد کول چې انسان د يو څيز د زيارت قصد اوکړی او حج ته حج ځکه وائی چې حاجی صاحب په دې ورځو کښې د الله د کور د زيارت قصد او اراده لری او په هغه ځائے کښې خپل عبادت ادا کوی بيا د حج د ابتداء ذکر او د دې د تاريخ بيانول هم لازمی خبره ده.

## د بيت الله تعمير:

د قرآن پاك په دې ايتونو کښې الله د حج د ابتداء ذکر کړے دے ﴿وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرَاهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ﴾ د الله کور بيت الله شريف د مخکښې نه تعمير شوے وو خو د هغه زوړ کور بنيادونه زاړهٔ شوی وو او د هغے

ديوالونه خراب شوی او مات شوی وو کله چې ابراهيمعليه السلام مکے (حجاز) راغلو نو الله رب العزت ورته دوباره د خپل کور ابادولو حکم اوکړو او الله ابراهيمعليه السلام ته د دغه کور زاړهٔ بنيادونه ښکاره او ظاهر کړل چې د غه کور دې دوباره په دې بنيادونو تعمير کړے شی نو الله دغه خبرے ته اشاره کوی:﴿وَإِذْ بَوَّأْنَا﴾ کله چې مونږ ښکاره کړل ﴿لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ﴾ ابراهيمعليه السلام ته د بيت الله شريف هغه مقام او ځائے الله ظاهر کړو او الله ورته دا حکم کړے وو چې صرف ظاهری تعمير مراد نه دے بلکه د تعمير مقصد به دا وی چې د دی کور نه به د الله د توحيد چغے او نعرے آوازونه اوچتيږی دا د دې کور روحانی آبادی ده ځکه الله فرمائی: ﴿ أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا﴾(سورة الحج:٢٦) چې د الله سره شريك او حصه دار به نه ګرځوے ابراهيمعليه السلام د الله جليل القدر پيغمبر دے هغه د الله سره شرك نه کولو خو دا خطاب په اصل کښې مونږه او تاسو ته دے چې اے خلقو زما کور د شرك او د کفر د خباثت او قباحت نه پاك او صفا کړے. دا کور د عبادت او د عمل په اعتبار سره آباد کړے . زما کور به د توحيد مرکز وی.

بل حکم دا کوی:

﴿أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾ (البقرة:١٢٥)

زما دا کور د طواف، اعتکاف، رکوع او سجدے کونکو د پاره پاك او صفا کړے ځکه پاك ذات ته مخے ته په ګنده ځائے کښې انسان نه اودريږی پاك ذات ته به انسان په پاك مقدس مقام کښې قيام کوی او هغه ته به رکوع، سجده او د اعتکاف ادائيګی کوی.

## د حج بل خصوصيت:

بل خاص حکم چې هغه دغه کور سره خاص دے او بل ځائے

کنبې نه موندلے کیږی هغه دا دے چې: ﴿وَاَذِّنۡ فِی النَّاسِ بِالۡحَجِّ یَاۡتُوۡکَ رِجَالًا وَّعَلٰی کُلِّ ضَامِرٍ یَّاۡتِیۡنَ مِنۡ کُلِّ فَجٍّ عَمِیۡقٍ﴾(سورة الحج:۲۸) دې خلقو ته اعلان اوکړه چې هغوی دې په هر یو لارے په خپلو خپو او په سورلو سره دې کور ته د حج ادا کولو د پاره راځی بیا فرمائی: ﴿لِیَشۡهَدُوۡا مَنَافِعَ لَهُمۡ﴾ چې دا خلق دی خپلو فائدو ته حاضر شی ځکه حج کنبې الله دنیاوی او اُخروی فائدے کیخودلی دی، دې خلقو ته د حج سره سره دا فائدے هم ملاؤ شی د دې نه بعد په دې ایت کنبې د دم شکر بیان دے چې په دغه ځناورو باندے به د الله نوم اخلی د دی د پاره چې دا حلال شی. نو د دغه ځناورو نه په خپله هم انسان خوراك کولے شی او غریب سوال کونکی ته ئے هم دا ورکولے شی. دا د حج یو مختصر پس منظر دے چې قرآن بیان کړے دے.

## د ابراهیم علیه السلام سیرت:

د حج د تفصیل نه ځان خبرولو د پاره د ابراهیم علیه السلام سیرت لوستل ضروری دی او دا چې ابراهیم علیه السلام باندې الله دا اعلان ولے کوی په نبی صلی الله علیه وسلم باندې د اعلان ولے نه کوی او د دی تعمیر په ابراهیم علیه السلام باندې کوی په نبی صلی الله علیه وسلم باندې د دې تعمیر ولے نه کوی سره د دې نه چې دا پیغمبر د حجاز دے او ابراهیم علیه السلام د عراق دے او بیا هم د دې پیغمبر په وطن کنبې الله په ابراهیم علیه السلام دا بیت الله مسجد حرام تعمیر کړو.

## متفق علیه شخصیت:

په پیغمبرانو کنبې ابراهیم علیه السلام داسے یو متفق علیه شخصیت دے چې هر مذهب واله هغه خپل مشر او مقتداء ګڼړی او د هغه پوره قدر او احترام هم کوی مسلمانان، عیسایان، یهودان تر د هندوانو پورې دا ټول مذهبونو واله د ابراهیم علیه السلام تقدس او مشری منی او هغه ته د یو نیك بنده

په نظر باندے ګورى او نن د نيمې نه ډيره دنيا ابراهيم عليه السلام يو بهترين انسان تصور کوى او درے غټ اولوالعزم پيغمبران چې د هغوى امتونه الله په دنيا کښې آباد کړى وو يو عيسىٰ عليه السلام او موسى عليه السلام او زمونږه پيغمبر محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د ابراهيم عليه السلام په نسل کښې دى.

## د ابراهيم عليه السلام زمانه او حالات:

د الله بنده ابراهيم عليه السلام په عراق کښې پيدا شوے وو د هغه دور او زمانه داسے وه چې ټوله دنيا د الله نه په بغاوت کښې اخته شوې وه په مخ د زمکے د الله د معرفت والا هيڅ د يو بنده نام ونشان هم موجود نه وو په دي آباده دنيا کښې داسے يو انسان نه موندلے کيدو چې هغه خپل حقيقى او اصلى مالك آقا پيژندلے وے. د ټولے دنيا دا حالات وو او په کوم قوم، کلى ،وطن ،ملك کښې چې ابراهيم عليه السلام پيدا شوے دے دغه قوم کلے وطن د ټولو قومونو کلو وطنونو نه زيات ترقى يا فته وو.

## دوه بيمارياني:

خومره چې د دنيا په ترقئ کښې مخکښې وو دغه شان دغه قومونه په دينى ميدان کښې د ټولو نه زيات ګمراه ملك او قوم وو په دې قوم کښې دوه قسمه شرك او کفر موجود وو يو نجوم پرستى د نمر، ستورو عبادت کول دويم بزرګ پرستى د مخکښے انبياؤ او نيکانو خلقو مجسمے ئے جوړې کړې وے او د هغوى عبادتونه به ئے کول او نن چې څنګه د مسلمانانو يا د هندوانو په معاشره کښې کمزورے خبرے مشهورى دى او په دې باندے خلقه يقين کوى دغه باطلے خبرے د ابراهيم عليه السلام په قوم کښې هم موجود وے لکه بد فالى نيول د غيبو په باره کښې خبر ورکول، جادو، کوډې، منترے دا غلط تصورات په هغه خلقو کښې موجود وو.

## غلط تصورات او عقائد:

څنګه چې نن هندوان د پنډت په باره کښې عقيده او څه تصور لرى دغه شان کمزورى د قرآن نه ناخبره مسلمانان چې د بعضو پيرانو او منجورانو باره کښې څه عقائد لرى چې هغوى ته مکمل اختيارات ورکوى د ابراهيمعليه السلام په قوم کښې هم دا مرض موجود وو چې د دغه پيرانو پيشوايانو باره کښې به ئے عقيده لرله او دغه پيشوايانو ته د حکومت د طرف نه اعتماد، امن و امان حاصل وو نو دوى به خلقو ته دا تصور هم ورکولو چې بادشاه وقت اله وى، خدائے وى، معبود وى، د بادشاه خبره قانون وى هغه منل په هره طريقه لازم وى او هغه ته د عامو خلقو په مالونو باندې په ځانونو باندې پوره اختيار او تسلط حاصل وى. د ابراهيمعليه السلام تعلق هم د دغه پيرانو د کورنے سره وو د ابراهيمعليه السلام پلار د ټولو نه غټ مذهبى پيشوا او پير صاحب وو دومره تقدس د هغه کيدو چې که نمرود لره به د سحر په وخت کښې هغه په سر باندې پګړے نه وه کيخودى تاج به ئے ورته په سر کړے نه وو نو هغه به په خپل عدالت کښې فيصله نه کوله ځکه دغه فيصله به غلطه بےبرکته تصور کيده او که د يو مجسمے بت په باره کښې به ازر دستخط نه وو کړے نو د هغه عبادت به چا نه کولو دغه بت به د عبادت اهل نه وو چې تر څو پورے به د هغه اجازت نه وو کړے شوے.

## د نظام نه ، نهٔ متاثره کيدل:

په داسے خاندان کور کښې پيدا کيدل بيا د مور او پلار د طرف نه د شرك پرستے تعليم ورکول او ابراهيمعليه السلام ته دا خبره معلومه وه چې که زهٔ د پلار په لاره او دين باندے روان شمه نو د هغه دغه مسند او مقام ماته پاتى کيږى او زهٔ د دې اول لائق حقدار ګرځمه د دې ټولو وجوهاتو

سره ابراهیمعلیه السلام د شرك نه، نهٔ متاثره کیږی او نه د شرك ماحول قبلوی، نه بت ته سجده کوی او نه بادشاه وقت ته اله وائی او نه خپل پیر لره څه نذرانے شکرانے ورکوی بلکه د دې نه هټ کر ،بر خلاف یو طرف ته ابراهیمعلیه السلام د خپل پلار، قوم، وطن، ملك، بادشاه نه خلاف د الله په توحید قائم او مضبوط اودریږی د هغوی د مخالفت پرواه نه کوی دا ځکه چې ابراهیمعلیه السلام فطرتی نبی دے او نبی د روز اول نه نبی وی د هغه خوئی، فطرت، عادت د شرك پرستئ نه شی کیدے دی وجے نه ابراهیمعلیه السلام نهٔ دنیا ته اوکتل نهٔ بادشاهے ته او نهٔ د خپل پلار د مسند څه پرواه کوی او په دې پر خطر حالاتو کښې د ټولو خلاف اودریږی او د الله دین ورته بیانوی کله خپل پلار ته د الله د توحید دعوت ورکوی کله د بادشاه په دربار کښې ولاړ وی او کله عامو خلقو ته د الله پیغام ورکوی د هغوی د شرکیاتو، کفریاتو، توهمّاتو او باطل تصّوراتو خلاف دے، تر دې پورې چې د خپل پلار نه د براءت بیزارتیا اعلان کوی او خپل وطن ملك پریخودو ته د الله د دین د پاره روانیږی.

## د شرك خلاف آواز:

ابراهیمعلیه السلام د خپل قوم، وطن، پلار ،رشته دارو نه د بائیکاټ او براءت بیزارتیا اعلان کوی: ﴿إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ﴾ (انعام:۷۸)
زه ستاسو د دې شریکانو نه بیزاره یمه، او کله ورته دا دعوت ورکوی:
﴿إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَنِي﴾ (سورة الانعام:٦٩)

زه خپل مخ هغه ذات طرف ته کومه کوم ذات چې زه پیدا کړے یمه. ستاسو دا معبودان باطله د څه خیر او شر نفع او نقصان مالکان نه دی د دوی په لاس کښې هیڅ څه خیر نشته دے. د ابراهیمعلیه السلام په دور کښې انسانیت په دوؤ غټو لعنتونو کښې مبتلاء وو یو انسانی اُلوهیت،

انسان ته د الله درجه او مرتبه ورکول، انسان د عبادت لائق ګنړل، انسان ته د نزدے کیدو د پاره نذر ونیاز، شکرانے ورکول، دویم انسانی حاکمیت د انسان حکم د الله د حکم او قانون په شان ګنړل. د انسان حکم ته حکم الٰهی وئیل دې دوؤ مرضونو او شرکونو کښې دغه قوم اخته شوے وو. ابراهیم علیه السلام د دې دواړو شرکونو خلاف آواز پورته کړے دے مخکښې انبیاؤ علیهم السلام صرف د خپل قوم خلاف آواز پورته کړے وو ابراهیم علیه السلام د الله یو داسے پیغمبر دے چې هغه د بادشاه وقت دربار ته هم خپل آواز رسوی. دویم ابراهیم علیه السلام علاقائی، قومی پیغمبر نه وو بلکه پوره عالمی دعوت الله دۀ ته ورکړے وو ځکه ورته الله فرمائی:

﴿اِنِّیۡ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا﴾ (سورة البقرة:١٢٤)

مونږه تا لره د دې خلقو د پاره امام ګرځولے ئے. بیا دغه د امامت کبری خدمت الله د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اغستے دے. تمهید د دې ابراهیم علیه السلام کیخودلے دے او پوره فائده ورنه محمد صلی الله علیه وسلم اغستے ده.

## په ابراهیم علیه السلام اول امتحان:

ابراهیم علیه السلام په یو وخت کښې د بادشاه وقت غلط تصور او د قوم غلطه عقیده چېلنج کوی او د هغے خلاف آواز کوی نو پلار او قوم خلاف شو ځکه د هغوی پیرے مشرے ته نقصان کیدو بادشاه وقت هم خلاف شو ځکه د هغه بادشاهی په خطره کښې غورځیده نو د هر طرف نه ورباندے د امتحاناتو یوه سلسله شروع شوه بادشاه، قوم، پلار په دې خبره رامتفق شو چې ابراهیم علیه السلام په اُور کښې ګوزار کړے، اوو سیزے ابراهیم علیه السلام لره، ځکه دۀ اوس نوې خبرے ، خود ساخته خبرے شروع کړې ټوله دنیا یو طرف ته روانه ده او ابراهیم علیه السلام بل طرف ته روان دے نو اُور کښې ورته الله نجات ورکړو ابراهیم علیه السلام ته چې پته اولګیده چې دا

قوم د دعوت په محنت باندے نه پوهیږی نو دا خبره ئے وکړه:

﴿ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ ﴾ (سورة العنکبوت:۲۶)

زه هجرت کوم. مور، پلار، خاندان ،وطن او قوم نه روان شو بل طرف ته ځی چې د الله د دین دعوت خلقو ته ورکړی یوه بی بی، ورارهٔ ښځه ورسره ده او تش لاس روان دی هجرت کوی د دغه وخت نه واخله تر مرګه پورے ټوله زندګی د ابراهیمعلیہ السلام په امتحاناتو، مصیبتونو کښې تیره شوے وه.

## د امامت کبری منصب:

کله چې ئے ګیره سپینه شوه د بوډا والی حالت ته اورسیدو نو الله ورته اولاد ورکړو د اتیا کالو عمر کښې ور ته بچے ملاؤ شو. ابراهیمعلیہ السلام دا خبره کړے وه: ﴿أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ (سورة البقرة:۱۳۱) ما خپل ځان د ټولو مخلوقاتو رب ته تابعدار کړے دے. بیا ابراهیمعلیہ السلام چې څنګه زندګی د خپل بچو، اولاد د پاره غوره کړے وه هغوی هم خپل ځانونه د ابراهیمعلیہ السلام د دین نه قربان کړی وو. په هغے کښې یو دا چې بچے به قربانی کوی، هجرت کول، اور ته تیاریدل خپله ښځه او یو بچے په یو صحراء کښې پریخودل دا ډیر لوے امتحانات دی کله چې ابراهیمعلیہ السلام دا امتحانات پوره کړل نو الله ورته انعامی اعلان اوکړو چې ابراهیمعلیہ السلام په دې کښې پاس شو ﴿فَأَتَمَّهُنَّ﴾ دا ټول ئے پوره کړل نو الله ورته عالمی نبوت، عالمی اسلامی تحریك حواله کړو او د دغه تحریك مخکښې بوتلو د پاره ورته الله درے نائبان قائم مقام ورکړه یو اسحاقعلیہ السلام یو اسماعیل علیہ السلام یو لوطعلیہ السلام وو د دې تحریك پوره کولو د پاره حضرت لوطعلیہ السلام ئے مشرقی اردن ته اولیږلو او دا یو داسے برابر ځائے وو چې د عراق او مصر په مینځ کښې به قافلے هغه ځائے ته ځی نو د دې قافلو سره ملاقات کول او د دین دعوت ورکول ډیر فائده مند وو. بل بچے اسحاقعلیہ السلام ئے په فلسطین او کنعان کښې پاتے کړو په هغوی باندے ئے

خپله علاقه او وطن د دعوت نه متا ثره کولو. دریم جانشین او مشر بچے ئے په عرب ریګستان کښې پریخودو، دې د پاره چې په عرب او زمونږه په دی علاقو کښې د دین نشرو اشاعت اوکړی او د دغه تحریك د پاره ورته الله یو عالمی مرکز ورکړو چې هغه بیت الله شریف مقام وو، ځان سره به خلق د اسلام، سوچ، فکر اخلی او خپلو علاقو کښې به خورېږی دې طریقے سره ابراهیمعلیہ السلام د الله د دین کار شروع کړو ﴿وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ﴾ کله چې مونږه ابراهیمعلیہ السلام ته د بیت الله شریف مکان حواله کړو، ابراهیمعلیہ السلام د دعوت په سلسله کښې د بادشاه دربار ته رسیدلے وو ځکه د هغه نه بعد د هغه دعوت واله ټول بچی د پیغمبرے سره حکمرانی به هم کوله لکه موسیٰعلیہ السلام پیغمبر ورسره حکمران هم وو دغه شان نبیصلی اللہ علیہ وسلم د اسماعیلعلیہ السلام په اولاد کښې پیغمبر ورسره حکمران هم وو د لوطعلیہ السلام په اولاد کښې یوسفعلیہ السلام پیغمبر ورسره حکمران هم وو دراصل توحید په دوه قسمه دے. یو اعتقادی دویم عملی توحید. اعتقادی تو حید د الله عبادت عملی توحید قانون دانی او حکمرانی صرف د الله کول او د محمد رسول اللهصلی اللہ علیہ وسلم شریعت او دین د ابراهیم علیه السلام د دین تکمیل وو. د هغه د دین پوره تصویر د نبیصلی اللہ علیہ وسلم دین دے ځکه الله په عالمی مقام مکه کښې رامبعوث کړے وو او د روم، فارس قبائلو مشرانو ته ئے خطونه پیغامات لیږلے وو. او بیا ئے په مدینه کښې ریاست قائم کړو نو دا د مکے مکرمے هغه تاریخی او دینی حیثیت دے چې الله ورله ورکړے دے د ابراهیمعلیہ السلام د دین او د هغه د بچو یادګار د نبیصلی اللہ علیہ وسلم د دعوت بنیادی مرکز دغه وجه وه چې الله مونږه ته دغه مقاماتو کښې د حج د ادائیګے حکم کړے دے د ابراهیمعلیہ السلام د دعوت ابتداء او د محمدصلی اللہ علیہ وسلم د دعوت انتهاء دا سوچ او فکر به دغه مقام نه اغستلے کیږی. والحمدلله رب العالمین.

# اسلام او د حج اصلاحي مهم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد! فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَعْلُوْمَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى وَاتَّقُوْنِ يٰاُولِي الْاَلْبَابِ﴾ (سورۃ البقرۃ:۱۹۷)

## د توحيد علمبرداران او د قوم جهالت:

مخکښې د حج ابتداء او تاريخي حيثيت بيان شوے وو چې ابراهيم عليه السلام عالمي تحريك او دعوت شروع کړے وو د دې د پاره هغه د الله په حکم بيت الله شريف مرکز جوړ کړے وو او الله ورته دا حکم کړے وو. ﴿وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ﴾ د الله په حکم دې خلقو ته (مخلوق خدا) ته د حج د اداء کولو په باره کښې حکم او پيغام ورکړه په مکه کښې د دې بزرګانو اسماعيل عليه السلام او ابراهيم عليه السلام تعليمات موجود وو خو د وخت تيريدو سره دې خلقو دغه تعليمات پريخودل او په شرك کښې اخته شو د ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام مجسمے او صورتونه ئے جوړ کړل او په بيت الله کښې ئے دغه تصويران زوړند کړل کوم کور چې الله د توحيد د پاره مرکز جوړ کړے وو او دغه کور نه به د شرك خلاف آواز پورته کيدو، نا اهله جاهله پيروکارو برائے نام دعويدارو خلقو دغه کور د توحيد په ځائے د شرك مرکز جوړ کړو او د هغه توحيد داعيان ئے بتان جوړ کړل کومو خلقو چې به د يو الله د وحدانيت دعوت ورکولو هغوی ئے د الله سره شريکان جوړ کړل د کوم کور د پاکے په باره کښې چې

حکم شوے وو هغه کور دې خلقو په شرك باندے ګنده او خراب کړو.

نبیﷺ چې کله مکه فتح کړه نو په بیت الله شریف کښې ډیرے مجسمے نصب کړے شوے وے په دې کښې دوه مجسمے د ابراهیمعلیه السلام او د اسماعیلعلیه السلام په شکل کښې ولاړے وے نبیﷺ اوفرمائیل د الله لعنت دې وی په هغه قوم باندے چې د خپلو مشرانو برخلاف عمل کوی.

## د الله د توحید ناقدری:

هغه قوم چې هغوی ته د یو الله د توحید تعلیم او پیغام ورکړے شوے وو هغه قوم د الله سره ود، سواغ، یغوث، یعوق، نسر، اساف، نائله، هبل، ابراهیمعلیه السلام،اسماعیلعلیه السلام ، ورسره ستوری، سیارے، عطارد، زهره ، زحل، ونے بوټی، مارغان، ځناور الغرض هر قسمه مخلوق دغه جاهلو خلقو د الله سره شریك دار او حصه دار جوړ کړے وو. درے سوه او شپیته(۳٦۰) بتان ولاړ وو که په سفر باندے به روان وو او ځائسته کانړے به ئے اولیدو نو هغه به ئے خپل خدائے معبود جوړ کړو که کانړے به نه وو نو د خټے نه به ئے بت جوړ کړو او په هغه باندے به ئے د چېلو، ګډو پئ واړول او بس دا به د هغوی خدائے وو دا به د هغوی معبود اول وو. کله به د دوی دغه معبود د کهجورو د هډوکی نه جوړ شوے وو هغه ابراهیمعلیه السلام چې د دې د وجے نه هغه مشقتونه او تکلیفونه برداشت کړی وو . اول نقصان په دغه کور کښې د شرك په صورت سره شروع شو، بیا بل نقصان د شعر و شاعرے په صورت کښې، بیا بل نقصان د فحاشے او عریانے په صورت کښې شوے وو نو حج د عبادت ځائے نه وو بلکه د سیل او تفریح کولو د پاره خلقه دلته راتلل.

## د حج اصلاح:

کله چې د نبیﷺ نبوت خور شو نو حج دوباره یو بل نوی اصلاحاتو سره نبیﷺ وجود ته راوستو او د جاهلیت هغه جاهلے طریقے ئے ورنه ختمے کړے، په منی کښې د شعرو شاعرے مقابلے ختمے شوے په عرفات کښې لوے لوے میلے د وقوف عرفه په صورت کښې بدل شوے، مزدلفے نه د پلار او نیکه د بهادرے واقعات بیانول ختم شو او خالص د الله عبادت وجود ته راغلو د شاعرانو مبالغے چې هغوی به د خپلے قبیلے پلار نیکه په حق کښې کولے هغه د الله په عبادت سره بدل شوے او خالص د الله عبادت وجود ته راغې په دې طریقے سره نبیﷺ د ابراهیمؑ د دین تکمیل کړے وو.

## د یو بل غلط رسم وجه:

د خانه کعبے نه بربنډ طواف کول د هغوی یو غلط رسم وو دا په حقیقت کښې د الله د کور لویه بے عزتی وه خو د هغوی سوچ او ګمان دا وو چې مونږه دا بربنډ طوافونه ځکه کوؤ چې دغه جامو کښې مونږه د الله ډیره نافرمانی او ګناهونه کړی دی نو په دغه جامو کښې مونږه د الله په کور کښې اوس طواف نه شو کولے دویم دا چې انسان د مور نه بربنډ حالت کښې پیدا شوے دے نو الله ته د دې انسان فطری طریقے سره چې جامے وربانده نه وے الله ته دغه طریقه ډیره خوښه او محبوبه ده دریم دا چې زمونږه د دې لباس او جامو پته نه لګی چې دا مونږه د حلال مال نه جوړے کړی دی او که نه د حرام مال نه مونږه دا جوړے کړی دی ځکه د الله عبادت په حرام لباس کښې نه قبلیږی. او کله چې به حج نه ځوك راغلو نو د بیت الله د منجور نه به ئے جامے په ډیر لوے رقم او پیسو باندے واغستې او هغه جامو کښې به ئے طواف کولو نظریه د

هغوی دا جوړه شوے وه چې دا لباس او جامے پاك لباس او جامے دی ځکه دا د هغه چا لباس دے چې الله ته نزدے خلق دی او څوك چې به پوره بربنډ وو نو هغه به یو لاس مخکښے شرمګاه باندے او بل لاس په روستو شرمګاه باندے کیخودلے وو او د ځان سره به هغوی دا اشعار وئیل:

**اليوم يبدو بعُضُكُمُ الى بَعْضِهِمُ**
**فما بَدَءَ منه فلا اُحلّلُه**

نن ورځ مونږه ټول یا بعضے به نورو ته ښکاره کیږو خو دا ښکاره کیدل یو بل لره مونږه حلال نه ګنړو په دې طریقه باندے به مشرکانو حج ادا کولو.

## د توحيد او شرک خلط كول:

او د هغوی عبادت څه څیز وو برائے نام عبادت وو لاسونه پړقول، شپیلی وهل او بیا په دې کښې د ثواب نیت کول چې په دې کښې اجر او ثواب دے قرآن پاك د هغوی تذکره کوی:

﴿مَا كَانَ صَلٰوتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَاءً وَّ تَصْدِيَةً﴾ [سورة الانفال:٣٥]

د دوی عبادت د بیت الله شریف سره لاسونه پړقول او شپیلی وهل وو. د عبادت په هغه اصلی تلبیه کښې هم هغوی تبدیلی کړے وه او داسے تلبیه به ئے وئیله: ﴿ لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ ﴾(مسلم) د دغه توحید کلمه کښې دے مشرکانو د ځان نه ګډ وډ الفاظ پیدا کړی وو او شرکیه الفاظ ئے ورکښے داخل کړی وو.

## د ابراهيم عليه السلام او مشركانو قرباني:

قربانی به مشرکانو کوله خو د ابراهیم علیه السلام په طریقه باندے نه،

ابراهیم علیه السلام د الله د پاره قربانی کړے وه او مشرکانو د خپلو معبودانو د خوشحاله کولو د پاره قربانی کوله او مشرکانو چې به کله قربانی اوکړه نو هغه وینے به ئے د بیت الله شریف په دیوالونو باندے اوشیندلے او هغے باندے به ئے وینے راښکلے او د قربانے غوښه به ئے د بیت الله د دروازے سره کیخودله هغوی دا عقیده لرله چې الله دې وینو او غوښو ته محتاج دے. نعوذ بالله، دا یوغلط تصور وو.

## په اشهر حرم کښې تعریف:

د حج د احترام د پاره چې حج په امن او امان سره اداء شی الله رب العزت دَ ابراهیم علیه السلام په دین کښې اشهر حرم د عزت میاشتے مقرر کړے وے چې په هغے کښې جنګ کول منع وو هغوی ته الله حکم ورکړے وو چې په دې کښې به هیڅ څوك جنګ نه کوی. شوال، ذی القعده، ذوالحجة او محرم دا میاشتے وے او دا میاشتے ځکه د عزت میاشتے وے چې په دې کښې مختلف قومونه د لرے لرے علاقو نه د حج د پاره راتلل نو د هغے د امن او امان برقرار ساتلو د پاره الله په دې میاشتو کښې د جنګ بندے اعلان اوکړو د دې د پاره چې حاجیان صاحبانو ته امن حاصل شی او په دې میاشتو کښې به دشمن هم دشمن ته څه نه وئیل ځکه د دی میاشتو عزت به کیدو او مشرکانو په دې کښې دا تبدیلی او تغیر کړے وو چې د دې په ځائے باندے به ئے بله میاشت مقرر کړه او د دې د عزت خیال به ئے بیا نه ساتلو، په دې طریقو سره مشرکانو د ابراهیم علیه السلام دین تس نس کړے وو او د دغه دین اصلی شکل او صورت ئے بالکل خراب کړے وو.

## خود ساخته کارونه:

او په حج کښې د ځان د طرف نه څه پابندیانے هغوی راوستے وے او دغه خودساخته پابندو ته هغوی د اصل دین درجه ورکړے وه. که حج لره به سفر کول وو نو تش لاس بغیر د زادِراه نه او بغیر د څه خوراك څکاك نه به روان وو او دا عقیده به وه چې د الله کور ته ځو الله به خوراك راکوی په الله توکل بهروسه پکار ده بیا به ورسره څه نه وو نو کله سوال کول ،کله ډاکه، غلا کول، ناجائز د خلقو مالونه لوټ کول کله به دا خبره هغوی کوله چې مونږه روند کونړ حج کوؤ او یا به سوری ته نه کیناستل دا د ځان د طرف نه پابندیانے هغوی په خپل دین کښې پیدا کړے وے.

## د نبی ﷺ او د ابراهیم علیه السلام د دعوت مماثلت:

د دغه علاقو د خلقو سره د الله بله لویه مهربانی دا وه چې ابراهیم علیه السلام دوه زره کاله مخکښے د دغه ځائے اوسیدونکو باشندګانو ته دعا کړے وه:

﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُوْ عَلَيْهِمْ اٰيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ﴾ (سورة البقرة:۱۲۹)

الله په دې عربو کښې د مکے واله نه یو پیغمبرا راولیږو چې دوی ته ستا د کتاب ایاتونه تلاوت کوی او د اخلاقو د پاکے تعلیم ورته ورکوی او د دې په ذریعه د دې خلقو اصلاح اوکړی. څنګه ګمراهے او عملی غلطیانے چې د ابراهیم علیه السلام په دور کښې موجود وے دغه عملی غلطیانے او فکری ګمراهیانے د نبی ﷺ په دور کښې هم موجود وے ابراهیم علیه السلام چې د کوم کار د پاره الله دنیا ته مبعوث کړے وو. دوه زره کاله بعد د دغه اصلاحی مهم د پاره الله نبی ﷺ دنیا ته را نازل کړو څنګه عمل او

ځنګه دعوت چې ابراهیمعلیه السلام خپل اُمت ته ورکړے وو هغه عمل او دعوت نبیﷺ ته حواله کړے شو ځنګه حالت چې د ابراهیمعلیه السلام د خاندان وو چې هغه مذهبي سرداران وو دغه شان حالت د نبیﷺ د خاندان هم وو چې د خانه کعبے مذهبي مشری د نبیﷺ د خاندان سره وه نو د نبیﷺ په ذریعه الله د ابراهیمعلیه السلام دین تکمیل ته اورسوو او هغه غلط خیالات د ګمراهے والا تصورات چې د ابراهیمعلیه السلام په دین کښې پیدا شوی وو الله د نبیﷺ په ذریعه سره ختم کړل د بیت الله د جوړولو مقصد بیا یو ځل الله د نبیﷺ په ذریعه سره راژوندے کړو کوم اعلان چې الله ابراهیمعلیه السلام ته حواله کړے وو هغه اعلان نبیﷺ ته هم الله حواله کړے وو ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ﴾ د الله د پاره په خلقو د بیت الله شریف حج کول لازم دی.

## د جاهلیت جنازه او ختمیدل:

په دې طریقے سره نبیﷺ د هغه جاهلیت ټوې خرابے او نقصانات ختم کړل، بت پرستی او نور غلط توهمات ختم شو او دَ قربانے په وخت کښې ورته دا تعلیم ورکړے شو:

﴿ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ﴾ (سورة الحج:٣٦)

په دې قربانے د الله نوم وائیۍ. دا د غیر الله په نوم مهٔ نامزد کوے او کله چې ذبحه شی نو د دې نه پخپله خوراك کوے او محتاج، غیر محتاج دواړو ته د دې نه خوراك ورکوے غوښے د بیت الله دروازے مخے ته مه ګدے او وینے د بیت الله په دیوالونو مهٔ راښکے:

﴿لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآءُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ﴾ (الحج:٣٧)

الله ته د دې قربانے وینے او غوښے نه رسی الله ته صرف او صرف هغه اخلاص رسیږی چې د ځناورو ښاروؤ په کوم اخلاص سره د الله د

پاره ذبح کړے شوی وی، حلال کړے شوے وی په بربنډه طواف کولو باندے پابندی اولګیده. د مشرکانو دا عقیده وه چې په دې باندې الله خوشحالیږی الله فرمائی:

﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ﴾ (سورة الاعراف:۲۸)

الله د بے حیائے په باره کښې هیڅ چاته حکم نه کوی او د اشهر حرم د عزت د میاشتو په باره کښې ئے ورته دا حکم اوکړو:
﴿إِنَّمَا النَّسِيٓءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ﴾(توبه:۳۷) د الله د عزت میاشتے به په خپل ځائے باندې برقرار وی په دې کښې به مخکښے والے، روستو والے نه کیږی. د سفر د سامان په باره کښې ورته دا حکم اوکړے شو ﴿وَتَزَوَّدُوا﴾ د خپل ځان سره توخه او زادِراه واخلے او بهترینه توخه خپل ځان د سوال نه بچ کول دی. سوری ته کیناستلو د پاره یو انسان ته حکم اوکړے شو چې کله هغه په خپل ځان باندے سورے حرام کړے وو ورته ئے اووئیل چې اودریږه مهٔ او سوری ته کینه. بل د احرام لباس ئے ورته لنګ او څادر مقرر کړو د دې د پاره چې مساوات پیدا شی دا نه وی چې دا یو پکښے خان دے دا بل یو غریب دے او په دې کښې عاجزانه فقیرانه انداز دے د دې حج دوران کښې الله ته د بنده فقیری، عاجزی خوښه ده او د حج د پاره میقاتونه مقرر شو چې د دې حدود نه به دننه نه انسان قتل کولے شی او نه به څه ځناور ته نقصان ورکولے شی بیا چې کله دا اصلاحات اوکړے شو نبی ﷺ اعلان اوکړو چې څوك د الله د پاره په دې طریقے سره حج اوکړی او نافرمانی او فسق اختیار نه کړی ﴿ رَجَعَ كَيَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ﴾ دا انسان به داسے واپس شی او د ګناه نه به پاك شی لکه څنګه چې د مور نه د پیدا کیدو په حالت کښې د هر قسم ګناه نه پاك پیدا شوے وو دا د حج اصلاح وه چې اسلام د دې تعلیمات مونږه ته راکړی دی.

# مقصد حج

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوْكَ رِجَالًا وَعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ يَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمَاتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِنَ الْاَنْعَامِ فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ﴾ (سورۃ الحج:۲۸)

## د حج ابتداء:

د حج تاریخ ابتداء او د جاهلیت او اسلامی حج په مینځ کښې فرق مخکښې بیان شوے وو. په مکه کښې چار چاپیره آباد خلقه د ابراهیم علیہ السلام اولاد وو هغوی به هم حج اداء کولو خو هغه صرف یو رواج او د رسم په حیثیت حج وو، اسلام د هغوی اصلاح اوکړه او دغه حج ئے عبادت جوړ کړو اوس د دې وضاحت کوؤ چې د دې حج فائدے او مقصد څه دے کله چې بیت الله جوړ شو ابراهیم علیہ السلام ته الله حکم ورکړو چې ﴿وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ﴾ دې خلقو ته د حج د اداء کولو د پاره اعلان اوکړه او حج به دا خلق د څه مقصد د پاره ادا کوی الله د دې حکمت ذکر کوی: ﴿لِيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ﴾ دې حج کښې د دې خلقو لوے فائدے دی او دغه فائدے دا خلق په خپلو سترګو باندے اوګوری او مشاهده ئے اوکړی. حج یو داسے عبادت دے چې په دې کښې ډیر فوائد ،برکات او ثمرات الله کیخودلی دی.

د دې فائدو اندازه هغه چا ته کیږی څوك چې بیت الله ته حاضر شی او هلته دا هر څه مشاهده کړی نو بیا ورته پته لګی او د دې اندازه

کول ورته اسان شی د امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ په باره کښې راځي چې هغه ته شك او تردد وو چې په عباداتو کښې کوم عبادت افضل او غوره عبادت دے چې کله په خپله عملی طور د حج ادا کولو د پاره لاړو نو بیا ئے بے اختیاره دا خبره کوله چې په ټولو کښې افضل او غوره بهترین عبادت حج دے. په عبادتونو کښې جهاد او حج ادا کول مشکل عبادات دی ځکه دا وخت غواړی، مشقت، د لارے تکلیف، مال دولت خرچ کول او داسے نور هر قسمه حالات په کښې په انسان باندے راتلے شی.

## د حج فائدې:

د حج څه فائدے او څه ثمرات دی دا ډیر زیات دی که په ټول حج باندے نظر اوکړے شی د حج د سفر د پاره د شروع نه واخله تر اختتامه پورے نو یقیناً انسان ته به په دې کښې د دنیا او آخرت لوے لوے فائدے په نظر راشی که انسان د حج سفر ته اوګوری او په دې نظر اوکړی نو عام حالاتو کښې انسان سفر د پیسو د ګټلو د پاره کوی دویم قسم سفر انسان صرف د سیر و سیاحت او تفریح د پاره کوی خو دا دواړه قسمه سفرے که د رزق د پاره وی او که د سیرو سیاحت د پاره وی دا دواړه په خود غرضے او د انسان په خواهش باندے بناء دی په دې کښې د انسان خپل غرض او خواهشات دی ځکه انسان دا سفر کوی. دې سفرونو کښې انسان د خپل ځان د دنیوی فائدے د پاره کور پریږدی، ښځه، بچی، رشته دارو نه جدا کیږی خو یو انسان دا نشی وئیلے چې یره ما ډیره لویه قربانی اوکړه ځکه دا نشی وئیلے چې خپل غرض او خپل خواهش دے دریم قسم سفر د حج سفر دے نو دا سفر د دې دواړو نه جدا دے که په دې باندے انسان نظر واچوی نو دا د دغه نورو سفرونو نه مختلف او جدا قسم سفر دے ځکه په دې کښې خپل څه دنیاوی غرض نه

وی بلکه د الله يو حکم دے د دې وجے نه دا سفر کوی او په دې اماده شوے او راضی شوے دے چې دا ما ته د الله د طرف نه يو حکم دے دا پوره کول غواړی بيا دا څيزونه هله کيږی چې د انسان په زړهٔ کښې د الله خوف او يره موجود وی نو د دې فرض احساس ورسره وی او کله چې د مؤمن په زړهٔ کښې د الله مينه او محبت وی نو بيا دا سفر اختياروی دا د الله خوف، يره او د الله سره مينه دا انسان په دې مجبور کړی چې کور، کلے، وطن، قوم، خاندان ښځه، بچی، رشته دار، دوستان الغرض هر څه د دې د پاره پريږدی. ښهٔ ډير مال د الله د حکم د تعميل او تکميل کولو د پاره خرچ کوی د دوکان، تجارت واله قيمتی وخت د الله د حکم د پاره قربانی کوی او په سفر کښې قسم قسم مصائب، تکليفات د دې د پاره برداشت کوی او دا ټول څيزونه صرف د دې د پاره قربانی کوی چې د الله په يو عظيم حکم باندے عمل اوکړے شی دا ټولے خبرے انسان ته د دې تعليم ورکوی چې لکه څنګه نن د الله حکم ادا کولو د پاره انسان دا هر څه قربان کولے شی نو دا تربيت دے او ټريننګ دے د دې د پاره چې که د الله بل حکم د جهاد موقع راشی نو دغه شان به بيا انسان دا څيزونه قربانی کولو ته تيار وی څکه يو حديث کښې راځی: ﴿ اَلْحَجُّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيْهِ ﴾(ابن ماجه) حج دا يو داسے جهاد دے چې په دې کښې قتل وقتال نشته دے.

## د نيکۍ رغبت:

دويمه فائده د دې سفر دا ده چې په دې سره انسان کښې نيکی، تقویٰ الی الله پيدا کيږی څکه که انسان د خپل کور نه په پاکه اراده باندے باهر ته اوځی نو دا يقينی خبره ده چې د دهٔ په زړهٔ کښې پاکے ارادے او د نيك کار کولو سره مينه پيدا کيږی او دا سفر ټول د نيکے سفر

دے مشاهده په دې باندې ګواه ده که يو انسان سفر ته ځی نو د دهٔ په زړهٔ کښې دا موجود وی چې زهٔ د نيك كار د پاره ځمه که د چا سره زياتے ماکړے وی يا د چا حق تلفی شوی وی نو د هغه نه معافی غوښتل ما لره پکار دی او دې سره د حقوق العباد اهميت پيدا کيږی چې په دوی کښې د چا حق په ما باندے وی نو د هغه نه معافی غواړی يا ورته هغه حق ادا کوی او ائنده د داسے کار نه کولو اراده لری هسے نه د الله عادل، انصاف دار بادشاه دربار ته د ظلم په حالت کښې پيش نه شمه نو دويمه فائده دا وه چې د نيکے رغبت او د ګناه نه لرے کيدل د دې احساس انسان سره پيدا کيږی. د حج د دې سفر په دوران کښې د ګناه د کار نه ځان بچ کوی د ذکر، عبادت، مونځ اهتمام کوی د غلط کارونو نه توبه اوباسی اور ائنده د نه کولو پخه اراده او عزم کوی ځکه چې دا انسان د الله کور ته روان دے دا ځومره د شرم خبره ده چې د چا کور ته، تهٔ روان ئے هغه ته محتاجه ئے او بيا هم د هغه خلاف کارونه کوی دې وجے نه قرآن فرمائی:

﴿فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾(بقره:١٩٧)

د حاجی صاحب د پاره آداب د حج دا دی چې ګناه به پريږدی بدې ارادے، خواهش پرستی به پريږدی، جنګ جهګړو نه به ځان ساتی نو دا د حج غټه فائده ده چې د نيکے او تقوی رغبت په انسان کښې پيدا کيږی د حج سره، بيا چې کله انسان په سفر باندے روان شی او د خپل کلی وطن نه جدا شی ځومره چې حجاز او حرمينو ته نزدے کيږی نو شريعت څه حدود مقرر کړی دی مختلف طرفونو ته چې هغے ته ميقات وئيلے کيږی دا حاجی صاحب چې کله دغه حدودو ته دننه کيږی نو په يو خاص لباس کښې به دننه کيږی چې هغه يو لنګ دے او يو څادر دے سرتور سر به

وی موزے، جورابے، دستانے به نه اچوی دا د دې وجے نه چې الله ته اداء کول د فقیرے ملنګے په دې حالت کښې محبوب او خوښ دی. حج کښې طاقتور، کمزورے ،مالداره، غریب، بادشاه غلام هر انسان د یو عاجزے شکل کښې د الله مخے ته اودریږی. دغه شان به د قیامت په ورځ هم په دې صورت کښې وی چې پوره برابر مساوات به وی د چا هیڅ څه لحاظ به نشی کیدے او بیا حاجی صاحب د دې نه منع شوے دے چې ښکار به نه کوی، نه به ښکار طرف ته اشاره کوی دا ځکه چې انسان امن پسند جوړ شی، ظلم به نه کوی او نه به ظالم ته د ظلم ښودنه او مشوره ورکوی.

## د الله حکم ته حاضر باش کیدل:

بیا د احرام نه بعد حاجی صاحب ته دا حکم دے چې که روان وی که ولاړ وی او که ناست وی که په غر باندے بره طرف ته ځی او که د غر نه لاندے طرف ته کوزیږی که د مونځ نه فارغه شی او که خوب نه رابیدار شی نو په هر حالت کښې به دا کلمه وائی:

**﴿ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ، وَالنِّعْمَةَ، لَكَ وَالْمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ ﴾** (مسلم)

مطلب لکه څنګه چې په خُله باندے الله ته د هغه د حکم د حاضرے اقرار کوی دغه شان به په زړهٔ کښې هم دا یقین مضبوط ساتی او څنګه چې د حج په حالت کښې د الله ذکر کوی د غه شان به د حج ادا کولو نه بعد د الله نه، نهٔ غافله کیږی او دا یو قسم جواب دے د ابراهیم علیه السلام د اعلان ﴿ وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ ﴾ نو ګویا چې ابراهیم علیه السلام اعلان کوی، چغه وهی او حاجی صاحب د هغے جواب ورکوی.

## نور حکمتونه:

کله چې حاجی بیت الله ته داخل شی نو د طواف شروع د حجراسود ښکلولو نه کوی او د هغے انتهاء هم په دې باندے وی دا سبق دے چې انسان به د الله د هر حکم سره مینه کوی او کله چې چارچاپیره طواف کوی دغه شان به انسان د الله د هر حکم نه چاپیره کیږی او د هغے د پوره والی کو شش به کوی دې نه بعد د صفا او مروه په میدان کښې سعی کول، منډه وهل مطلب انسان به همیشه د دین د ژوندی کولو د پاره سعی ،کوشش او منډه وهی بیا روسته د حج په ورځو کښې انسان مزدلفه، عرفات، منی دې مقاماتو ته ځی دا دې د پاره چې انسان نه الله یو مجاهد، سپاهی جوړول غواړی چې همیشه به د الله د پاره جهاد کوی او د الله د حکم پوره کولو د پاره به نقل و حرکت کوی .

## د شیطان مقابله:

او کله چې درے شیطانان په اوؤ ، اوؤ کانړو باندے اولی نو د هغے سره به بسم الله، الله اکبر اوائی دا ځکه چې همیشه که انسان د شیطان نه ځان محفوظ او بچ اوساتی نو د الله په ذکر فضل او احسان سره انسان بچ کیدے شی او انسان په خپله تجربه یا عقلمندے باندے د شیطان نه، نۀ بچ کیږی دویم دا چې لکه څنګه نن دلته ستا د دین دشمن په کانړو باندے اولمه دغه رنګه همیشه به ستا د دین دشمن سره جنګ کومه او د هغه د ماتولو کوشش به کومه او ستا نه به په دې کښې مدد غواړمه .

## د ایمان مضبوط والی:

او کله چې قربانی کوی نو دا تعلیم دے چې ستا د دین د پاره به وینه توے کومه که ضرورت راشی. دا د حج حکمتونه، مقاصد او

تعلیمات دی چې کوم مونږه ته الله د دی عظیم عبادت په ذریعه سره راکوی او دا تجربه ده چې کوم انسان حج کړے وی نو دغه انسان سیکولر، آزاد خیال نه جوړیګړی ځکه دې انسان په خپلو سترګو د الله قدرت او د هغه کور مقامات کتلے وی یو انګریز مسشترق دا خبره کوی چې عجیبه خبره ده که یو انسان لوے تعلیم یافته بادشاه وقت وی خو چې حج له لاړشی نو هلته جامے اوباسی، احرام اوتړی، پیاده منډے وهی، سر خروی د منی، عرفات د شګو په میدانونو کښې ولاړه ناسته کوی او د راحت اطمینان واله کمرے هوټلے پریږدی بیا وائی چې چا حج کړے وی نو د هغه په ذهن کښې اسلامی تصور پوخ شی هغه بیا زمونږه د تحریك نه نۀ متاثره کیږی او نه وربانده زمونږه تعلیم څۀ اثر کوی نو دا هم د حج یوه عظیمه فائده ده .

والحمدلله رب العالمین.

# د حج بیان

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وَاِذْ بَوَّأْنَا لِاِبْرَاهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَن لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِيْنَ وَالْقَائِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْد. وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوْكَ رِجَالًا وَعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ الخ﴾(حج:٢٧)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۔

## د حج تعریف:

الله تعالی په مسلمانانو باندې عبادات مقرر کړے دی چه په هغے کښے یو عبادت داسے دے چه د مال او د جان د کړولو سره تعلق لری چه ورته حج وئیلے کیږی.

حج په لغت کښے قصد او ارادے ته وئیلے شی. او په اصطلاح کښے حج د مخصوص مکان زیارت په مخصوص وخت کښے په مخصوص طریقوسره کولوته حج وئیلے کیږی.

یعنې د الله د کور قصد کوی په نیت د عبادت او په یو خاص طریقه یعنې دَ احرام په حالت کښې وقوف عرفه او طواف زیارت عمل کولوته حج وئیلے کیږی .

## ابراهیم اوتعمیر بیت الله:

د حج ابتداء څنګه وه او د دې تاريخ څه دې په دې مجلس کښې د دې متعلق خبرې کوو.

د حج ابتداء د ابراهيم عليه السلام په دور کښے شوے ده. بيت اللّٰه شريف د مخکښے نه موجود وو خو د طوفان نوح د وجے نه ضائع شوے وو.

يا د زمانې د رفتار سره د هغوی بنيادونه غائب شوی وو يا ډوب شوی وو ابراهيم عليه السلام چې کله مکې نه حجاز ته راغې نو هغه ته دوباره الله د تعمير حکم کړې وو.

بيا الله تعالیٰ دوباره ابراهيم عليه السلام ته راښکاره کړل او ابراهيم عليه السلام د بيت الله دوباره تعمير اوکړو.

اللّٰه تعالی فرمائی.

وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ (حج:٢٦)

يعنې مونږ ابراهيم عليه السلام ته د بيت اللّٰه بنيادونه راښکاره کړل.

## ظاهری اور وحانی طهارت:

او بیامونږ ورته دا حکم اوکړو چه.

چې داكور دې روحانی هم آباد وی د عمل په اعتبار د عبادت په اعتبارسره. ﴿اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْـًٔا﴾

يعنې زما سره به هيڅ څوك شريك نه جوړوے ځکه چه دا مرکز د توحيد دے نو پکار دا دی چه د الله تعالیٰ وحدانيت پکښے بيان کړے شی او د الله تعالی سره په دے کور کښے څوك هم شريك جوړ نه کړے شی.

دارنګ دا کور به د ظاهری ګندګئ نه هم پاك ساتے نو الله تعالی فرمائی.

ځکه زما په دې کور کښې به څوک طواف کوی، څوک قیام، څوک رکوع اوڅوک به سجده کوی نو دا انسان زما مخې ته پاک ولاړ وی او عبادت به کوی .

﴿وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ الخ﴾ (بقره:۲۵)

یعنې د ټولو خلقو د پاره زما کور پاك ساته.

اوس د دے نه بعد الله تعالی ابراهیم ته حکم کوی.

﴿وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا الخ﴾ (حج:۲۷)

یعنې د دے کور د آبادولو نه بعد به اعلان اوکړے چه پیدل او سواړه دے دې کور ته راځی. ﴿لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ﴾

چې دا خلق د دې حج دا فائدې حاصلې کړی د نیاوی اخروی روحانی فائدې د دې نه محرومه نه شی زما بندګان .

## د ابراهیم علیه السلام دَا نتخاب وجه:

نو مقصدی خبره دا ده چه د حج ابتداء د ابراهیم علیه السلام نه شوے ده.

اوس دا خبره چې الله د حجاز د علاقې نه باهر پیغمبر ابراهیم علیه السلام ولی منتخب کړو د تعمیر بیت الله د پاره او هغه ته په پیغمبرانو کښې څه فضیلت حاصل دې دې سره به د بانی حج وبیت الله ابراهیم علیه السلام مقام ومرتبه ښکاره شی .

اوس دا خبره هم قابل د اهمیت ده چه الله تعالی په یو عراقی پیغمبر دا بیت الله ولے جوړوی؟ او د حج ابتداء د دهٔ نه ولے کوی ؟

اصل کښے ابراهیم علیه السلام یو داسے پیغمبر دے چه غیر

متنازع پیغمبر دے ځکه چه د یهودو او نصارو سره سره هندوان هم ابراهیم علیه السلام خپل پیشوا گنړی او په دنیا کښے دوتهائی خلق د ابراهیم د تقدس خیال ساتی او مشر ئی گنړی.

دا رنګ د یهودو پیغمبر موسی علیه السلام ، د نصاراؤ پیغمبر عیسی علیه السلام او د مسلمانانو پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم د ابراهیم علیه السلام په اولاد کښے راځی.

چې دا د الله جلیل القدر نامور زبردست بندګان خدا او لوې مرتبې والا او دا اولاد وو د ابراهیم علیه السلام .

نو ځکه هم دوی د ابراهیم علیه السلام عزت او قدر کوی.

ابراهیم علیه السلام د نن وخت نه چار هزار سال مخکښې څلور زره کاله مخکښې پیداشوی وو.

او په دغه وخت کښې دنیاکښې داسې یو انسان نه وو چې هغه خپل اصل مالک حقیقی خپل اله پیژندلې وې او صرف د هغه اطاعت بند گی کښې ئے خوشحاله او کامیاب ژوند په دنیا کښې تیر کړې وی .

ابراهیم علیه السلام ته چه په کوم وخت کښے نبوت ملاؤ شوے وو نو په دغه وخت کښې داسے خلق کم وو چه الله تعالیٰ ئی پیژندلو.

## ترقی اوجهالت صف به صف:

او دا رنګ ابراهیم علیه السلام چه په کوم قوم او ملک کښے پیدا وو نو هغه په خپل وخت کښے یو ترقی یافته ملك اوقوم وو. خو دینی کمزوری ئی دومره وه چه په بت پرستئ او شرك کښے مبتلاء وو او د شرك دوه طریقے پکښے رائج وے.

یو طرف ته د نمر، ستورو او سپوږمۍ عبادت کونکی وو نو دویم طرفته بزرګ پرستی پکښے ډیره زیاته وه.

دارنګ سحر او جادو پکښے عام وو او کوډے منترے به لوے کمال ګنړلے کیدو.

نو که یو طرف ته د دنیا په لحاظ ترقی یافته او ثقافت یافته قوم وو خو کمزوری داوه چې د آخرت په لحاظ غافله جاهله غټ ګمراهه قوم شمار کیدو خو دغه جهالت نن یوځل بیا په دنیا کښې راځی تاریخ روخانه کیږی که نن دنیا ترقی کوی همدغه جاهلیت ورسره یوځائې صف په صف په ترقیۀ کښې روان دې دا دَ ابراهیم علیه السلام د قوم جهالت، نجوم پرستی، فال، سحر، جادو،مسمیرزم بزرګ، پرستی، مخلوق ته خالق وئیل دغه ټول جهالتونه نن بیا په دې ترقی یافته دور کښې سا اخلی او تازه شوی دې .

کوډې منترې لکه دا هندوانو عادت دې انکار خداوندی ،الحاد، بې دینیۀ ته د آزادې په نوم رواج ورکول لکه دا د مغرب او روس او چین والو فلسفه ده دَ الله معبود لوې تصرف کونکی ذات نه انکار کول او دې ته د خیال خرافات وئیل بې دینیۀ الحاد ته حقیقت او مشاهده او د تجربې نوم ورکول نور ډیر جهالتونه چې مونږه د دغه جاهل قوم په اقتداء کښې اختیار کړې دې .

دا رنګ ناجائز نذرانے شکرانے به ئې د درګاهونو منجورانو او مشرانو ته راؤړلے او د نمرود ورسره هم پکښے لاس وو ځکه چه دوی به عوامو له دا ذهن سازی کوله چه بادشاه د ملك خالق وی او د عوامو په هر څه باندې حق لری.

دا رنګ د ابراهیم علیه السلام پلار هم د ټولو پیرانو پیر وو او نمرود به تر هغے پورے په تخت نه کیناستو ترڅو پورے به چه ورته اٰزر پټکے نه وو په سر کړے.

دا رنګ کوم بت به چه نوے جوړ شو نو تر هغے پورے به بازار کښے حرڅ ته نه وړاندے کیدو چه ترڅو پورے به اٰزر نه وو پاس کړے. کله به چه اٰزر اجازت ورکړو نو خلقو به خرڅولو او د هغے نه پس به ئې عبادت کولے شو.

## د باطل نه بغاوت:

د دے حالاتو باوجود ابراهیم علیه السلام ټول مشکلات شاته کړل او د اولے ورځے نه د بتانو او شرك خلاف وو او د خپل قوم د رسمونو او طریقو خلاف وو. تردے چه هغه بائیکاټ ئې الله تعالی هم ذکر کړے دے.

کله فرمائی.دغه اعلان الله ته خوښ وو نوځکه ئ په قرآن کښې ذکر کړی دې . ﴿إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ﴾ (ممتحنة:۴)

کله فرمائی

﴿إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا﴾ (انعام:۷۹)

او کله په نورو الفاظو باندې ئې د هغوی مخالفت کړے دے.

نن به د ابراهیم علیه السلام فرمانبردار پاک بنده د یو الله حاکمیت او الوهیت ته تسلیم کیږی او د دې جهالتونو خلاف به آواز اوچتوی کښې چې څه ستاسو نه بیزار یمه .

## دوغټ شرکونه:

د ابراهیم علیه السلام په دور کښے دوه غټ شرکونه کیدل.

اول دا چه انسانان ټول په انسانی الوهیت کښے مبتلاء وو.

دویم دا چه انسانان ټول په انسانی حاکمیت کښے مبتلاء وو.

د دے نه وړاندے د ابراهیم علیه السلام دور پورے صرف یو

شرك وو چه هغه انسانی الوهیت وو خو د ابراهیم علیه السلام د دور نه ورسره دویم شرك هم شروع شوے وو چه هغه د بادشاهانو د الوهیت او د خدائتوب دعوی کول وو.

یعنې د الله د حاکمیت او حکم په خلاف به ئے خپل ظالمانه مفاد پرسته حکومت او قانون ایجاد کړو او بیائی په دې خلقه مجبوره کړل او دغه خود ساخته قوانین ئی په خلقو باندې لاګو کړل بیا ابراهیم علیه السلام د دې دواړو لعنتونو خلاف وکړو او یو د الله قانون ئی خلقو ته مخې ته کړو.

## عالم ګیر مشن او دعوت:

د دے وجوهاتو په بناء الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام ته د امامت مقام ورکړے دے.

الله تعالی فرمائی. ﴿إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا﴾ (بقره:۱۲٤)

یعنې زهٔ تا د عامو خلقو د پاره امام ګرزوم.

نو مطلب دا چه ابراهیم علیه السلام یو عالمی پیغمبر وو.

ځکه دې یو قوم یا یو علاقی ته نه وو رالیږلے شوې بلکې د هغه دور ټولو انسانانو ته پیغمبرؤو.

ابراهیم علیه السلام تمهید کیخودلو او نبی کریم صلی الله علیه وسلم ئی تکمیل اوکړو.

ابراهیم علیه السلام دوی ته دعوت شروع کړو نو بادشاه د پلار په مشوره په اور کښے واچولو خو الله تعالیٰ دے بچ کړو. او ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل. ﴿إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّي﴾ (عنکبوت:۲۹)

یعنې بس ! زهٔ الله تعالی طرفته هجرت کوم.

## مصائب او امتحانات:

نو دے د عراق نه شام، مصر او بیا فلسطین ته لاړو او ورسره بی بی او لوط علیه السلام وو. ټوله ځوانی ئی په سفرونو او په تکالیفو کښے تیره کړه او بیا د اتیاکالو په عمر کښې ئې اولاد اوشو چه اسماعیل او اسحاق علیهما السلام وو.

اوس الله تعالیٰ پرے د اسماعیل علیه السلام د ذبح کولو امتحان راوستو خو په دے امتحان کښے هم الله تعالی کامیاب کړو.

ځکه قرآن د ابراهیم علیه السلام خبره نقل کوی اَسْلَمْتُ لرب العالمین دې ته عبودیت کامله وئیلی کیږی لکه څنګه چې ابراهیم علیه السلام اختیار کړې وو هغه عبد کامل خپل آخرت خائسته کول غواړی ابراهیم علیه السلام خپل بچې کور بی بی ټول دَ ځان نه لرې کوی خو چې د الله د رحمت نه لرې نشی که د دنیا نه لرې وی پرواه نه کوی .

## د الله انعام:

د دے نه علاوه څومره امتحانات چه پرے الله تعالیٰ راوستے وو نو هغه ټول ئې ترسره کړل او د دے په انعام کښے الله تعالی اوفرمائیل.

إِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ۖ

[بقره:١٢٤]

عالمګیر امامت مشر د دعوت خدواندی ورته نصیب شوه او بیا الله ورته د دې کار د پاره جانشین هم ورسره یوځائې کړل .

یعنې کله چه ابراهیم علیه السلام په ټولو امتحاناتو کښے کامیاب شو نو الله تعالیٰ د ټول عالم د پاره پیغمبر جوړ کړو نو شرق اردن ته ئې د دعوت د پاره لوط علیه السلام اولیږلو چه دا د عراق او شام په مینځ کښے

علاقه وه او یورپ ته هم نزدے وو. ده ته ئې د دغه ځائے د دعوت مشن حواله کړو.

دارنګ اسحاق علیه السلام ئې فلسطین او کنعان ته اولیږلو.

خپل کلی وطن ئې وربانديږ زیر اثر کړو.

دا رنګ اسماعیل علیه السلام ئې عربو ته راوستو چه هغه دلته د الله تعالی دعوت خلقو ته ورکړی.

په دغه طریقه الله دا عالمګیر د حق پرستی دعوت د ابراهیم علیه السلام په لاس په دې طریقې سره چار دانګ عالم مشرقونو مغربونو ته امانت پوره پوره پهیلاؤ او کړو.

د دے نه بعد د یو عالمی مرکز ضرورت وو نو د الله تعالیٰ په حکم ئې د اسماعیل علیه السلام په ملګرتیا کښے د بیت الله تعمیر شروع کړو.

د نبی کریم د دور پورے څومره چه پیغمبران الله تعالیٰ رالیږلے دی نو هغه د اسحاق او د یعقوب علیهما السلام په اولاد کښے راغلے دی او د نبوت سره سره د حکومت واګے به هم د دے پیغمبرانو په لاس کښے وې.

بیا په اٰخر کښے الله تعالیٰ د اسماعیل علیه السلام په اولاد کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم پیدا کړو. نو د نبی کریم د دعوت اهمه مسئله هم دغه دوه مسئلے وے چه وحدانیت به صرف د الله تعالیٰ وی او حاکمیت او قانون به هم دا لله تعالی منلے کیږی.

## د حج یو غټ مقصد:

نو خلاصه دا چه کومه سلسله د عالمی دعوت چه الله تعالیٰ د ابراهیم علیه السلام نه شروع کړے وه نو د هغے تکمیل او انتهاء الله تعالی په اٰخری پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره اوکړه.

نو دا د حج یو مختصر تاریخ دې چې انسان د الله حاکمیت تسلیم کړی په عاجزۍ سره د هغه حاکم دحکم د تعمیل د سفر او بدنی او مالی سختی برداشت او بیا خه په ډیرې عاجزۍ سره او کمزورۍ سره طوافونه اعتکافونه، عبادتونه، قیام ،وقوف عرفه، دا عبادتو نه خاص د الله د پاره اوکړې شی نو انسان به خود به خود الله ته تسلیم شی اګر چې دنیا په ترقۍ کیدل بغاوت ولې نه کوی خو دا انسان به د دې په اثر کښې نه راځی او خپل ایمان او اسلام به محفوظ او مامون طریقې سره ساتی او د دې امانت حفاظت به کوی .

الله تعالیٰ دے مونږ ته په دے خبرو د عمل توفیق رانصیب کړی.امین

# د نفلی عباداتو اهمیت

اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الۡاَنۡبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهِ الۡاَتۡقِيَآءِ اَمَّا بَعۡد!فَأَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ۔

﴿وَمَا خَلَقۡتُ الۡجِنَّ وَالۡاِنۡسَ اِلَّالِيَعۡبُدُوۡنَ﴾ (سورة الذاريات:۵۶)

## د انسان د پیدائش مقصد:

په دې ایت کښې الله د انسانانو او د پیر یانو د پیدائش مقصد بیان کړے دے الله دنیا کښې معمولی نه معمولی څیز بغیر د څه مقصد نه نه دے پیدا کړے نو انسان چې اشرف المخلوقات دے دا به څنګه الله بغیر د مقصد نه دنیا کښې پیدا کړے وی. انسان د ظاهر په لحاظ سره اګرچه کمزورے او ضعیفه دے خو د مرتبے په لحاظ سره ډیر د عزت او کرامت خاوند دے او بیا دا ټول څه چې په نظر باندې راځی او څه چې انسان په غوږونو باندې اوری نو دا ټول الله د انسان د پاره مسخر او تابعدار ګرځولی دی او دا د انسان په خدمت کښې لګولے شوی دی اوس دا اشرف المخلوقات او عزتمند انسان خا مخا د دۀ د پیدائش څۀ نه څۀ مقصد وی هغه مقصد څه دے. او دغه مقصد د الله رضا او عبادت دے نو لکه څنګه چې انسان د لوې مرتبے واله الله پیدا کړے دے دغه شان لوې اعلی بهترین مقصد ورته الله نصیب کړے هم دے.

## د الله عبادت:

بیا عبادت مختصر دا چې د الله اوامرو ته خلقه رابلل او منهیاتو نه خلقه منع کول دې ته عبادت وئیلے کیږی او د دې عبادت فائده انسان ته رسی الله ته نه رسی او نه الله دې ته محتاجه دے که الله

دي ته محتاجه وی نو فرشتو نه به الله دا حاجت پوره کړے وے ځکه داسے فرشتے د الله د عبادت د پاره شته دے چې په اسمان کښې داسے ځائے نشته مګر د الله یوه فرشته په هغه ځائے کښې الله ته سجده لګولې ده. نو دا خبره معلومه ده چې فرشتے د الله عبادت کوی نو د انسانانو عبادت ته څه ضرورت دے د دې جواب دا دے چې فرشتے که د الله عبادت کوی په هغوی کښې د ګناه کولو ماده او طاقت نشته نو دا کمال نه دے کمال دا دے چې انسان سره د نفسانی خواهش او د ګناه کولو طاقت موجود دې، شیطانی وسوسے ورته راځی سره د دې نه د الله عبادت کول دا د کمال خبره ده .

## د نیک بندګانو تعریف:

د دې وجے الله د خپلو نیکانو بندګانو د عبادت ځائے په ځائے تعریف کړے دے کله فرمائی:

﴿تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا﴾

(سورۃالسجدۃ:۱۶)

دا زما نیکان بندګان هغه خلق دې چې خپل رب سحر او ماښام په ویره او طمع سره رامدد کوی.

مطلب سره د خواهش نه سره د سترې والی نه، د دوی اړخونه د بسترو نه لرے وی د دې وجے نه د دوی عبادت ته الله د فرشتو په عبادت باندے فضیلت ورکړے دے او کله په دې طریقے سره د دوی د عبادت تذکره کوی:

﴿ كَانُوْا قَلِيْلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴾

(سورۃالذاریات:۱۷)

دا د الله نیك بندګان د شپے په وخت کښې ډیر لږ آرام او

خوب کوی او د سحر په وخت کښې د الله نه بخښنه او استعفار غواړی، سره د دې نه چې د سحر وخت د خوب او آرام کولو وخت وی انسان باندے په دې وخت کښې خوب ډير زور کوی بيا هم دوی د الله نه استغفار او بخښنه غواړی.

## دوه قسمه عبادات:

دا اهم عظيم قسم عبادت چې الله انسان ته ورکړے دے او انسان ته په دې لوے اجرو ثواب ملاويږی دا دوه قسمه دے يو هغه دے چې هغه په انسان باندے پوره کول لازم دی دے ته فرائض، واجبات او سنت مؤکده وائی او دويم قسم ته نوافل وئيلے کيږی.که دغه عبادت يو انسان ادا کړی الله ورته اجروثواب ورکوی او که اداء ئے نه کړی نو عذاب، ملامتيا او د الله د رحمت نه لرې کيدل ورسره نه لازميږی دې ته نوافل، مستحبات او مندوبات وئيلے کيږی. دا خبره ده چې څنګه د انسان د پاره دا ضروری ده چې فرائض به ادا کوی نو د الله د مينے او محبت تقاضه دا ده چې دا انسان به ورسره د الله د قرب او نزديکت حاصلولو د پاره نوافل مستحبات به هم ادا کوی مولانا عبدالحی عارفی رحمة الله عليه وائی فرائض ادا کول د الله د عظمت او جلال حق دے او نوافل ادا کول د الله د محبت حق دے.

دې وجې نه يو حديث قدسی کښې راځی حديث قدسی هغے ته وائی چې خبره د الله وی او الفاظ د نبی صلی الله علیه وسلم د طرف نه وی نو نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چې الله دا خبره فرمائی:

﴿مَنْ عَادَلِیْ وَلِيًا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ﴾ (بخاری)

څوك چې زما د يو ولی سره دوست سره دشمنی کوی نو هغه ته زهٔ اعلان جنګ کومه، ولی څوك دے؟ ولی هغه څوك دے چې د هغه

عقیده د قرآن او سنت سره پوره برابره وی او بیا د الله د حکم تابعدار او فرمانبردار هم وی او د گناه نه ځان بچ کوی.

د شیخ جنید بغدادی رحمۃ اللہ علیہ خواته یو کس راغے او یو څو ورځے بعد د هغه د خوا نه روان شو د تلو اراده ئے اوکړه شیخ جنید رحمۃ اللہ علیہ ورته وائی چې دلته یو څو ورځے نور قیام اوکړه شاید چې الله تا ته څۀ فائده دراورسوی نو هغه میلمه ورته وائی چې دلته زما مقصد نه حاصلیږی شیخ جنید رحمۃ اللہ علیہ ورته وائی ته ولے خفه شوے نو میلمه جواب ورکړو چې ما اوریدلی وو چې ته یو لوے ولی الله او بزرګ ئے ما خو دلته ستا سره هیڅ قسم په هوا الوتل، پیریانو سره خبرے کول دا کارونه ما دلته مشاهده نه کړه نو ځکه زه درنه ځمه. شیخ جنید رحمۃ اللہ علیہ ورته وائی الله دي په تا باندے رحم اوکړی، ولایت دا نه دے چې انسان په هوا کښې روان وی یا د مرغانو، ځناورو، پیرانو سره خبرے کوی ولایت دا دے چې انسان خلاف سنت کار نه کوی او همیشه په سنتو باندے د عمل کولو پابند وی ځکه الله فرمائی: چې څوك زما د ولی سره دشمنی کوي نو ما سره اعلان جنګ کوی. مطلب حق پرسته عالم د الله او د رسول صلی اللہ علیہ وسلم تابعدار عالم سره اختلافات پیدا کول د الله سره د جنګ کولو اعلان کول دی.

## د الله قرب او محبت:

بیا په دغه حدیث قدسی کښې فرمائی:

﴿وَمَا تَقَرَّبَ اِلَیَّ عَبْدٌ بِشَیْءٍ اَحَبُّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَیْهِ﴾ (بخاری)

دا انسان د فرضو نه بعد په بل ډیر خوښ څیز باندے ما ته نه نزدے کیږی که ما ته نزدے کیږی نو په هغه څیز به نزدے کیږی چې څه ما په دۀ باندے فرض کړی وی بیا الله فرمائی:

﴿وَمَا یَزَالُ عَبْدِیْ یتقرَّبُ إِلی بالنَّوافِلِ حَتّٰی اُحِبَّه﴾ (بخاری)

زما بنده همیشه زما طرف ته په نوافلو باندے رانزدے کیږی تر دي پورے چې زۀ ورسره مینه کومه او کله چې زۀ د خپل بنده سره محبت شروع کړمه﴿ فَإِذَا أَحبَبْتُه کُنتُ سمعهُ الَّذیْ یسْمعُ بِهِ ﴾ کله چې زه د دې انسان سره محبت شروع کړم نو دا انسان په خپل غوږونو باندے صرف زما خبرے اوری ﴿ وبَصره الَّذِیْ یُبصِرُ بِهِ ﴾ او زۀ د ده هغه سترگے یمه چې دا انسان ورباندې کتل کوی مطلب زما د خبرے نه علاوه د بل چا خبرو ته نه گوری ﴿ ویدَهُ الَّتیْ یَبْطِش بِهَا ﴾ او د دۀ لاس بغیر زما د رضا نه بل څه نه رانیسی ﴿ ورِجلَهُ الَّتِیْ یمْشِیْ بِهَا ﴾(بخاری) او د دې انسان خپے زما نه بغیر د بل چا دربار طرف ته تلل نه کوی د کوم ځیز چې الله د کتلو حکم ورکوی دا انسان هغه ځیز طرف ته گوری او کوم ځیز طرف ته چې د تلو حکم ورکوی هغه طرف ته ځی او کوم ځیز د اوریدو حکم چې الله ورکوی هغه ځیز اوری او د هغے نه خلاف خبرے نه اوری کوم ځیز طرف ته چې لاس نزدے کول جائز وی هغه ځیز ته لاس نزدے کوی او کوم ځیز چې په لاس کنبې اغستل ناروا وی نو د هغے نه خپل ځان محفوظ ساتی دا ولایت انسان ته الله په نوافلو باندے ورکوی.

## د نوافلو څه اداب:

نوافلو کنبې دا خبره یاد ساتل پکار دی چې انسان به په دې سره فرائض نه ضائع کوی داسے نشی کیدے چې یو انسان دې تهجد او قیام اللیل ادا کوی او د سحر د وخت فرض مونځ به پریږدی یا نفلی خیراتونه یا رسمی خیراتونه صدقے به کوی او فرض زکوة به نه ادا کوی یا نفلی روژو له ئے زور ورکړے وی او فرض روژے ورنه پاتے وی. دویم شرط دا چې د گناه کارونه به پریږدی بیا به نوافل ادا کوی داسے به نه کوی چې نوافل هم ادا کوی او ورسره د گناه کارونه هم کوی نو د دې د

رعایت کولو نه بعد انسان ته اجر او ثواب د نوافلو او ذکرواذکار اجر او ثواب ملاویږی.

## نوافل د فرضو مکملات دي:

او دا نوافل الله ته دومره محبوب دی که په فرائضو کښې د جهالت د وجے نه څه نقصان یا کوتاهی راغلي وی نو دغه نوافل د دې فرائضو هغه نقصان پوره کولے شی دې ته ځکه مکملات د فرائضو وئیلے کیږی. مطلب فرض مکمل کوؤنکی، فرض پوره کوؤنکی وی ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چې د قیامت په ورځ اول تپوس د مانځه په باره کښې کیږی که هغه پوره وی نو کامیاب به شی دا انسان او که هغه ناقص وی نو الله رب العزت به فر شتو نه تپوس اوکړی چې تاسو زما د دې بنده څه نفلی اعمال اوګورے نو که نفل اعمال موجود وی د هغه فرائضو کمے د نفلو اعمالو سره پوره کړے شی. خو د دې دا مقصد نه دے چې انسان فرائض نه ادا کوی او صرف نوافل به ادا کوی.

## د نبی صلی الله علیه وسلم ملګرتیا:

د نوافلو بله فائده دا ده چې انسان ته د نبی صلی الله علیه وسلم ملګرتیا او رفاقت په جنت کښې نصیب کیږی لکه ربیعه بن کعب رضی الله عنه وائی دا د اصحاب الصفه صحابو رضی الله عنهم نه دے چې یو ځل زما د نبی صلی الله علیه وسلم سره شپه وه دا د نبی صلی الله علیه وسلم خادم هم دے نبی صلی الله علیه وسلم د شپے پاسیدو نو ما ورته د اودس د پاره څه اوبه برابرے کړے او ورته مے کیخودے نبی صلی الله علیه وسلم چې د اودس د پاره برابرے شوے اوبه اوکتلے نو خوشحاله شو او زما نه ئے تپوس اوکړو چې ﴿ سَلْنِي﴾ زما نه د څه په باره کښې اوغواړه مطلب که د څه ضرورت وی نو ما نه د هغے په باره کښې تپوس اوکړه صحابه رضی الله عنهم عجیبه

خلق وو، نه د پیسو په باره کښې سوال کوی نه د دنیا په باره کښې سوال کوی نو نبی ﷺ ته وائی﴿ أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ﴾ زه ستا نه د جنت د ملګرتیا په باره کښې سوال کومه او دغه غواړمه چې الله مې ستا ملګرے په جنت کښې جوړ کړی نبی ﷺ ورته فرمائی: ﴿ فَأَعِنِّيْ عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ ﴾(مسلم) خپل ځان په ډیرو سجدو باندے اموخته کړه. مطلب نفلی عبادت ډیر ډیر کوه په ډیرو ډیرو نفلونو به زما ملګرے شې په جنت کښې.

## درجې اوچتیدل:

او بله فائده د نفلی عباداتو دا ده چې د انسان د پاره د درجاتو د اوچتیدو سبب ګرځی لکه ثوبان رضی الله عنه فرمائی چې نبی ﷺ یو ځل ما ته او فرمائیل ﴿ عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ ﴾ مطلب په خپل ځان ډیرے سجدے لازم کړه هغه دا چې نفل عبادات ډیر ډیر کوه ﴿ فَإِنَّكَ لن تَسْجدَ لِلّٰهِ سَجْدةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيْئَةً ﴾ (مسلم) که ته د الله د رضا د پاره یوه سجده کوے نو الله به دې سره ستا یوه ګناه معاف کوی او په دې سره الله ستا یوه درجه اوچتوی. حدیث کښې راځي چې جنتی انسان به په جنت کښې بره طرف ته نظر اوکړی نو یو چمك به په اسمان کښې او ګوری تپوس به اوکړی چې دا څه څیز دے جواب به ورکړے شی چې دا ستا د ملګری فلانی فلانی درجه ده چې الله هغه ته ورکړے ده نو دا انسان به وائی چې الله کوم عبادت هغه کړے وو دغه عبادت به ما هم کولو نو ماته څنګه دا درجه نه ده حاصله جواب به ورکړے شی چې دا د هغه د نفلی عباداتو هغه بدله ده چې الله ورته ورکړے ده.

## پنځه قسمه نفلی عبادات:

نفلی عبادات ډیر دی خو یو پنځه قسمه داسے دی چې د هغے ډیر اهتمام کول پکار دی یو نفل مونځ کول، دویم تلاوت د قرآن پاك کول، دریم ذکرواذکار، څلورم درود شریف، پنځم دعا غوښتل دا هغه عبادات دی چې په دې باندې الله انسان ته ډیر لوے اجر او فضیلت ورکوی په نسبت د نورو نفلی عباداتو کښې. کله چې خیبر فتح شو نو یو صحابیرضی الله عنه راغے او نبیصلی الله علیه وسلم ته وائی د الله پیغمبره! نن چې ما څومره ګټه کړے ده دغه شان ګټه ما مخکښے نه وه کړے نبیصلی الله علیه وسلم ورته فرمائی تا څومره ګټه کړے ده. ورته جواب ئے ورکړو چې ما درے سوه اوقیه ګټه کړے ده یو اوقیه لس نیم تولے چاندی ده نبیصلی الله علیه وسلم ورته فرمائی د دې نه زیات د ګټے واله عمل تا ته نه ښائمه هغه ورته وائی ولے نه؟ د الله پیغمبره! نو نبیصلی الله علیه وسلم جواب ورکړو چې د دې په ځائے دوه رکعته نفل اداء کول د دې نه ډیر زیات فائده مند دی خو دا ظاهری دنیوی ګټه نه ده ځکه انسان ته معمولی ښکاری دا د آخرت فائده ده۔

والحمد لله رب العالمين .

# د نفلی عباداتو اهمیت (حصه دوم)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد! بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿وعن امّ حبيبة رضی اللہ عنہا قالت قال رسول الله ﷺ : مَنْ صَلّٰى فِيْ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ اَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ اَوْكَمَا قَالَ عَلَيْهِ السَّلَام﴾ (رواه الترمذی)

مخکښې جمعے نه د عباداتو متعلق خبره شروع وه د انسان د ژوند مقصد د الله عبادت کول دی یو عبادت فرضی عبادت دے او یو نفلی عبادت دے فرض عبادت د الله د عظمت او جلال حق دے دویم قسم نفلی عبادت دی او دا د الله د محبت حق دے او مخکښے دا خبره هم شوے وه چې نفلی عبادات په پنځو ځیزونو کښې ادا کول ډیر اجروثواب لری په هغے کښې یو مونځ دے اوس د دې خبرے وضاحت پکار دے چې په نفلی عباداتو کښې کوم کوم نفلی مونځونه دی.

## سنت مونځ:

نو دا خبره یاد ساتل پکار دی چې د فرضو او واجباتو نه بعد اوچت او لوے مقام د سنت مونځونو دے مانځه نه مخکښے یا بعد چې کوم سنت اعمال ادا کیږی لکه د غرمے مونځ نه مخکښې څلور رکعته، بعد کښې دوه رکعته، د ماښام مونځ نه بعد دوه رکعته، د ماسخوتن مونځ نه بعد دوه رکعته، د سحر نه مخکښے دوه رکعته چې مونږه ورته سنت مؤکده وایو دا په نفلی عباداتو کښې د فرض، واجب نه روستو بهترین عبادت دے.

## د سنت نه اداء كولو وعيد او اداء كولو ثواب:

دا نفلي عبادت دوه قسمه دے يو سنت مؤكد دا كه يو انسان اداء نه كړی نو د ملامتيا قابله دے چې ملامته دې كړے شي او يره ده د دے خبرے چې د قيامت په ورځ د نبيﷺ د شفاعت نه به محرومه شي مخكښے دا حد يث د ام المؤمنين ام حبيبهؓ نه روايت دے چې نبيﷺ فرمائی څوك چې په يوه ورځ كښې دولس ركعته مونځ ادا كوی نو الله به دې انسان ته په جنت كښې يو كور جوړكړی يعنې په دې دولس ركعتونو اداء كولو سره انسان ته په جنت كښې يو كور ملاويږی بيا نبيﷺ پخپله د دې وضاحت كړے دے چې عام نفل نه دی مراد بلكه دغه سنت مراد دی د كوم سنتو تفصيل چې بعد كښې ذكر شوے دے دا به انسان بغير دعذر نه نه پريږدی دا د پيغمبر سنت پريخودل دی عبد الله بن مسعودؓ فرمائی چې د جمعے په ورځ به نبيﷺ څلور ركعته د مانځه نه مخكښے ادا كول او څلور ركعته به ئے د مانځه نه بعد ادا كول اصل كښې دا شپږ ركعته دی خو دا دوه پكښے نفل دی د مانځه نه بعد څلور ركعته په مسجد كښې ادا كول او دوه ركعته په كور كښې ادا كول دا هم د نبيﷺ نه ثابت دی.

## نفل مونځ كور كښې ادا كول:

د فرضو واجباتو نه علاوه نور نفل مونځونه انسان لره په كور كښې ادا كول ډير ښه او غوره دی لكه يو حديث كښې راځی: ﴿لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ﴾ اے خلقو تاسو خپل كورونه مقبرے مۀ جوړوے او په دې كښې څه نه څه مونځ ادا كوے مطلب نوافل او سنت ورسره هم په كورونو كښې ادا كوے او كه په مسجد كښې بل څه نيك عمل ورسره وی لكه درس، بيان وغيره يا مصروفيت دے په كور كښې ورته موقع نه

ملاویږي نو دا هم منع نه دی چې په مسجد کښې ادا کړے شی.

## تهجد ادا کول:

بل نفلی بهتر عمل د دې نه بعد د تهجدو مونځ کول دی، تهجد مونځ د شپے مونځ ته وئیلے کیږی چې انسان د شپے په وخت کښې پاسیږی او مونځ ادا کوی. او د دې وخت د ماسخوتن د مانځه نه واخله تر صبح صادق پورے دے دا تهجد په اول کښې فرض وو کله چې پنځه وخته مونځ نه وو فرض شوے. خو کله چې پنځه وخته مونځ فرض شو نو تهجد منسوخ شو بیا په دې شپه کښې بهترین وقت د تهجدو د پاره د شپے دریمه حصه ده لکه نبی ﷺ فرمائی: ﴿نِصۡفُ اللیل الاخیر﴾(ترمذی) د اخری شپے نیمه حصه بهترین وقت دے او په دغه وخت کښې د انسان دعا هم ډیره زر قبلیږی او د تهجدو نور ډیر لوے فضیلت دا هم دے چې انسان د خوب نه بعد دَ تهجدو مونځ ته راپاسیږی که یو انسان اودهٔ نه شی او د ماسخوتن د مونځ نه بعد تهجد ادا کړی نو دا هم ادا کیږی خو دا ډیر بهترین وقت نه دے اګرچه جائز دے خو افضل او بهتر د خوب نه بعد ادا کول دی.

## د قیام اللیل فضیلت:

د دې دومره لوے فضیلت دے لکه ترمذی کښې حدیث دے نبی ﷺ فرمائی: ﴿ عَلَيۡكُمۡ بِقِيَامِ اللَّيۡلِ فَإِنَّهُ دَأۡبُ الصَّالِحِينَ قَبۡلَكُمۡ وَهُوَ قُرۡبَةٌ إِلَى رَبِّكُمۡ ﴾ نبی ﷺ فرمائی تاسو لره د شپے مانځه ته پاسیدل پکار دی ځکه دا د مخکښے نیکانو خلقو طریقه وه او دا الله ته د نزدے کیدلو یوه بهترینه ذریعه هم ده ﴿ وَمَكۡفَرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ ﴾(الجامع الصّغیر) په دې سره الله د انسان ګناهونه معاف کوی.

یو بل حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی چې یو انسان د شپے

مونځ ته ځپله پاسی او خپل کور واله راپورته کړی نو دا د هغه ډیر ذکر کوؤنکی انسان نه ډیر بهتر دے دا د شپے مونځ د ټولے ورځے ذکر کوؤنکی انسان نه ډیر بهتر دی. اوپه یو موقع د نبیﷺ نه د دې په باره کښې تپوس شوے وو چې د رمضان د فرض روژے نه بعد بهتره روژه کوم یو ده او د فرض مونځ نه بعد بهتر مونځ کوم یو دے نبیﷺ جواب ورکړے وو چې د فرض روژو نه بعد د محرم دوه روژے دی او د فرض مونځ نه بعد بهتر عمل نفلی مونځ کښې د شپے مونځ ادا کول دی.

## د اشراق مونځ:

د دې نه بعد بهتر نفلی مونځ د اشراق مونځ ادا کول دی او د هغے طریقه دا ده چې انسان د سحر د مونځ نه بعد چې کله نمر راپورته شی او مکروه وقت ختم شی نو په دې وخت کښې د دې مونځ وخت داخلیږی بهتره طریقه دا ده چې انسان د سحر مانځه نه بعد په خپل ځائے کښې کینی او ذکرواذکار اوکړی، مشغول شی یا دینی درس تدریس کښې خپل ځان مشغوله کړی بیا د نمر ختو نه بعد دوه رکعته یا څلور رکعته دا مونځ ادا کړی او که یو انسان د خپل ځائے نه جدا شی نو هم ورته ثواب ملاویږی خو په ځائے باندے ناسته کښې ډیر ثواب الله انسان ته ورکوی احادیثو کښې د دې فضیلت راغلے دے لکه یو روایت کښې دی چې یو انسان د سحر مانځه نه بعد په خپل ځائے کښې کینی او دا مونځ ادا کړی نو الله ورته د یو حج او عمرے ثواب او بدله ورکوی او یو حدیث کښې راځی چې یو انسان د سحر د مانځه نه بعد په خپل ځائے کښې ناست وی او بغیر د خیر نه بله خبره نه کوی نو الله د دې انسان ګناهونه معاف کوی اګر که هغه د سمندر د زګ په شان ډیر ولے نه وی.

بل یو حدیث کښې راځی الله فرمائی: چې اے د ادمعلیہ السلام ځویه! ته

دې د ورځې د څلورو رکعتو نه عاجزه نه شې که تا دا اداء کړل زما د پاره نو زه به ستا د دې ټولې ورځې د کارونو نه پوره شمه او دا به درته آسان کړمه نو دا عبادت هم په بهترینو نفلي عباداتو کښې شمار شوې دې که انسان سره فرصت وی نو په مسجد کښې دې ادا کړی او که فرصت ورسره نه وی نو په کور کښې هم دا عبادت ادا کولے شی.

## د چاشت مونځ:

دې نه بعد بل بهترین مونځ هغه د چاشت د وقت مونځ دے هغه دا چې کله نمر لږ راتيز شی او دا دوه رکعته کم از کم او زيات نه زيات څلور شپږ تر دولس رکعتو پورے انسان اداء کولے شی د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دے نبي صلى الله عليه وسلم فرمائی چې کله انسان د صبا په وخت کښې داخل شی نو د دۀ په هر هر جوړ باندے صدقه لازميږی صحابوؤ رضي الله عنهم تپوس کړے وو چې دومره صدقے به څوك ورکوی ځکه د انسان په بدن کښې خو ډير زيات جوړونه او اندامونه دی. نبي صلى الله عليه وسلم ورته جواب ورکړو چې ﴿**لا اله الا الله**﴾ وئيل صدقه ده ﴿**سبحان الله**﴾ وئيل صدقه ده ﴿**الحمد لله**﴾ وئيل صدقه ده د نيکے کار کول صدقه ده او د بدۍ نه خلقه منع کول هم صدقه ده او دوه رکعته د چاشت د مونځ نه ادا کول د انسان د دې ټولو جوړونو د پاره صدقه ده او دا مونځ د نبي صلى الله عليه وسلم نه عملاً هم ثابت ده لکه ام هانی رضي الله عنها فرمائی چې نبي صلى الله عليه وسلم د فتح مکے په موقع د چاشت په وخت کښې اته رکعته مونځ زمونږه په کور کښې اداء کړو او د عائشه رضي الله عنها نه د نبي صلى الله عليه وسلم د چاشت د مونځ په باره کښې تپوس شوے وو نو هغے جواب ورکړے وو چې څلور رکعته به ئے ادا کول ﴿**وَيَزِيْدُ مَاشَاءُ**﴾ که نور څه به ئے غوښتل نو ورسره به ئے زياتی کولو هم. مطلب دا که موقع به وه نو نبي صلى الله عليه وسلم به د دې نه زيات رکعته هم اداء کول.

## دَ تحية المسجد او تحية الوضوء مونځ:

او يو نفلي عبادت په دې کښې تحية المسجد او تحية الوضوء هم دے تحية الوضوء مونځ د اودس د نعمت شکريه په طور الله مونږه ته راکړے دے او دا مونځ انسان تر هغه وخت پورې کولے شي چې تر څو پورے د دۀ د اودس اندامونه نه وي اوچ شوي کله چې د اودس اندامونه اوچ شي نو د دے وخت ختم شي حديث کښې راځي نبیﷺ يو ځل د سحر د مونځ نه بعد بلال رضی الله عنه ته مخاطب شو او تپوس ئے ترينه اوکړو چې ته کوم عمل د اسلام نه بعد ډير اجر او ثواب واله خوښوے ځکه ما ستا د خپو آوازونه په جنت کښې اوريدلی وو بلال رضی الله عنه ورته وائی اے د الله رسوله. کله نه چې زۀ مسلمان شوے يمه نو ما چې کله هم اودس کړے دے د اودس کولو نه بعد هميشه که ما ته څومره موقع ملاؤ شوے ده نو ما نفلي عبادتونه او عملونه او مونځونه کړی دی مطلب د اودس نه بعد ما نفلي مونځ ډير ډير کړے دے.

بل حديث کښې د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روايت دے نبیﷺ فرمائی چې کوم انسان اودس اوکړی او د اودس کولو نه بعد په توجه سره دوه رکعته مونځ اوکړی نو د دې سړی د پاره الله جنت واجب کوی.

## د عبادت د قبليدو شرائط:

بيا دا خبره ياد ساتل پکار دی چې دې انسان ته الله دومره غټ اجر او ثواب ورکوی په دې نفلي عباداتو باندے نو د دې د پاره يو څو شرائط دی يوه عقيده د توحيد ده که د انسان په عقيده کښې شرك او کفر وی نو دا ثواب ورته بيا نه ملاويږی.

دويم دا چې فرائض او واجبات به ورسره ادا کوی دا نه چې نوافل به ادا کوی او فرائض او واجبات په ځائے باندے پريږدی نو دې انسان ته

هم بيا دا اجر او ثواب پوره بدله نه ملاويږی.

دريم دا چې دا انسان به حتى الامکان د ګناهونو نه خپل ځان بچ کوی کبائر غټ ګناهونه به نه کوی نو دې انسان ته به پوره اجر او ثواب د دې اعمالو ملاويږی.

## د تحية المسجد اداب او شرائط:

او بل عبادت تحية المسجد مونځ کول دی دا هم مسجد ته د راتلو شکريه په طور باندے به انسان ادا کوی خو د دې څه اداب او شرائط دی اداب دا چې انسان مسجد ته رادننه کيږی نو د مسجد دعا به اووائی که څوك اوزګار ناست خلق وی په عبادت کښې مشغوله نه وی په هغوی باندے به سلام کوی او دنيوی خبرے به نه کوی بيا به مونځ د پاره اودريږی خو چې جماعت مطلب په جمع سره مونځ نه وی اودريدلے بل دا چې مکروه وقت به نه وی بل دا چې د فرض مونځ وخت د ختميدو يره به نه وی نبیﷺ فرمائی چې يو انسان مسجد ته رادننه شی نو د کيناستلو نه مخکښې دې دغه انسان دوه رکعته مونځ ادا کړی الله دې مونږه د سنتو پابند او د نوافلو اهتمام کوؤنکی جوړ کړی.

والحمد لله رب العالمين

# د جمعې مستحبات او سنت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا وَسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾

(سورة الاحزاب:۴۱)

## د جمعې د ورځ سنن:

مخکښې جمعه کښې د جمعې د مونځ د فرضيت بيان شوے وو حديث کښې راځی : ﴿ لجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسلِمٍ ﴾ (ابوداؤد) د جمعې مونځ په هر مسلمان باندے واجب حق دے او څوك چې د جمعې مونځ بغير د عذر نه پريږدی نو هغه د الله په دربار کښې منافق تصور کيږی نن د جمعې د ورځے سنت او مستحبات بيانوؤ په هر څيز کښې چې د ادابو مستحباتو لحاظ اوساتلے شی نو هغه څيز په کامله او مکمله طريقے سره اداکيږی او الله ته خوښ او محبوب وی او که د دې لحاظ او نه کړے شی نو هغه اجر او ثواب ورباندے انسان ته بيا نه ملاويږی او دغه کا ر د الله په دربار کښې ناقص تصور کيږی.

د دې عظيمے ورځے څه سنت طريقے او مستحبات شته دے يو په هغے کښې د دې ورځ د پاره د مانځه نه مخکښې غسل کول دی او صفا پاکے کپړے اغوستل، خوشبو لګول دی نبی ﷺ فرمائی:

﴿مَنْ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ اَحْسَنِ ثِيَابِهٖ وَمَسَّ مِنْ طِيْبٍ اِنْ كَانَ عِنْدَهٗ ثُمَّ اَتَى الْجُمُعَةِ وَلَمْ يَتَخَطَّ عَلٰى اَعْنَاقِ النَّاسِ﴾ (مسلم)

مطلب څوك چې د جمعې په ورځ مونځ اوکړی او بيا نوے کپړے

واچوی او که د دۀ سره څه خوشبو وی نو هغه استعمال کړی بیا د جمعے مونځ د پاره جماعت ته راشی او د خلقو په سټونو باندے خپے نه ګدی چې په وخت باندے مانځه ته حاضر شی ﴿ **كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى** ﴾دا به د دې انسان د پاره د دې جمعے او راتلونکی جمعے تر مینځه دَ ګناهونو د پاره کفاره وی خو په دې شرط چې د دې د ادابو خیال اوساتلے شی.

د ابن ماجه په حدیث کښې راځی نبیﷺ صحابوؓ ټول امت ته خطاب کړے وو: ﴿ **يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ** ﴾ اے د مسلمانانو ډلے جماعته! ﴿ **ان هذا اليومَ جَعَلَهُ اللهُ لكم عِيدًا** ﴾ دا ورځ د جمعے الله ستاسو د پاره د اختر ورځ ګرځولے ده څنګه چې کال په کال باندے اختر ادا کیږی دغه شان هفته په هفته باندے هم اختر اداء کیږی ﴿**فاغتسلوا**﴾ نو د دې ورځ د پاره غسل اوکړے ﴿ **وَإِنْ كَانَ طِيبٌ فَلْيَمَسَّ مِنْهُ** ﴾ د چا سره چې خوشبو وی نو هغه دې دغه خوشبو استعمال کړی ﴿**وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ** ﴾ (ابن ماجة) په تاسو باندې مسواك كول لازم دی .

## د جمعې په ورځ غسل:

په دې دوؤ حدیثونو کښې یو د غسل بیان اوشو چې مسلمان به د جمعے په ورځ غسل کوی دا سنت دی اګر چه په بخاری شریف کښې یو حدیث راځی چې ﴿ **حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ** ﴾ (بخاری) په هر مسلمان باندے لازم او واجب دی چې په اوؤ ورځو کښې به غسل کوی دَ نورو روایاتو د ظاهر الفاظو نه دا معلومیږی چې په دې ورځ غسل کول واجب دی خو زمونږه په نزد دا واجب نه دی. ابن عباسؓ نه چا تپوس کړے وو چې د دې جمعے د ورځے دا غسل کول واجب دی؟ هغه ورته اووئیل چې نۀ دا واجب نه دے او نبیﷺ په اول

وخت کښې د غسل د پاره تاکید ځکه کړے وو چې خلقه ډیر زیات وو، مسجد وړوکے ، تنګ وو. چتونه ئې نزدے وو صحابوؤ رضی اللہ عنہم به د مشقت کارونه کول او ګرمی به ډیره وه نو کله کله به بدبو پیدا شوه د دې د پاره نبی صلی اللہ علیہ وسلم د جمعے د ورځے په غسل باندے زور ورکړے وو اوس دغه عذرونه نشته د دې وجے نه واجب نه دے او مستحب پاتے دے. د دې غسل کولو فائده څه ده یو خو دا چې جسم ورسره صفا کیږی، دویم دا چې زمونږه په دې دین اسلام کښې اودس، غسل، مسواك ځکه ضروری دی چې یو جسم دے بل روح دے د جسم او روح خپلو کښې یو ژور تعلق دے څنګه چې په شریعت کښې د روح صفائی مطلوب ده دغه شان د جسم صفائی د روح د صفائے سره سره مطلوب ده او د مسلمان روح او جسم دواړه به پاك صفا وی نه به روح ګنده وی او نه به جسم ګنده وی.

بل دا چې دا غسل په څه وخت کښې کول پکار دی په دې کښې د علماؤ دوه قوله دی یو دا چې دا د جمعے ورځے کښې کیږی که په هر وخت کښې ئے اوکړی دویم دا چې دا د جمعے د مانځه د پاره به انسان ادا کوی د جمعې د مانځه نه به مخکښې مخکښې غسل کوی بهتره دا ده چې د مانځه نه مخکښې دا اداء کړے شی . بل دا که دا انسان پاك وی نو غسل کول سنت دی او که ورته ضرورت وی د جنابت د وجے نه نو غسل کول واجب دی . نوے یا صفا کپړے اچول هم مستحب او ادب دے لکه څنګه چې سالانه اجتماع د پاره چې د اختر مونځ دے نوے ، صفا کپړے مسلمان استعمالوی دغه رنګ د دې هفته وارے اجتماع د پاره به هم انسان نوے کپړے استمعالوی. عائشه رضی اللہ عنہا فرمائی چې د نبی صلی اللہ علیہ وسلم یو خاص کپړه وه چې هغه به ئے د جمعے په ورځ باندے اغوستله او د جمعے نه بعد به ئے سمبهاله کیخودله.

## خطبې ته حاضري کول:

بل دا چې د جمعې مانځه او خطبې ته په وخت باندې حاضریدل ضروري دي. زمونږه بد قسمتي دا ده چې مسلمان یو خو د دین نه لرې دې دویم دا چې د جمعې په ورځ باندې انسان ځان ته دومره مشغوتیا پیدا کړي چې کله پکښې د جمعې مونځ ته هم اوزګار نشي او کله ورنه یو دوه رکعته قضا شوي وي یوه وجه دا چې د جمعې په ورځ چهټي نه وي نو څه د دې وجې نه د جمعې د ورځې اهتمام ختم شو او صرف د مونځ بوج د ځان نه لرې کوي کله دویم اذان سره که ډیر خوش قسمته وي او کله د خطبې نه بعد حاضر شي حال دا دې چې خطبه اوریدل واجب دي کله بغیر د څه مصروفیت نه په کور کښې اوزګار به ناست وي او جمات ته به نه راځي څکه جمات کښې د دهٔ زړهٔ خفه کیږي حالانکه نبیﷺ د منافق او مومن تر مینځه یو فرق دا ښودلې دې چې د منافق په جمات کښې زړهٔ تنګیږي او مؤمن په جمات کښې زړهٔ نه تنګوي. زمونږه سره د جمعې د ورځې اهتمام نشته څکه مونږه د دې ورځې بې قدري کوؤ. علماء وائي د جمعې د ورځې نه زیاته فائده هغه انسان اغستې شي چې هغه د زیارت د ورځې نه یا د جمعې د شپې نه د جمعې د پاره تیارې کوي .

## د جمعې انتظار:

حدیث کښې راځي نبیﷺ فرمائي آدمعلیه السلام د جمعې په ورځ باندې پیدا شوې وو او په دې ورځ باندې به قیامت قائمیږي، قیامت به په دې ورځ باندې راځي نو په دې ورځ بنده لره غفلت کول نه دي پکار. بنده به په دې ورځ د قیامت د پاره تیارې کوي دا هم د دې ادب دې چې انسان به د دې ورځې اهتمام او انتظار کوي.

## په وخت مسجد ته راتلل:

بل مستحب دا دی چې په وخت باندے به د جمعے مونځ ته حاضریږی بلکه سنت دا دی یو حدیث کښې راځی چې څوك د جمعے په ورځ د ټولو نه مخکښے حاضر شی نو هغه ته د یو اُوښ ثواب ملاویږی او څوك چې دویم نمبر حاضر شی نو هغه ته د ګډه او چیلی ثواب ملاویږی دریم نمبر کښې د چرګے قربانی کولو ثواب ورته ملاویږی څلورم نمبر کښې د یوے انډے قربانی کولو ثواب الله ورکوی .بیا چې کله امام صاحب خطبے ته راوځی نو فرشتے دغه دیوان راغونډ کړی او خطبے ته غوږ کیږدی .

بل ادب دا دے چې که یو انسان ناوخته راشی او مخکښے مسجد ډك شوے وی خالی ځائے ورکښے نه وی نو د خلقو په سرونو او سټونو باندے به خپے نه ږدی روسته چې خالی ځائے وی په هغه ځائے کښې به کینی د مخکښې د تلو کوشش به نه کوی.

## خطبه اوریدل:

بل سنت د خطبے دا دے چې انسان به چپ ناست وی خبرے به نه کوی ذکر تلاوت نفل به نه کوی صرف او صرف خطبے طرف ته به متوجه وی چا ته به د چپ کیدو د پاره آواز او اشاره هم نه کوی او نه به بل داسے کار کوی چې خلقه د خطیب په ځائے دَ ده طرف ته متوجے شی .

## د جمعې د ورځ اذکار:

بل سنت عمل د جمعے په ورځ د سورت کهف تلاوت کول دی حدیث کښې راځی څوك چې دا په اهتمام سره وائی نو دغه انسان به د دجال نه محفوظ وی.

بل سنت دا دے چې په نبیﷺ باندے د جمعې په ورځ درود شریف اووئیلے شی لکه دا هم په حدیث کښې راځی چې تاسو په ما باندے د جمعی په ورځ درود شریف ډیر ډیر وائی ځکه دا فرشتے په ما باندے پیش کوی.

د انسان د پاره د جمعې په ورځ دعا غوښتل ډیر ډیر پکار دی ځکه په دې کښې یو وخت دے چې الله پکښے د انسان دعا قبلوی او ډیر ښه وخت د دی د پاره دوه وختونه دی یو دَ خطیب صاحب خطبے ته کیناستلو نه بعد تر مونځ نه فارغیدو پورے بل د مازیګر نه واخله تر ماښام مونځ پورے وخت دے چې دغه وخت د دعا د قبلیدو وخت وی-
والحمد لله رب العالمین

# درے قسم معمولات

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ﴾

﴿و قال رسول الله ﷺ اَحَبَّ الْاَ عْمَالِ اِلَى اللهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ اَوْكَمَا قَالَ عليه السلام﴾ (رواہ احمد)

## لږ عمل او هميشه كول:

د نبي ﷺ يو ارشاد مبارك ذكر شو دې كښې نبي ﷺ د اعمالو ترغيب وركوى او دا خبره بيانوى چې څومره عمل اهم دے دغه شان د دې عمل پابندى هم ضرورى ده عمل دې لږ وى او هميشه دې وى دا عمل الله ته ډير خوښ دے د هغه نه چې ډير وى او په يو ځل ئے انسان ادا كوى دا ښه صفت نه دے ښه دا دے چې عمل لږ وى او هميشه وى يو فرائض او واجبات دى دا به انسان هميشه اداء كوى خو نوافل او مستحبات كله كله ادا كول دا الله ته ډير خوښ نه دى بلكه هميشه په دوام سره نفلى اضافى عبادات اداء كول الله ته ډير خوښ او محبوب دى په نفلى عباداتو سره د انسان خپله اصلاح كيږى د الله سره د دهٔ تعلق او نسبت پيدا كيږى او دا انسان ورسره د ګناه نه بچ وى.

## درے قسمه معمولات:

دې د پاره دا درے قسمه معمولات دى چې انسان دا په پابندے سره كوى نو د دهٔ اصلاح به كيږى او د الله د نافرمانے نه به بچ وى روحانيت به وركښے وى دغه درے قسمه معمولاتو كښې څه هغه دى

چې روزانه د هغې معمول جوړول پکار دی دویم هفته وار معمول جوړول دی او دریم د میاشتې سره د اداء کولو تعلق لري. کوم انسان چې روزانه واله معمولات ادا کوي نفلي عبادات اعمال کوي نو دا انسان به روزانه د ګناه نه بچ وي او که هفته وار عبادات مستحبات په پابندۍ سره کوي نو د یوې جمعې نه واخله تر بلې جمعې پورې به الله دا انسان د ګناه نه بچ کوي او که د یوې میاشت نه واخله تر بلې میاشت پورې دا انسان د ګناه نه ځان بچ کوي نو دا انسان به پوره میاشت د الله د نافرمانۍ نه امن کښې وي او بله فائده به دا وي چې د نیکو اعمالو توفیق ورلره الله ورکوي بل دا چې کله روحانیت برقرار وي نو دا انسان مطمئن او خوشحاله وي او دیني اعتبار سره ترقي کوي او کله چې په دې کښې ناغه راشي دا ادا نه کړې شي نو د دغه انسان دا ترقي اودریږي او په دغه انسان کښې کله کله د الله د بغاوت ماده پیدا شي د دې روحاني ترقۍ د پاره او د بغاوت سرکشۍ او ګناهونو نه بچ کیدو د پاره الله زمونږه د پاره دا روزانه معمولات راپیدا کړي دي چې د دې په پابندۍ سره انسان د الله نیك بنده جوړیږي که دغه نفلي عمل او عبادت انسان لږ لږ ادا کوي بیا هم الله دې انسان ته د دې فائده ورکوي په دې حدیث کښې هم نبی ﷺ دا مضمون بیانوي ﴿أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ﴾ (مسلم) خوښ عمل الله ته همیشه عمل دے اګر که هغه لږ ولې نه وي.

## اذکار فاطمی رضی اللہ عنہا:

دغه معمولات ډیر زیات دی خو یو څو بیانوؤ یو په دغه کښې اذکار فاطمی رضی اللہ عنہا چې ورته وائي هغه دا دی حضرت فاطمه رضی اللہ عنہا نبی ﷺ ته ئې دا شکایت کړے وو چې د کور کار روزګار به هغې په خپله باندے کولو کله چې هغه د دې نه تنګه شوه نو علی رضی اللہ عنہ ورته اووئیل چې

نبیﷺ خوا ته لاړه شه او د هغوی نه وینځے، غلامان اوغواړه ځکه د هغه سره غلامان او وینځے راغلی دی نو ستا خدمت به کوی دا چې د خپل پلار کور ته لاړه هلته نبیﷺ موجود نه وو. فاطمهؓ عائشهؓ ته دا خبره اوکړه چې نبیﷺ راشی نو ته ورته اووایه چې فاطمهؓ لره غلام یا وینځه د کور د کار کسب د پاره ورکړه ځکه هغه په خپل کور کښې ځان له ده څوك ورسره د خدمت نشته دے نبی علیه السلام چې خبر شو د خپلے لور کور ته پخپله باندے راغلو او ورته ئے اووئیل چې تا دا شکایت کړے دے چې ستا سره غلام نشته دے زه تاته د دی نه بهتر څیز ښایمه ته چې کله کور ته راځے او په خپله بستره باندے اوده کیږے نو درے دیرش (۳۳) ځله سبحان الله او درے دیرش(۳۳) ځله الحمد لله او څلور دیرش (۳٤) ځله الله اکبر وایه، دې ته د نوکر او غلام ضرورت وو او نبیﷺ ورته د دې ذکر تذکره کوی دا د دې وجے نه چې د انسان جسم ته دا قوّت ورکوی لکه څنګه چې د انسان روح ته طا قت ورکوی ځکه نبیﷺ د خپل جګر محبوب لور ته د دې تاکید کړے دے او دا مسنون اذکار د مانځه نه بعد وئیل هم راغلی دی کله درے دیرش(۳۳ ) ځله کله پنځه ویشت(۲۵) ځله او کله لس(۱۰) ځله وئیل مطلب که د انسان مصروفیت نه وی نو بیا دې دا درے دیرش(۳۳) ځله وائی او که نه څه مصروفیت لری نو بیا دې دا اذکار پنځه ویشت(۲۵) ځله وائی او که د دې نه زیات مصروفه وی نو دا اذکار دې بیا لس لس (۱۰) ځله وائی یو حدیث کښې راځی چې کله یو انسان د دې اذکارو پابندی کوی نو الله د دې انسان د سمندر د زګ هومره ګناهونه معاف کوی.

## استغفاروئیل:

په دې معمولاتو کښې یو استغفار وئیل دی لکه حدیث کښې

راځی نبیﷺ فرمائی چې زۀ په يو مجلس کښې اويا (۷۰) ځله استغفار وايم او يو حديث کښې راځی چې په ورځ کښې سل (۱۰۰) ځله استغفار وايمه او په استغفار سره الله انسان مال اولاد او رزق ډير وی او الله د دې وعده په قرآن کښې کړے ده.

بل معمول په نبی کريم ﷺ درود شريف وئيل دی. د دې ډير لوے فضيلت دے او دريمه کلمه ﴿سُبۡحَانَ اللهِ ، وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ ، وَلا إِلَهَ إِلا اللهُ ، وَاللهُ أَكۡبَر وَلَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ﴾ وئيل دا هغه مسنون اذکار دې چې انسان به دا روزانه هره ورځ وائی.

## د ورځې نوافل مونځونه:

دا د ورځے د ذکرو اذکارو خبره ده په نفلی عباداتو کښې يو دوه رکعته تهجد ادا کول دی د سحر د نمر ختو نه بعد اشراق مونځ کول دی نبیﷺ فرمائی چې الله رب العزت ارشاد فرمائی څوك چې زما د پاره د سحر مونځ نه بعد په مسجد کښې ناست وی تر دے پورے چې نمر راوخيژی بيا دوه رکعته مونځ اوکړی نو د دې په بدله کښې به زۀ د دې انسان لره د ټولے ورځے نه کافی شمه د غه شان د وس مطابق خيرات او صدقه څه نا څه ادا کول دا هم د ورځے په معمولاتو کښې دی.

## هفته وار معمولات:

او څه معمولات هفته وار دی په هغے کښې يو د جمعے ورځ ده چې انسان د دې ورځے د تقدس او عظمت خيال او ساتی ښه په اهتمام سره د دې ورځے د پاره تيارے اوکړی حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې د جمعے دا ورځ په ټولو ورځو کښې بهترينه ورځ ده په دې کښې ادم علیہ السلام پيدا شوے وو، د جنت نه دنيا ته راغلے وو، په دغه ورځ چې د دۀ نه کوم لغزش او خطا شوے وه هغه ورته معاف شوے وه، او په

دې ورځ به قيامت هم راځي، په بل حديث كښې راځي نبیﷺ فرمائی چې الله ته دَ جمعے ورځ دَ اختر د ورځے نه هم ډيره خوښه او محبوبه ده ځکه د وړوکے او غټ اختر د ورځے يو خپل مقام دے خو د الله په نزد دا ورځ ډيره د عظمت واله ده نو انسان به د دې ورځے د معمولاتو خيال هم ساتی دا هفته وار روښانی معمولات دی لکه په دې کښې يو د جمعے مونځ خطبه هم ده او په دې ورځ د انسان دعا قبليږی دغه وخت يا د مازيګر نه واخله تر د ماښام پورے وخت چې څومره وی په دې کښې الله د انسان دعا قبلوی. دا د دے ورځے آخری ساعت وی د دے وجے نه صوفياؤ او بزرګانو به د دې وخت د ذکر واذکار ډيره پابندی کوله او که څوك د دې نه فائده نه اخلی د دې داسے مثال دے لکه چا سره خزانه وی او د دغه خزانے نه فائده نه اخلی او د الله په لاره کښې دغه خزانه نه خرچ کوی .

## د جمعې د ورځې معمولات:

بل د جمعے د ورځے د معمولاتو نه درود شريف وئيل دا هم ډير اهم معمول دے .حديث کښې راځی ﴿ إِنَّ مِن أَفْضَلِ أَيَّامِكُم يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَأَكْثِرُوْا مِنَ الصَّلَاةِ عليَّ فيهِ ﴾(ابوداؤد) ستاسو د ټولو نه بهترينه ورځ ،ورځ د جمعے ده نو ځکه په ما باندے ډير ډير درود شريف وائے، بل هفته وار معمول د سورت کهف تلاوت کول دی په يو حديث کښې راځی څوك چې دا تلاوت کوی الله ورلره د بلے جمعے د ورځے پورے نور ورکوی چې دا نور دې انسان لره کافی کيږی يو حديث کښې راځی څوك چې د سورت کهف اول لس ايتونه تلاوت کوی دا انسان به الله د دجال د فتنے نه محفوظ کړی بل د جمعے په ورځ په وخت باندے مسجد ته راتلل لکه يو حد يث کښې راځی چې الله د جمعے په ورځ د مسجد په دروازه باندے فرشتے مقرر کړے وی چې هغوی د خلقو د پاره ناستے وی څوك چې اول

راځي هغوی لره د یو اوښ ثواب او څوك چې دویم هغوی لره د یو ګډ یا چیلے ثواب او څوك چې دریم راغلے وی هغهٔ لره د یو وړوکے حیوان د صدقه کولو او بیا د انډے قدرے ثواب تردے پورے چې دا فرشتے په اخر کښې خپلے کاپیانے بندې کړی او د خطیب خبرو ته غوږ کیږدی نو دا خطبه اوریدل دومره اهم معمول دے چې فرشتے هم د خطیب خبرے اوری.

## ماهانه معمولات:

او په دې کښې اخری ماهانه معمول چې هغه به انسان میاشت په میاشت باندے ادا کوی په دغه ماهانه معمولاتو کښې د ایام بیض روژے نیول دی ایام بیض د اسلامی قمری میاشت دیارلسم(۱۳) څورلسم(١٤) او پنځلسم(۱۵) تاریخ ته وائی حدیث کښې راځی چې په هره میاشت کښې دا درے روژے نیول داسے ثواب لری ﴿كَصِيَامِ الدَّهْرِ﴾ لکه انسان چې ټوله زمانه روژے نیولے وی ټول عمر یا ټول کال روژې نیول د چا په وس کښې نه دی نو الله په خپلے ډیرے مهربانے سره دا یو په لس باندے اوګرځولے ﴿مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا﴾ (سورة الانعام:١٦٠) څوك چې یو قسم نیکی اوکړی نو الله دې انسان ته د دې لس چنده فائده ورکوی دغه شان یو روژه د لسو ورځو ثواب بله روژه د لسو ورځو ثواب او بله روژه د لسو ورځو ثواب لری نو دا دیرش(۳۰) ورځے ثواب د دې درے روژو دے بیا هره میاشت دا معمول کول د ټول عمر د روژو اجروثواب لری دا هغه روزانه هفته وار او ماهانه معمولات دی چې د دې په پابندے سره الله انسان ته لوے مقام او مرتبه نصیب کوی.

والحمد لله رب العالمین .

# د نیکی حفاظت (حصه اول)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد! فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا﴾ (سورة الكهف: ۱۰۳، ۱۰۴)

﴿وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم: اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَاَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ﴾ (رواه احمد)

## ایمان او عمل صالح ضروری دے:

د الله د کتاب یو ایت او د نبی صلی اللہ علیہ وسلم یو ارشاد ستاسو مخکښے تلاوت شو په دې کښې بنیادی یو دوه خبرے بیانیږی الله رب العزت خپل پیغمبر ته فرمائی چې دې خلقو ته هغه اهمه خبره بیان کړه او د دې طرف ته د دې خلقو توجه اوکړه یوه خبره دا ده چې دا نیکی د انسان د آخرت اهم ضرورت دے دویم دا چې صرف نیکی کول نه دی بلکه د دې حفاظت کول هم ضروری دی او د دې نه زیاته اهمه خبره هغه دا ده چې انسان ورباندے دنیا او آخرت کښې کامیابیږی یو په دې کښې ایمان او صحیح عقیده ده او دویم د عقیدے نه بعد نیك عمل دے قرآن پاك ډیر په مختصر انداز کښې بار بار دا دوه خبرے بیانوی:

﴿وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ (البقرة: ۲۵)

د جنت او د خوشحالے زیرے ورکړه هغه چاته چې د هغوی ایمان برابر وی او د ایمان سره سره د نیك عمل خاوند هم وی څنګه چې دنیا کښې ژوند تیرولو د پاره خوراك څکاك اهم ضرورت دے دغه شان د

آخرت د خوشحالے او همیشه ژوند تیرولو د پاره د ایمان او عمل صالح ډیر اهم او اشد ضرورت دے په ایمان سره انسان د کفر او شرك د پابندے نه د اسلام او ایمان آزادے ته داخل شی او د جهنم د عذاب نه خلاص شی او همیشه د جنت په وارثانو کښې د دې انسان شمار کولے شی بیا عمل صالح د جنت د یقینی حقدار کیدو او جهنم نه د براءت حاصلولو د پاره ضروری دے دا ایمان او عمل صالح انسان محفوظ اوساتی دا هم یوه اهمه او ضروری خبره ده.

## نیکی څه څیز دے؟:

دا یوه تمهیدی خبره وه خو سوال دا پیدا کیږی چې اخر کار دا نیکی څه څیز دے؟ د دې تعریف او حقیقت څه دے؟ ثواب څه ته وئیلے کیږی؟ نو دا خبره په لنډو الفاظو کښې پیژندل پکار دی چې نیکی، ثواب د آخرت سرمایه د آخرت فائده او د آخرت کامیابے ته نیکی وئیلے کیږی لکه څنګه چې په مال دولت سره انسان دنیا اخلی دغه شان نیکی یو داسے قیمتی سرمایه ده چې د دې په ذریعه سره انسان د آخرت سودا او د آخرت ګټه کوی په آخرت کښې د جنت د جائیداد او د زمکے خواهش لری نو الله ته دې دا انسان د نیکے سرمایه مخکښے کړی الله به ورته جنت ورکړی. دې وجے نه حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی:

﴿أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ غَالِيَةٌ ، أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ الْجَنَّةُ﴾ (ترمذی)

خبردار د الله سوداء قیمتی سودا ده. خبردار د الله سودا جنت دے. نو د دې دنیا دا نیک عمل د الله د جنت قیمت او کرنسی ده.

## د آخرت سرمایه:

د دنیا دا قانون دے چې که یو مسافر د یو وطن نه بل وطن ته

ځی او هلته څه سودا اخلی نو د دې ملك نه د خپل ځان سره سرمایه اخلی نو بیا هلته سودا کولے شی او که د دې ملك نه د خپل ځان سره سرمایه وانه خلی نو هلته هیڅ قسم سودا نشی کولے دغه شان که یو انسان د دې دنیا نه سفر کوی د آخرت طرف ته نو د آخرت سرمایه به د خپل ځان سره د دې دنیا نه خامخا اخلی که د دې د نیا نه سرمایه وانه خلی نو دا انسان د جنت سودا او د آخرت فائده نشی حاصلولے. د دې نه دا خبره معلومه شوه چې مرګ صرف د فناء کیدو نوم نه دے چې انسان مړ شی نو هر څه ختم دا غلط تصور دے الله د دې خلقو رد په قرآن کښې کړے دے څوك چې دا عقیده ساتی چې انسان پس د مرګه هیڅ څیز نه وی الله فرمائی:

﴿ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ﴾ (سورة الواقعة:٤٧)

دا منکرین د بعثت وائی ایا کله چې مونږه مړه شو او خاورے شو نو آیا مونږه به بیا دوباره راپورته کیږو خو د اسلام دا تصور نه دے بلکه د اسلام دا تصور دے چې مرګ د دې عالم نه بل عالم ته د منتقل کیدو نوم دے. مرګ د دې جهان نه بل جهان ته د بدلیدو نوم دے.

## لس چنده ثواب او بدله:

او دا د الله یو عجیبه نظام دے چې دنیا کښې یو ریال د یو ریال قیمت لری یو روپے د یو روپے قیمت لری خو د آخرت د آسانے د پاره الله د دې دنیا یوه نیکی په لسو نیکیانو سره بدلوی، داسے غنی او سخی ذات چې هغه یو په لسه باندے همیشه انسان ته ورکړه کوی په دې دنیا کښې که یو دوکاندار ډیر سخاوت اوکړی نو د دوؤ روپو څیز به په یو روپے باندے درکړی او الله هر چا لره په هره یوه نیکے باندے د لسو نیکیانو اجر او ثواب ورکوی مطلب د لسو روپو څیز په یو روپې باندے الله ورکوی. دومره خبره ده چې دا د آخرت سرمایه به انسان د شیطان ډاکو نه محفوظه ساتے

صرف نیکی کول کمال نه دے بلکه دا نیکی محفوظ ساتل کمال دے صرف نیك اعمال کول نه دی بلکه دا نیك اعمال مخفوظ ساتل هم دی او په دې ایت کښې الله د هغه چا لوے نقصان بیان کړے دے څوك چې نیك عمل کوی خو د هغے حفاظت نه کوی:

﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا﴾

اووایه اے پیغمبره! زۀ تاسو ته د تاوانیانو د عمل په باره کښې خبر نه درکوم چې تاوانی عمل د چا دے د هغه چا دے ﴿اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ هغه څوك چې د هغه کوشش په ژوند د دنیا کښې ضائع شوے دے ﴿وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا﴾(کهف:۱۰۴) او د دوی گمان دا دے چې مونږه دا نیك عمل کوؤ دا قسم خلق ډیر تاوانیان خلق دی ډیر تاوانیان ځکه دي چې د هغه آخرت واله سرمایه ورنه برباده او بےفائدے ضائع شوه او کله کله الله داسے ذکر کوی ﴿فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ﴾ چې الله د دې خلقو عملونه برباد کړل یو انسان هغه وی چې هغه د سره مزدوری نه وی کړې او یو هغه وی چې د هغه نه شته مزدوری برباده شی نو دا انسان بیا ډیر په خساره کښې وی چې شته مزدوری د هغه نه ضائع او برباد شی د بد عمل په شکل کښې ،د شیطان په شکل کښې، د نفسانی خواهشاتو په شکل کښې په دې انسان باندے یو داسے غل او ډاکو پیښ شوے دے چې د ناخبرے په حالت کښې ئے د دۀ نه ټول نیك عمل اجر او ثواب ضائع کړے دے .

والحمد لله رب العالمين.

# د نیکی حفاظت (حصه دوم)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا﴾ (سورۃ الکھف: ۱۰۳،۱۰۴)

مخکښې جمعے نه د نیکے تعریف او د هغے د حفاظت په باره کښې خبره شروع وه او دا ذکر شوی وو چې نیکی د انسان روحانی غذاء ده او د آخرت ضرورت هم دے او حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې:

﴿إِنَّ اللّٰهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ﴾ (مسلم) الله ستاسو صورتونو او مالونو ته نه ګوری بلکه الله ستاسو زړونو او عملونو ته ګوری. د نیکے ذریعے او سبب ته الله ګوری ځکه اخلاص سره نیک عمل الله ته مطلوب دے او د کامیابے او ناکامے دارومدار په دې باندے دے.

## ریاکاری او ځان ښودل:

او دا نیکی په څه سره بربادیږی او ضائع کیږی او د دې د خرابیدو وجه او سبب څه دے او څه طریقے سره دا محفوظ وی لکه څنګه چې کینسر مرض والا جراثیم د انسان جسم تباه کوی دغه شان نیك عمل هم د څه جراثیمو سره بربادیږی په دې کښې یو هغه خیز چې نیك عمل ضائع کوی ریاء او ځان ښودل دې په دی سره د انسان نیك عمل تباه کیږی او بربادیږی ریاء ګناه هم ده او دا هغه عمل دے چې نیکے لره په صفر کښې ضرب ورکوی. حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: إِنَّ يَسِيْرَ

الرِّيَاءِ شِرْكٌ ﴾ لږه شان ريا كول هم شرك دے. د علماؤ په اصطلاح كښې دى ته شرك اصغر وائى دا هغه حقيقى شرك نه دے هاں دا خبره ده چې د هغے په شان ده لكه څنګه چې حقيقى شرك كښې د الله سره بل څوك شريكول وى دغه شان په رياء كښې هم الله ته د عمل ښودلو سره بل چا ته عمل ښودل وى ځكه دې ته شرك اصغر وائى.

## د درے غټ عملونو انجام:

حديث كښې راځى نبىﷺ فرمائى چې د قيامت په ورځ باندے درے كسان چې هغه د ډير لوې عمل خاوندان دى كله چې د الله سره مخامخ شى نو الله به دوى ته هيڅ نيكه بدله او اجروثواب ورنه كړى ځكه د دوى عمل به په دنيا كښې برباد شوے وى يو په دې كښې غازى، لوے مجاهد، شهيد، غزا كونكے دے الله به ورته فرمائى چې ما په تا باندے دا دا لوے انعامات كړى وو تا زما د پاره څه كړى وو دا به ورته وائى الله ما ستا په لار كښې ستا د دين د پاره جهاد كړے وو خپل ځان مې قربانى كړے وو شهادت او سر مې كټ كړے وو الله به ورته اوفرمائى دا تا د دې د پاره كړى وو چې خلق راته بهادر او شجاع اووائى بيا به فرشتو ته حكم اوكړے شى چې دا جهنم ته ګذار كړے. د جهاد او خپل ځان شيهد كولو نه بل غټ عمل او قربانى نشته خو كله چې په دې غټ عمل كښې اخلاص نشته نو حكم دا دے چې هيڅ بدله نشته او جهنم د دې انسان ځائے دے.

دويم به راشى قارى صاحب، عالم صاحب به وى هغه نه به تپوس اوكړے شى چې په تا باندے ما دا انعامات كړى وو تا زما د پاره څه كړى دى هغه به جواب وركړى الله ما ستا د پاره قرآن وئيلے وو خلقو ته مې ښودلے وو سختے او مشقتونه ما برداشت كړى وو نو جواب به

ورکړے شی چې دا ټول تا د دې د پاره کړی وو چې خلقه اووائی قاری صاحب دے مولوی صاحب دے او دا هر څه تا د الله د رضا د پاره نه دی کړی نو حکم به اوکړے شی چې جهنم ته ئے ګذار کړے.

دریم سخی او مالداره انسان به راوستلے شی او د هغه نه به تپوس اوکړے شی چې ما په تا باندے دا دا نعمتونه کړی وو مالداری مې درته درکړے وه تا زما د رضا د پاره څه کړی وو هغه به ورته جواب ورکړی چه ما خپل مال ستا په لاره کښې خرچ کړے وو. هغه ته به اوفرمائیلے شی چه تا مال د دې د پاره خرچ کړے وو چه ماته سخی او ښه سړے اوئیلے شی او هغه تا ته په دنیا کښې وئیلے شوی دی. فرشتو ته به حکم اوکړے شی چې دا انسان هم جهنم ته ګذار کړے. دا د دې وجے نه چې دې انسان به دا مال دولت سرمایه د الله د رضا د پاره دَ الله په لاره کښې نه خرچ کوله نو ځکه به جهنم ته داخل کړے شی.

نو دا لوے عملونه دی خو چې کله اخلاص نشته الله ته منظور نه دی د انسان خپل ځان قربانی کول بیا د دې نه بعد مال ډیر محبوب څیز دے او علم هم ډیر لوے صفت دے خو چې کله اخلاص نشته نو دا هر څه الله ته قبول نه دی. نو د نیکو اعمالو د بربادے د پاره اول څیز ریاءکاری او عدم اخلاص دے چې دا وی نو د دې انسان ټول نیك اعمال برباد دی ځکه زمونږه د دین بنیاد په دې دے: ﴿إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ﴾ (بخاری) ټول عملونه که هغه غټ عمل دے او که وړوکے عمل دے د ټولو بنیاد په اخلاص باندے دے.

## شرک د عمل د بربادے سبب:

دویم څیز چې د انسان عمل بربادوی او د انسان عمل ته اور لګوی هغه شرك دے. دا یو دا سے بدترین جرم او غټه ګناه ده چې هر

چاته اولړی نو دغه انسان به تباه کوی او زمونږه د ټولو ایمان دے چې په کائناتو کښې د انبیاؤ علیهم السلام نه بعد لوړے مرتبے او مقام واله څوك نشته او په دغه انبیاؤ کښې د ټولونه لوړے مقام د محمد رسول الله ﷺ دے که یو انسان د محمد رسول الله ﷺ د سنت نه خلاف عمل کوی نو دغه ناقابل قبول دے نو د دغه لوړے مقام او مرتبے واله پیغمبر که د شرك عمل اوکړی ورته نه معاف کیږی بلکه د هغه دغه ټول عمل ورسره ضائع کیږی او بربادیږی پیغمبر په هیڅ یو صورت کښې شرك نه کوی خو که بالفرض شرك اوکړی نو د دۀ دا عمل ورسره بربادیږی قرآن کښې الله خپل پیغمبر ته دا خطاب کوی:

﴿لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ﴾ (سورة الزمر: ٦٤)

اے پیغمبره! که چرته ته د الله سره شرك اوکړے نو الله به ستا عمل برباد کړی. او په یو بل ځائے کښې الله د نورو پیغمبرانو په باره کښې فرمائی:

﴿وَاِنْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ (سورة الانعام: ٨٨)

که دې پیغمبرانو شرك کړے وے نو الله به د دوی هغه ټول عملونه برباد کړے وے.

## بدعت عمل لره تباه کوؤنکی دے:

بل عمل چې د هغے سره د انسان نیك عمل محفوظ نه پاتې کیږی او نیکی ورسره ضائع کیږی هغه بدعت دے. بدعت په دین کښې یو نوې کار ته وائی هر هغه کار چې په دین کښې نه وی او خلقو د ځان د طرف نه په دین کښې راویستے وی هغے ته بدعت وئیلے کیږی. افسوس دا دے که یو غل غلا کوی که یو زنا کار زنا کوی او که یو ډاکو ډاکه وهی نو دا ټول دې ته ګناه وائی او د دوی په زړۀ کښې یوه یره پرته وی چې دا ګناه

ده خو بدعت یو داسے جرم دے چې دا ګناه کوؤنکے خپل ځان ته په دې سره ګناه ګار نه وائی بلکه دغه خپله ګناه او جرم کارخیر او کار ثواب ګنړی که یو انسان ذکر کوی ښه کار دے خو که دغه ذکر په هئیت اجتماعی سره په یو آواز باندے کوی نو بیا دا بدعت دے په ځائے د ثواب باندے د دې ګناه لویه او زیاته ده که یو انسان دعا کوی ښه کار دے خو که دغه د سنت نه بعد په هئیت اجتماعی سره لازم کړے شی نو بیا دا ګناه ده او بدعت دے . بدعت ځکه دے چې بدعت همدغه د دین کار ته وئیلے کیږی چې یو انسان په دین کښې د ځان د طرف نه یو نوے کار راؤباسی او دغه کار لره د دین مرتبه ورکړی.

والحمد لله رب العالمین

# د نیکی حفاظت (حصه سوم)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ يَاۤ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اَطِيْعُو اللّٰهَ وَاَطِيْعُو ا لرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْا اَعْمَالَكُمْ﴾(سورة محمد:۳۳)

## د ادب رعایت کول:

مخکښې نه د نیکے حفاظت په باره کښې خبره شروع وه او بیا دا هم بیان شوی وو چې کوم اعمالو سره نیکی ضائع کیږی او بربادیږی نو په دغه اعمالو کښې یو شرك دے چې ټول عمل ضائع کوی دویم څیز ریاء او عدم اخلاص دے دریم بدعت دے چې د انسان عمل ضائع کوی.

څلورم څیز چې په هغے سره د انسان عمل بربادیږی هغه بے ادبی ده. یو انسان بے ادبه وی نو په ناخبرے کښې د دې انسان عمل تباه شی ادب ډیر لوے مقام لری خاص کر په دین اسلام کښې د ادب یو امتیازی شان دے علماء وائی ﴿اَلدِّيْنُ كُلُّهُ اَدَبٌ﴾ دین ټول ادب ادب دے. دین کښې چې څومره احکامات دی په دې کښې د ادب تعلیم دے څومره چې عبادات دی د الله حقوق دی په مونږه باندے دا ټول د الله ادب دے سجده، رکوع، لاس په نامه اودریدل، په مصیبت او تکلیف کښې رامدد کول دا ټول د الله د ادب په دائره کښې داخل دی د پیغمبر چې څومره حقوق دی د هغه په طریقه باندے تلل، بدعت نه کول، د سنت سره مینه او محبت لرل دا ټول د پیغمبر پاك ﷺ ادب دے. د مور پلار حقوق، د استاد، مسجد حقوق وغیره دا د دوی ادب او احترام دے. په غم ښادے،

حجره، مجلس کښې، ناستے، ولاړه کښې د شریعت د تعلیماتو خیال ساتل دا د دې ادب دے.

## د بے ادبۍ انجام:

او بے ادبی د انسان ټول اعمالو ته نقصان ورکوی، دې وجے نه علامه روم رحمۃ اللہ علیہ د مثنوی مصنف غټ عالم دے په دې کتاب کښې علامه روم رحمۃ اللہ علیہ د اسلام فلسفه او د مسائلو حکمتونه په اشعارو کښې ذکر کړی دی په یو شعر کښې ذکر کوی.

از خدا خواہم توفیق ادب
بے ادب محروم ماند از فضل رب

زه د الله ادب سوال کوم او د ادب توفیق د الله نه غواړمه ولے ځکه چې بے ادبه انسان د الله د فضل نه محرومه وی. او د انسان عمل ورسره خرابیږی دغه بے ادبی که یو انسان د الله کوی او که د رسول ﷺ بے ادبی کوی او که د قرآن بے ادبی کوی او که د مسجد یا استاد بے ادبی انسان کوی نو په دې سره د انسان عمل بربادیږی که د مور او پلار بے ادبی کوی نو د عمل د بربادۍ یوه ذریعه ده.

## قرآن کښې د ادابو ذکر:

دې وجے نه قرآن پاك الله د بے ادبے یو مثال ذکر کړے دے چه سورت حجرات کښې الله د معاشرے څه اداب او اصول ذکر کوی په هغه ادابو کښې یو ادب د الله او د پیغمبر ﷺ دے الله فرمائی :

﴿يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴾ (سورة الحجرات:۱)

اے د ایمان خاوندانو! د الله او د رسول نه وړاندے نه شے، څه

مطلب بے ادبی مۀ کوے او کله الله ذکر کوی:

﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ ﴾(الحجرات:۲)

که د پیغمبر په مجلس کښې ناست ئے نو د پیغمبر د آواز نه د پاسه خپل آوازونه مۀ اوچتوے د پیغمبر سره خبره په داسے انداز کښې مۀ کوے لکه څنګه چې یو انسان د خپل کشر یا هم عمر سره یا عام سړی سره کوی او پیغمبر ته په هغه طریقه آواز مۀ کوے لکه څنګه چې عام خلقو ته په نوم باندے آواز کولے شی څکه هغه ته به آواز په یا رسول الله ﷺ سره کیږی او که چرته تاسو د پیغمبر بے ادبی کوے نو نتیجه به دا وی:

﴿ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴾ (حجرات:۲)

ستاسو عملونه به برباد شی او تاسو به په دې بربادے باندے نه پوهیږے. مطلب بے ادبی د انسان په ناحبرے کښې د انسان ټول عمل تباه کوی نن صبا په مونږه کښې دا څیز ډیر زیات شوے دے. بے ادبی استهزاء په دین پورے، عالمانو پورے ، دینی شعائر الله پورے مثلاً ګیره، پټکے د سنت مطابق شکل وصورت پورے خندا کول دا ټول د بے ادبے نقصانات دی.

## د شعائر الله پورے ټوقې مسخرے کول:

پنځم څیز چې د انسان نیك عمل تباه او بربادوی هغه قرآن، حدیث، شعائر الله، د الله د دین سره تعلق لرونکی څیزونه، دې پورے خندا، ټوقے او مسخرے کول یا دې سره نفرت، کینه، بغض کول دې سره د انسان نیك عمل بربادیږی. قرآن کښې الله فرمائی:

﴿ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴾ (سورۃ محمد:۹)

دا د دې وجے نه چې دې خلقو د الله قرآن ته بد نظر کړے وو

ځکه الله د دوی عملونه برباد کړل. الله د منافقانو اعمال ولے برباد کړل دا د دې وجے نه چې دوی د الله د احکاماتو سره نفرت ،کینه او بعض لری نو ځکه الله دا خلق برباد کړل.

## د منافقانو نخښه:

په یو موقع باندے د مدینے نه څه مسلمان سفر ته تلی وو په دغه موقع بعضے منافقانو، مهاجرینو صحابوؤ پورے خندا او ګپ شپ اولګولو کله چې نبیﷺ خبر شو نو د منافقانو نه ئے تپوس اوکړو چې آیا رشتیا تاسو د الله دې دین پورے خندا کړې ده لکه څنګه چې دا مهاجرین ځوانان دا خبره کوی منافقانو نبیﷺ ته اووئیل چې ته د ځوانانو خبرے اورے او زمونږه د بوډاګانو خبرے نه اورې مونږه الله او د الله دین پورے ټوقے مسخرے نه دی کړی الله ایتونه نازل کړل:

﴿قُلْ أَبِاللّٰهِ وَآيَاتِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ﴾ (سورة التوبة:٦٥)

ورته اووایه اے پیغمبره! الله او د الله ایتونو پورے تاسو ټوقے او ګپ شپ لګوے. دا تاسو ته د ټوقو او د عبثو کار ښکاری دا د استهزاء کولو څیز نه دے او نن صبا هم دا حالت دے چې څوک دین پورے څوک سپینی جامې پورې، څوك ټوپے ، مسجد او ګیرې پورے ټوقې او خندا کانې کوی صرف د سیاسی اختلافاتو په بنیاد دا څیزونه د تنقید نشانه ګرځولے شی. د سیاسی اختلاف نه دې خلقو د دین اختلاف جوړ کړو که په یوه سیاسی مسئله یا مصلحت کښې اختلاف وی نو هغه کوه خو د سیاست په آړ کښې دین پورے خند او دین بدنامول دا نقصان او بربادی ده او دا د مغرب کوشش دے چې نوجوان نسل په دې طریقے سره د دین نه

لرے کړی او د دین نه خلاف او متنفره ئے جوړ کړی نو دا تهولے داسے خبرې دی چې انسان په دې سره د نیك عمل او ثواب او بدلے نه خلاصیږی او د خپل دین نه دا انسان لاس وینځی او د الله د رحمت نه لرے کیږی الله دې زمونږه د نیك عملونو محافظ شی.

والحمد لله رب العالمين.

# د نیکی حفاظت (حصه چهارم)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى﴾ (البقرة:۲۶۴)

مخکښې نه د نيك عمل په حفاظت باندے خبره شروع وه چې نيك عمل د انسان د آخرت يو اهم ضرورت دے بلکه د آخرت سودا په دی نيك عمل باندے کيږی نو د دې حفاظت هم ورسره ضروری دے مخکښې د پنځو څيزونو تفصيل بيان شوے وو چې په هغے سره د انسان نيك عمل تباه کيږی.

شپږم څيز چې د انسان عمل ورسره خرابيږی هغه ښيګړه زباتل دی د نيکے نه بعد په چا باندے احسان کول دی که د چا سره يو انسان نيکی اوکړی بيا ورباندے دغه ښيګړه او نيکی اوزباتی په هغه باندے بار بار احسان کوی او د هغه عزت نفس ورباندے مجروحه کوی لکه سورت بقره کښې الله ذکر کوی:

﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى﴾(بقره:۲۶۴)

اے مؤمنانو تاسو خپل خيراتونه په احسان زباتنے او چا لره تکليف ورکولو سره مهٔ بربادوے.

يو غريب مسکين لره خيرات صدقه ورکړې بيا ورباندے د هغے احسان کوې د سپکوالی په نيت او د هغه احساسات په دې سره مجروحه کوې او د هغه توهين کوې. او اذې دې ته وائی چې احسان ښيګړه ورسره اوکړی بيا ورباندے د دغه ښيګړے په بدل کښې بيګارونه او کارونه کوی. دې سره هم د انسان عمل ته نقصان رسی او څنګه چې د انسان په

مخامخ د عمل احسان او زباتل منع دی دغه شان د هغه د غائب والی په وخت کښې هم د غیرو په مجلسونو کښې دا زباتل منع دی.

## د حسد قباحت او نقصان:

اووم څیز چې په هغې سره د انسان عمل بربادیږی هغه حسد دے دا حسد هم بدترینه او منفی جذبه ده حسد څه ته وائی او دا ولے منع شوے دے اول خو دا چې قرآن او سنت د دې ډیره بدی بیان کړے ده قرآن چې کله د پناه غوښتلو واله څیزونه ذکر کوی او په اخیری دوؤ سورتونو کښې ئے بیانوی نو په هغے د حسد بیان هم فرمائی: ﴿وَمِنۡ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ﴾ (سورة الفلق:٥) د حسد کر د حسد نه هم پناه غوښتل پکار دی. او حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی: ﴿اِنَّ الۡحَسَدَ یَاۡ کُلُ الۡحَسَنَاتِ کَمَا تَاۡ کُلُ النَّارُ الۡحَطَبَ﴾ دا حسد د انسان نیکے داسے خوری لکه څنګه چې اُور اُوچ لرګي خوری. نو دا حسد هم خیر بنیګړے، نیك اعمال د انسان بربادوی او حسد وئیلے کیږی د بل نه د نعمت لرے کیدو تمنا کول. لکه یو انسان لره الله مال دولت اولاد ورکړے دے او ته دا غواړے چې دا څیزونه د دهٔ نه لرے کړے شی دا څیزونه دهٔ ته ولې ورکړے شوې دی نو دا منفی جذبه ده چې یره دا دهٔ لره نه وو پکار یا دا د دهٔ نه واغستلے شی، کله وائی یره اوسه پورے د دهٔ سره یو خر هم نه وو اوس په ګاډی کښې ګرځی یا دا چې د دهٔ پلار نیکه په خیمو کښې اوسیدل او دا اوس بنګلو کښې اوسیږی دا خو د الله تقسیم دے چې دهٔ لره الله غټ کور ګاډے ورکړے دے او د دهٔ پلار نیکه ته به الله دا څیزونه نه ورکول په دې تقسیم څوك اعتراض نشی کولے.

## د حسد علاج:

په قرآن کښې الله د حسد د لرے کیدو د پاره یو بل علاج ښودلے

دے هغه دا چې ﴿وَاسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ﴾(سورة النساء:۳۲) که يو انسان بل سره حسد کوی نو دا سوچ دې اوکړی چې دا خو په دۀ باندے د الله فضل او مهربانی ده دا د الله فضل زۀ د الله نه ولے نه غواړم چې الله لکه څنګه چې تا په دۀ باندے فضل او احسان کړے دے دغه شان فضل کرم او احسان په ما باندے هم اوکړے. په ځائے د بل سره د حسد کولو خپل ځان ته دعا اوکړه چې الله ستا آخرت قيمتی کړی او ورسره دنيا هم درکړی.

## حسد او غبطه کښې فرق:

يو حسد دے او بله غبطه ده حسد د بد اخلاقو سره تعلق لری او غبطه د ښه اخلاقو سره تعلق لری. غبطه دې ته وائی چې الله په دې انسان دا نعمت باقی او قائم لرے او دغه نعمت ما لره هم راکړے دې ته فسخيدل وائی او دی ته غبطه وائی دا کول جائز او الله ته محبوب دی هاں دا خبره چې د چا حرام مال ته به انسان نه فسخيږی چې يو انسان سره د سود او حرام مال لويه سرمايه وی او ته هغے ته ګورے او ورته فسخيږې لکه قرآن کښې الله د قارون واقعه د عبرت د پاره ذکر کړے ده چې د ايماندارو خلقو جذبه دا وی چې هغوی د چا ناجائز او حرام مال ته نه ګوری او نه ورته فسخيږې. او بيا دا فسخيدل په دوؤ څيزونو کښې الله ته ډير خوښ او محبوب دی يو چې کوم انسان ته الله علم ورکړے وی او ته هغے ته فسخيږے او بل دا چې يو انسان ته الله مال ورکړے وی او هغه دغه مال د الله په لاره کښې شپه او ورځ خرچ کوی نو ته هغه ته فسخيږې چې کاش الله ماته هم داسے مال راکړے وے او ما دا مال د الله د رضا د پاره د الله په لاره کښې خرچ کړے وے. دې ته غبطه وائی نو ظاهری مال دولت ته به انسان نه فسخيږی بلکه حقيقی مال دولت او نعمت به يو انسان د الله نه غواړی.

## بداخلاقي:

اتم څيز چې د انسان عمل تباه کوی هغه بداخلاقي ده. بد اخلاقي يو داسے ناکاره عمل او منفي جذبه ده چې د انسان نيك عمل ورسره تباه وبرباد کيږی او کله چې د انسان سره ښهٔ اخلاق وی نو دا د دې انسان د پاره د دنيا او آخرت دواړو سرمايه ده ښهٔ اخلاق په دنيا کښې هم ښه نوم ښه شهرت ښه ذکر د خلقو محبت او د ښه ژوند تيرولو سبب د انسان د پاره وی او په آخرت کښې يقينًا د جنت د حقدار کيدو ذريعه وی او بد اخلاقه انسان په دنيا کښې هم برباد، بے اطمينانه ژوند تيروی او په آخرت کښې هم دا انسان برباد وی حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی چې د قيامت په ورځ به د مؤمن سړی تله د نيکو په ښه اخلاقو باندے درنه کيږی او د دې په مقابله کښې به د بد اخلاق انسان عمل برباد وی.

يو حديث کښې راځی نبیﷺ د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم نه تپوس اوکړو چې آيا تاسو مفلس غريب پيژنے هغوی جواب ورکړو او د الله پيغمبره! مونږه مفلس او غريب پيژنو هغه څوك چې دنيا کښې مال،متاع دولت، سرمايه ورسره نه وی نو دا انسان غريب دے نبیﷺ ورته او فرمائيل نا حقيقی غريب او مفلس هغه انسان دے چې هغه سره ډير نيك اعمال وی نيك عمل کول آسان کار دے خو دا بچ کول او د دې حفاظت کول دا ډير ګران کار دے ځکه زمونږه شريعت مونږه ته د نيك اعمالو ډيرے زياتے مواقع فراهم کړی دی ډير زيات وسائل او اسباب زمونږه سره د نيکے کولو د پاره شته دے دا د الله ډيره غټه مهربانی ده ، نو د يو انسان سره به ډيرے نيکے وی خو د دغه نيکو حفاظت به ئے نه وی کړے او دغه نيکے به دې انسان محفوظ نه وی ساتلی نو کله چې حساب کتاب د دهٔ د عمل شروع شی په دغه دوران کښې دې انسان پسے به يو يو حقدار

راځي او د دهٔ نه به یوه یوه نیکی اخلي څوك به وائي دهٔ زما سره ظلم زیاتے کړے وو، بل به راشي دهٔ زما په مال باندے قبضه کړے وه، بل به راشي دهٔ زما نه مال جائیداد اغستے وو، بل به راشي او دا به وائي چې دهٔ ما ته کنځل او ردې بدې وئیلے وے، څوك به ورباندے یوه دعوی کوی او څوك به وربانده بله دعوی کوی نو فرشتو ته به حکم ورکړے شي چې د دهٔ دا نیکے واخلے او دې حقدارو ته ئے ورکوے تر دې پورے چې دا نیکے به ختمے شي او بیا به هم دا حقدار راروان وی نو بیا به فرشتو ته حکم اوکړے شي چې د دې حقدارو دا ګناهونه د دې انسان په عمل نامه کښې اچوے نبی ﷺ فرمائی غریب او مفلس دغه انسان دے د دنیا نه ئے د ځان سره کومه سرمایه د نیکے اغستے وه خو حفاظت ئے اونه کړے شو ځکه ورنه دغه قیمتی سرمایه ضائع شوه. په دې حدیث کښې دا بیان اوکړے شو چې د هغه انسان تمام نیك اعمال ضائع کیږی د چا چې معاشره او معاملات خراب وی نو د دې انسان نیك عملونه برباد وی نو اتم څیز د عمل دَ بربادے د پاره بد اخلاقی ده.

**د معاشرے اهمیت:**

که یو طرف ته مونږه مونځونو، ذکرونو، عبادتونو ته زور ورکړے دے نو بل طرف ته نقصان دا دے چې مونږه معاشر نه پیژنو چې معاشره څه ته وئیلے کیږی حال دا دے چې په معاشره باندے الله مستقل سورتونه نازل کړی دی لکه سورة النساء او سورة النور، سورةالطلاق، سورة الحجرات او په سورة بقره کښې الله لوے مضمون د معاشرے ذکر کړے دے . افسوس دا دے چې په کور کښې د مور پلار د طرف نه د معاشرے تعلیم نشته، په مدرسه ، سکول کښې د استاذ د طرف نه د معاشرے څه تعلیم او تربیت نشته، ورځ تر ورځ مونږ د معاشرے نه لرے

کيږو که کور کښې مور پلار دی نو ښه اخلاق نشته او بد اخلاق ده، د ملګرو ګاونډيانو سره ناسته ولاړه شته دے خو افسوس دا دے چې اسلامی طريقه او شرعی تعلق ربط او مناسبت نيشته د بدے معاشرے واله انسان که يو عمل کوی نو دا د خپل ځان د پاره نه کوی دا بل چا د پاره کوی ځکه صبا د قيامت په ورځ به د دۀ نه دا ټول نيك اعمال واغستلے شی او په نورو خلقو باندے به تقسيم کړے شی خلاصه دا چې نيکی د آخرت غټ ضرورت دے او د دې حفاظت ضروری دے چې نيك عمل اوکړے شی او محفوظ اوساتلے شی او د هغه اسبابو اعمالو نه ځان او ساتلے شی چې هغه نيکی تباه کوی .

والحمد لله رب العالمين

# دنیك اعمالو حفاظت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا﴾ (سورة الانعام:١٦٠)

﴿وَقَالَ تَعَالٰى: اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا﴾ (سورة الكهف:١٠٤)

﴿وقال ﷺ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَاَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ اَوْ كَمَا قَالَ ﷺ﴾ (رواه احمد)

## نیک عمل او د هغې حفاظت:

د قرآن پاك دوه آيتونه او يو حديث ذكر شو په دې كښې الله رب العزت مونږه ته دوه خبرې بيانوى يو دا چې نيك عمل اوكړې دا ستاسو د نجات او كاميابۍ ذريعه ده، دويمه داچې د نيك عمل كولو نه بعد هغه محفوظ ساتل چې خراب او ضائع نشى ځكه كله كله انسان نيك اعمال ډير كوى خو د هغې د نۀ حفاظت كولو د وجې نه هغه ضائع او برباد شى ځكه قرآن او حديث كښې الله د نيك عمل ترغيب وركولو سره سره د حفاظت ترغيب هم وركوى لكه دي حديث كښې ذكر شو:

﴿وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ﴾ (مسلم)

ستاسو زړونو او عملونو ته ګورى. او په دغه صحيح طريقے سره نيكى كول چې ايمان مضبوط وى اخلاص زيات وى نو بيا الله په ښه طريقے سره بدله هم وركوى:

﴿مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا﴾ (انعام:١٠٦)

څوك چې يوه نيكى اوكړى نو دې انسان ته الله لس چنده باندې

بدله ورکوی، او کله د دې نه هم زیاته بدله ورکوی. او صرف نیك عمل کول نه دې بلکه د نیك عمل حفاظت کول هم ضروری دے، د دې نیك عمل د حفاظت متعلق هم قرآن او سنت د دې نه ډك دے چې نیکی به ځنګه محفوظ کیږی او په څۀ باندې دا نیك عمل بربادیږی د هغے نه انسان ځان بچ کړی.

## د جنت سرمایه:

اعمال په څۀ سره بربادیږی د دې نه مخکښے دا پیژندل ضروری دی چې نیك عمل څۀ ته وائی نیکی څۀ څیز دے؟ نو یو خو نیکی د الله او د الله د رسولﷺ ښودلے شوے طریقے ته وائی د الله او د رسولﷺ ښودلے شوے حکم دے عام طور مونږ خو دا اورو چې په دې عمل الله دومره نیکی اجر او ثواب ورکوی خو دا نیکی څۀ حیثیت لری چې انسان ته دا ملاؤ شی نو څۀ کمال او فائده دې انسان ته ملاؤ شی نو لنډ مثال د دې داسے دے چې دا نیکی د جنت قیمت دے دا یوه سرمایه ده چې انسان وربانديې جنت ته داخلیږی او د جهنم نه خلاصیږی ځنګه چې د دنیا معاملات خرید وفروخت د دنیا په پیسو او روپو باندې کیږی دغه شان د آخرت معاملات په نیکے اجروثواب باندے کیږی او څومره چې نیکۍ ډیرې وی نو دومره به دې انسان ته د آخرت ښه بدله ملاویږی څومره چې عمل ښه وی دغه شان بدله به ملاویږی د دې ملك سرمایه ،مال، دولت په هغه دنیا کښې نه چلیږی د هغه ځائے د پاره یو خپل مستقل قیمت دے چې انسان به هغه د دنیا نه د ځان سره اخلی او هغه د نیك عمل په شکل کښې دې.

## د مرګ حقیقت:

دا مرګ د یو بل ژوند نوم دے دا صرف د فنا نوم نه دے چې انسان د مرګ سره خاورے ، فنا او ریزه ریزه شي بس ختم شو دا خو د

منکرین قیامت نظریه وه قرآن کښې الله د دغه خلقو په دې نظریه باندې رد کړے دے:

﴿إِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ﴾ (الواقعة:٤٧)

آیا کله چې مونږه مړۀ شو نو مونږه به بیا راپورته کیږو. دا د مشرکانو ګمراهانو باطل پرستو خلقو نظریه وه دوی ظاهر طرف ته نظر کړے دے چې انسان مړ شی نو بس ختم شو د خاورو سره خاورې شو دا غلطه خبره وه مرګ په اصل کښې د یو جهان نه بل جهان ته د منتقل کیدو نوم دے. د دۀ روح شته د دۀ ټول حالات د دنیا محفوظ لیکلے شوی شته، هغه مستقل همیشه ژوند دے هلته به د دې انسان ضرورتونه وی دا به خوراك کوی، څکاك به کوی دغه ضرورتونه به ورته د دې جهان د نیك عمل په سرمایه باندې ملاویږی.

## د نیک عمل حفاظت ضروری دے:

او دا نیك عمل محفوظ ساتل ځکه ضروری دی چې په دنیا کښې هم انسان په تجارت کښې تاوان اوکړی څۀ ورته ملاؤ نه شی نو دا هم تاوان دے انسان ته په دې باندې هم غم، تکلیف رسیږی او یو هغه انسان دے چې په دنیا کښې په مال دولت تجارت کښې ورته ډیره ګټه منافع ملاؤ شی خوشحاله خپل کور طرف ته را روان وی نو په لاره کښې ورباندې غل ډاکو مسلط شی او دغه ټول مالیت د دې انسان نه واخلی نو دا انسان د تاوان سره سره د دغه بل انسان په نسبت ډیر زیات خفه وی ځکه تیار موجود مالیت د دې انسان د لاس نه لاړو نو دا ډیر خساره کښې دے ځکه دۀ ځان سترے کړے وو عمل ئے کړے وو ځکه قرآن او حدیث مونږه ته دا خبره کوی الله فرمائی: ﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ (سورة الکهف:١٠٣)

اووايه اے پيغمبره! دې خپل امت ته دا خبره اوکړه چې زۀ تاسو ته هغه دَ ډير تاوانی سړی په باره کښې خبر نه درکومه چې هغه عمل کړے وی او د دۀ دا خيال دے چې ما نيك عمل کړے دے خو هغه نيك عمل د دې انسان نه په دنيا کښې ضائع شوے وی. د دې نه څۀ فائده نشی اغستے دا سخت تاوانی دے چې په لاره کښې ورنه ډاکو شيطان هغه نيك عمل ضائع کړے دے.

## د نيك عمل تباهی:

نيك عمل په څۀ سره تباه کيږی چې انسان نيك عمل اوکړی مونځ، روژه، حج، زکوة ادا کړی ځان ستړے کړی خو په آخرت کښې ورته بدله ملاؤ نه شی نبیﷺ يو ځل د صحابوﷺ نه تپوس اوکړو چې تاسو مفلس پيژنے غريب څوك دے صحابه کرامؓ ورته وائی چې دا هغه څوك دے ﴿مَنْ لَا مَالَ لَهٗ وَلَادِرْهَمَ﴾(مسلم) هغه انسان چې د هغۀ سره مال او درهم نۀ وی. نبیﷺ ورته فرمائی دا د دنيا غريب نۀ وايم د آخرت غريب څوك دے د آخرت غريب هغه انسان دے چې په دنيا کښې دې انسان نيك اعمال کړې وی خپل ځان ئے ستړے کړے وی خو چې کله په ميدان حشر کښې اودريږی نو يو انسان ورنه څۀ نيك اعمال واخلی بل انسان راشی هغه ورنه نور نيك اعمال قبضه کړی دغه شان يو يو بنده راځی او د دۀ نه نيکئ اخلی تر دې پورې چې د دۀ په لاس کښې هيڅ څۀ پاتې نشی خالی او تش لاس پاتې وی بيا نور حقدار راځی او د هغوی ګناهونه د دۀ په سر باندې بار کولے شی دا ځکه چې دې انسان نيك عمل په دنيا کښې کړے وی خو د نيك عمل سره دۀ چاته کنځلے کړی وی، د چا حق ئے غصب کړے وی، د چا نه ئے مال دولت اغستے وی نو دغه نيك عمل ورنه په دې طريقه ضائع شی يو يو حقدار راځی او نيك

عملونه د دې انسان نه اخلې تر دې پورې چې اخر کښې خالی او تش لاس پاتې شی.

## د ریاکارۍ نقصان:

په دغه څیزونو کښې چې د انسان عمل ورسره تباه کیږی یوه ریاکاری ده چې انسان عمل کوی خو اخلاص او د الله رضا پکښے د دهٔ مقصد نهٔ وی دا عمل د دې د پاره کوی چې خلق ماته ښه انسان اووائی په احادیثو کښې د دې ډیر مثالونه دی لکه حدیث کښې راځی د قیامت په ورځ به درے انسانان راوستلے شی یو به په دې کښې مجاهد وی الله به ورته وائی چې په تا باندې ما دنیا کښې دا دا نعمتونه کړی وو تا د دې څهٔ شکریه ادا کړې ده دا انسان به ورته وائی چې ما لره تا مال او جان راکړے وو دا مال او جان دواړه ما ستا په لاره کښې قربان کړی وو الله به ورته وائی چې دا هر څهٔ تا زما د پاره نه وو کړی دا تا د دې د پاره کړی وو چې ما ته په دنیا کښې مجاهد اووئیلے شی فرشتو ته به اووئیلے شی چې دا انسان پړمخ ،اولتهٔ جهنم ته ګوزار کړے. دویم عالم قاری صاحب به راوستلے شی الله به ورته وائی ما په تا باندې دا دا نعمتونه کړی وو تا د دې څهٔ شکریه ادا کړې وه نو عالم به ورته وائی ما ستا کتاب ورځ او شپه خلقو ته ښودلے وو دا مې کړی وو الله به ورته وائی دا هر څهٔ زما د پاره تا نه دی کړی دا تا د دې د پاره کړی وو چې ما ته غټ قاری صاحب، عالم صاحب اووئیلے شی او دا په دنیا کښې تا ته وئیلے شوی وو فرشتو ته به الله حکم اوکړی چې دا هم جهنم ته اولتهٔ ګوزار کړی. دریم به په دې کښې سخی ډیر مال خرچ کونکے سړے وی الله به ورته مال دولت ورکړے وی هغه ته به الله خپل نعمتونه مخے ته کړی چې په تا باندې ما دا دا نعمتونه کړی وو هغه به ورته وائی الله ما ستا د

دين په خاطر خپل مال خرچ کړے وو الله به جواب ورکړی دا هر څۀ تا د دې د پاره کړی وو چې تا ته سخی اووئيلے شی او دا په دنيا کښې تا ته وئيلے شوی وو دغه انسان به هم جهنم ته گزار کړې شی نو دا درے عظيم عملونه دی خو چې کله اخلاص نشته نيت صحيح نه دے نو دا عمل د الله په دربار کښې نۀ قبليږی .

## د شرک بربادی او تباهی:

دويم چې د انسان عمل ورسره بربادیږی هغه شرك دے چې انسان د الله سره شرك کوی نو د دې انسان عمل الله بربادوی بلکې شرك د انسان يو عمل نۀ ټول عملونه د انسان بربادوی عام خلق خولا څۀ چې که بالفرض انبياؤ د الله سره شرك کړے وے نو د هغوی عمل به هم په دې سره برباد شوے وے سورت انعام کښې الله د اتلسو(۱۸) پيغمبرانو تذکره کوی په اخر کښې فرمائی:

﴿ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾(سورة الانعام:۸۸)

که دې پيغمبرانو شرك کړے وے نو الله به د دوی دا ټول عمل برباد کړے وے پيغمبر شرك نۀ کوی بلکه گناه هم نۀ کوی خو که بالفرض اوکړی نو الله د هغوی عمل هم ورسره بربادوی نو د عام انسان تپوس مۀ کوه او دا مونږه ته يو قسم تنبيه ده.

## د قرآن سره دشمنی:

دريم څيز چې په هغے سره د انسان عمل خرابيږی هغه دا چې کوم انسان باندې د قرآن بيان د قرآن احکام بد لږی ښه ورباندې نه لږی د قرآن سره دشمنی او د قرآن بد ليږيدل دا عمل بربادوی. قرآن پاك سورت محمد کښې الله فرمائی:

﴿ذَالِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ أَنْزَلَ اللهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾(سورة محمد:٩)

الله د دې خلقو دا عملونه ځکه برباد کړل چې د الله کتاب په دې خلقو باندې بد لږی .

## احسان کول:

ځلورم څيز خير بنيګړه ، احسان زباتلو سره د انسان عمل تباه کيږی او په دې کښې مقصد هغه ته تکليف ورکول يا د هغهٔ بے عزتی کول دی او قرآن کښې الله د دې تذکره کړې ده :

﴿يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقَاتِكُمْ بَالْمَنِّ وَالْاَذٰى﴾ (البقرة:٢٦٤)

اے مؤمنانو خپل خير خيرات او صدقے په احسان کولو او زباتلو سره مهٔ برباد وی چې يا ورنه څهٔ فائده اخلئ او کار ورباندې د هغے صدقے په مقابله کښې کوئ نو په دې سره هم د انسان نيك عمل خرابيږی لکه دا غټ سرمايه دار خلق دا کوی.

## حسد او بغض:

پنځم حسد دے چې د انسان عمل ورسره خرابيږی حديث کښې راځی ﴿إِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ ﴾(ابوداؤد) دا حسد د انسان نيك عملونه داسے خوری لکه څنګه چې اُور خشاك او لرګی خوری. او حسد دې ته وائی چې په بل انسان باندې الله يو نعمت کړے وی ته چې هغهٔ ته اوګورے نو خفه ورباندې شې چې په دهٔ باندې دا نعمت الله ولے کړے دے د دې اهل دا انسان نه دے دا بد اخلاق دی دا يو منفی جذبه ده، مثبته پهلو نهٔ ده او د دې مقابله کښې ښهٔ جذبه او ښهٔ اخلاق مثبته پهلو ده هغے ته غبطه وائی چې دغه نعمت دې د دې انسان نصيب شی او دغه شان نعمت دې الله په ما باندې هم او کړی الله دې زمونږه اعمال محفوظ کړی. والحمدلله رب العالمين

# په نیك كارونو كښې مسابقت

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ وَسَارِعُوْا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتُ وَالْاَ رْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ﴾ (سورة المائدة: )

﴿وقال تعالى :فَاسْتَبِقُواالْخَيْرَاتِ..﴾(بقره:١٤٨)

## د مومن شان:

د قرآن پاك دوه ايتونه ستاسو مخکښې تلاوت شو په دې کښې الله د نيکۍ ترغيب او په نيکۍ کښې د يو بل نه مسابقت مخکښے کيدل ذکر کړی دی دا به د مومن شان او صفت وی چې د نيك عمل کولو موقع راشی نو دا انسان به بروقت نيك عمل کوی ځکه الله ذکر کوی:

﴿وَسَارِعُوْا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ﴾ (مائده:٤٨)

تاسو مخکښے شئ مغفرة او ښښخنې ته د رب د طرف نه او هغه جنتونو ته چې د هغې غټ والے د آسمانونو او د زمکو په شان دے او داسے متقيانو مؤمنانو د پاره جنت الله تيار کړے دے. کله چې الله رب العزت د انسان په زړهٔ کښې د نيك عمل کولو داعيه پيدا کړی نو کامل او پوره مؤمن مسلمان په هغے باندې عمل کولو کښې ټال مټول چون چرا نهٔ کوی او کهٔ يو انسان د الله حکم کښې سستی، روسته والے کوی نو الله بيا انسان ته همت او توفيق نهٔ ورکوی د دې ډير مثالونه دی د هغے يو مثال د بنی اسرائيلو وو چې هغوی ته الله دا حکم کړے وو:

﴿أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً﴾ (البقرة:٦٨)

تاسو يوه غوا حلاله کړی هغوی څلويښت کاله الله د دغه غوا د حلاليدو نه محرومه کړی وو ځکه چې د الله په حکم کښې ئے ټال مټول حيلے بهانے کړې وې، د قرآن مفسرين وائی:

﴿ وَشَدَّدُوا فَشَدَّدَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ﴾

هغوی دا خبره خپل ځان ته ګرانه کړه نو الله ورته د غوا حلال کول هم ګران کړل. ابن عباس رضي الله عنه وائی که چرته دوی د الله په حکم کښې سختی نهٔ وے کړے او د ځان د طرف نه قيدونه ئے نه وے لګولے نو الله به دا قربانی يو عام غوا حلالولو سره قبوله کړے وے د بار بار تپوس کولو د وجے نه ورته دومره ګرانه شوه چې د دغه صفاتو واله غوا پيدا کول روسته ګران شو نو مسلمان به بروقت د الله په حکم باندې عمل کوی .

## د شيطان د ګمراهی لارے:

دا د شيطان يو چال او طريقه ده چې د دې په ذريعه انسان ګمراه او بےلارې کوی د شيطان هر انسان د ګمراه کولو د پاره يوه مستقله خپله طريقه اختياروی د دې د پاره چې دا انسان نيك عمل کولو نه محرومه شی کافر ته په يوه طريقه باندې راځی مسلمان او مؤمن ته په بله طريقه باندې راځی کافر هيڅ نيك عمل نه کوی خو مسلمان ته شيطان دا يکدم نشی وئيلے چې مونځ مهٔ کوه عبادت مهٔ کوه دا نيك کار مهٔ کوه دا بد کار دے دا ښه کار نهٔ دے مسلمان مؤمن ته دا خبره نشی کولے، دې مسلمان ته په يو بله طريقه دا خبره خائسته کوی که ځوان وی نو ورته وائی چې ته خو لاځوان ئے کله چې بوډا شې بيا به دا نيك کارونه کوې په دې طريقے سره د نيك عمل نه هغه مسلمان محرومه پاتې کړی کله ورته وائی چې صبا به دا کار اوکړے کله ورته وائی چې دا عبادت څهٔ فرض واجب

عبادت خو نه دے که ادا نۀ کړے شی څۀ پرواه نه کوی او نه دا څۀ جرم دے دا مختلف قسم طریقے وی چې د مؤمن مسلمان د ګمراه کولو د پاره شیطان دا لارے اختیار کړی دی.

## د نیک عمل موقع:

کله چې هم یو مسلمان ته د نیك عمل کولو موقع او فرصت ملاؤ شی نو دا نیك عمل دې دا انسان د خپل وقت نه نۀ روسته کوی ځکه د عمر او وقت پته چاته نۀ لګی دا فراغت او فرصت د نیك عمل بیا انسان ته نۀ ملاویږی عمر ډیر عزیز او محبوب څیز دے انسان به د دې نه هر قسم فائده اخلی چې د دۀ په آخرت کښې پکار راځی اول خو د دې معلومات نشته چې صبا پورې به زۀ ژوندے یمه او که نه بیا د دې پته نشته چې زما نور عمر ژوند څومره باقی پاتے دے نو دا یوه ضروری خبره ده چې انسان د خپل عمر نه بروقت فائده واخلی دې وجے نه علماء بزرګان وائی چې د انسان په زړۀ کښې چې د نیك عمل کوم میلان پیدا کیږی دا د الله د طرف نه وی دا د الله یو میلمه دے چې په دې انسان باندې نازل شو اوس که دا انسان په دې باندې عمل او نۀ کړی نو دا نه عمل کول د شیطان د طرف نه وی نو دا انسان د الله میلمستیا قبوله نه کړی او د شیطان په خبره باندې عمل کوی او په یو حدیث کښې راځی چې د انسان په زړۀ کښې دوه قسمه الهامونه کیږی یو د الله د طرف نه وی که ښه او نیك الهام وی او یو د شیطان د طرف نه وی که د بدعملۍ په باره کښې د یو څیز دعوت ورکړی که د دې نیکے میلان واله میلمه قدر اوکړے شی نو دا به د الله د طرف نه باربار راځی او که د دې ناقدری، بے قدری اوکړےشی نو بیا دغه عزتمند میلمه د بےعزته انسان کور ته نۀ راځی.

## پنځه د غنیمت موقعې:

په دنیا کښې که انسان یو طرف ته اشرف المخلوقات او د ټولو نه غوره دے الله ورته عقل او تمیز ورکړے دے نو بل طرف ته د انسان د ژوند او عمر یو منټ بلکه یو سکنډ ګارنټی نشته د یو معمولی قیمت واله څیز مثال بلب دے د هغے به څهٔ مقرر وقت معلوم وی خو د انسان دا معلوم، مقرر وقت نشته په یو حدیث کښې راځی:

﴿اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ﴾ (حاکم في المستدرك)

پنځه څیزونه غنیمت اوګڼړه مخکښے د پنځو نورو نه یو دا چې

﴿شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ﴾

ستا ځوانی غنیمت اوګڼړه مخکښے د ستا د بوډا والی نه ځکه دا ځوانی دوباره نه واپس کیږی او په ځوانئ کښې انسان کښې هغه صلاحیتونه او قوتونه وی چې د بوډا والی په حالت کښې انسان سره دا صلاحیتونه او قوتونه نهٔ وی، په ځوانے کښې انسان هغه څهٔ کوی چې د بوډا والی په حالت کښې انسان دغه کارونه نهٔ شی کولے که په ځوانئ کښې قرآن او حدیث باندې ځان پوهه نه کړی عبادت باندې خپل ځان عادت نهٔ کړی نو په بوډا والی کښې دا هر څهٔ نشی کولے او د ځوانئ په عبادت باندې الله یو شان اجر ورکوی چې هغه اجر او ثواب انسان ته د بوډا والی په عبادت نه ملاویږی د ځوانئ د عبادت مثال د (سونے) سرو زرو په شان دے او د بوډا والی د عبادت مثال د (چاندے) سپینو زرو په شان دے او حدیث کښې راځی نبی ﷺ فرمائی چې د قیامت په ورځ چې بل هیڅ سورے نشته سوا د الله د عرش د سوری نه د هغے د لاندی به اوهٔ قسمه خلق الله راجمع کوی یو په دې کښې هغه ځوان دے ﴿وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللّٰهِ﴾ هغه ځوان چې د الله په عبادت کښې غټ شوے وی او په

ځوانۍ کښې عبادت کول څۀ مشکل او ګران کار نه دے دا مونږه ته ځکه ګران ښکاری چې مونږه د دې خواؤ شا ماحول نه متاثره شوی یو مونږه په ګناهونو کښې اخته شوی یو ځکه مونږه ته ګران کار ښکاری او کله چې انسان په دې باندې خپل ځان عادت کړی نو بیا دا هیڅ ګران او مشکل کار نه دے . د دغه ښځې، بچو، کاروبار، لین دین سره سره چې څوك د الله عبادت کوی نو دا کولے شی او ښه په خائسته طریقے د فرائضو سره نوافل هم ادا کولے شی نن د ځوانانو حالت دا دے چې د هغوی ځوانی نۀ د خپل ځان د پاره پکار راغله نۀ د قوم د پاره او نۀ د دې ملك د پاره پکار او په څۀ فائده راغله هیڅ قسم فائده ورنه وانۀ غستلے شوه فضول او عبث ضائع شوه.

**صحت د الله نعمت:**

دویم د غنیمت واله څیز ﴿صِحَّتَكَ قَبْلَ سَقْمِكَ﴾ خپل صحت غنیمت اوګڼړه مخکښے د بیمارے نه، که نن صحت شته نو انسان عبادت کولے شی الله راضی کولے شی که صبا بیمار شوے نو بیا دا عبادتونه د بیمارۍ په حالت کښې انسان نشی کولے.

دریم څیز ﴿غِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ﴾ مالداری غنیمت اوګڼړه مخکښے د غریبۍ نه که نن مال شته دے صبا نشته نو بیا به ارمان کوے چې افسوس مال راسره وے او ما دغه مال د الله په لاره کښې د الله د رضا د پاره خرچه کړے وے او دا غنا او مالداری نسبتی څیز دے که د یو انسان سره په جیب کښې زر روپے وی نو دا مالداره دے په نسبت د هغه انسان چې هغه سره پنځه سوه روپے په جیب کښې وی نو هر انسان به د خپل حیثیت مطابق په غریب مسکین باندې خرچه کوی.

څلورم ﴿فَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ﴾ د انسان فرصت او فرحت مخکښے د مشغولتیا نه دا غنیمت دے د انسان د پاره چې په دې حالاتو کښې الله

رضا کړی د نیك عمل او د الله د حکم روسته والے لیټ کول نۀ دی پکار بل فرصت ته پریخودل نه دی پکار.

پنځم ﴿حَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ﴾ دا نن چې الله قیمتی ژوند درکړے دے دا غنیمت اوګڼړه که نور هیڅ څۀ نه وی نو ژوند خو شته دے کم از کم یو انسان د الله ذکر په دې حالت کښې کولے شی د مرګ نه بعد انسان هیڅ عمل نشی کولے ﴿إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ اِنْقَطَعَ عَمَلُهُ﴾(مسلم) کله چې انسان مړ شی نو د هغه ټول نیك عمل ختم شی کټ شی د دی حدیث خلاصه دا ده چې انسان ته د نیکئ موقع ملاؤ شی نو په هغے باندې د عمل کولو کوشش دې کوی.

## دَ دین او د نیا کارونو کښې مقابله او ضد:

د حدیثو یو کتاب دے ریاض الصالحین په دے کتاب کښې امام نووی رحمۃ اللہ علیہ یو باب تړلے دے **باب المبادرة الی الخیرات** باب دے په بیان د دے کښې چې انسان به نیك کارونو ته مخکښے کیږی جلدی به کوی د یو بل سره به د نیکے په کار کښې مقابله کوی مخکښے کیږی به نیك کارونو ته د دنیا په کار کښې مقابله او د یو بل سره ضد کول ځکه منع دی چې په دنیا کښې حرص لالچ خود غرضی ده.

خو دا هر څۀ د نیکے په کار کښې کول پکار دی ځکه په دې کښې انسان ته د آخرت فائده ده او په دې سره انسان الله ته مخکښے کیږی نن که مونږه ته زمونږه دین دا حکم کوی چې د یو بل نه مخکښے شئ نو مونږه په دې باندې عمل نه کوؤ او که د دنیا په کار کښې الله مونږ منع کوی نو مونږ هغه کار خامخا کوؤ معامله بالکل د دین خلاف روانه ده ځکه د حلالو حرامو تمیز نشته دے. دے خبرے ته مونږه نه تیاریږو چې دا انسان دینداره دے نو چې زۀ د دۀ نه ښۀ دینداره وے دا دومره نیك عمله دے پکار دا وه چې زۀ د دۀ نه ښۀ دینداره وے دا دومره

نيك عمله دے پکار دا وه چې زه د ده نۀ زيات وے دا دومره مال د الله په دين لګوی نو زۀ به د دے په ډبل باندے لګومه او په دے کښې د يو بل نه مخکښے کيدونکی خلق هغه صحابه کرامؓ وو.

## د صحابه کرامو ؓ جذبه:

د غزوه تبوك په موقع باندے چې دا د روم سره غزا وه سخته ګرمی وه تږوله دشته صحراء وه اوښان کم وو مال دولت نه وو روم يو لوے طاقتور ملك شمارلے کيدو. نبی ﷺ اعلان کړے وو چې اسباب او انتظامات نشته د سورلے، خوراك ،څکاك کمے دے چا چې دے کښې ځومره حصه واغسته زۀ ورته دا ضمانت ورکوم چې جنت ته به داخليږی عمر ؓ وائی چې زما په کور کښې ځومره ساز و سامان وو هغه ټول ما دوه حصے کړل نيم ما جومات ته د نبی ﷺ خوا ته راوړل او نيم سامان ما په خپل کور کښې پريخودو. نبی ﷺ راته اووئيل عمر ؓ تا څۀ څيز راؤړو ما ورته اووئيل اے د الله پيغمبره! څۀ چې کور کښې موجود وو هغه ما نيم کړل نيم مے کور کښې پريخودل او نيم ما دلته بيت المال ته حاضر کړل نبی ﷺ راته اووئيل الله دې ستا په مال حال کښې برکت واچوی. بيا ابوبکر صديق ؓ راغے. نبی ﷺ ورته وائی تا څومره مال راؤړو، ورته وائی د الله پيغمبره کور کښې چې څۀ موجود وو هغه ټول ساز و سامان ما دلته حاضر کړو.

عمر ؓ وائی زۀ په دغه موقع باندے خوشحاله وومه چې نن به زه د ابوبکر ؓ نه مخکښے کيږمه خو کله چه ما ابوبکر ؓ اوليدو چې هغه زما نه د نورو موقعو په شان په دے موقع هم نيك عمل ته مخکښے شو. په يو موقع ورته عمر ؓ وائی اے ابوبکر ؓ ماسره يوه معاهده اوکړه هغه ورته وائی څۀ معاهده ده. ورته وائی ستا هغه نيکی چې تا په درے شپو کښې د نبی ﷺ سره په غارثور کښې کټلے ده هغه ما ته

راکړه او زما د ټول عمر او ژوند نیکۍ ته واخله ځکه هغه عمل د ابوبکر رضی الله عنه قرآن ذکر کړے دے نو ابوبکر رضی الله عنه ورته تیار نه شو دا حالت وو د صحابه کرامو صلی الله علیه وسلم چې په نیك عملونو کښې به د یو بل نه مخکښې کیدل نبی صلی الله علیه وسلم د دے د پاره یو عجیبه نُسخه ښودلے وه هغه دا چې د دین په معامله کښې به انسان د خپل ځان نه بره اوچت خلقو ته نظر کوی او د دنیا په معامله کښې به د خپل ځان نهٔ لاندې خلقو ته نظر کوی نو بیا به انسان د الله شکر گزار بنده جوړیږی ځکه عبدالله بن مبارك رحمة الله علیه وائی چې ما د خپل ژوند اوله حصه د مالدارانو سره تیره کړه نو زما ټول عمر غم پریشانی وه راحت او سکون نه وو خو کله چې ما د خپل ځان نه لاندے خلقو ته کتل شروع کړل نو هغه غم او پریشانی ختمه شوه ما ته سکون او اطمینان ملاؤ شو یو اسباب راحت وی کله انسان سره اسباب راحت کور، مال، تجارت، دکان وی خو راحت ورسره نه وی کله انسان سره دا هیڅ څهٔ نه وی خو الله ورته راحت او اطمینان نصیب کړے وی دا راحت او سکون د اسبابو نوم نه دے دا د الله ورکړه ده الله چې چا ته اوغواړی نو دا ورته ورکړی. والحمد لله رب العالمین

# د مسجد اهمیت، حیثیت اومقام

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِىْ بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِيْنَ﴾

(سورة ال عمران:۹٦)

﴿وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا وَاَبْغَضُ الْبِلَادِ اِلَى اللّٰهِ اَسْوَاقُهَا اَوْكَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ﴾ (مسلم)

## اسلام کښې د مسجد مقام:

د قرآن کريم په دې ايت کښې الله رب العزت د مسجد مقام اهميت فضيلت طرف ته اشاره کوی او دا په دې زمانه کښې ډيره اهمه خبره ده چې د مسجد حيثيت او مقام څۀ دے او د معاشرے په اصلاح کښې د مسجد او جماعت څۀ کردار دے په حقيقت کښې د هر مذهب والو څۀ خپل مذهبى خاص مقامات وى چې په هغے کښې خپل مذهبى رسم ورواج، طور طريقے، عادات او اعمال اداء کوی دغه مذهب واله دې خپل مذهبى ځائے ته د قدر او احترام او جلال په نظر باندې ګورى او په زړۀ کښې د دې احترام لرى د دغه مذهبى مقام يو خپل نوم دے زمونږه په دين اسلام کښې د الله د عبادت د پاره خاص کړے شوے مقام چې هغه د شعائر الله نه دے او د دين اسلام يوه نخښه او علامه ده دې ته مسجد وئيلے کيږى اول مسجد د قرآن کريم د وينا مطابق هغه مسجد حرام دے چې د زمکے په سر باندې د الله د عبادت د پاره جوړ کړے شوے وو:

﴿اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِىْ بِبَكَّةٍ مُبَارَكًا﴾ (آل عمران:۹٦)

د الله د عبادت د پاره اول کور هغه دے چې په مکه کښې دے مراد ورنه مسجد حرام دے نو دا اصل دے او د دې نه بعد د قرآن او د سنت د تعلیماتو د عام کولو د پاره نور مسجدونه او جماعتونه د دې فروع دي د دې تابع دی.

## د مسجدونو تاریخ:

دا مسجد حرام په اول ځل باندې د آدم علیه السلام نه مخکښے په دنیا کښې تعمیر شوے وو بیا روستو د دې تعمیرات بار بار نوی کړے شوی وو لکه د ابراهیم علیه السلام په لاس باندې دغه شان د نبی صلی الله علیه وسلم په دور کښې بیا د دې تعمیر جدید کړے شوے وو دویم نمبر کښې مسجد اقصی د بیت المقدس واله د سلیمان علیه السلام په لاس باندې تعمیر کړے شوے وو دریم نمبر کښې او په دین اسلام کښې اول نمبر هغه مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم دے چې نبی صلی الله علیه وسلم د دې تعمیر پخپله باندې کړے وو.

## اهم عبادت او مسجد:

او د مسجد مقام مرتبه او حیثیت څۀ دے؟ نو په دین اسلام کښې د مسجد یو لوے مقام دے او دا لوے مقام ځکه دے چې کثیر المقاصد عبادت چې هغے ته مونځ وئیلے کیږی په دې مونځ کښې الله ډیرے زیاتے دنیوی، اخروی، ظاهری، باطنی، جسمانی، روحانی، معاشرتی، اخلاقی فائدے کیخودلی دی ځکه ورته کثیر المقاصد عبادت وئیلے کیږی دا په عباداتو کښې د ټولو نه زیات اهم عبادت دے د دې اجتماعی شکل کښې اداء کولو د پاره او تکمیل ته رسولو د پاره الله مسجد وضع کړے دے چې مونځ به په مسجد کښې اداء کیږی او په مسجد کښې به تکمیل ته رسولے شی دا مسجد دومره مقدس او محترم مقام دے چې د دین اسلام او مسلمان د پاره یو دومره مرکزی حیثیت لری چې د دې نه به

د اخلاقو او د معاشرے او د ریاست او مملکت د مسائلو حل به د مسجد نه معلوملولےشی د مسلمان تربیت به د مسجد نه کیږی د مسلمان اتفاق، اتحاد او د وحدت او نظم درس او تعلیم به د مسجد نه اغستلے شی دغه وجه ده چې الله رب العزت او رسول الله ﷺ دې ته بیت الله د الله کور، الله طرف ته د دې نسبت په دې بنیاد کیږی چې الله ته د رسیدلو د پاره د دې مسجد یو لوے اهم کردار شته دے بیا به بنده الله ته رسیږی.

## الله ته خوښ او ناخوښ مقامات:

دی وجے نه نبی ﷺ په حدیث کښې ذکر کوی:

﴿اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا وَ اَبْغَضُ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ اَسْوَاقُهَا﴾ (مسلم)

الله ته د ټولو نه خوښ او محبوب مقامات د الله جماعتونه دی ځکه دا د الله د عبادت ځائے وی په دې کښې هسے ناسته که انسان عبادت کښې مشعوله هم نه وی او مسجد کښې ناست وی نو دې انسان ته الله د دې هسے ناستے اجروثواب ورکوی ځکه دا د الله خوښ ځائے دے د الله د رضا کیدو مقام دے او نا خوښ مقام او ځائے(اسواقها) بازارونه دی دا د فسق وفجور او د ګناهونو دروغ وئیلو دهوکو کولو د سودا او د حرام مال او ناجائز کارونو کولو ځائے وی په دې ځائے کښې انسان د الله نه لرى کیږی ځکه الله ته مبغوض او ناخوښ مقام دے.

## د مسجد سره تعلق:

یو بل حدیث کښې راځی اووهٔ کسان دی چې الله رب العزت به ورته د خپل سورى نه لاندې سورے ورکوی د قیامت په ورځ باندې او په دغه ورځ به د الله د سورى نه علاوه د بل څهٔ سورے نه وی نو په دې کښې یو هغه کس هم شامل دے ﴿وَرَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ﴾(بخاری) هغه انسان چې د هغه زړهٔ مسجد پورے معلق وی، تړلے شوے وی د

مسجد سره د دې انسان مينه او محبت وی په مسجد کښې ناسته ورته خوند ورکوی په دې سره ورته سرور او اطمينان حاصليږي او کله چې دا انسان د مسجد نه باهر شی نو د دې په انتظار کښې وی چې دوباره به مسجد ته کله داخليږی.

## د الله ميلمه:

په يو بل حديث د بخاری شريف کښې راځی:

﴿مَنْ غَدَا اِلَى الْمَسْجِدِ اَوْ رَاحَ﴾ (بخاری، مسلم)

څوك چې سحر او ماښام مسجد ته ځی مراد ورنه پنځه وخته عبادت دے چې دا عبادت په مسجد کښې ادا کوی نو دې انسان ته به الله د هر سحر او ماښام سره ميلمستيا تياره کړی ځکه کله چې انسان د الله کور ته داخل شی نو دا انسان د الله ميلمه وی او په **کنز العمال** کتاب کښې دا روايت د عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه داسے نقل شوے دے چې ﴿اَلْمَسَاجِدُ بُيُوْتُ اللهِ﴾ دا مسجدونه د الله کورونه دی او څوك چې دې ته داخل شی هغه انسان به د الله زيارت کوی ﴿وَحَقٌّ عَلَى الْمُزَوَّرِ اَنْ يُّكْرِمَ زَائِرَهٗ﴾ او لازم دی چې د چا زيارت کولے شی هغه به د خپل زيارت کونکی عزت او قدر کوی.

يو د انسان عزت او قدر دے چې انسان د خپل ميلمه عزت کوی او يو د الله عزت او قدر دے چې هغه د خپل ميلمه قدر او عزت کوی ځکه حديث کښې راځی نبی صلی الله علیه وسلم د مسجد اهميت په يو بله طريقه بيانوی هغه دا چې څوك په کور کښې مونځ اداء کړی او څوك په مسجد کښې مونځ اداء کړی نو دې مسجد او جماعت سره مونځ اداء کونکی انسان ته الله يو په پنځه ويشت (۲۵)يا يو په اويشت (۲۷) درجے باندې دوچنده اجر او ثواب ورکوی نو دا هم د الله عزت او قدر دے چې په دې

طریقے سره الله د خپل میلمه اکرام او قدر کوی.

## اسلامی رهبانیت:

دَ نبیﷺ یو صحابی عثمان بن مظغونؓ بیان فرمائی اے د الله پیغمبره مونږه ته د رهبانیت، پیر پرستے اجازت اوکړه نبیﷺ ورته فرمائی په دین اسلام کښې رهبانیت نشته دومره خبره ده چې د رهبانیت یوه حصه دا ده ﴿اَنْ تَرْهَبَ اُمَّتِیْ اَلْجُلُوْسُ فِی الْمَسَاجِدِ﴾ زما د دې امت پیر پرستی او رهبانیت دا دے چې په مسجد کښې به ناست وی ﴿وَانْتِظَارُ الصَّلٰوۃِ﴾(ابن ماجۃ) او د مونځ انتظار به کوی دا رهبانیت دے ځکه دا ترك دنیا ده او هغه رهبانیت لکه څنګه به چې عیسایانو کولو.

په یو حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی: ﴿بَشِّرِ الْمَشَّائِیْنَ فِی الظُّلَمِ بِالنُّوْرِ التَّامِ﴾(ابوداؤد) زیرے او خوشخبری ورکړه مسجد ته په توره تیارۀ کښې تلونکو ته د پوره رنړا او دَ نور خوشخبری ورته ورکړه. دا د دې وجے نه چې په تیارۀ کښې مسجد ته تلو کښې انسان ته تکلیف او مشقت زیات وی نو دا د مسجد مقام او حیثیت دے په دین اسلام کښې، دین اسلام مسجد ته دا مقام ورکړے دے کوم چې په دې احادیثو کښې ذکر کړے شو.

## مسجد ته د تلو اداب:

کله چې یو انسان دنیوی سکول، کالج ،ادارے ته ځی نو د دې څۀ خپل آداب او اصول وی د هغے مطابق به دغه مقام ته روان وی دا د مخلوق نظام دے دغه شان د خالق کور ته چې څوك روان وی نو د دې تلو هم څۀ آداب شته دے چې د هغے خیال به ساتلے شی یو دا چې په عاجزے سره به روان وی بل دا چې کله مسجد ته رادننه شی نو ښے خپه به رادننه کړی او څنګه چې دَ دنیوی بادشاه کور ته انسان داخل شی نو د

هغه قدر او عزت په زړهٔ کښې ساتی دغه شان کله چې يو انسان د الله کور ته لاړ شی نو د الله عظمت او د جلال خيال به په زړهٔ کښې راولی د الله په کور کښې به عبادت ذکر، نوافل اداء کوی ، دنيوی خبرے، ګپ شپ، په تيز آواز چغے وهل به نهٔ کوی کله چې مسجد ته دننه کيږی نو د مسجد دعا : ﴿اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾(مسلم) او کله چې باهر ته اوځی نو د باهر اووتلو دعا ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ﴾(مسلم) به وائی. بعضے رواياتو کښې ورسره بسم الله او په نبیﷺ درود هم راغلے دے، داسے دعا ده ﴿بِسْمِ اللهِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ او دغه شان د وتلو په وخت کښې ﴿بِسْمِ اللهِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ﴾(الأذكار للنووى) نو دا هم د مسجد په دعاګانو کښې شامل دی.

## تحية المسجد:

حديث کښې راځی:

﴿اِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ﴾ (بخاری)

کله چې يو انسان مسجد ته داخل شی نو دوه رکعته نفل دې اداء کړی، دې ته تحية المسجد وئيلے کيږی دا به انسان د الله د دې لوے نعمت چې خپل کور ته ئے انسان رادننه کړو د دې شکريه وی خو شرط دا دے چې دغه وخت به د جمعے نه وی او که دومره وخت وی چې صرف سنت پکښے اداء کيدے شی نو کله چې دا انسان سنت اداء کوی د دې سره تحية المسجد خود بخود اداء کيږی نو دا مونځ اداء کول هم د مسجد يو ادب دے.

## څه نور اداب:

يو بل حديث کښې راځی چې نبیﷺ به کله د سفر نه واپس شو

نو کور ته به نه تلو ﴿إِذَا قَدِمَ مِنَ السَّفَرِ بَدَأَ فِي الْمَسْجِدِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ﴾(بخاری) کله چې به نبیﷺ د سفر نه راواپس شو نو د مسجد نه به نبیﷺ شروع کوله. په دې کښې به ئے دوه رکعته اداء کول دا هم د مسجد یو ادب دے او د دې نه د مسجد ته تلو او د مسجد د اهمیت پته لږی. ځکه نبیﷺ به اول کور ته نه تلو اول به مسجد ته تلو او د مسجد مقصد عبادت به ئے پکښے اوکړو په دې سره به صحابورضی الله عنهم ته دا معلومه شوه چې مسجد د هسے بے فائدے، دنیوی خبرو ځائے نه دے دا د الله د عبادت ځائے دے.

نبیﷺ صحابورضی الله عنهم ته دا حکم هم کړے وو ﴿أَنْ يُبْنَى الْمَسَاجِدَ فِي الدُّوْرِ﴾(احمد) چې په کورونو کښې دې مسجدونه جوړ کړے شی د زنانو د عبادت د پاره ، نو دا معلومه شوه چې انسان به مسجدونه ډیر جوړوی د دې د پاره چې د الله د دین مرکزونه جوړ کړے شی او بیا نبیﷺ دا حکم هم کړے وو چې دا دې پاك ساتلے شی﴿أَنْ يَتَطَهَّرُوْ وَيَطِيْبَ﴾ او دا دې خوشبودار کولے شی نو د دې نه هم د مسجد څۀ اهمیت او آداب معلومیږی.

او نبیﷺ دا هم فرمائیلی وو چې څوك د الله جوماتونه جوړوی نو هغوی لره به الله څۀ اجروثواب ورکوی: ﴿مَنْ بَنٰى لِلّٰهِ مَسْجِدًا بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ﴾ څوك چې د الله د پاره کور جوړ کړی نو الله به د دې انسان د پاره په جنت کښې یو لوے عظیم الشان کور جوړ کړی.

## بد بودار څیزونه خوړل:

د بد بودار ناپاك څیز نه به مسجد ساتلے شی حدیث کښې راځی نبیﷺ فرمائی:﴿ مَنْ اَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا﴾ څوك چې د دې بدبودارے ونے نه خوراك او کړی نو زمونږه مسجد ته دې

نه رانزدی کیږی ﴿فَاِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذّٰى مِمَّا يَتَأَذّٰى مِنْهُ بَنُوْا اٰدَمَ﴾(مسلم) ځکه فرشتو ته د هغه څۀ نه تکلیف وی د کوم څۀ نه چې بنی ادم ته تکلیف وی. نو دا هم د مسجد یو ادب دے چې بد بودار او ګنده څیز به مسجد ته نه رادننه کولے شی. نو کله چې انسان د الله کور ته راځی نو پیاز ،اوګه دا به نه خوری، دا مطلب نه دے چې دا حرام دی، حرام نه دی خو د مسجد ته د تلو په وخت کښې منع دی.

## چغې آوازو نه د دنیا خبرې نه کول:

نبیﷺ په مسجد کښې د شور کولو، آوازونو ویستلو نه منع کړې ده او داسے ماشومان ئے مسجد ته د راوستلو نه هم منع کړی دی چې په مسجد کښې چغے وهی یا دومره ناپوهه وی چې مسجد ورسره ګنده کیږی، دا هم د مسجد په آدابو کښې شامل دی.حدیث کښې راځی ﴿جَنِّبُوْا مَسَاجِدَكُمْ صِبْيَانَكُمْ وَمَجَانِيْنَكُمْ وَشِرَارَكُمْ وَخُصُوْمَاتِكُمْ﴾ (المعجم الكبير) تاسو دا مسجدونه د لیونو ماشومانو، شریانو او د جنګ جهګړو نه بچ کړے.

د دنیا خبرے، فضول خبرے به په مسجد کښې نه وی حدیث کښې راځی ﴿يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَكُوْنُ حَدِيْثُهُمْ مِنَ الدُّنْيَا فِيْ مَسَاجِدِهِمْ فَلَا تُجَالِسُوْهُمْ فَلَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ﴾(ابن حبان) یو داسے زمانه به په دې خلقو باندې راشی چې د دوی د دنیا متعلق خبرے به په مسجدونو کښې وی نو د دې خلقو سره ناسته مۀ کوے ځکه د الله د طرف نه دې خلقو ته څۀ اجراوثواب نه ملاویږی. په مسجد کښې بغیر د عبادت نه په ناستے باندې الله اجر ورکوی خو دې انسان ته ځکه اجر او ثواب نه ملاویږی چې دې ګناه کار د دنیا خبرے په مسجد کښې شروع کړے نو د هغه اجر نه محرومه شو. دا د مسجد څۀ آداب او مقام او حیثیت چې

دین اسلام ورته ورکړے دے د دې تعلیماتو احکاماتو خیال به ساتلے شي.

## مسجد او معاشره:

بله دا خبره چې نن صبا په دې دور کښې د عام ساده مزاج خلقو ذهن دا دے چې مسجد صرف د مونځ، اودس د پاره دے بس د مسجد نوره څۀ فائده نشته بے شکه مسجد د عبادت د مونځ اودس ځائے دے خو د دې سره د معاشرے په اصلاح کښې هم د مسجد ډیر لوے بنیادی اهمیت اوکردار شته دے، لکه د نبی ﷺ او د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم سیرت په دې باندے ګواهی ورکوی.

## د نبی ﷺ د مسجد په تعمیر کښې حصه:

نبی ﷺ بذات خود د مسجد په ابادے او تعمیر کښې دوه ځله حصه اغستے وه یو د جاهلیت په دور کښې کله چې نبی ﷺ ماشوم وو عباس رضی اللہ عنہ ورسره وو د دۀ په اوګه باندې څادر وو نو نبی ﷺ به په خپله اوګه مبارکه باندې د هغے د پاره ګټے راوړے. خپل ترۀ عباس رضی اللہ عنہ ورته وائی دا ګټے په دې څادر کښې ګده او بیا دا په اوګه باندې بار کوه نو نبی ﷺ به بیا په دې خپل څادر کښې مسجد د پاره ګټے راوړے. دویمه موقع د حجراسود د کیخودلو په وخت کښې وه کله چې نبی ﷺ ځوان وو نو هغه دغه حجراسود په خپل څادر کښې کیخودلے وو او د قریشو د جنګ ختمولو د پاره ئے دا کار کړے وو بیا نبی ﷺ په خپلو لاسونو مبارکو باندې په دغه ځائے کښې دا نصب کړے وو نو دا د دې اجراوثواب چې نبی ﷺ ورکښے په خپله باندې حصه اغستے ده.

دَ نبی ﷺ د دور نبوت نه به ټولے فیصلے د دعوت کارونه او د جمعے خطبے ورسره عام خبرے د دین متعلق دا ټول کارونه به په مسجد

کنبې ادا کیدل.

## مسجد قباء او مسجد نبوی:

د هجرت نه بعد نبیﷺ د مسجد قبا او د مسجد نبوی بنیاد کیخودلے وو نبیﷺ په خپله اوښه قُصْوٰی باندې ناست وو صحابو رضی اللہ عنہم دا غوښتل چې دا اودروی او نبیﷺ خپل میلمه جوړ کړی. نبیﷺ ورته اووئیل ﴿دَعُوْهَا فَاِنَّهَا مَأْمُوْرَةٌ﴾ دا اوښه پریږدے دې ته د الله د طرف نه حکم شوے دے. نو څنګه چې هجرت کوی لا د اوښے نه کوز شوے نه دے چه د مسجد بنیاد ګدی ځکه د مسجد ډیر لوے کردار دے بیا دغه ځائے مسجد نبوی ئے د یتیمانانو نه اغستے وو سهل رضی اللہ عنہ او سهیل رضی اللہ عنہ نه ئے دغه ځائے اغستے وو او نبیﷺ په خپله د مهاجرینو او انصارو سره شروع دے مسجد نبوی جوړ وی او نبیﷺ ورلره دعا غواړی او دا خبره کوی.

اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ اِلَّا عَيْشُ الْاٰخِرَةِ

فَاغْفِرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَةِ

الله ژوند نشته دے مګر د آخرت ژوند دے حقیقی ژوند د آخرت ژوند دے نو الله مهاجرینو او انصارو ته بخښنه او مغفرت اوکړی دا دعا ورته نبیﷺ ځکه غواړی چې هغوی لګیا دی د مسجد نبوی خدمت کوی صحابه رضی اللہ عنہم ورته جواب ورکوی او دا خبره کوی.

لَئِنْ قَعَدْنَا وَالرَّسُوْلُ يَعْمَلُ

فَذٰلِكَ مِنَّا الْعَمَلُ الْمُضَلَّلُ (السیرة لابن هشام)

که مونږه په آرام سره کینو او نبیﷺ عمل کوی نو دا به یو ګمراه کار وی د نبیﷺ سره به مونږه په دې خدمت کنبې حصه اخلو نو په دې طریقه نبیﷺ د هجرت نه بعد دا مسجد نبوی جوړ کړے وو. او دغه

وجه وه چې نبیﷺ د مسجد د جوړولو په باره کښې صحابوﷺ ته حکم کړے وو، نو د نبیﷺ دور کښې په مدینه کښې پنځه ویشت (۲۵) پورے مسجدونو جوړ شوی وو بیا د ابوبکر صدیق، عمر فاروق، عثمان غنی او حضرت علی ﷺ په دور کښې دا مسجدونه ځومره زیات شوی وو او د هغے نه تر نن ورځے پورے به څومره ترقی او زیادت په دې کښې شوے وی نو دا د مسجد اهمیت په دین اسلام کښے دے.

## د مسجد توسیع او ترقی:

هر کله چې د صحابوﷺ د مسجد سره لوے تعلق وو په هغے کښې ناسته، فیصلے حل کول، وفدونه راتلل، هغوی سره ملاقات کول نو دغه مسجد نبوی د عمرﷺ په دور کښې په مسلمانانو باندې تنګ او وړوکے وو نو عمرﷺ پکښے توسیع اوکړه د سلو نه واخله تر یوسل ځلویښت ګزه پورے د دې مسجد توسیع اوکړے شوه او د ضرورت مطابق د هغه قالین چې د ناستې د پاره به استعمالیدو دا هم عمرﷺ په مسجد نبوی کیخودلے وو.

امام ابن الجوزی رحمه الله وائی چې عمرﷺ او عثمانﷺ د مؤذنیو اذان کونکو او امامانو د پاره تنخواه مقرر کړے وه دغه شان د عمرﷺ او د عثمانﷺ ټول خلافت د مسجد نه سنبهال شوے وو د خلافت په باره کښې مشوره په مسجد کښې کیدله د بعضے صحابو انفرادی او اجتماعتی ټول کارونه به د مسجد نه سنبهالیدل. دا صرف د مونځ، اودس د پاره نه وو بلکه د هر قسم اسلامی مسئلے حل به اول په مسجد کښې تلاش کیدو. **واخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین.**

# د مسجد اهمیت او مقاصد

**اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔**

**﴿فِيْهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ﴾** (التوبۃ:۱۰۸)

## اصلاح معاشره او مسجد:

په دے ایت کښې الله رب العزت د مسجد مقام، فضیلت او آداب ذکر کوی. مسجد په اسلام کښې څۀ مقام لری د دے سره چې څوك تعلق ساتی د هغه څۀ فضیلت دے او الله ورته څۀ اجر او ثواب ورکوی. د دے مسجد او مدرسے په معاشره کښې څۀ کردار او اهمیت دے، مسجد د مسلمان د پاره د مذهبی عبادت او اجتماعیت مرکز دے پنځه وخته مسلمان په دې کښې راجمع کیږی او د الله مخکښے ټول په یو شان عاجزے سره قیام، قعود، رکوع، سجده لګوی او په هفته کښې یوه ورځ د جُمعے په ورځ د نورو نه غټه اجتماع وی د عبادت سره سره ورته بله فائده هغه دا اوشی چې د یو بل د حالت نه خبر شی د معاشرے چې کوم مقصد دے هغه ورته د یو بل په لیدلو، کتلو سره د خیر خواهئ ،غم خوارے نه هم خبر شی. د نبی ﷺ او صحابو رضی اللہ عنہم په دور کښې چې د مسجد کوم کردار په معاشرے کښې وو هغه د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم نه بعد په معاشره کښې ختم شوے وو او نن دغه بنیادی او اهم مقصد په معاشره کښې نه ګورو. جماعت صرف د پنځه وخته عبادت د پاره نۀ دے بلکه د مسجد سره به د مسلمان د هرے مسئلے حل ترلے شوے وی.

د مسجد کردار معلومولو د پاره د نبی ﷺ په سیرت باندے نظر

کول ضروری دی چې نبیﷺ او صحابه کرامو رضی اللہ عنہم د مسجد نه څۀ کار اغستے وو د هغوی په نزدیك د مسجد حیثیت څۀ وو د مسجد سره څۀ حد پورے د هغوی تعلق او مناسبت وو.

## مسجد سره د عبادت تعلق:

یو خبره دا وه چې د نبیﷺ او صحابو د مسجد په مقاصدو کښې یو دا وه چې د هغے سره د هغوی د عبادت او روحانیت تعلق وو د دے وجے نه هغوی دا مسجدونو آباد کړی وو. څۀ قسمه عبادات چې په مسجد کښې اداء کیږی که هغه فرض سنت مونځ دے او که هغه ذکر و اذکار تلاوت قرآن دے که هغه اعتکاف یا درس حدیث دے نو دا د عباداتو تعلق د مسجد سره کیدل دا د مسجد یو مقصد دے. الحمد لله دا مقصد د مسجد تر نن پورے په مسلمانانو کښې لوے حد پورے ژوندے دے.

## مسجد سره دَ معاملاتو تعلق:

دویم دا چې اجتماعی، مالی معاملات به په مسجد کښې پوره کیږی که د غریبانانو د پاره به د مال اعلان کیدو نو په مسجد کښې به کیدو، د جهاد د پاره به مال په دغه مسجد کښې جمع کیدو په یو موقع مدینے منورے ته د مصر د قبیلے څۀ خلق راغلے وو او د نبیﷺ نه ئے تپوس کولو نبیﷺ چې کله دغه خلق اولیدل او د دے حالت ئے مشاهده اوکړه چې دا غریبانان خلق دی په یو یو جامه کښې راغلی دی، د سفر اثار ورباندے ښکاری، د خوراك څکاك د پاره ورسره څۀ نشته نو بلال رضی اللہ عنہ ته نبیﷺ د مانځه په وخت کښې اووئیل چې ته اذان اوکړه خلق راجمع شو نبیﷺ ورته خطبه اووئیله ورته وائی دا ستاسو رونړه دی د مضر د قبیلے نه راغلی دی د چا سره که دینار وی یا جامے یا خوراك

وی نو د دوی سره مدد اوکړے صحابه رضی اللہ عنہم به تلل چا به یو قسم څیز، چا به بل قسم څیز او چا بل قسم تر دے پورے چې د یو صحابی سره غټه تیله وه نزدے وه چې د هغے د اوچتولو طاقت ئے نه وے لرلے نبی صلی اللہ علیہ وسلم چې اولیدل نو خوشحاله شو او دا خبره ئے اوکړه:

﴿مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهٗ اَجْرُهَا وَاَجْرَ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ اَنْ يَّنْقُصَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْئًا﴾ (مسلم)

څوك چې یو نیك د خیر ښیګړے کار باندې عمل اوکړی نو دې انسان ته به د دے اجر ملاویږی او د دۀ نه بعد چې وربانددے څوك عمل کوی د هغوی اجر به ورته هم ملاویږی بیا نبی صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمائیل:

﴿اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْبِشِقِّ تَمْرَةٍ﴾ (مسلم)

خپل ځان د اُور نه بچ کړے اګر که هغه د کهجورے په یوے ټکړے باندې ولے نه وی صحابی وائی چې لګ ساعت بعد دوه غټ غټ ډیری جوړ شو یو د کپړو ډیرې وو او بل د خوراك جوړ شوے ډیرې وو. بیا دغه مال نبی صلی اللہ علیہ وسلم په دې قبیلے والو باندے تقسیم کړو نو معلومه شوه چې مسجد د نبی صلی اللہ علیہ وسلم په دور کښې د غریب سره خیرښیګړے کولو د پاره به هم استعمالیدو. د نبی صلی اللہ علیہ وسلم په دور کښې باقاعده د زکوٰۃ، د صدقات د مال راجمع کیدل او هغه تقسیم کول د دې یو نظام او یوه طریقه وه.

## مسجد د جهاد د پاره مرکز:

د جهاد د پاره به مجاهدین دې ځائے ته راجمع کیدل او د دے ځائے نه به د هغوی تقسیم کیدو که مال غنیمت به راغلے وو نو هم د دې ځائے نه به هغه تقسیمیدو نو دې مسجد ته د جهاد یو مرکزی حیثیت حاصل وو د امیر مقرر کیدل ټوله نقشه جهاد به دغه ځائے وو، درے قسم جهادی تربیت به د دغه ځائے نه ورکولے کیدو یو دا چې ذهن

سازی به کیده د جهاد د پاره د بیان یا د وعظ نصیحت په زریعے سره. دویم د هغوی جسمانی تربیت او ساز و سامان برابر کیدل. دریم عملی اقدام او تشکیل کیدل.

ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها وائی چې د اختر ورځ وه څۀ حبش قومونه راغلی وو او هغوی په مسجد نبوی کښې څۀ مشق کولو جسمانی مشق او تربیت په تورو او غشو باندے مشغوله وو نبی صلی الله علیه وسلم د خپل کور نه دا نظاره کتله او ما هم ورته کتل نو دا عملی تربیت د جهاد په مسجد نبوی کښې کیدو. یو صحابی دے سعد بن معاذ الانصاری رضی الله عنه هغه زخمی شوے وو نبی صلی الله علیه وسلم ورته په مسجد نبوی کښې خیمه جوړه کړې وه نو صحابه به د دۀ تپوس د پاره مسجد نبوی ته راتلل دا د مسجد نبوی جهادی کردار وو.

## د مسجد عدالتی حیثیت:

که د مسلمانانو ترمینځه به څۀ خبرے راغلے د هغے په باره کښې به جرګه او فیصله په مسجد نبوی کښې کیده. یوه ښځه وه هغے غلا کړے وه نو نبی صلی الله علیه وسلم په مسجد نبوی کښې د هغے په باره کښې حکم کړے وو، او فیصله ئے کړے وه چې د دے ښځے نه به لاس کټ کولے شی. د دوؤ کسانو په باره کښې چې هغوی زنا کړې وه د حد فیصله په مسجد نبوی کښې شوے وه. بیا نبی صلی الله علیه وسلم حکم کړے وو چې دا باهر کړے او حد ورباندے جاری کړے، رجم ئے کړے. دا د مسجد نبوی عدالتی کردار وو.

د ابوبکر صدیق د عمر او علی رضی الله عنهم د خلافت باره کښې مشوره په دغه مسجد کښې شوې وه او د دے نه به اول خلیفه او بیعت په مسجد نبوی کښې اغستلے کیدو او د خلافت اعلان به په مسجد کښې کیدو، خلیفه به خپله اوله خطبه په دغه مسجد عام کښې وئیله مسجد به د اسلامی خلافت یو مرکز هم وو.

## تعلیم او تربیت:

د مسلمانانو تعلیم او تربیت به هم د مسجد نبوی نه کیدو د صحابه کرامو رضی الله عنهم د جماعت د پاره یو خاص ځائے وو چې هغے ته به ئے صفّه وئیله او دغه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته به ئے اصحاب الصفّه وئیل دا به مسجد کښې یو طرف ته به ناست وو او د نبی صلی الله علیه وسلم نه به ئے زده کړه کوله د احادیثو یادول به د دوی مشغله وه نو دغه مسجد نبوی یو مدرسه هم وه او د دینی تعلیم او د تربیت یو مرکز هم ورسره وو. او دا طریقه کار د خلفائے راشدینو په دور کښې هم وو.

## د مسجد یو جامع حیثیت:

مختصر دا چې د نبی صلی الله علیه وسلم دغه مسجد نبوی په یو وخت کښې د عبادت ځائے هم وو ورسره د انفرادی او اجتماعی معاملاتو یو مرکز هم وو. د مسافرو او د وفدونو د پاره د اقامت یوه پناه ګاه هم وه. په دغه مسجد کښې شپه او ورځ وعظ، نصیحت، تعلیم و تعلم به کیدو، او دې سره سره د غریبانانو د پاره یو مرکزی حیثیت هم ورته حاصل وو. جهادی نظام او نظم و ضبط به د دغه مسجد نبوی نه پوره کیدو. دې ته د یو بهترین بیت المال حیثیت هم حاصل وو. د اصلاح او د تربیت د پاره به مسجد خپل کردار ښودلو نو مسجد نبوی صرف د عبادت ځائے نه وو بلکه د هر قسم ضرورت بلکه د دین اسلام د هرے شعبے انتظام به د مسجد نبوی نه کیدو که یو طرف ته دارالندوة د مسلمانانو د مشورے ځائے وو نو بل طرف ته **دارالإمارة** د امیر او خلیفه انتخاب به د دغه ځائے نه کیدو بل طرف ته به **دارالتعلیم والتربیة** ، **دارالقضاء دارالافتاء** ورسره **دارالصلوة، دارالاصلاح، دارالکفالة** دې ته وئیلے کیږی .په معاشره کښې د مسجد دغه کردار دے او دا حقیقی مسجد دے.

دا زمونږه جهالت دے چې مونږه مسجد صرف پنځه وخته عبادت پورے خاص کړے دے که یوه انفرادي یا اجتماعي خبره راشي نو مونږ مسجد ته رجوع نه کوؤ که د مسلمانانو په مینځ کښې جنګ جهګړه مخے ته راشي مسجد ته مونږه ضرورت نۀ لرو که د غریب مسکین د حق خبره وی نو مسجد مونږه ته یاد نۀ وی که د سیاست خبره وی نو زمونږه ذهن چرته د مغرب نظام طرف ته ځی دا د کفر یو لوے سازش وو چې د مسلمانانو د ذهن نه ئے د مسجد رهنمائی واغسته او په هره موقع باندے ئے مسلمان د مسجد نه لرې کړو او د مسجد تصور صرف د مونځ پورے باقي پاتې شو.

والحمد لله رب العالمین

# د مسجد اداب

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْدُ!فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿ فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ﴾ (سورۃالنور:۳۷)

﴿ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ اَوْ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ﴾ (رواہ احمد)

## د مسجد سره تعلق:

د قرآن پاك د سورت النور دوه ايتونه او د مسلم شريف يو روايت تلاوت کړے شو په دے کښې الله رب العزت او نبی ﷺ د مسجد د آدابو او د مسجد د مقام او مرتبے تذکره کوی مخکښې د مسجد د کردار په باره کښې وضاحت شوے وو چې د مسجد به څۀ کردار په معاشره کښې وی او د دے مقاصد څۀ دی. دا صرف د عبادت ځائے نه دے بلکه د معاشرے سره د عدالت او سياست سره د فرد او اجتماعی ژوند سره د دے مسجد ډير لوے تعلق دے. دې وجے نه زمونږه په شريعت کښې د هغه خلقو ډير لوے مقام دے څوك چې د مسجد سره تعلق او مناسبت لری په دے آيت کښې هم الله د دے خلقو صفت او مدح بيان کړے ده بل دا چې دا د الله کورونه دی نو د دے متعلق يو حکم دا دے ﴿اَنْ تُرْفَعَ﴾ د دې د عزت او د عظمت خيال اوساتے. دويم حکم دا دے ﴿اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ﴾ په دې کښې دې د الله ذکر اوکړے شی، د الله عبادت دې په دې مسجدونو کښې ادا کړے شی او د دې مسجد سره هغه خلق

تعلق لری چې هغوی د دنیا کار کسب د الله د ذکر نه، نهٔ غافله کوی بلکه د دنیا د کار سره هغوی د الله د کتاب د الله د عبادت او د مونځ او د زکوة سره خپل تعلق لری او د الله نه یره د دے خلقو په زړهٔ کښې وی. دې خلقو ته به الله بهترین انعام او ښه بدله د دوی د عمل ورکړی او د خپل فضل نه به ورته زیاته بدله الله ورکړی او خپل دیدار به ورته نصیب کړی او په حدیث کښې راځی:﴿ بَشِّرِ الْمَشَّائِيْنَ فِي الظُّلَمِ بِالنُّوْرِ التَّامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾(ابوداؤد) د شپے په تیارو کښې مسجد ته تلونکو لره د مکمل رنړا زیرے ورکړه د قیامت په ورځ باندے. نو دا فضیلت دے د هغه چا چې مسجد سره تعلق لری.

## رباط فی سبیل الله او رهبا نیت:

یو صحابی دے عثمان بن مظعون رضی الله عنه هغه نبی صلی الله علیه وسلم ته فرمائی اے د الله پیغمبره ﴿اِءْذَنْ لَنَا بِالتَّرَهُبِّ﴾ مونږ ته د رهبانیت په باره کښې اجازت اوکړه ځکه د عیسائیت په دین کښې رهابنیت شته دے نو تهٔ مونږ ته د رهبانیت اجازت اوکړه نبی صلی الله علیه وسلم ورته فرمائی: ﴿اَنْ تَرَهُبَّ اُمَّتِيَ الْجُلُوْسُ فِي الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلٰوةِ﴾ زما د امت رهبانیت دا دے چې په مسجد کښې ناسته کوی او د مونځ انتظار کوی په دے سره الله رب العزت د ترک دنیا ثواب ورکوی په یو بل حدیث کښې راځی چې یو انسان که په مسجد کښې هسے ناست وی نو الله ورله اجر او ثواب ورکوی اوکه د ناستے سره ذکر تلاوت کښې هم مشغوله وی نو دې انسان ته دوه ثوابونه د دهٔ د عمل ملاویږی او په یو حدیث کښې دی ته ﴿فَذَالِكَ الرِّبَاطُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ وئیلے شوی لکه څنګه چې مجاهد ته په سرحداتو باندے د دشمن سره په جهاد کولو کوم ثواب ملاویږی نو د دغه مجاهد واله اجر او ثواب دې انسان ته هم ملاویږی چې هغه په مسجد کښې ناست وی او د

مونځ د پاره انتظار کوی.

## اصول او اداب:

ځومره چې د مسجد ثواب او فضیلت دے هسے ناسته د عبادت ثواب لری د قیامت په ورځ ورته د جنت زیرے ملاویږی نو دا ټول ثوابونه که انسان ته حاصلیږی د دے د پاره څۀ شرائط او آداب دی چې د هغے به خیال ساتلے شی او که د دے شرائطو، آدابو خیال یو انسان نه ساتی نو په ځائے د ثواب به دغه انسان ته ګناه او عذاب ملاویږی. که په دنیا کښې انسان یو دنیوی عدالت ته روان وی نو د دے عدالت څۀ آداب وی د دے خیال به ساتی دغه شان د الله د عدالت او د کور هم څۀ آداب دی چې انسان به د هغے خیال ساتی یو ادب دا دے ﴿إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ کله چې یو انسان مسجد ته داخلیږی نو دا دعا دې وائی: ﴿وَإِذَا خَرَجَ﴾ او کله چې د مسجد نه باهر ته اوځی نو دا دعا دې وائی: ﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ اَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ﴾(مسلم) کله چې انسان جمات ته داخلیږی نو دې کښې به دنیاوی څۀ غرض نه وی چې عبادت وی، ذکر وی، تلاوت وی، د آخرت فکر وی، دین وی نو په دے سره د الله رحمت انسان ته متوجے کیږی ځکه به د الله د رحمت سوال کوی چې الله ستا رحمت راباندے اوکړے هسے نه چې ستا په غضب او عقاب کښې اخته نه شمه او کله چې د مسجد نه باهر ته اوځی نو د دنیا کار کسب تجارت به وی نو په دغه صورت کښې به د الله نه د هغه د فضل سوال کوی چې الله حلال رزق راکړې او فراخه رزق راته راکړې.

## دَ داخلیدو او وتلو طریقه:

او نور څۀ آداب هم علماؤ ذکر کړی دی ام المؤمنین عائشهؓ فرمائی چې نبیﷺ به هر د نیکئ کار او ښۀ کار د ښی طرف نه شروع

کولو لکه خوراك څكاك، خوب كول، ویختهٔ ګومنز کول، لباس اغوستل او کوم کارونه چې خلاف طبیعت وو لکه پوزه سونړ کول، استنجاء کول، بیت الخلاء ته دننه کیدل دا به نبی ﷺ د ګس یعنې چپ طرف نه ادا کول. په ښه کارونو کښې یو مسجد ته دننه کیدل هم دی نو دا انسان به په ښے خپے سره مسجد ته دننه کیږی او کله چې باهر طرف ته اوځی نو په ګسے یعنې چپے خپے سره به شروع کوی او دا به اول باهر ګدی بیا به د مسجد نه اوځی او دا ګسه خپه څکه باهر کوی چې د الله د مسجد نه اووتل مناسب نه دی څکه دا ستا د امن او اطمینان ځائے دے خو باهر د اُووتلو ضرورت دے او مجبوری ده څکه ګسه خپه باهر طرف ته ګدمه نو دا د الله کور ته داخلیدو او وتلو آداب دی.

## تحیة المسجد:

بل ادب د مسجد دا دے لکه حدیث کښې راځی: ﴿إِذَا دَخَلَ اَحَدُکُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْکَعْ رَکْعَتَيْنِ قَبْلَ اَنْ يَّجْلِسَ﴾(بخاری، مسلم) کله چې یو انسان په تاسو کښې مسجد ته داخلیږی نو دوه رکعته مونځ دې ادا کړی مخکښے د ناستے نه. دې ته تحیة المسجد وائی او دا د جمهورو په نزد مستحب دی د دے د پاره څهٔ شرائط دی یو دا چې د ناستے نه مخکښے به وی د ناستے او خبرو نه بعد به دا نوافل وی خو تحیة المسجد به نه وی. دویم دا چې د دے وخت به وی که وخت کم وی نو بیا به دا نه کوی که د جمعے په ورځ باندے خطبه شروع وی نو په دغه وخت کښې به انسان تحیة المسجد نه کوی.

او بل ادب دا دے چې نبی ﷺ به کله په سفر باندے تلو نو د هغه عادت دا وو چې د شپے به کور ته نه راتلو او د راتلو نه مخکښے یوه ورځ، نیمه ورځ مخکښے به نبی ﷺ کور والو ته اطلاع ورکړه چې زهٔ

نزدے یمه کله چې به مدینے ته داخلیدو نو اول به مسجد ته داخل شو هلته به نبیﷺ دوه رکعته ادا کړل. نو دا هم یو ادب دے چې انسان د سفر نه د واپسئ په وخت کښې په مسجد کښې دوه رکعته بطور شکریه ادا کړی.

## د مسجد صفائی:

بل د مسجد ادب دا دے ام المؤمنین عائشهرضی الله عنها روایت کوی ﴿ أَنَّ رَسُوْلُ اللهﷺ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُنَظَّفَ وَتُطَيَّبَ ﴾ (احمد) چې نبیﷺ دا حکم کړے وو چې په کورونو کښې دې مسجدونه جوړ کړے شی. د دے دا مطلب دے چې په هغه دور کښې به لرے لرے کورونه وو یو مسجد ته راجمع کیدل به ګران کار وو نو نبیﷺ د مونځ د پابندۍ د پاره دا حکم کړے وو چې په نزدې نزدې کورونو کښې پنځه وخته مونځ ادا کیدو د پاره مسجدونه جوړ کړی. ﴿ أَنْ تُنَظَّفَ ﴾ دا مسجدونه صفا ساتۍ د دے د صفائۍ خیال ساتے د نبیﷺ په دور کښې یوه زنانه وه توره حبشیه مشره ډیره عمر واله زنانه وه هغے به د مسجد نبوی صفائی کوله کله چې هغه وفات شوه نو صحابو د شپے په وخت کښې د هغے جنازه اوکړه او نبیﷺ ته ئے د هغوی په باره کښې خبردارے ور نهٔ کړو یو څو ورځے بعد نبیﷺ تپوس اوکړو چې هغه زنانه نه ښکاری کومه زنانه چې د مسجد نبوی خدمت کوی صحابه ورته وائی اے د الله پیغمبره هغه خو څو ورځے مخکښے وفات شوے ده مونږه وربانده‌ے جنازه اوکړه او دفن کړے شوه نبیﷺ ورته اوفرمائیل تاسو ماته ولے خبردارے رانه کړو ما ته د هغے قبر اوښائے چې زهٔ ورته دعا اوکړمه. نو د مسجد صفائی خدمت کونکو ته نبیﷺ دعا کړے ده بل ادب دا وو چې ﴿وان یطیب﴾ په مسجد کښې خوشبو اولګولے شی دا

هم د مسجد آداب دی چې مسجد به د بد بودار څيز نه ساتلے شی په يو حديث کښې دی چا چې بد بودار څيز خوړلے وی نو زمونږه مسجد ته دې دا انسان نه نزدے کيږی ځکه فرشتو ته د هغه څيز نه تکليف ملاويږی د کوم څيز نه چې بنی ادم انسان ته تکليف وی نو انسان به مسجد خوشبودار ساتی دا د مسجد په آدابو کښې شامل دی.

والحمد لله رب العالمين

# د ایام بیض روژې

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ الْاَنْبِيَآءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَآءِ اَمَّا بَعْد!فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۔

﴿عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: لِكُلِّ شَيْءٍ زَكَاةٌ ، وَزَكَاةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ﴾ (رواه ابن ماجة)

﴿وَ قَالَ ﷺ مَنْ صَامَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ فَذَلِكَ صَوْمُ الدَّهْرِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ تَصْدِيقَ ذَلِكَ فِي كِتَابِهِ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا فَالْيَوْمُ بِعَشْرَةِ أَيَّامٍ۔ اَوْكَمَا قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ﴾ (رواه ابن ماجه)

## د ایمان عملی ثبوت:

د نبی ﷺ دوه ارشادات ذکر کړے شو په دې کښې نبی ﷺ د نفلی روژو د اهمیت او افضیلت بیان کوی، د ایمان نه بعد د ایمان عملی ثبوت چې دا انسان د الله او د الله د رسول ﷺ تابعدار دے د دې د پاره عملی ثبوت عمل صالح دے عمل د شریعت مطابق برابرول که هغه عقائد وی، عبادات وی، معاشره وی، اخلاق وی او که هغه معاملات وی دا ټول د شریعت مطابق کولو ته عملی ایمان وئیلے کیږی څۀ په دې اعمالو کښې د ټولو نه اهم او اعلی مرتبے واله عبادات دی، عبادات څۀ فرض دی چې د هغے د اداء کولو نه بغیر انسان کامل مؤمن مسلمان نشی پاتې کیدے او د الله کامل بنده کیدو اظهار بغیر د دې نه نۀ کیږی او څۀ عبادات، نوافل او مستحبات دی چې د دې اهتمام هم د مسلمان د پاره ضروری دے بیا که دغه نوافل د مونځ په شکل کښې وی او که د روژے

په شکل کښې وی او که د حج په شکل کښې وی او نفلی صدقات وغيره وی په دې هر صورت کښې الله انسان ته اجر او ثواب ورکوی، دې سره الله د فرض عباداتو کوتاهی او نقصان پوره کوی دې ته مکملات فرائض وائی مطلب فرض کښې نقصان دا پوره کوی که په فرض مونځ روژه کښې څۀ کمے راغلے وی نو د قیامت په ورځ به الله دغه کموالے په دې سره پوره کوی بل دا چې نوافل د مسلمان د باطن صحیح کیدو د پاره او د روح د تزکیه د پاره یوه بهترینه ذریعه ده په دې سره د زړۀ زنګ او کمزوری ختمیږی او د الله تقرب په دې سره حاصليږی د دې مثال داسے دے لکه یو مالك سره خپل مزدورکار سره د خپلے ذمه دارے نه نور اضافی کوشش او منډه هم وهی او د هغۀ سره مدد کوی نو مالك ته په دې سره نور هم نزدے کیږی ځکه مالك ته دا اندازه کیږی چې دا انسان زما خیر خواه دے ځکه زما سره اضافی مشغولیت او منډه وهی او په دې کښې ما سره مشغوله کیږی. فرائض ادا کول د انسان ذمه داری ده خو الله ته قرب او نزدیکت انسان ته بیا نوافلو سره ملاویږی.

## د نفلی روژو فضیلت:

په دې مجلس کښې د نفلی روژو متعلق د نبیﷺ یو څو احادیث ذکر کوؤ او د نبیﷺ معمول طرف ته په دې سره اشاره کول غواړمه اول دا چې په نوافلو کښې د نفلی روژے څۀ اهمیت او مقام دے په یو حدیث کښې راځی ابوهریرهؓ روایت کوی چې نبیﷺ فرمائی:

﴿لِكُلِّ شَيْءٍ زَكٰوةٌ وَزَكٰوةُ الْجَسَدِ الصَّوْمُ﴾ (ابن ماجة)

د هر څيز د پاره ذکوة وی او د جسم د پاره زکوة روژه نيول دی.

او په يو بل حديث کښې راځی نبیﷺ فرمائی:

﴿مَنْ صَامَ يَوْمًا بَعَّدَهُ اللهُ مِنْ جَهَنَّمَ﴾ (احمد) څوك چې روژه اونيسی نو دا انسان به الله د جهنم نه دومره لرے کړی لکه د يو مارغه بچے چې پيدا شی او د پيدا کيدو سره هغه خپل سفر شروع کړی تر مرګ پورے چې کوم مقام ته اورسيږی نو دومره به الله دا انسان د جهنم د عذاب نه لرے کړی نو په يو نفلی روژے سره الله خپل بنده د جهنم د عذاب نه په دومره زرګونو ميلونو فاصلے سره لرے کوی او نبیﷺ په خپله نفلی روژے نيولے دی او امّت ته نبیﷺ د هغے په باره کښې تاکيد او تلقين هم کړے دے.

## په مياشت کښې د درې روژو ثواب:

اوس هغه مواقع چې نبیﷺ پکښې نفلی روژے نيولے وے په دې کښې درے روژے د يوے مياشت هم داخل دی يو صحابی دے عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه دا د فاتح مصر عمرو بن العاص رضی الله عنه ځوئے دے دا هم صحابی دے دا نوجوان صحابی وو او ډير زاهد، تقوی داره انسان وو تر دې پورے چې کله ئے وادهٔ اوکړو نو عمرو بن العاص رضی الله عنه د خپل ځوی د ښځے نه تپوس کوی چې عبد الله څنګه انسان دے هغه ورته وائی ډير ښه نيك عمله انسان دے د ورځے روژه نيسی او د شپے مونځ کوی نو پلار ئے نبیﷺ ته شکايت کړے وو چې دا د ورځے روژه نيسی او د شپے په وخت کښې عبادت کوی نو په دهٔ باندې د ښځے هم

څۀ حقوق دی تۀ ئے پوهه کړه نبیﷺ ورته فرمائی﴿أُخْبِرْتُ أَنَّكَ تَصُوْمُ النَّهَارَ وَتَقُوْمُ اللَّيْلَ﴾ ماته دا خبر راکړے شوے دے چې تۀ د ورځے روژه نیسی او د شپے ټوله شپه عبادت کوے نو عبدالله رضی الله عنه ورته وائی ﴿بَلٰى يَا رَسُوْلُ اللهِ﴾ بے شکه د الله پیغمبره دا خبره دغه شان ده. نبیﷺ ورته وائی ﴿لَا تَفْعَلْ﴾ داسے مۀ کوه دا خو تا په خپل ځان باندې دین بوج کړو بیا نبیﷺ ورته اوفرمائیل: ﴿صُمْ وَاَفْطِرْ﴾ یوه ورځ روژه نیسه او یو ورځ روژه ماتوه مطلب مۀ نیسه ﴿وَقُمْ وَنَمْ﴾ یوه حصه قیام کوه د شپے او یوه حصه اودۀ کیږه ﴿فَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا﴾ د دې جسم په تا باندې حق شته دے ﴿وَلِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حَقًّا﴾ د دې سترګو په تا باندې حق شته دے بیا ورته نبیﷺ نصیحت کوی چې داسے اوکړه زۀ تا ته یو داسے روژه ښائمه چې په هغې سره به تا ته د ټول عمر د روژو ثواب ملاویږی ﴿صُمْ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ﴾ په هر میاشت کښې درے ورځے روژه نیول د ټولو عمر د روژو نیولو اجر او ثواب لری بیا ورته نبیﷺ حکم اوکړو ﴿صُمْ كُلَّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ﴾(بخاری) هره میاشت درے ورځے روژے نیسه نو دا به تا ته د هرے میاشت د روژے نیولو اجر او ثواب درکوی او کۀ تۀ یو کال مسلسل داسے روژے نیسې نو دا به په دې طریقه سره د کال د روژو اجر او ثواب تا ته ملاویږی او کۀ تۀ ټول عمر په هره میاشت کښې درے روژے نیسې نو ټول عمر به تا ته د دې روژو ثواب ملاویږی او﴿وَاقْرَءِ الْقُرْآنَ فِيْ كُلِّ شَهْرٍ﴾(بخاری) دا قرآن کریم په هره میاشت کښې یو ځل وایه لږ تلاوت د شپے په تهجدو کښې کوه عبدالله بن عمرو بن

العاص رضي الله عنه ورته وائي چې اے د الله پيغمبره! دا تا چې کوم مقدار بيان کړو دا ډير کم دے زۀ د دې نه د زيات تلاوت او د روژو طاقت لرمه نو نبي صلی الله علیه وسلم راته اووئيل چې بيا داسے کوه ﴿ **صُم أفضَلَ الصَّومِ صَوْمَ دَاوْدَ عليه السّلام** ﴾ بهترينه روژه د داود عليه السلام ده يوه ورځ روژه نيسه او يوه ورځ روژه مۀ نيسه ، ﴿ **وَاقْرَأْ فِي كُلِّ سَبْعِ لَيَالٍ مَرَّةً وَلَا تَزِدْ عَلٰى ذٰلِكَ** ﴾ او قرآن په هره هفته کښې يو ځل ختموه او د دې نه مۀ زياتوه ، يعنې په اوؤ ورځو کښې يو ځل د قرآن د ختمولو کوشش کوه.

په دې حديث کښې ډيرے خبرے دی يوه خبره دا ده چې په هره مياشت کښې درے ورځے روژه نيول د دې ثواب داسے دے لکه چه يو انسان ټول عمر روژے اونيسی.

## ځلورمعمولات نه پريخودل:

او څنګه چې نبي صلی الله علیه وسلم د دې خبرو تعليم ورکړے دے دغه شان نبي صلی الله علیه وسلم هيڅ کله دا څيزونه نه دی پريخودلی لکه اُمّ المؤمنين سيدنا حفصه رضي الله عنها فرمائی:﴿ **اَرْبَعٌ لَمْ تَكُنْ يَدَعُهُنَّ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم** ﴾ ځلور څيزونه دې چې نبي صلی الله علیه وسلم به هغه نه پريخودل يو په هغے کښې صيام عاشوراء د عاشورې د محرم واله روژه ده دَ لسم، نهم يا لسم، يولسم محرم روژه نيول ﴿ **وَالْعَشْرُ مِنْ ذِى الْحِجَّةِ** ﴾ د ذوالحجة لس ورځے روژه چې اوله عشره کښې وی دا به نبي صلی الله علیه وسلم نيولې او د دې پابندی به ئےکوله ﴿ **وَثَلَاثَةُ اَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ** ﴾ په هره مياشت کښې درے ورځے روژه نيول هم د نبي صلی الله علیه وسلم معمول وو ﴿ **وَرَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ** ﴾(نسائی) د سحر مانځۀ نه مخکښے دوه

رکعته سنت اداء کول دا هم ډیر اهمیت لری انسان لره د دې ادائیګی ضروری ده.

## د ایام بیض روژے:

او په بل روایت کښې نبی ﷺ ابوذر رضی اللہ عنہ ته فرمائی: ﴿إِذَا صُمْتَ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ فَصُمْ ثَلَاثَ عَشَرَ وَ اَرْبَعَ عَشَرَوَ خَمْسَ عَشَرَةَ﴾(ترمذی) چې اے ابوذره رضی اللہ عنہ! د هرے میاشتے روژه نیسه، په دې حدیث کښې دوه خبرے دی یو دا چې په هره میاشت کښې درے ورځے روژه نیسه دویم دا چې دغه روژه دیارلسم(١٣) څورلسم (١٤)او پنځلسم (١٥) تاریخ باندې نیسه که په دې تاریخونو انسان ته موقع ملاؤ نه شی نو په نورو ورځو کښې هم دا روژه نیولے شی او د قتاده بن ملحان رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې ﴿ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَأْمُرُنَا اَنْ نَصُوْمَ الْبِيْضَ ﴾(ابن ماجة) نبی ﷺ به مونږه ته د ایام بیض د روژو نیولو په باره کښې حکم کولو چې تاسو د دے روژے نیسے او ایام بیض دغه ورځے دی بیا ورته نبی ﷺ فرمائی چې دا درے ورځے دومره اجر او ثواب لری لکه یو انسان چې ټول عمر روژے اونیسی دې ته ایام بیض ځکه وائی چې بیض سپین والی ته وائی او په دې ورځو کښې اسلامی میاشت واله سپوګمئ پوره شوی وی نو په دې کښې سپین والے او رڼړا د شپې زیاته وی ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چې نبی ﷺ دا روژے نه په حالت د سفر کښې پریخودلے دی او نۀ په حالت د حضر کښې نبی ﷺ دا پریښودلے دی بلکه همیشه نبی ﷺ دا روژے نیولے وے. بل حدیث کښې راځی چې دا روژے د انسان د زړۀ نه خیرے

لرے کوی، بغض ،کینه، حسد ختموی یا د ګناهونو اثر لرے کوی.

## د نفلی روژے فوائد او ثمرات:

بل دا چې د عامو روژو دا کمال دے چې دا په انسان کښې ایمان او استقامت پیدا کوی لکه نبیﷺ فرمائی: ﴿اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ﴾(نسائی) روژه دا یو ډال دے چې انسان د ګناه وغیره نه بچ کوی او کله چې روژه د انسان د پاره د حفاظت ذریعه یعنې ډال جوړشی نو یقینًا د دهٔ ایمان دینداری، اعمال هر څهٔ به د شیطان او د نفس د وسوسے نه محفوظ او په امن کښې شی. د نفلی روژو بله فائده دا ده چې په دې سره په کور کښې، معاشره کښې، د دیندارے ماحول خوریږی او دا نیك ماحول اثرات ورسره عام کیږی که یو انسان نفلی روژه نیسی نو نورو سره به د دې احساس پیدا کیږی او چا ته چې د دې معلومات کیږی نو د دې سنت عمل اهمیت به ورسره پیدا کیږی زمونږه په دې عجمو کښې دا ماحول نشته خو د عربو په معاشره کښې دا څیزونه عام دی لکه هغوی د پیر او جمعرات په ورځ روژه نیسی نبیﷺ فرمائی چې په دې دوؤ ورځو کښې د انسان عمل الله ته پیش کیږی نو زهٔ دا خوښه ګڼړم چې زما عمل د الله په دربار کښې پیش شی او زهٔ په حالت د روژه کښې یمه یو ځل ورنه چا تپوس کړے وو په دې ورځو کښې روژه ولے نیسے نو جواب ئے دا ورکړے وو چې ﴿فِيْهِ وُلِدتُّ وَفِيْهِ اُنْزِلَ عَلَيَّ﴾ په دې ورځ کښې زهٔ پیدا شوے یمه او په دې ورځ کښې په ما باندې وحی او قرآن هم نازل شوے دے نو د دې په شکریه کښې زهٔ دا روژه نیسمه.

## ټول عمر واله روژه:

ابوذر رضی اللہ عنہ ته نبی صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی چې څوك دا درے روژے نیسی او په هره میاشت کښې د دې پابندی کوی نو دا ﴿كَصِيَامِ الدَّهْرِ﴾ د ټول عمر د روژو په شان دے لکه چې یو انسان ټول عمر روژه وی بیا ئے اوفرمائیل:

﴿فَأَنْزَلَ اللهُ تَصْدِيْقَ ذَالِكَ فِيْ كِتَابِهٖ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا﴾ (سورۃالانعام:١٦٠)

څوك چې یوه نیکی اوکړی الله دې انسان ته لس چنده بدله ورکوی. درے ورځے د یوے میاشتے د دیرشو ورځو برابر شوے نو که په هره میاشت کښې وی نو د ټول عمر د روژو ثواب لری.